الإسلام أصوله ومبادئه - بشتو

# د اسلام اصول او اساسات

[illegible] :

دكتور محمد بن عبد الله بن صالح السحيم

Islamhouse.com

المحتوى الإسلامي

# د اسلام اصول او اساسات

ليکنه

دکتور محمد بن عبد الله بن صالح السحيم

شركاء التنفيذ:

دار الإسلام جمعية الربوة رواد الترجمة المحتوى الإسلامي

يتاح طباعة هذا الإصدار ونشره بأي وسيلة مع الالتزام بالإشارة إلى المصدر وعدم التغيير في النص.

Telephone: +966114454900
ceo@rabwah.sa
P.O.BOX: 29465
RIYADH: 11557
www.islamhouse.com

بسم الله الرحمن الرحيم

# سریزه

إن الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله، صلى الله عليه وسلم تسليماً كثيراً.

أما بعد:

يقينا چې الله تعالی خپل رسولان ټولو عالميانو ته لیږلي دي، تر څو د رسولانو د لیږلو نه وروسته بنده ګانو ته په الله تعالی کوم حجت پاتې نه شي، او کتابونه يې د لارښوونې لپاره رحمت، نور او شفا نازل کړي دي، پخوا به رسولان په ځانګړې توګه خپلو قومونو ته لیږل کېدل او هغوی کتابونه به يې زده کول؛ لدې امله يې کتابونه يا ليکنې له منځه تللې او شريعتونه يې تحريف او تبديل شوي دي؛ ځکه چې يوه ځانګړې أمت ته په ټاکلې موده کې نازل شوي وو. بیا الله تعالی خپل نبي محمد صلى الله عليه وسلم غوره کړ چې تر ټولو وروستی نبي او پیغمبر يې وګرځاوه، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ ٱللَّهِ وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمًا ۝٤٠﴾ [الأحزاب: 40]

(محمد (ﷺ) ستاسو په سړيو کې د هيچا پلار نه دی، مګر د الله رسول او د نبيانو (د لړۍ) ختموونکی دی)[1]، او هغه يې په تر ټولو غوره کتاب سره عزتمن وګرځاوه چې هغه قرآن

---

[1] الاحزاب سورت، ۴۰ آيت. دا د هغه ستر کتاب "قرآن کريم" يو آيت دی چې الله پاک په محمد صلى الله عليه وسلم باندې نازل کړی دی، او زما په دې کتاب کې د "قرآن کريم" څخه ډيری آيتونه شتون لري. لدې آيتونو څخه مخکې تل د ( قال الله تعالی او قال تعالی او قال جل ثناؤه ) «يعني الله تعالی فرمايلي دي، يا هغه تعالی فرمايلي دي، او يا د لوی ثنا وړ ذات فرمايلي دي» عبارتونه کارول شوي دي، سريره پر دې تاسو د دې کتاب په 95-100و114-117. مخونو کې د قرآن کريم لنډ تعريف موندلی شئ.

عظیم دی، او الله تعالی یې ساتنه په غاړه واخیسته، او له هغه څخه ساتنه یې مخلوقاتو ته ورترغاړې نه کړه.

﴿إِنَّا نَحۡنُ نَزَّلۡنَا ٱلذِّكۡرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ٩﴾ [الحجر: 9]

[2] (بېشکه همدا مونږ پخپله ذکر نازل کړی دی او بېشکه مونږ د ده خامخا ساتونکي یو) او د هغه شریعت یې تر قیامته پورې تلپاتي ګرځولی دی او هغه پاک ذات دا خبره بیا کړې ده چې د هغه د شریعت د بقا له لوازمو څخه پر هغه ایمان راوړل، هغه ته بلنه کول او پرې صبر کول دي. نو د محمد صلی الله علیه وسلم تګلاره او له هغه وروسته د هغه د پیروانو تګلاره په بصیرت سره الله ته بلنه وه، الله تعالی د دې تګلارې په اړه د وضاحت په موخه فرمایلي دي:

﴿قُلۡ هَٰذِهِۦ سَبِيلِيٓ أَدۡعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِۚ عَلَىٰ بَصِيرَةٍ أَنَا۠ وَمَنِ ٱتَّبَعَنِيۖ وَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ١٠٨﴾ [یوسف: 108]

[3] (ته ووایه: دا زما لاره ده، د الله په طرف بلنه کوم، په ښه بیان او بصیرت سره، زه او هغه څوك چې زما پیروي کوي، او الله پاك دی، او زه له شرك کوونکو څخې نه یم) او هغه ته یې امر وکړ چې د الله په لاره کې په مصیبتونو صبر وکړي، لوی څښتن فرمایلي:

﴿فَٱصۡبِرۡ كَمَا صَبَرَ أُوْلُواْ ٱلۡعَزۡمِ مِنَ ٱلرُّسُلِ ...﴾ [الأحقاف: 35]

[4] (نو (ای نبي!) ته صبر کوه، لکه چې د عزیمت والا رسولانو صبر کړی دی). او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱصۡبِرُواْ وَصَابِرُواْ وَرَابِطُواْ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ٢٠٠﴾ [آل عمران: 200]

---

[2] ۲] الحجر سورت، ۹ آیت.

[3] یوسف سورت، 108آیت.

[4] الأحقاف سورت، 35 آیت.

[5] (ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی! تاسو صبر کوئ او په صبر ټینګ اوسئ او په (سرحدي) مورچو کې محکم اوسئ او له الله نه وېرېږئ، لپاره د دې چې تاسو کامیاب شئ) او د دې سپېڅلي الهي طريقې په تعقيب، ما دا کتاب د الله لارې ته د بلنې لپاره د الله د کتاب او د هغه د رسول صلى الله عليه وسلم د سنتو د لارښوونې په رڼا کې ليکلی دی، په دې کې ما په لنډه توګه د کائناتو د پيدايښت، د انسان د پيدايښت او درناوي، هغه ته د پيغمبرانو د رالیږلو او د پخوانيو اديانو حالات بيان کړي دي. بيا مې د اسلام تعريف او رکنونه معرفي کړي دي، نو څوک چې د هدايت اراده وکړي، نو دا دی دلایل يې په وړاندې دي، او څوک چې د خلاصون اراده ولري، نو لاره يې ورته روښانه شوې ده او څوک چې د پيغمبرانو، رسولانو او اصلاح کوونکو د لارې تعقيبول غواړي نو همدا يې لار ده. او چا چې ترې سرغړاوی وکړ، نو بې عقلي يې وکړه او د ګمراهۍ لار يې ونيوله.

د هر دين پيروان خپل دين ته بلنه کوي او په دې باور دي چې حق له بل هر دين پرته د هغوی په دين کې دی، او د هرې عقيدې خاوندان خلک خپلې عقيدې او د عقيدې د رهبر درناوي ته رابلي.

خو مسلمان خلک خپلې طريقې ته نه رابلي، ځکه هغه د ځان لپاره کومه ځانګړې طريقه نه لري، بلکه طريقه يې د الله هغه دين دی چې هغه پاک ذات د خپل ځان لپاره غوره کړی دی، الله تعالی فرمايلي: {إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ} (بېشکه (معتبر) دين د الله په نيز اسلام دی) او نه په ځانګړې توګه د يو انسان درناوي ته بلنه ورکوي، ځکه د الله په دين کې ټول انسانان سره برابر دي، د دوی تر منځه هيڅ توپير نشته مګر په تقوا سره، بلکه ټولو خلکو ته بلنه ورکوي چې د الله تعالی د لارې پيروي وکړي، په پيغمبرانو يې ايمان راوړي، او د هغه شريعت پيروي يې وکړي چې په خپل وروستي پيغمبر محمد صلى الله عليه وسلم يې نازل کړی او هغه ته يې امر کړی چې - دا دين - ټولو خلکو ته ورسوي.

لدې امله مې دا کتاب د الله تعالی هغه دين ته د بلنې په موخه ليکلی چې د ځان لپاره يې غوره کړی او د رسولانو وروستی پيغمبر يې پرې راليږلی، او د هغه چا لپاره لارښود چې د نيغې لارې د موندنې اراده لري، او د هغه چا لپاره لارښود چې د نيکمرغۍ په لټه کې وي. او قسم په الله چې مخلوقات به لدې دين پرته په بل څه کې حقيقي خوشحالي ونه مومي، او نه به څوک ارامي ومومي مګر هغه څوک چې الله تعالی د رب، محمد صلى الله عليه وسلم د رسول او اسلام د دين په توګه ومني او ايمان پرې راوړي. په لرغونو او اوسنيو وختونو کې په زرګونو هغه خلک چې

[5] آل عمران سورت، 200 آيت.

مسلمانان شوي پدې شاهدي ورکوي چې دوی د اسلام له منلو وروسته د ژوند په حقیقت پوه شوي او دوی د نیمګړغۍ خوند ندي څکلي مګر د اسلام د سیوري لاندې... او دا چې هر انسان د خوښۍ هیله لري، سکون لټوي او د حقیقت په لټه کې دی نو ما دا کتاب چمتو کړی دی او له الله تعالی څخه غواړم چې دا کار خاص د هغه د خوښۍ او د هغه لارې ته د بلنې لپاره سبب وګرځوي او قبولیت ورته ولیکي او د هغو نیکو کړنو له جملې څخه یې وګرځوي چې په دنیا او اخرت کې یې خاوند ته ګټه رسوي.

او ما اجازه ورکړې ده چې څوک یې په هره ژبه چاپوي، یا یې په هره ژبه ژباړي، خو پدې شرط چې په کومه ژبه یې ژباړي باید په نوموړې ژبه کې د ژباړې له اړخه امانت ته ژمن وي او په پوره امانت سره یې وژباړي.

همدا رنګه له هر هغه چا څخه هیله لرم چې د دې کتاب په اصل چې عربي دی او یا یې هم په کومه ژباړه کې کومه ملاحظه لري او یا وړاندیز لري نو دلته په یاد شوي ادرس دې زما سره شریک کړي.

او الله لره  ستاینه ده په اول او آخر، ظاهر او باطن، ښکاره او پټه کې، او هغه لره په دنیا او اخرت کې ستاینه ده، او هغه لره د اسمانونو او ځمکې او د هغه څه د ډکون په اندازه ستاینه ده چې زمونږ رب یې غواړي. او زیات درود او سلام دې وي زمونږ پر پیغمبر محمد او د هغه پر اصحابو او په هر هغه چا چې د هغه په لاره د قیامت تر ورځې روان وي.


لیکوال

دکتور محمد بن عبد الله بن صالح السحیم

ریاض 1420/10/13هـ     پست بکس 1032 ریاض 1342

همدا رنګه پوست بکس 6249 ریاض 11442


# لاره کومه ده؟

کله چې انسان لوی او هوښیار شي نو ذهن ته یې ډېرې پوښتنې راځي لکه: ته له کوم ځایه راغلی یې؟ او ولې راغلی یې؟ او تګ دې کومې لورې ته دی؟ او زه او زما چارچاپیره کائنات چا پیدا کړي دي؟ او دا کائنات د چا په واک کې دي او څوک پکې تصرف کوي؟ او داسې نورې پوښتنې. او انسان نشي کولی پخپله دې پوښتنو ته ځوابونه ومومي، معاصر علم هم نشي کولای دومره کچې ته ورسیږي چې دې پوښتنو ته ځواب ووایي؛ ځکه دا هغه چارې دي چې دین پورې تړاو لري،

لدې امله په اړه يې ډېر روايتونه شتون لري، او په اړه يې ډول ډول کيسې او افسانې کيږي چې د انسان ګډوډي او اضطراب زياتوي. او دا هم ممکنه نه ده چې يو څوک د دې مسئلو لپاره د قناعت وړ ځواب ومومي، مګر دا چې الله تعالی صحيح دين ته د هغه لارښوونه وکړي؛ هغه دين چې دې او نورو مسئلو کې له قطعي وينا سره راغلی دی. ځکه دا مسئلې له غيبي چارو څخه شمېرل کيږي، او يوازې صحيح دين دی چې حق او ريښتونې وينا کوي؛ ځکه چې يوازې د الله لخوا دی چې خپلو پيغمبرانو او رسولانو ته يې نازل کړی دی. لدې امله پر انسان لازمه وه چې حقيقي دين ولټوي، زده يې کړي او ايمان پرې راوړي، تر څو يې حيرانتيا ورکه او شکونه يې له منځه لاړ شي او سمې لارې ته يې لارښوونه وشي.

او په راتلونکو پاڼو کې تاسو ته بلنه درکوم چې د الله تعالی نېغه لار تعقيب کړئ او ستاسو د سترګو په وړاندې ځينې هغه دليلونه، شواهد او نښانې وړاندې کوم، ترڅو پرې په بې طرفه، دقت او زغم سره غور وکړئ.

## د الله پاک وجود، ربوبيت، يووالی او الوهيت (٧):

کافران د ونو، ډبرو او انسانانو په څېر د مخلوقو خدايانو عبادت کوي. له همدې امله يهودو او مشرکانو له رسول الله (صلی الله عليه و سلم) څخه د الله تعالی د صفت او دا چې هغه څه دی په اړه پوښتنه وکړه، نو الله تعالی دا - قول - نازل کړ:

﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ١ ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ٢ لَمۡ يَلِدۡ وَلَمۡ يُولَدۡ ٣ وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ ٤﴾

[الإخلاص: 1-4]

{ (اې نبي!) ته (دوی ته) ووايه: شان دا دی چې الله يو دی. (2) هم دا الله بې نيازه (بې حاجته) دی. (3) نه يې (څوک) زيږولي دي او نه دی (له چا) زيږول شوی دی. } او د ده هيڅوک سيال (او) برابر نشته] او خپل ځان يې بنده ګانو ته ورويږانده نو وېي فرمايل:

﴿إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ يُغۡشِي ٱلَّيۡلَ ٱلنَّهَارَ يَطۡلُبُهُۥ حَثِيثٗا وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ وَٱلنُّجُومَ مُسَخَّرَٰتِۢ بِأَمۡرِهِۦٓۗ أَلَا لَهُ ٱلۡخَلۡقُ وَٱلۡأَمۡرُۗ تَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٥٤﴾ [الأعراف: 54]

[6] (بېشکه ستاسو رب هغه الله دی چې آسمانونه او ځمکه يې په شپږو ورځو کې پيدا کړي دي، بيا د عرش له پاسه برقراره شو، هغه په شپې سره ورځ پټوي، په داسې حال کې چې دا (شپه) هغې (ورځ) لره په تلوار سره طلب کوي او (پيدا کړې يې ده) لمرسترګه، او سپوږمۍ او ستوري، چې د هغه په حکم سره مسخر کړی شوي دي، خبر اوسئ! خاص هغه لره دي پيدا کول او حکم کول، ډېر برکت والا دی الله؛ پالوونکی د ټول عالم دی). او الله تعالی فرمايلي:

﴿ٱللَّهُ ٱلَّذِى رَفَعَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ بِغَيۡرِ عَمَدٖ تَرَوۡنَهَاۖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ كُلّٞ يَجۡرِى لِأَجَلٖ مُّسَمّٗىۚ يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَ يُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لَعَلَّكُم بِلِقَآءِ رَبِّكُمۡ تُوقِنُونَ۝٢ وَهُوَ ٱلَّذِى مَدَّ ٱلۡأَرۡضَ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَٰسِىَ وَأَنۡهَٰرٗاۖ وَمِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ جَعَلَ فِيهَا زَوۡجَيۡنِ ٱثۡنَيۡنِۖ يُغۡشِى ٱلَّيۡلَ ٱلنَّهَارَۚ ....﴾ [الرعد: 2-3]

(الله هغه ذات دی چې آسمانونه يې اوچت کړي دي، بې له ستنو، چې تاسو هغه وينئ، بيا يې په عرش باندې بره شو، او ده لمر او سپوږمۍ مسخر کړي دي، هر يو يې تر مقررې نېټې پورې روان دي، هغه، د هر کار تدبير کوي، دليلونه ښه په تفصيل سره بيانوي، د دې لپاره چې تاسو د خپل رب پر ملاقات يقين وکړئ) او دی همغه ذات دی چې ځمکه يې غوړولې ده او په هغې کې يې پاخه غرونه ايښي او نهرونه يې روان کړي دي او له هر قسمه مېوو نه يې په دغې کې دوه دوه جوړې پيدا کړي دي، هغه په شپې سره ورځ پټوي، بېشکه په دې کې د هغو خلقو لپاره يقينًا نښې دي چې فکر (او غور) کوي). تر دې چې ويې فرمايل:

﴿ٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا تَحۡمِلُ كُلُّ أُنثَىٰ وَمَا تَغِيضُ ٱلۡأَرۡحَامُ وَمَا تَزۡدَادُۚ وَكُلُّ شَيۡءٍ عِندَهُۥ بِمِقۡدَارٍ۝٨ عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ٱلۡكَبِيرُ ٱلۡمُتَعَالِ۝٩﴾ [الرعد: 8-9]

---

[6] الأعراف سورت 54 آيت.

(الله پوهېږي پر هغه څه چې هره ښځه يې (په خپله خېټه کې) اوچتوي او پر هغه څه چې رحمونه يې کموي او پر هغه څه چې زياتوي يې او هر شی له هغه سره په اندازې سره دی. (د غيبو او د ښکاره و عالم دی، ډېر لوی، لوړ برتر دی). او الله تعالی فرمايلي دي:

﴿قُلْ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ قُلِ ٱللَّهُ ۚ قُلْ أَفَٱتَّخَذْتُم مِّن دُونِهِۦٓ أَوْلِيَآءَ لَا يَمْلِكُونَ لِأَنفُسِهِمْ نَفْعًا وَلَا ضَرًّا ۚ قُلْ هَلْ يَسْتَوِى ٱلْأَعْمَىٰ وَٱلْبَصِيرُ أَمْ هَلْ تَسْتَوِى ٱلظُّلُمَٰتُ وَٱلنُّورُ ۗ أَمْ جَعَلُوا۟ لِلَّهِ شُرَكَآءَ خَلَقُوا۟ كَخَلْقِهِۦ فَتَشَٰبَهَ ٱلْخَلْقُ عَلَيْهِمْ ۚ قُلِ ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَىْءٍ وَهُوَ ٱلْوَٰحِدُ ٱلْقَهَّٰرُ ﴿١٦﴾﴾ [الرعد: 16]

[7] (ته (دوی ته) ووايه: د اسمانونو او ځمکې رب څوک دی؟ ته ووايه: الله دی، (نو ورته) ووايه: ايا نو تاسو له هغه نه غير نور کار سازان (دوستان) جوړ کړي دي چې د خپلو ځانونو لپاره نه د نفعې اختيار لري او نه د ضرر (لرې کولو) ته ووايه: ايا ړوند او بينا سره برابر دي؟ بلکې (دا ورته ووايه:) ايا سره برابرې دي تيارې او رڼا، يا دوی د الله لپاره داسې شريکان مقرر کړي دي چې د هغه د پيدا کولو په شان پيدا کول يې کړي دي، بيا په دوی باندې پيدا کول مشتبه شوي دي؟ ته ووايه: الله د هر شي پيدا کوونکی دی او هم هغه يو دی، ډېر غالب دی)

او هغه پاک ذات خپل آيتونه د شواهدو او توضيحاتو په توګه وړاندې کړي او وې فرمايل: (وَمِنْ آيَاتِهِ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ۚ لَا تَسْجُدُوا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوا لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ) (او د هغه له دليلونو څخه شپه او ورځ، لمر او سپوږمۍ دي، تاسو مه لمر ته سجده کوئ او مه سپوږمۍ ته او تاسو خاص الله ته سجده کوئ چې دغه (نښې) يې پيدا کړې دي، که چېرې تاسو خاص د هغه عبادت کوئ.

﴿ وَمِنْ ءَايَٰتِهِ ٱلَّيْلُ وَٱلنَّهَارُ وَٱلشَّمْسُ وَٱلْقَمَرُ ۚ لَا تَسْجُدُوا۟ لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَٱسْجُدُوا۟ لِلَّهِ ٱلَّذِى خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ﴿٣٧﴾﴾ [فصلت: 37]

[7] الرعد سورت: 16 أيت.

او د هغه له نخښو څخه دا دي چې بېشکه ته ځمکه وچه کلکه وينې، نو کله چې مونږ په دې اوبه نازلې کړو (نو) وخوځېږي او وپړسېږي، بېشکه هغه ذات چې دغه يې ژوندۍ کړې ده، خامخا د مړو ژوندی کوونکی دی، بېشکه هغه په هر شي باندې ښه قادر دی).
او الله پاک فرمايلي:

﴿وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنَّكَ تَرَى ٱلْأَرْضَ خَٰشِعَةً فَإِذَآ أَنزَلْنَا عَلَيْهَا ٱلْمَآءَ ٱهْتَزَّتْ وَرَبَتْ ۚ إِنَّ ٱلَّذِىٓ أَحْيَاهَا لَمُحْىِ ٱلْمَوْتَىٰٓ ۚ إِنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٣٩﴾﴾ [فصلت: 39]

(او د هغه له نښو څخې د اسمانونو او ځمکې پيدا کول دي او ستاسو د ژبو او ستاسو د رنګونو اختلاف (بېل والی) دی، بېشکه په دغو کې خامخا نښې دي د عالمانو (پوهانو) لپاره. او د هغه له نښو نه ستاسو خوب دی، په شپه او ورځ کې او ستاسو لټول دي د هغه له فضله، بېشکه په دغو کې خامخا نښې دي د هغه قوم لپاره چې اوري)[8].

هغه خپل ځان د ښکلا او کمال په صفتونو سره ياد کړ او وېې فرمايل:

﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْحَىُّ ٱلْقَيُّومُ ۚ لَا تَأْخُذُهُۥ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ ۚ لَّهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۗ مَن ذَا ٱلَّذِى يَشْفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذْنِهِۦ ۚ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَىْءٍ مِّنْ عِلْمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَ ۚ ...﴾ [البقرة: 255]

(الله (چې دی) نشته هېڅ لايق د عبادت مګر هم دی دی، همېشه ژوندی دی، د ټول عالم انتظام کوونکی دی، پر ده نه پرکالي راځي، او نه خوب، خاص همده لره دي هغه څه چې په آسمانونو کې دي، او هغه څه چې په ځمکه کې دي، څوک دی هغه کس چې د ده په وړاندې به سفارش کوي مګر د ده په اجازت سره؟ هغه پوهېږي پر هر هغه څه چې د دوی په وړاندې دي او پر هر هغه څه چې د دوی وروسته دي، او دوی (مخلوق) د هغه له علم نه هېڅ شی هم نشي راګېرولی، مګر هغه څه چې هغه (الله) يې وغواړي). او فرمايي:

---

[8] فصلت سورت، 37،39 دوه آيتونه.

﴿غَافِرِ ٱلذَّنۢبِ وَقَابِلِ ٱلتَّوۡبِ شَدِيدِ ٱلۡعِقَابِ ذِى ٱلطَّوۡلِۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ إِلَيۡهِ ٱلۡمَصِيرُ٣﴾ [غافر: 3]

(د ګناهونو بخښونکی او د توبې قبلوونکی دی، ډېر سخت عذاب والا د لوی فضل والا دی، نشته دی هېڅ حق معبود مګر هم دی دی، خاص هم ده ته بېرته ورتلل دي)

او الله تعالی فرمايلي دي:

﴿هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡمَلِكُ ٱلۡقُدُّوسُ ٱلسَّلَٰمُ ٱلۡمُؤۡمِنُ ٱلۡمُهَيۡمِنُ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡجَبَّارُ ٱلۡمُتَكَبِّرُۚ سُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يُشۡرِكُونَ٢٣﴾ [الحشر: 23]

(دغه الله هغه ذات دی چې نشته هېڅ حق معبود مګر هم دی دی، چې (حقيقي) بادشاه دی، ښه پاك دی، سلامتي وركوونكی (او) امان وركوونكی دی، نګهبان (محافظ) ښه غالب (او زورور)، ډېر عظمت والا، ډېر لويي والا دی، الله پاك دی له هغو (شيانو) نه چې دوی يې ورسره شريكوي).[9]

دا هغه لوی ښتن، حكمت والا او قادر ذات دی، چې خپلو بندګانو ته يې ځان ور وپېژندلی، دوی ته يې خپل آيتونه د ګواهانو او ښرګندو دلايلو په توګه وړاندې كړي دي، او خپل ځان يې د كمال په صفتونو سره ياد كړی دی، د هغه پر وجود، د هغه په ربوبيت او د هغه په الوهيت، نبوي شريعتونه، فكري اړتياوې او فطري خلقت دلالت كوي او ټولو ملتونو پدې اجماع كړې ده. او زه به تاسو ته پدې اړه په لاندې ډول يو څه تشريح كړم، د هغه د شتون او د هغه د ربوبيت ځينې دليلونه دا دي:

## 1- د دې كائناتو پيدا كول او هغه ناشنا جوړښت چې پدې كې دی :

اې انسانه، دا ستر كائنات چې ستا په شاوخوا كې دي او د اسمانونو، سيارو، كهكشانونو او ځمكې څخه جوړ دي چې په هغې كې يو بل سره نږدې غزيدلې ټوټې دي او په هغې كې ډول ډول شيان يو له بل سره په توپير درلودلو كې وده كوي او په دې كې ټولې ميوې دي او د ټولو مخلوقاتو

[9] الحشر سورت: 23 آيت.

څخه يې دوه دوه جوړې پيدا کړي دي.. نو دې کائناتو خپل ځان پخپله ندي پيدا کړي، دا بايد خامخا يو خالق ولري؛ ځکه چې دا پخپله خپل ځان نشي پيدا کولای، نو دا چا پدې ناشنا نظام سره پيدا کړي دي او په دې ښکلي کمال سره يې بشپړ کړي او د ليدونکو لپاره يې يوه نښه ګرځولې، (بل څوک نشته ) پرته له واحد او قهار ذات څخه چې له هغه پرته بل رب نشته او نه له هغه پرته بل معبود شته، الله تعالی فرمايلي:

﴿أَمْ خُلِقُوا۟ مِنْ غَيْرِ شَىْءٍ أَمْ هُمُ ٱلْخَـٰلِقُونَ ﴿٣٥﴾ أَمْ خَلَقُوا۟ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ ۚ بَل لَّا يُوقِنُونَ﴿٣٦﴾﴾

[الطور: 35-36]

(آيا دوی پرته له کوم شي پيدا کړی شوي دي، يا هم دوی، پخپله پيدا کوونکي دي؟ ايا دوی آسمانونه او ځمکه پيدا کړي دي؟ بلکې دوی يقين نه کوي)[10]، دا دوه آيتونه درې مقدمې په بر کې لري چې پدې ډول دي:

١ - آيا دوی له هيڅ څخه پيدا شوي دي؟

٢ - آيا دوی خپل ځانونه پخپله پيدا کړي دي؟

٣ - آيا دوی آسمانونه او ځمکه پيدا کړي دي؟

نو کله چې دوی ندي پيدا شوي له عدم څخه، او دوی خپل ځانونه ندي پيدا کړي، او دوی آسمانونه او ځمکه ندي پيدا کړي؛ نو لازمه ده چې دوی د خالق په شتون اقرار وکړي چې دوی يې او آسمانونه او ځمکه يې پيدا کړي دي چې هغه يو الله قهار ذات دی.

## ٢- فطرت:

مخلوق په فطري توګه په خالق اقرار کوي، او دا چې هغه له هر څه څخه لوی او بشپړ دی او دا موضوع په فطرت کې د رياضي علومو د أساساتو په پرتله پياوړې ريښه لري او شواهدو ته

[10] ١٧] الطور آيتونه، ٣۶ او ٣۵ آيتونه.

اړتيا نلري مګر د هغه چا لپاره چې فطرت يې بدلون موندلی وي، او يا پرې داسې حالات راغلي وي چې د هغه له منلو څخه يې مشغولوي،[11]الله تعالی فرمايلي :

﴿فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًاۚ فِطْرَتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِي فَطَرَ ٱلنَّاسَ عَلَيْهَاۚ لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلْقَيِّمُ ....﴾ [الروم: 30]

(د الله هغه فطرت لره چې په هغه يې خلق پيدا کړي دي؛ د الله تخليق لره هېڅ بدلون نشته همدغه سم (نېغ) دين دی، او لېکن د خلقو اکثريت نه پوهېږي). او رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: (ما من مولود إلا يولد على الفطرة، فأبواه يهودانه أو ينصرانه أو يمجسانه كما تنتج البهيمة بهيمة جمعاء هل تحسون فيها من جدعاء؟ (هيڅ ماشوم نه زيږيږي مګر په فطرت سره ( يعنې فطري مسلمان وي )، خو مور او پلار يې يهودی کوي، يا يې نصرانی کوي، يا يې مجوسي کوي، لکه څنګه چې يو حيوان بل حيوان په سالمه توګه پوره زيږوي، آيا تاسو په هغه کې کوم عيب ګورئ (د بيلګې په توګه چې غوږ يې پرې وي او يا داسې نور)؟ بيا ابو هريره رضي الله عنه فرمايي: که غواړئ نو ( نو د الله تعالی دا وينا ) ولولئ:[12] (د الله هغه فطرت لره چې په هغه يې خلق پيدا کړي دي؛ د الله تخليق لره هېڅ بدلون نشته همدغه سم (نېغ) دين دی، او لېکن د خلقو اکثريت نه پوهېږي). همدا رنګه رسول الله - صلی الله عليه وسلم - فرمايلي دي: (خبردار اوسئ چې زما رب ماته امر کړی دی چې تاسو ته هغه څه وښيم چې تاسو له هغه څخه ناخبره ياست؛ هغه چې ماته مې رب نن راښودلي دي : ټول هغه څه چې ما بنده ته ورکړي حلال دي او دا چې ما خپل ټول بندګان حنفاء ( له شرک او کفر څخه اسلام او توحيد ته مايل ) پيدا کړي دي، خو دوی ته شيطانان راغلل او له دين څخه يې واړول او هغه څه يې پرې حرام کړل چې ما ورته

---

[11] ١٨] د شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله فتوا، لومړی برخه، ٤٧-٤٩، ٧٣ مخ وګوره،

[12] ٢٠] بخاري په کتاب القدر کې په ٣ باب کې روايت کړی او مسلم په کتاب القدر کې په ٢٦٥٨ شميره حديث روايت کړی دی او لفظ د همده دی.

حلال کړي وو او امر يې ورته وکړ چې ما سره شرک وکړي، چې ما پر هغه هيڅ کوم دليل ندی نازل کړی [۲۱] .[13]

## ۳- د ملتونو )ولسونو (اجماع:

پخواني او اوسني ملتونه پدې خبره متفق دي چې دا کائنات يو خالق لري چې هغه الله رب العالمين دی، هغه د اسمانونو او ځمکې خالق دی، هغه لره په پيداوار کې هيڅ شريک نشته. لکه څرنګه چې د هغه پاک ذات لره په سلطنت کې هيڅ شريک نشته.

او په پخوانيو امتونو کې له هيڅ يو څخه ندي راغلي چې هغوی دا باور درلوده چې خدايانو يې د الله تعالی سره د آسمانونو او ځمکې په پيدا کولو کې برخه اخيستې ده؛ بلکه پدې باور وو چې الله د هغوی او د هغوی د خدايانو پيدا کوونکی دی، نو له هغه پرته بل معبود او رزق ورکوونکی نشته، او ګټه او نقصان يوازې د هغه پاک ذات په لاس کې دي. د الله په ربوبيت د مشرکانو له اقرار څخه الله تعالی د خبر ورکولو په موخه فرمايي:

﴿وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَسَخَّرَ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ ۖ فَأَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴿٦١﴾ ٱللَّهُ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ وَيَقْدِرُ لَهُۥٓ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴿٦٢﴾ وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّن نَّزَّلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَحْيَا بِهِ ٱلْأَرْضَ مِنۢ بَعْدِ مَوْتِهَا لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ ۚ قُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴿٦٣﴾﴾ [العنكبوت: 61-63]

(او قسم دی که ته له دوی نه پوښتنه وکړې چې آسمانونه او ځمکه چا پيدا کړي دي او (چا) لمر او سپوږمۍ مسخر کړي دي؟ دوی به خامخا ضرور ووايي چې الله (پيدا کړي او مسخر کړي دي)، نو څرنګه دوی ګرځولی شي؟ الله چې په خپلو بنده ګانو کې چا لره وغواړي؛ رزق پراخوي او په هغه يې تنګوي، بېشکه الله په هر شي ښه عالم دی. او قسم دی که ته له دوی نه پوښتنه وکړې چې چا له آسمان نه اوبه نازلې کړې دي، بيا يې په هغو سره ځمکه د هغې له مرګ نه پس ژوندۍ کړې ده؟ (نو) خامخا ضرور به دوی ووايي

[13] ۲۱] امام احمد په خپل مسند کې په ۴ ټوک، ۱۶۲ مخ کې روايت کړی، او مسلم روايت کړی او لفظ يې د ده دی، په کتاب الجنة و صفة نعيمها و أهلها کې په ۲۸۶۵ شميره روايت کړی دی.

چې الله (دا کار کړی دی) ته ووایه: ټول د کمال صفتونه خاص د الله لپاره دي بلکې د دوی اکثره عقل نه لري)(63) }، او هغه پاک ذات چې د سپیڅلې ثنا خاوند دی فرمایلي:

﴿وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ لَيَقُولُنَّ خَلَقَهُنَّ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡعَلِيمُ٩﴾ [الزخرف: 9]

(او قسم دی که ته له دوی نه پوښتنه وکړې چې اسمانونه او ځمکه چا پیدا کړي دي (، نو) دوی به خامخا لازمًا ووايي چې دغه ډېر غالب، ډېر پوه ذات پیدا کړي دي)[14].

## ۴- عقلي اړتیا:

عقلونه لدې اقرار نه پرته بله چاره نه لري چې دا کائنات یو لوی خالق لري؛ ځکه چې عقل کائناتو ته د یو نوي رامنځته شوي مخلوق په توګه ګوري، او دا چې هغه پخپله ځان ندی پیدا کړی، او هغه شی چې رامنځته شوی وي نو خامخا یو رامنځته کوونکی لري.

او انسان په دې پوهېږي چې کړاوونه او ناخوالې پرې تېرېږي او کله چې انسانان ترې د خلاصون توان نه لري، نو د زړه له تله اسمان ته مخ کړي او له خپل رب څخه مرسته وغواړي تر څو يې رب ترې غم کم کړي، که څه هم هغه د رب او د هغه د بت عبادت په خپل ټول عمر کې کړی وي، نو دا یوه داسې اړتیا ده چې د مخنیوي وړ نده، او دا باید ومنل شي. بلکه کوم حیوان چې کله په مصیبت اخته شي نو سر پورته کړي او اسمان ته ګوري. او الله تعالی له انسان څخه خبر ورکوي چې کله ورته ضرر ورسیږي نو خپل رب ته بیره وکړي او ورڅخه د ضرر د لرې کولو سوال وکړي، الله تعالی فرمایلي:

﴿۞ وَإِذَا مَسَّ ٱلۡإِنسَٰنَ ضُرّٞ دَعَا رَبَّهُۥ مُنِيبًا إِلَيۡهِ ثُمَّ إِذَا خَوَّلَهُۥ نِعۡمَةٗ مِّنۡهُ نَسِيَ مَا كَانَ يَدۡعُوٓاْ إِلَيۡهِ مِن قَبۡلُ وَجَعَلَ لِلَّهِ أَندَادٗا ...﴾ [الزمر: 8]

[15] (او کله چې انسان ته سختي ورسیږي (، نو) خپل رب بلي، په داسې حال کې چې هغه ته رجوع کوونکی وي، بیا چې کله هغه (الله) ده ته له خپل جانب نه نعمت ورکړي (،

[14] ۲۴] الزخرف سورت، ۹ آیت.

نو) هېر کړي هغه ذات چې ده به له دې (نعمت) نه مخکې دغه (تکليف لرې کولو) ته باله، او الله لپاره شريکان مقرر کړي)، او الله تعالی د مشرکانو د حال په هکله فرمايي:

﴿هُوَ ٱلَّذِى يُسَيِّرُكُمْ فِى ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا كُنتُمْ فِى ٱلْفُلْكِ وَجَرَيْنَ بِهِم بِرِيحٍ طَيِّبَةٍ وَفَرِحُواْ بِهَا جَآءَتْهَا رِيحٌ عَاصِفٌ وَجَآءَهُمُ ٱلْمَوْجُ مِن كُلِّ مَكَانٍ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُمْ أُحِيطَ بِهِمْ ۙ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ لَئِنْ أَنجَيْتَنَا مِنْ هَٰذِهِۦ لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿٢٢﴾ فَلَمَّآ أَنجَىٰهُمْ إِذَا هُمْ يَبْغُونَ فِى ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ ۗ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّمَا بَغْيُكُمْ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُم ۖ مَّتَٰعَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ ثُمَّ إِلَيْنَا مَرْجِعُكُمْ فَنُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٢٣﴾﴾ [يونس: 22-23]

(هم هغه دی چې تاسو په وچه او بحر کې ګرځوي، تر دې چې کله تاسو په کښتيو کې (سواره) شئ، او دا (کښتۍ) له دوی سره په ښې (موافقې) هوا سره رواني شي او په دې سره دوی خوشحاله شي (،نو) په دې (کښتيو) باندې سخت تېز باد راشي او په دې (خلقو) باندې له هر ځايه چپې راشي او دوی يقين وکړي چې بېشکه دوی ګېر کړی شول (بيا) دوی الله بلي، په داسې حال کې چې خاص هغه لره دين (عبادت) خالص کوونکي وي (او وايي) يقينًا که چېرې تا مونږ ته له دې (مصيبت) نه خلاصی راکړ(،نو) مونږ به هرومرو لازمًا له شکر کوونکو څخه شو نو کله چې هغه، دوی ته نجات ورکړي ناڅاپه دوی په ځمکه کې ناحقه ظلم فساد شروع کړي، ای خلقو! بېشکه همدا خبره ده چې ستاسو ظلم او سرکشي د خپلو ځانونو په ضرر ده. د دنيايي ژوند فايده (واخلئ) بيا خاص مونږ ته ستاسو واپس راتله دي، نو مونږ به تاسو پر هغو عملونو خبر کړو چې تاسو به کول).[16] او الله تعالی فرمايلي :

[15] د لا زياتې پراختيا لپاره وګورئ:کتاب التوحيد د مجدد امام محمد بن عبد الوهاب - رحمه الله - [۲۵] الزمر سورت، ۸ آيت.

[16] [۲۶ يونس سورت، ۲۲، ۲۳ آيتونه

﴿وَإِذَا غَشِيَهُم مَّوۡجٞ كَٱلظُّلَلِ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمۡ إِلَى ٱلۡبَرِّ فَمِنۡهُم مُّقۡتَصِدٞۚ وَمَا يَجۡحَدُ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَّا كُلُّ خَتَّارٖ كَفُورٖ ٣٢﴾ [لقمان: 32]

[17] (او کله چې دوی لره د وريځو په شان موج را لاندې (پټ) کړي (نو) دوی الله بولي، په داسې حال کې چې دين خاص الله ته خالص کوونکي وي، نو کله چې هغه دوی ته وچې ته نجات ورکړي، بیا نو په دوی کې ځينې په نېغه لاره ولاړ وي او زمونږ له آیتونو (دلیلونو) نه انکار نه کوي مګر هر هغه چې ډېر عهد ماتوونکي، ډېر ناشکره دي).

دا معبود چې کائنات يې له هيڅ څخه پيدا کړل او انسان يې په غوره شکل کې پيدا کړی او په فطرت کې يې د هغه بندګي او تابعداري ايښې ده او ذهنونه يې د هغه ربوبيت او الوهيت ته تابع کړي او ولسونو يې په اتفاق سره د هغه د څښتنيت په رسميت پيژندلو اجماع کړې، نو خامخا هغه ذات په ربوبيت او الوهيت کې يو دی، نو لکه څرنګه چې هغه په مخلوق کې شريک نه لري؛ په ورته ډول، په الوهيت کې هم شريک نه لري، پدې خبره زيات دليلونه شتون لري، له جملې څخه يې:

۱- په دې کايناتو کې يوازې يو معبود شتون لري چې هغه پيدا کوونکی او روزي ور کوونکی ذات دی او له هغه پرته بل څوک ګټه او ضرر نه شي رسولای، که چيرته پدې کائناتو کې بل معبود شتون درلودلای نو هغه به هم کړنې، تخليق او امر درلودلای، او هيڅ يو به د بل ګډون نه منوده[18]، او خامخا به يو پر بل برلاسی او غالبېده، او دا شونې نده چې معبود دې مغلوب شي، او غالب يوازې يو حق معبود دی، له هغه سره بل معبود په الوهيت کې شريک نه لري لکه څرنګه چې ورسره څوک په ربوبيت کې شريک ندی، الله تعالی فرمايلي:

﴿مَا ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ مِن وَلَدٖ وَمَا كَانَ مَعَهُۥ مِنۡ إِلَٰهٍۚ إِذٗا لَّذَهَبَ كُلُّ إِلَٰهِۢ بِمَا خَلَقَ وَلَعَلَا بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖۚ سُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ٩١﴾ [المؤمنون: 91]

---

[17] لقمان سورت ٣٢ آيت.

[18] وګورئ: شرح العقيدة الطحاوية، 39 مخ.

[19] (الله (د ځان لپاره) هېڅ اولاد نيولی ندی او نه له هغه سره بل هېڅ معبود شته (او که ورسره وی نو) په دغه وخت کې به خامخا هر اله بېولي وو هغه څه چې پيدا کړي يې وو، او خامخا د دوی ځينو به په ځينو نورو باندې غلبه کوله، پاك دی الله له هغو خبرو نه چې دوی يې بيانوي).

٢- له الله پرته؛ چې د ځمکې او اسمانونو پاچاه دی بل څوک د عبادت وړ نه دی . ځکه چې انسان هغه معبود ته ځان نږدې کوي چې ګټه ورته رسوي او ضرر ترې لرې کوي او له هغه شخه بدۍ او فتنې لرې کوي. او د دې چارو توان يوازې هغه ذات لري چې د آسمانونو او ځمکې - او هغه څه چې د دوی ترمنځه دي - پادشاه دی، او که چېرته ورسره نور معبودان وای لکه څرنګه چې مشرکان وايي، نو خامخا به بندګانو د عبادت وړ ذات ته د رسيدو لپاره لارې پيدا کړې وای. ځکه ټول هغه کسان چې له الله پرته يې - د نورو څېزونو - عبادت کاوه موخه يې الله تعالی ته ځان نږدې کول وو، نو څوک چې حق معبود ته د نږدې کېدلو اراده لري؛ هغه معبود چې ګټه او زيان يې په لاس کې دي نو بايد د هغه حق معبود عبادت وکړي چې د آسمانونو او ځمکې او پکې شته مخلوق يې عبادت کوي د هغه معبودانو په شمول چې له الله پرته يې عبادت کيږي، الله تعالی فرمايلي:

﴿قُل لَّوۡ كَانَ مَعَهُۥٓ ءَالِهَةٞ كَمَا يَقُولُونَ إِذٗا لَّٱبۡتَغَوۡاْ إِلَىٰ ذِي ٱلۡعَرۡشِ سَبِيلٗا ٤٢﴾ [الإسراء: 42]

[20] (ته ووايه: که له دغه (الله) سره نور معبودان وای، لکه څنګه چې دوی يې وايي (، نو) په دغه وخت کې به دوی خامخا د عرش د مالک په طرف لار لټولې وی). او د حق غوښتونکی دې د الله تعالی دا وينا ولولي:

﴿قُلِ ٱدۡعُواْ ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ لَا يَمۡلِكُونَ مِثۡقَالَ ذَرَّةٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا لَهُمۡ فِيهِمَا مِن شِرۡكٖ وَمَا لَهُۥ مِنۡهُم مِّن ظَهِيرٖ ٢٢ وَلَا تَنفَعُ ٱلشَّفَٰعَةُ عِندَهُۥٓ إِلَّا لِمَنۡ أَذِنَ لَهُۥۚ ...﴾ [سبأ: 22-23]

---

[19] المؤمنون سورت، 92 آيت.

[20] ٣٠] الاسراء سورت ٤٢ آيت.

(ته (دې مشرکانو ته) ووایه: تاسو هغه معبودان وبولئ چې تاسو هغه له الله تعالی نه غیر معبودان ګڼلي دي، دوی د یوې ذرې اندازه واک نه لري په اسمانونو کې او نه په ځمکه کې او د دوی لپاره په دغو دواړو کې هېڅ برخه (شرکت) نشته، او نشته دغه الله تعالی ته له دوی نه هېڅ مرستندوی. او د هغه (الله) په نیز شفاعت ګټه نه رسوي مګر د هغه چا لپاره چې هغه (الله) د هغه لپاره اجازت ورکړي)[21]، دا آیتونه په څلورو شیانو سره د الله پرته له نورو سره د زړه اړیکه پرې کوي:

لومړی: دا چې دا شریکان له الله سره د ذرې په اندازه واک نه لري، نو هغه څوک چې د ذرې په اندازه واک ونه لري نه خو ګټه رسولای شي او نه ضرر، او نه ښایي چې هغه دې معبود اوسې او یا دې د الله سره برخوال وي، یوازې الله هغه ذات دی چې دوی یې په واک کې دي او سرنوشت یې یوازې د همغه - په لاس کې - دی.

دویم: دا چې دوی د آسمانونو او ځمکې څخه هیڅ شی نه لري او دوی پکې د ذرې په اندازه برخه هم نه لري.

دریم: دا چې الله له خپل مخلوق څخه هیڅ مرستندوی نه لري؛ بلکه هغه؛ هغه ذات دی چې د دوی سره په هغه څه کې مرسته کوي چې ګټه ورته رسوي او د هغه څه څخه یې ساتنه کوي چې زیان ورته رسوي، ځکه هغه په بشپړه توګه له دوی څخه مستغني دی او هغوی ورته اړمن دي.

څلورم: دا چې دا شریکان د خپلو پیروانو لپاره د الله په وړاندې د شفاعت واک نلري، او پدې اړه دوی ته اجازه نه ورکول کیږي، او هغه پاک ذات یوازې خپلو اولیاوو ته د شفاعت اجازه ورکوي، او اولیاء شفاعت نه کوي مګر هغه چاته چې الله یې له وینا، کړنې او عقیدې څخه راضي وي [۳۲] .

۳- د ټولې نړۍ د چارو منظموالی او د پریکړو غښتلتیا د دې خبرې ثبوت دی چې چارسازی یې یو الله، یو واکمن پادشاه، یو رب دی، د مخلوقاتو لپاره له هغه پرته بل معبود نشته، او نه دوی لره له هغه پرته بل رب شته. لکه څنګه چې د دې کائناتو لپاره د دوو خالقانو شتون نا ممکن دي، همدا رنګه د دوو معبودانو شتون ورته هم ناشوني دي، الله تعالی فرمايلي:

---

[21] [۳۱] سبأ سورت، ۲۳ ، ۲۴ آیتونه.

﴿لَوۡ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَاۚ ...﴾ [الأنبياء: 22]

(كه چیرې په دغو (ځمکه او اسمان) کې له الله نه پرته نور معبودان وی (نو) دواړه به خامخا وران شوي وو ). كه په آسمان او ځمکه کې له الله پرته د بل معبود شتون فرض شي، نو خامخا به دواړه سره وران شوي وو، او د ورانیدو وجه يې دا ده چې: که چېرته له الله سره بل معبود وای نو خامخا به هر یو له دوی څخه د استبداد او تصرف ځواک درلودای چې پدې سره به شخړه او مخالفت رامنځته شوی و ، او له امله به يې ورانی رامنځته شوی و[22]. او که دا ناشوني وي چې د بدن چارې دې دوه یو له بل سره برابر روحونه سمبالې کړي، نو که داسې وای خامخا به فاسد او تباه شوی وی او دا ناشونی کار دی، نو دا کار څنګه په کائناتو تصور کیدلی شي، حال دا چې هغه ډیر لوی دي. [۳۵][23]

۴- په دې اړه د انبیاوو او رسولانو اجماع:

ټولو ملتونو پدې اجماع کړې ده چې أنبیا او رسولان تر ټولو عقلمن، د پاکو نفسونو، غوره اخلاقو، رعیت ته غوره نصیحت کوونکي، د الله تعالی په مراد ښه پوه، له خپلو رعیتونو سره تر ټولو مخلص او سمې لارې ته تر ټولو زیات لارښوونکي دي. ځکه چې دوی د الله تعالی لخوا وحی ترلاسه کوي، او خلکو ته يې رسوي. او ټولو پیغمبرانو او رسولانو، له لومړي آدم علیه السلام څخه نیولې بیا تر محمد - صلی الله علیه وسلم - پورې، په دې هوکړه کړې چې خپل قوم ته په الله تعالی د ایمان راوړلو او له هغه پرته د نورو د عبادت پرېښودلو ته بلنه ورکړې او دا چې هغه ریښتینی معبود دی، الله تعالی فرمايلي:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِيٓ إِلَيۡهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدُونِ ٢٥﴾ [الأنبياء: 25]

---

[22] [۳۳] الانبیاء سورت، ۲۲ آیت.

[23] [۳۴] وګورئ: فتح القدیر، دریم ټوک، ۴۰۳ مخ.

[24] (او مونږ له تا نه مخکې هېڅ رسول ندی لېږلی مګر دا چې هغه ته به مونږ (دا) وحې کوله چې بېشکه شان دا دی چې له ما نه پرته بل هېڅ حق معبود نشته، نو تاسو زما عبادت کوئ). هغه د نوح - علیه السلام - په باره کې فرمايلي چې خپل قوم ته يې ووېل:

﴿أَن لَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَۖ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٍ أَلِيمٖ ٢٦﴾ [هود: 26]

[25] (دا چې تاسو عبادت مه کوئ مګر يوازې د الله، بېشکه زه ستاسو لپاره د هغه له جانبه (رالېږل شوی) وېروونکی او زېری ورکوونکی يم). الله تعالی د دوی د وروستي؛ محمد - صلی الله علیه وسلم - په اړه فرمايلي دي چې هغه خپل قوم ته ووېل:

﴿قُلۡ إِنَّمَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ فَهَلۡ أَنتُم مُّسۡلِمُونَ ١٠٨﴾ [الأنبياء: 108]

(ووايه: بېشکه همدا خبره ده چې ما ته وحې کولی شي چې يقيناً هم دا خبره ده چې ستاسو حق معبود يو معبود دی، نو ايا تاسو اسلام راوړونکي يئ؟).[26]

دا هغه الله دی چې کائنات يې له نشت نه په بې ساري توګه پيدا کړل، او انسان يې په غوره بڼه پيدا کړ او عزت يې ورکړ، او د ده په فطرت کې يې د الله تعالی په ربوبيت او الوهيت اقرار ځای پر ځای کړ، او داسې يې وګرځاوه چې روح يې تر هغه ارام نه مومي تر څو يې چې خالق ته نه وي تسليم شوی او په لاره يې نه وي تللی، او د هغه په روح يې دا فرض ګڼلې ده چې تر هغه ډاډمن کيدلی نه شي تر څو چې يې خپل پيدا کوونکي ته آرام نه وي موندلی، او د خپل خالق سره په اړيکه کې شوی نه وي، او هغه سره د اړيکې لار نشته پرته د هغه له نېغې لارې څخه چې پيغمبرانو يې خلکو ته ښودلې ده، او - هغه ته يې - دا عقل ورکړی چې تر هغه يې چارې نه شي سمبړلای او نه خپله دنده تر سره کولای شي تر څو چې يې په بشپړه توګه په خپل رب ايمان نه وي راوړی.

---

[24] ۳۶] الانبياء سورت، ۲۵ آيت.

[25] ۳۷] هود سورت، ۲ آيت.

[26] ۳۸] الانبياء سورت، ۱۰۸آيت.

نو کله چې فطرت سم شي، روح ارام شي، نفس سکون پیدا کړي او فکر آرام شي، نو په دنیا او آخرت کې ورته خوښي، امنیت او ډاډ تحقق پیدا کړي. او که یو څوک لدې انکار وکړي، هغه به د نړۍ په درو کې ګډوډ او ورک شي، د خدایانو تر مینځه به وویشل شي، نه به پوهیږي چې څوک ورته ګټه رسوي او څوک ورڅخه د زیان مخنیوی کوي. او د دې لپاره چې ایمان په نفس کې ځای ونیسي، او د کفر شفاعت روښانه شي، الله تعالی یې په اړه یو مثال وړاندې کړ- ځکه مثال ذهن معنا ته نږدې کوي - دوه سړي یې سره پرتله کړل؛ چې د یوه چارې یې د ګڼو خدایانو تر منځه ویشل شوي دي او بل چې یوازې د خپل پاک رب عبادت کوي:

﴿ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا رَّجُلًا فِيهِ شُرَكَآءُ مُتَشَٰكِسُونَ وَرَجُلًا سَلَمًا لِّرَجُلٍ هَلۡ يَسۡتَوِيَانِ مَثَلًاۚ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ۝٢٩﴾ [الزمر: 29]

[27] (الله یو مثال بیانوي، یو (غلام) سړی دی، په ده کې بد خویه په خپل مینځ کې ناسازه کسان شریکان دي او بل (غلام) سړی دی چې سالم (او پوره) د یو سړي دی، ایا دغه دواړه په حال کې سره برابر دي؟ ټول د کمال صفتونه خاص د الله لپاره دي بلکې د دوی اکثره نه پوهیږي) الله تعالی د موحد بنده او مشرك بنده لپاره په داسې یو غلام سره مثال ورکوي چې ګڼ شمېر باداران پکې شریک وي او په اړه یې یو له بل سره شخړه کوي، پداسې حال کې چې هغه د دوی تر منځه وېشل شوی دی، او هر یو یې په اړه جلا نظر لري، هر یو په یو ځانګړي کار مکلف کړی وي، نو غلام د دوي تر منځه حیران وي هیڅ تګلاره نشي خپلولی، او په هیڅ لاره کې سکون نشي موندلی، او دا یې هم له وسې پوره نده چې هغوی ټول راضي کړي، او هغه نشي کولی د دوی متضاد، جنجالي، او متعارض غوښتنې پوره کړي چې د هغه لیدلوری او څواک له مینځه وړي! او بل غلام چې یوازې یو بادار لري، هغه پوهیږي چې څه ترې غواړي او پر څه یې مکلف کړی دی، نو آرام دی او یوه روښانه تګلاره لري، نو دا دواړه ( غلامان ) سره برابر ندي، ځکه یو یې د یو بادار تابع او د سکون، راحت، پوهې او یقین په نعمت کې ژوند کوي او بل یې د ګڼو بادارانو تابع دی چې په خپلو کې سره وران دي، نو هغه په عذاب او اندیښنه کې دی، په یو حال نشي پاتې کیدلی او هیڅ یو راضي کولای نه شي دا خو لا پریږده چې ټول راضي کړي.

[27] الزمر سورت، 29 آیت.

وروسته لدې چې د الله تعالي په وجود او د هغه په ربوبيت او الوهيت دلايل واضح شول، غوره ده چې د هغه لخواد كائناتو او انسان پيدا كولو سره آشنا شو او په اړه يې د حكمت پلټنه وكړو.

## د كائناتو پيدايښت

دا كائنات؛ د آسمانونو، ځمكې، ستورو، سيارو، سمندرونو، ونو او ټولو حيواناتو په ګډون الله تعالى له نشت څخه پيدا كړي دي، الله تعالى فرمايلي:

﴿۞ قُلۡ أَئِنَّكُمۡ لَتَكۡفُرُونَ بِٱلَّذِي خَلَقَ ٱلۡأَرۡضَ فِي يَوۡمَيۡنِ وَتَجۡعَلُونَ لَهُۥٓ أَندَادٗاۚ ذَٰلِكَ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٩ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَٰسِيَ مِن فَوۡقِهَا وَبَٰرَكَ فِيهَا وَقَدَّرَ فِيهَآ أَقۡوَٰتَهَا فِيٓ أَرۡبَعَةِ أَيَّامٖ سَوَآءٗ لِّلسَّآئِلِينَ ١٠ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ وَهِيَ دُخَانٞ فَقَالَ لَهَا وَلِلۡأَرۡضِ ٱئۡتِيَا طَوۡعًا أَوۡ كَرۡهٗا قَالَتَآ أَتَيۡنَا طَآئِعِينَ ١١ فَقَضَىٰهُنَّ سَبۡعَ سَمَٰوَاتٖ فِي يَوۡمَيۡنِ وَأَوۡحَىٰ فِي كُلِّ سَمَآءٍ أَمۡرَهَاۚ وَزَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنۡيَا بِمَصَٰبِيحَ وَحِفۡظٗاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ١٢﴾ [فصلت: 9-12]

(ته دوى ته ووايه: ايا په رښتيا تاسو خامخا كافران كېږئ په هغه ذات چې ځمكه يې په دوه ورځو كې پيدا كړه او تاسو د هغه لپاره شريكان جوړوئ. او دغه (الله تعالى) په دغې ځمكه كې د دې له پاسه غرونه كېښول او په هغې كې يې بركت واچاوه او په هغې كې يې د دې د (اوسېدونكو) روزي په اندازه كړه په څلورو ورځو كې، په داسې حال كې چې د پوښتنې كوونكو لپاره برابر دي. بيا يې د اسمان په طرف اراده وكړه، په داسې حال كې چې هغه يو لوګى وو، نو هغه (الله تعالى) ده ته او ځمكې ته ووېل: تاسو دواړه راشئ، په خپلې خوښې سره، يا په زور سره، دواړو ووېل: مونږ په خوښۍ سره فرمان منوونكي راغو. (نو په دوو ورځو كې يې اووه اسمانونه جوړ كړل او په هر اسمان كې يې د هغه مناسب كار وحې وكړه او د ټولو نږدې اسمان مو په ډېوو (ستورو) سره ښكلى كړ او (دغه مو وساته) په ښې ساتنې سره، دغه د ډېر غالب، ښه پوه ذات اندازه كول دي).[28].

[28] فصلت سورت، 9-12آيتونه.

او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿أَوَلَمْ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَٰهُمَاۖ وَجَعَلْنَا مِنَ ٱلْمَآءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّۚ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ۝٣٠ وَجَعَلْنَا فِي ٱلْأَرْضِ رَوَٰسِيَ أَن تَمِيدَ بِهِمْ وَجَعَلْنَا فِيهَا فِجَاجًا سُبُلًا لَّعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ۝٣١ وَجَعَلْنَا ٱلسَّمَآءَ سَقْفًا مَّحْفُوظًاۖ وَهُمْ عَنْ ءَايَٰتِهَا مُعْرِضُونَ۝٣٢﴾ [الأنبياء: 30-32]

(آیا نه دي خبر کافران چې بېشکه آسمانونه او ځمکه سره دواړه یوځای نښتي وو نو بیا مونږ دواړه بېل کړل، او هر ژوندی شی مو د اوبو څخه پیدا کړی دی، آیا دا خلک ایمان نه راوړي؟ او مونږ په ځمکه کې پاخه غرونه پیدا کړي دي چې په دوی باندې (دغه ځمکه) ونه خوځېږي او مونږ په دې کې لارې پیدا کړې دي، چې ارتې پراخه دي، د دې لپاره چې دوی لار ومومي. او مونږ اسمان محفوظ چت جوړ کړی دی او دوی (کفار) د هغه (اسمان) له نخښونه مخ ګرځوونکي دي)[29].

دا کاینات الله پاک د بې شمېره سترو حکمتونو لپاره پیدا کړي دي، ځکه د هغې په هره برخه کې لوی حکمتونه او په زړه پورې نښې شته، که په هغو کې هر یوه ته هم فکر وکړې؛ نو حیرانتیا به پکې ومومې. نو په نباتاتو کې د الله تعالی د کار کمالونه وګوره چې له هغې څخه یوه پاڼه، رګ یا میوه له ګټې خالي نده، د انسان عقل يې په خپله پوهه کې له راګیرولو او تفصیلاتو پوهیدلو عاجز دی، او په هغو کمزورو ناچیزه رګونو (نیلو) کې د اوبو ځغلیدو ته وګورئ چې د دې ورتیا لري چې د ځمکې له لاندې برخې څخه اوبه پورته راوباسي. بیا په دغو رګونو کې د منلو او ورتیا سره سم حرکت کوي، بیا وویشل شي، لارې لارې شي او هغو ځایونو ته ورسیږي چې سترګې یې نشي لیدلای، بیا د ونې د بار جوړښت او له یو حالت څخه بل حالت ته د هغې لیږد وګورئ، لکه جنین چې له سترګو پناه له یو حالت څخه بل حالت بدلون مومي. په داسې حال کې چې تاسو هغه د لرګیو په څیر وینئ چې هیڅ پوښ نلري، خو رب او خالق یې په پاڼو سره په غوره پوښونو وپوښله، بیا یې پکې بار په کمزورې ناچیزه بڼه راښکاره کړ وروسته لدې چې پاڼې یې ورته د ساتنې او د کمزورې میوې لپاره د لباس په موخه راوویستې، تر څو پرې ځان له ګرمۍ، یخنۍ او هر ډول آفت نه وساتي، بیا یې هغه میوو ته د رګونو او نیلو له لارې رورزي را جلب کړه نو پرې یې تغذیه کړه،

---

[29] الأنبیاء سورت،30،32 آیتونه. او همدا رنګه د الرعد سورت لومړۍ برخه وګورئ.

لکه څرنګه چې کوچنی ماشوم د مور په شیدو سره تغذیه کیږي، بیا یې وروزله، لویه یې کړه تر دې چې د برابرۍ او کمال وروستي حد ته ورسیده، نو د خوندورې میوې په بڼه یې د کلکو لرګیو له منځه راوویسته. او که تاسو ځمکه وګورئ او دا چې څنګه رامینځته شوې؛ ما دا د هغې د پیدا کوونکې له سترو نښانو څخه ولیده، چې هغه پاک ذات د بستر او زانګو په توګه پیدا کړې او د خپلو بندګانو لپاره یې تابع کړې او د دوی رزق، غلې او روزي یې په کې ایښودلې ده، او پدې کې یې ورته لارې جوړې کړې دي تر څو د خپلو اړتیاوو لپاره له یو ځای څخه بل ځای ته لاړ شي، او هغه یې په غرونو سره ثابته کړه او غرونه یې پرې میخ کړل تر څو ونه خوځیږي، او کنارې یې ورته پراخه کړې او ویې غوړوله نو اوږده پراخه او خپره یې کړه، او د ژوندیو لپاره یې بسیا کړه تر څو په خپله شا ځای ورکړي، او د مړو لپاره یې بسیا وګرځوله تر څو په خپله ګیډه کې ځای ورکړي کله چې مړه شي؛ نو شا یې د ژوندیو لپاره استوګنځای او ګیډه یې د مړو لپاره استوګنځای دی. بیا دې ګردش کوونکې سیارې ته وګوره؛ لمر، سپوږمۍ، ستوري او برجونه او دا چې دا نړۍ څنګه په یو دوامداره ګردش سره پدې ترتیب او سیسټم روانه ده، او څه چې پدې کې له شپې او ورځې، تودوخې او سوړوالي توپیر دی .. او هغه څه چې په ځمکه کې د حیواناتو او نباتاتو له ډولونو څخه د ګټو لپاره دي.

بیا د آسمان په پیدایښت کې فکر وکړه، بیا بیا پکې نظر واچوه، نو ته به یې په لوړوالي، پراختیا، او ثابتوالي کې له سترو نښانو څخه ومومې چې نه خو ستنې لري، او نه پورته د څه شي پورې تړلي دي، بلکه د الله تعالی په قدرت سره نیول شوي دي؛ هغه ذات چې آسمانونه او ځمکې یې نیولي دي تر څو خوشي نه شي..

او که تاسو د دې کائناتو او د هغې د برخو ترکیب ته وګورئ او دا چې په غوره سیسټم سره یې تنظیم کړی نو - وبه مومئ چې - دا د هغې د پیدا کوونکي د قدرت په کمال، د هغه د پوهې په کمال ، د هغه د حکمت په کمال، او د هغه د مهربانۍ په کمال دلالت کوي. او ته به دا هر څه د داسې یو ودان شوي کور په بڼه ومومې چې د ټولو وسایلو او اسانتیاوو سره او ټول هغه څه چې اړتیا ورته لري چمتو شوی وي. اسمان یې چت دی چې په هغې باندې پورته شوی، ځمکه د اوسیدونکو لپاره غوړول شوې، فرش او د استوګنې بستر دی، لمر او سپوږمۍ دوه څراغونه دي چې په هغې کې ځلیږي او ستوري د هغې لپاره څراغونه، زینت او د هغه چا لپاره لارښود دی چې د دې کور په لارو کې سفر کوي او ګوهر او معدنونه یې په کې د تیار شوي مهماتو په څیر ساتل کیږي، هر یو شی په خپل ځای کې د خپل شان سره مناسب دی. ډول ډول نباتات یې د اړتیاوو لپاره چمتو شوي دي. ډول ډول څاروي یې د اړوندو ګټو لپاره بوخت دي، لکه د سوارلۍ، شیدو

ورکولو، خواړ، لباس او د ساتنې لپاره ترې ګټه اخیستل کیږي. او انسان یې پکې د هغه پادشاه په څېر ګرځولی چې ټول اختیارات یې ورکړي او په خپلو کړنو او امر سره پکې تصرف کوي.

او که تاسو په دې ټولو کائناتو یا د هغې په یوه برخه کې فکر وکړئ، تاسو به پکې یوه حیرانتیا ومومئ، او که تاسو پکې په بشپړه توګه عمیق فکر وکړئ، د خپل ځان سره انصاف وکړئ او د هوا او هوس د تقلید له جال څخه ځان خلاص کړئ. نو پوره به ډاډمن شئ چې دا کائنات پیدا شوي دي، حکیم، قدیر او علیم ذات پیدا کړي دي، په غوره کچه یې اندازه کړي دي او په ښایسته نظم سره یې سمبال کړي دي، او دا ناشونې ده چې دوه خالقه دې شتون ولري؛ بلکه معبود یو دی، له هغه پرته بل معبود نشته، او دا چې که چېرته په اسمانونو او ځمکه کې له الله پرته بل معبود وای، د دوی دواړو چارې به خرابې شوې وې، نظم به یې ګډوډ شوي و، او ګټې به یې ناکاره شوې وې.

که تاسو خامخا انکار کوئ او له خالق پرته بل چا ته د مخلوقاتو د پیدا کولو نسبت کوئ، نو تاسو د هغه څرخ په اړه څه وایئ چې په یو سیند لړیدلی وي، ماشینونه یې بشپړ وي، جوړښت یې بشپړ شوی وی، وسایل یې په خورا ښه او ښایسته ډول نصب شوي وي، تر دې چې لیدونکي پکې هیڅ کومه نیمګړتیا نه ګوري، نه یې په وسایلو او نه په شکل کې، بیا دا په یو لوی باغ لړیدلی وي چې په هغه کې د اړتیا وړ هر ډول میوې اوبه کوي. او په هغه باغ کې داسې څوک وي چې د هغې چارې سموي، ښه پالنه یې کوي، هره ورځ یې ګوري او ټولې چارې یې سمبالوي، هیڅ شی ترې نه ګډوډیږي او نه یې میوې خرابیږي، بیا یې حاصل لګښتونو، اړتیاوو او ضرورتونو ته په لیدو په ټولو ویشي، هر ډول ته د هغوی د حال سره مناسب ورکول کیږي او دا د تل په څیر ویشل کیږي.

آیا فکر کوئ دا کار په تصادفي توګه تر سره شوی دی، پرته لدې چې کوم جوړوونکی، د اختیار خاوند او چارسمبالی ولري؟؟ او یا دا چې څرخ (ماشین) او باغ سره خپلو کې هوکړه کړې ده، او دا ټول په تصادفي توګه پرته له تر سره کوونکي او چارسمبالی کیږي، آیا خبر یې چې عقل به دې پدې اړه څه درته وایې که چیرته داسې وای؟ او څه پریکړه به یې کوله؟ او کوم کار ته به یې ستا لارښوونه کوله؟؟ [۴۲].

# لدې څخه حکمت

د کائناتو د پیدایښت په اړه له دې ژور فکر کولو وروسته ښه ده چې د ځینو هغو حکمتونو یادونه وکړو چې له امله یې الله تعالی دغه ستر کائنات پیدا کړي دي، د دې مبارکو حیرانوونکو نښانو څخه ځینې په لاندې ډول دي:

١- انسان ته د هر څیز کار لګول (مسخر کول): کله چې الله تعالی په ځمکه کې د خلیفه د ټاکلو پریکړه وکړه تر څو یې پکې عبادت وکړي، او ودانه یې کړي، نو د هغه له خاطره یې دا هر څه پیدا کړل، تر څو یې ژوند سم شي، او پکې د اوسیدلو او آخرت ته د ورګرځیدلو چارې یې سمې شي، الله تعالی فرمایلي:

﴿وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا مِّنۡهُۚ ...﴾ [الجاثية: 13]

[30] (او ستاسو لپاره یې په کار لګولي دي هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي) او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَخۡرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزۡقٗا لَّكُمۡۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلۡفُلۡكَ لِتَجۡرِيَ فِي ٱلۡبَحۡرِ بِأَمۡرِهِۦۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلۡأَنۡهَٰرَ ٣٢ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ دَآئِبَيۡنِۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ ٣٣ وَءَاتَىٰكُم مِّن كُلِّ مَا سَأَلۡتُمُوهُۚ وَإِن تَعُدُّواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ لَا تُحۡصُوهَآۗ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَظَلُومٞ كَفَّارٞ ٣٤﴾ [إبراهيم: 32-34]

32) (بېشکه الله تعالی هغه ذات دی چې آسمانونه او زمکه یې پیدا کړي دي او له بره نه یې اوبه نازلې کړي دي، پس په هغو سره یې له مېوو نه ستاسو لپاره رزق راوېستلی دی او ستاسو لپاره یې بېړۍ مسخرې کړي دي، د دې لپاره چې هغه (بېړۍ) د هغه په حکم سره په سمندر کې رواني وي، او ستاسو لپاره یې نهرونه مسخر کړي دي. (او ستاسو لپاره یې لمر او سپوږمۍ په کار لګولي دي، په داسې حال کې چې د قانون مطابق ګرځي او ستاسو

---

[30] الجاثية سورت، الآية 13.

لپاره يې شپه او ورځ په کار لګولي دي) او تاسو ته يې له هغو څيزونو نه چې تاسو هغه غوښتي، ځينې درکړي دي او که تاسو د الله نعمتونه وشمېرئ (نو) تاسو به هغه ونشمېرلی شئ، بېشکه انسان خامخا ډېر ظلم کوونکی، ډېر ناشکره دی[31].

2- دا چې آسمانونه او ځمکه او ټول هغه څه چې په کايناتو کې دي د هغه رب العزت په ربوبيت او يووالي ګواهان دي : دا ځکه چې په دې موجوداتو کې ترټولو لويه خبره د هغه په ربوبيت اقرار او د هغه په وحدانيت ايمان لرل دي، او د دې لپاره چې دا لويه چاره ده نو لوی شواهد يې پرې ګواه ګرځولي، او لويې نښانې يې ورته ګرځولي دي، او په لويو دلايلو يې ورته احتجاج کړی دی، نو الله پاک، آسمانونه او ځمکه او نور مخلوقات پدې ګواهان ګرځولي دي، له همدې امله په قرآنکريم کې {ومن آياته} {او د هغه له نښو څخه} په ډېرو ځايونو کې راغلي دي لکه د الله تعالی پدې وينا کې:

﴿وَمِنْ ءَايَـٰتِهِۦ خَلْقُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ...﴿٢٢﴾ وَمِنْ ءَايَـٰتِهِۦ مَنَامُكُم بِٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ ...﴿٢٣﴾ وَمِنْ ءَايَـٰتِهِۦ يُرِيكُمُ ٱلْبَرْقَ خَوْفًا وَطَمَعًا ...﴿٢٤﴾ وَمِنْ ءَايَـٰتِهِۦٓ أَن تَقُومَ ٱلسَّمَآءُ وَٱلْأَرْضُ بِأَمْرِهِۦ ...﴿٢٥﴾﴾ [الروم: 22-25]

(او د هغه له نښو څخه د اسمانونو او ځمکې پيدا کول دي) (او د هغه له نښو نه ستاسو خوب دی، په شپه او ورځ کې) (او د هغه له نښو څخه (دا) دي چې هغه تاسو ته برېښنا د وېرې او طمعې لپاره ښيي(او د هغه له نښو څخه (دا) دي چې اسمان او ځمکه د هغه په حکم سره ولاړ دي)[32].

٣- د دې لپاره چې په بيا راژوندي کيدو ګواهان اوسي: کله چې ژوند دوه ژوندونه دي، يو د دنيا ژوند او بل د آخرت ژوند او د آخرت ژوند حقيقي ژوند دی، الله تعالی فرمايلي:

---

[31] إبراهيم سورت، : 32-34 آيتونه.

[32] الروم سورت، له 22 تر 25 آيت پورې.

﴿وَمَا هَٰذِهِ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَآ إِلَّا لَهۡوٞ وَلَعِبٞۚ وَإِنَّ ٱلدَّارَ ٱلۡأٓخِرَةَ لَهِيَ ٱلۡحَيَوَانُۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ٦٤﴾ [العنكبوت: 64]

[33] (او دا دنيايي ژوند ندی مګر عبث او لوبې او بېشکه دار اخرت (جنت) خامخا همغه واقعي ژوندون دی، که چېرې دوی پوهېدلی). ځکه چې هغه د بدلې او حساب کور دی، په هغه کور کې - د جنتيانو لپاره - په نعمتونو کې تلپاتې اوسيدل دي او د دوزخيانو لپاره په عذابونو کې تلپاتې اوسيدل دي.

او کله چې دې کور ته انسان نشي رسيدلی مګر وروسته له مرګ څخه او له مرګ نه وروسته راژوندی کيږي؛ ټولو هغو خلکو ته چې د خپل رب سره يې اړيکه پرې ده لدې څخه انکار وکړ، او د خپل فطرت مخالفت يې وکړ، عقل يې فاسد شو، لدې امله الله تعالی دليلونه او شواهد وړاندې کړل، تر څو نفسونه په بيا راژوندي کيدو ايمان راوړي، او زړونه پرې يقيني شي. ځکه چې بيا پيدا کول د لومړي ځل له پيدا کولو څخه اسانه دي، بلکه د اسمانونو او ځمکې پيدا کول د انسان له بيا تخليق څخه لوی دي. الله تعالی فرمايلي:

﴿وَهُوَ ٱلَّذِي يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ وَهُوَ أَهۡوَنُ عَلَيۡهِۚ ...﴾ [الروم: 27]

[34] (او دی همغه ذات دی چې مخلوق اول ځلې پيدا کوي، بيا به دغه دوباره راژوندي کوي او دغه (بيا راژوندي کول) هغه (الله) ته ډېر اسان دي). او الله تعالی فرمايي:

﴿لَخَلۡقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ أَكۡبَرُ مِنۡ خَلۡقِ ٱلنَّاسِ ... ﴾ [غافر: 57]

[35] (يقينًا د اسمانونو او ځمکې پيدا کول د خلقو له پيدا کولو نه ډېر لوی دي). او هغه پاک ذات چې د سپيڅلې ثنا خاوند دی فرمايلي:

---

[33] العنکبوت سورت، 64 آيت.

[34] الروم سورت، 27 آيت.

[35] غافر سورت، 57 آيت.

﴿ٱللَّهُ ٱلَّذِي رَفَعَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ بِغَيۡرِ عَمَدٖ تَرَوۡنَهَاۖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ كُلّٞ يَجۡرِي لِأَجَلٖ مُّسَمّٗىۚ يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَ يُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لَعَلَّكُم بِلِقَآءِ رَبِّكُمۡ تُوقِنُونَ۝٢﴾ [الرعد: 2]

[36] (الله هغه ذات دی چې آسمانونه يې اوچت کړي دي، بې له ستنو، چې تاسو هغه وينئ، بيا يې په عرش باندې بره شو، او ده لمر او سپوږمۍ مسخر کړي دي، هر يو يې تر مقررې نېټې پورې روان دی، هغه، د هر کار تدبير کوي، دليلونه ښه په تفصيل سره بيانوي، د دې لپاره چې تاسو د خپل رب پر ملاقات يقين وکړئ)

## او بيا، اې انسانه:

کله چې دا ټول کاينات ستا په خاطر ابل (مسخر) شوي دي او کله چې ستا د سترګو په وړاندې د هغې نښې او نښانې چمتو شوي دي - دا ټول پدې - ګواهي ورکوي چې نشته دی لايق د عبادت مګر يوازې يو الله دی چې شريک نه لري، او کله چې ته پدې پوه شوې چې ستا راژوندي کول او له مرګ نه وروسته ژوند دې د اسمانونو او ځمکې له پيدا کولو څخه ډېر آسان دي او دا چې ته د خپل رب سره ملاقات کوونکی يې او هغه به تاسره ستا د کړنو حساب کوي، او کله چې ته پدې پوه شوې چې دا کائنات ټول خپل رب لره عبادت کوونکي دي، د هغه ټول مخلوقات له ستاينې سره د هغه تسبيح وايي، الله تعالی فرمايلي:

﴿يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ ...﴾ [الجمعة: 1]

[37] (د الله لپاره پاکي بيانوي هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي)، او د هغه لويی ته سجده کوي، الله تعالی فرمايلي:

﴿أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يَسۡجُدُ لَهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ وَٱلشَّمۡسُ وَٱلۡقَمَرُ وَٱلنُّجُومُ وَٱلۡجِبَالُ وَٱلشَّجَرُ وَٱلدَّوَآبُّ وَكَثِيرٞ مِّنَ ٱلنَّاسِۖ وَكَثِيرٌ حَقَّ عَلَيۡهِ ٱلۡعَذَابُۗ ....﴾ [الحج: 18]

---

[36] الرعد سورت، 2 آيت.

[37] الجمعة سورت ، 1 آيت.

[38] (آيا ته نه وينې چې بېشکه الله (چې دی) ده ته سجده کوي هر هغه چې په اسمانونو کې دي او هر هغه چې په ځمکه کې دي او لمر او سپوږمۍ او ستوري او غرونه او ونې او څاروي او ډېر له خلقو ځيني او (په دوی کې) ډېر داسې دي چې په هغو باندې عذاب ثابت شوی دی او هغه څوک چې الله يې سپک کړي، نو ده ته هيڅوک عزت ورکوونکي نشته، بېشکه الله کوي هغه څه چې اراده يې وکړي) بلکه دا کائنات خپل رب ته په هغه ډول لمونځ کوي چې د دوی د حال سره مناسب وي، د عزتمن نوم لرونکي رب فرمايلي:

﴿أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يُسَبِّحُ لَهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱلطَّيْرُ صَٰٓفَّٰتٍۖ كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهُۥ وَتَسْبِيحَهُۥۗ ...﴾ [النور: 41]

[39] (ايا ته نه وينې چې بېشکه الله چې دی، د هغه لپاره پاکي بيانوي هغه څوک چې په اسمانونو او ځمکه کې دي او مرغان هم (تسبيح وايي)، په داسې حال کې چې د خپلو وزرو خواره کوونکي وي، هر يو (چې دی) يقينًا هغه (الله) د هغه په لمونځ او د هغه په تسبيح عالم دی)،

او کله چې ستا بدن د الله تعالی له تقدير او ترتيب سره سم روان وي، نو زړه، سږي، ځيګر او نور ټول اعضاء خپل رب ته تسليمېږي او خپل رب ته يې غاړه ايښې ده. ايا دا ستاسو د خپلې خوښې پريکړه ده چې تاسو بايد په خپل رب باندې د ايمان او په هغه باندې د کفر تر مينځ انتخاب وکړئ؟ آيا دا پريکړه ستاسو په شاوخوا او حتا ستاسو په بدن کې د دې مبارکې تګلارې څخه انحراف او بې لاريتوب دی ؟

کامل عاقل انسان د دې ستر او پراخه کائناتو په منځ کې خپل ځان ناکاره نه بولي بلکه له دا ډول مفکورو څخه ځان لرې ساتي.

---

[38] الحج سورت، 18 آيت.

[39] النور سورت، ا 41 آيت.

# د انسان پیدایښت او درناوی

د الله پریکړه وه چې د دې کائناتو د آبادۍ لپاره ور مخلوق رامنځته کړي؛ نو هغه مخلوق انسان و، او د هغه حکمت، جلال د هغه لپاره اړین دی چې هغه مواد چې انسان له هغې څخه پیدا شوی دی باید ځمکه وي، او هغه د ختو څخه د هغه پیدایښت پیل کړ. بیا یې پدې ښکلي څېره پیدا کړ چې انسان پرې دی، نو کله چې په شکل کې بشپړ او برابر شو، خپل روح یې پکې پو کړ؛ ناګهانه په ښایسته څېره کې انسان پیدا شو چې اورېدل او لیدل یې کول، خوځیده او خبرې یې کولې، نو رب تعالی په جنت کې مېشت کړ. هغه ته یې هر هغه څه ور وښودل چې پوهېدلو ته یې اړتیا درلوده، په جنت کې یې ورته د هر څه اجازه ورکړه، خو له یوې ونې څخه یې - د امتحان لپاره - منع کړ، او الله تعالی غوښتل چې حیثیت او مقام یې ښکاره کړي. نو هغه خپلو پرښتو ته هغه ته په سجدې کولو امر وکړ، نو ټولو پرښتو سجده وکړه. پرته له ابلیس څخه چې هغه د کبر او ضد له امله له سجدې کولو څخه انکار وکړ، نو رب یې پرې غصه شو، او له خپل رحمت څخه یې وشاړه، ځکه چې هغه پرې لویي وکړه، نو ابلیس له خپل رب څخه وغوښتل چې عمر یې ورته زیات کړي او د قیامت تر ورځې پورې په ژوندي پریښودلو سره مهلت ورکړي؛ نو رب یې ورته مهلت ورکړ او عمر یې ورته تر قیامته پورې وغځاوه. لدې امله چې آدم او اولادې ته یې پر شیطان غوره والی ورکړ شو، او په خپل رب یې قسم یاد کړ چې د آدم ټوله اولاده به یې لارې کړي، او دا چې مخامخ، د شا لخوا، له ښي طرف او له چپ طرفه به ورته له وسوسو سره راشي تر څو یې یې لارې کړي، پرته د الله تعالی د مخلص، ریښتیني او پرهیزګاره بنده ګانو څخه، یقینا چې الله تعالی هغوی د شیطان له دوکو او مکر څخه ساتلي دي، او الله تعالی آدم ته د شیطان له دسیسو خبرداری ورکړ، نو شیطان آدم او د هغه میرمن ته وسوسه ورواچوله، تر څو یې له جنت څخه راوباسي او د دې لپاره چې هغه (شیطان) دوی دواړو ته هغه څه ورښکاره کړي چې له دوی نه پټ وو، چې هغه د دوی د شرم ځایونه دي، او قسم یې ورته یاد کړ چې دی د دواړو لپاره نصیحت کوونکی دی، او دا چې الله تاسو له دې ونې نه منع کړي نه یاست مګر له دې وجې چې تاسو دواړه به پرېښتي شئ، یا چې شئ به له تل پاتې کېدونکو نه.

نو دوی دواړو له هغه ونې څخه خوراک وکړ چې الله تعالی ترې منع کړي وو، او د الله تعالی له حکم څخه یې د سرغړونې له امله لومړی عذاب دا و چې دوی دواړو ته یې عورتونه ښکاره شول، نو د دوی رب دوی ته د شیطان د دسیسې په اړه خپل اخطار ورياد کړ، نو آدم له هغه څخه بخښنه وغوښته. د هغه پروردګار هغه ته بخښنه وکړه، او توبه یې ترې ومنله او غوره یې کړ او هدایت یې ورته وکړ، او امر یې ورته وکړ تر څو له هغه جنت څخه ځمکې ته کوز شي چې

پکې اوسیده، ځکه چې هغه یې د اوسیدو ځای دی، او هلته یې تر یو وخته پورې ګټې خوندي دي، او خبر یې ورکړ چې هغه یې له همدې ځمکې څخه پیدا کړی، او هغې کې به تاسو ژوندون کوئ او په همدې کې به تاسو مرئ او له همدې نه به تاسو راوښکل کیږئ.

نو آدم او ښځه یې حوا ځمکې ته راکوز شول او نسل یې زیات شو، دوی د الله تعالی د امر سره سم د هغه عبادت کاوه، ځکه چې آدم نبي و.

او الله تعالی مونږ ته لدې خبرې څخه خبر راکړی دی، الله پاک فرمایلي دي:

﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَاكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنَاكُمْ ثُمَّ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ لَمْ يَكُن مِّنَ السَّاجِدِينَ ﴿١١﴾ قَالَ مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ إِذْ أَمَرْتُكَ ۖ قَالَ أَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ خَلَقْتَنِي مِن نَّارٍ وَخَلَقْتَهُ مِن طِينٍ ﴿١٢﴾ قَالَ فَاهْبِطْ مِنْهَا فَمَا يَكُونُ لَكَ أَن تَتَكَبَّرَ فِيهَا فَاخْرُجْ إِنَّكَ مِنَ الصَّاغِرِينَ ﴿١٣﴾ قَالَ أَنظِرْنِي إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿١٤﴾ قَالَ إِنَّكَ مِنَ الْمُنظَرِينَ ﴿١٥﴾ قَالَ فَبِمَا أَغْوَيْتَنِي لَأَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيمَ ﴿١٦﴾ ثُمَّ لَآتِيَنَّهُم مِّن بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ أَيْمَانِهِمْ وَعَن شَمَائِلِهِمْ ۖ وَلَا تَجِدُ أَكْثَرَهُمْ شَاكِرِينَ ﴿١٧﴾ قَالَ اخْرُجْ مِنْهَا مَذْءُومًا مَّدْحُورًا ۖ لَّمَن تَبِعَكَ مِنْهُمْ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿١٨﴾ وَيَا آدَمُ اسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ فَكُلَا مِنْ حَيْثُ شِئْتُمَا وَلَا تَقْرَبَا هَٰذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ الظَّالِمِينَ ﴿١٩﴾ فَوَسْوَسَ لَهُمَا الشَّيْطَانُ لِيُبْدِيَ لَهُمَا مَا وُورِيَ عَنْهُمَا مِن سَوْآتِهِمَا وَقَالَ مَا نَهَاكُمَا رَبُّكُمَا عَنْ هَٰذِهِ الشَّجَرَةِ إِلَّا أَن تَكُونَا مَلَكَيْنِ أَوْ تَكُونَا مِنَ الْخَالِدِينَ ﴿٢٠﴾ وَقَاسَمَهُمَا إِنِّي لَكُمَا لَمِنَ النَّاصِحِينَ ﴿٢١﴾ فَدَلَّاهُمَا بِغُرُورٍ ۚ فَلَمَّا ذَاقَا الشَّجَرَةَ بَدَتْ لَهُمَا سَوْآتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِن وَرَقِ الْجَنَّةِ ۖ وَنَادَاهُمَا رَبُّهُمَا أَلَمْ أَنْهَكُمَا عَن تِلْكُمَا الشَّجَرَةِ وَأَقُل لَّكُمَا إِنَّ الشَّيْطَانَ لَكُمَا عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿٢٢﴾ قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنفُسَنَا وَإِن لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴿٢٣﴾ قَالَ اهْبِطُوا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۖ وَلَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَاعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴿٢٤﴾ قَالَ فِيهَا تَحْيَوْنَ وَفِيهَا تَمُوتُونَ وَمِنْهَا تُخْرَجُونَ ﴿٢٥﴾﴾ [الأعراف: 11-25]

(او یقینًا یقینًا مونږ تاسو پیدا کړئ، بیا مو ستاسو صورتونه جوړ کړل، بیا مونږ ملایکو ته وویل: ادم ته سجده وکړئ، نو هغوی سجده وکړه سِوا له ابلیس نه، هغه له سجده کوونکو څنې نه و. وویل (الله): ته څه شي منع کړې، چې سجده دې ونه کړه کله چې ما تا ته حکم وکړ؟ وویل (شیطان): زه له هغه نه غوره یم، تا زه له اوره پیدا کړی یم او هغه دې له خَټې پیدا کړی دی. (الله) وویل: نو ته له دې (جنت) نه کوز شه، پس تا ته دا حق نشته چې ته په دې (جنت) کې تکبر وکړې، نو ته وځه، بېشکه ته له ذلیلو څخه يې. وویل (ابلیس چې اې الله!) ته ما ته مهلت راکړه، تر هغې ورځې پورې چې خلق به بیا راژوندي کولی شي. وویل (الله): بېشکه ته له مهلت ورکړی شویو څخه يې. (ابلیس) وویل: نو په سبب د هغه چې تا زه ګمراه کړم، زه به خامخا دوی ته ستا په نېغه لار کې کېنم. بیا به خامخا لازمًا زه دوی ته راځم د دوی له مخې نه او د دوی له شا نه او د دوی له ښیو اړخونو نه او چپو اړخونو نه او ته به د دوی ډېری شکر ګذاره ونه مومې. وویل (الله): وُځه ته له دې ځای نه، چې بدحاله غمجن کړی شوی، رټل شوی يې، یقینًا په دوی کې چې چا ستا پیروي وکړه (، نو) خامخا لازمًا به زه له تاسو ټولو نه جهنم ډکوم. (او اې آدمه! ته او ستا ښځه په جنت کې اوسئ، نو تاسو خوراک کوئ له کوم ځای نه چې مو خوښه شي، او دې ونې ته مه نژدې کېږئ (،ګنې) نو له ظالمانو نه به شئ. نو دوی دواړو ته شیطان وسوسه واچوله، د دې لپاره چې هغه (شیطان) دوی دواړو ته هغه څه ورښکاره کړي چې له دوی نه پټ وو، چې د دوی د شرم ځایونه دي او (ورته) ویې ویل: تاسو دواړه ستاسو رب له دې ونې نه نه يئ منع کړي مګر له دې وجې چې تاسو دواړه به پرېښتي شئ، یا چې شئ به له تل پاتې کېدونکو نه. او هغه دوی ته پوخ قسم وخوړ چې بېشکه زه ستاسو لپاره یقینًا له خیر خواهۍ کوونکو څنې یم. نو هغه دوی دواړو ته په دوکې سره تمه ورکړه، نو کله چې دوی هغه ونه وڅکله، دوی ته خپل شرم ځایونه ښکاره شول او دواړه لګیا شول چې پر خپلو ځانونو يې د جنت پاڼې نښلولې او دوی ته خپل رب اواز وکړ چې آیا ما تاسو دواړه له دې ونې څخه نه وئ منع کړي او تاسو ته مې نه وو ویلي چې بېشکه شیطان ستاسو د دواړو ښکاره دښمن دی. دوی وویل: اې زمونږه ربه! مونږ پر خپلو ځانونو ظلم کړی دی او که چېرې ته مونږ ونه بخښې او پر مونږ رحم ونه کړې (، نو) مونږ به خامخا لازمًا له تاوانیانو څخه شو). وویل (الله): تاسو کوز شئ، ستاسو ځینې به د ځینو نورو لپاره دښمنان وي او ستاسو لپاره په ځمکه کې استوګنه ده او تر یو وخته

پورې ګټه اخیستل دي. (الله) ووېل: په همدې (ځمکه) کې به تاسو ژوندون کوئ او په همدې کې به تاسو مرئ او له همدې نه به تاسو راوښکل کېږئ).[40].

او کله چې تاسو د الله تعالى لوی صنعت ته وګورئ چې انسان يې پیدا کړی؛ او په ډېره ښایسته بڼه يې پیدا کړی دی او د عزت ټولې جامې يې وراغوستي لکه: عقل، پوهه، فصاحت، وينا، شکل، ښايسته څېره، عزتمنده ظاهري بڼه، معتدل بدن، په عقل او استدلال سره د علومو حاصلول او د غوره اخلاقو حاصلول. لکه: نيکي، اطاعت او پيروي، نو څومره توپیر دی د دوو حالتونو تر منځه کله چې هغه په رحم کې د نطفې يو څاڅکی ساتل کېده، او هغه حالت چې ملايکه يې ملاقات ته په تلپاتې جنتونو کې ورځي؟.

﴿...فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ أَحۡسَنُ ٱلۡخَٰلِقِينَ﴿١٤﴾﴾ [المؤمنون: 14]

[41] (نو لوړ دی شان د هغه ذات چې تر ټولو ښايسته پيدا کوونکی دی).

نو دنيا يو کلی دی، او انسان يې استوګن دی، او هر يو پرې بوخت دی، ټول يې په خدمت او ګټو ګمارل شوي دي، ملايکې ګمارل شوي تر څو يې د شپې او ورځې لخوا ساتنه وکړي، په باران او نباتاتو ګمارل شوي دي او د رزق برابرولو کې بوختې دي او کار کوي، اسمانونه د هغې د ګټو لپاره ابل (مسخرې) کړی شوي دي، لمر، سپوږمۍ او ستوري ابل (مسخرې) کړی شوي ، لګيا دي حسابونه او وختونه تنظيموي او په دنيا کې رزق او معيشتونه برابروي، فضايي نړۍ د هغې د بادونو او هوا، وريځو او مرغانو او هغه څه چې په هغې کې زيرمه شوي دي تنظيموي، او لاندينۍ ټوله نړۍ د دې لپاره ابل (مسخرې) شوې دي چې ښېګڼې ورسوي په ځمکې او غرونو ، بحرونو او سيندونو، ونو او ميوو، نباتاتو، حيواناتو او ټولو هغو څه سره چې پکې دي ، لکه څرنګه چې الله تعالى فرمايلي دي:

---

[40] الأعراف سورت، 11،25 آيتونه.

[41] المؤمنون سورت، 14 آيت.

﴿ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلْفُلْكَ لِتَجْرِىَ فِى ٱلْبَحْرِ بِأَمْرِهِۦ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلْأَنْهَٰرَ ﴿٣٢﴾ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ دَآئِبَيْنِ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ ﴿٣٣﴾ وَءَاتَىٰكُم مِّن كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ ۚ وَإِن تَعُدُّوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ لَا تُحْصُوهَآ ۗ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ ﴿٣٤﴾﴾ [إبراهيم: 32-34]

(بېشکه الله تعالی هغه ذات دی چې آسمانونه او ځمکه يې پیدا کړي دي او له بره نه يې اوبه نازلې کړي دي، پس په هغو سره يې له مېوو نه ستاسو لپاره رزق راوېستلی دی او ستاسو لپاره يې بېړۍ مسخرې کړي دي، د دې لپاره چې هغه (بېړۍ) د هغه په حکم سره په سمندر کې روانې وي، او ستاسو لپاره يې نهرونه مسخر کړي دي. او ستاسو لپاره يې لمر او سپوږمۍ په کار لګولي دي، په داسې حال کې چې د قانون مطابق ګرځي او ستاسو لپاره يې شپه او ورځ په کار لګولي دي. (او تاسو ته يې له هغو ټیزونو نه چې تاسو هغه غوښتي، ځینې درکړي دي او که تاسو د الله نعمتونه وشمېرئ (نو) تاسو به هغه ونشمېرلی شئ، بېشکه انسان خامخا ډېر ظلم کوونکی، ډېر ناشکره دی)[42]، او د هغه له بشپړ درناوي څخه دا دي چې هغه د - انسان - لپاره ټول هغه څه پیدا کړي چې هغه ورته په دنیوي ژوند کې اړتیا لري او هغه وسایل چې دی ورته اړتیا لري او په آخرت کې يې لوړو مرتبو ته رسوي؛ نو هغه ته يې خپل کتابونه نازل کړل، او خپل پیغمبران يې ورته راولېږل چې د الله دین ورته بیانوي او ورته يې وربلي.

بیا يې د هغه لپاره د هغه له ځان څخه - یعنې خپله له آدم څخه - مېرمن پیدا کړه تر څو يې ترڅنګه ارام او سکون حاصل کړي ، د خپلې فطرتي - نفسي، عقلي او جسدي - اړتیاوې پوره کړي، یعنې تر څنګه يې سکون، آرامي او استقرار پیدا کړي، او دوی یو له بل سره په ګډ ژوند کې، یو پر بل بسیا، مینه او ترحم ومومي. ځکه چې د دوی فزیکي، رواني او عصبي جوړښت د یو بل د غوښتنو په پوره کولو کې د پام وړ و، او د نوي نسل د رامنځته کولو لپاره د دوی یو ځای کیدل اړین و، او دا احساسات او مشاعر چې د دوی په نفسونو کې ځای پر ځای شوي وو، او پدې اړیکه کې د دوی لپاره نفسي او ذهني استوګنې ځای ګرځول شوی و، او د بدن او زړه لپاره يې آرامتیا، د

[42] ۵۵] مفتاح دار السعادة، لومړی ټوک، ۳۲۷، ۳۲۸ مخونه، او ابراهیم سورت ۳۲، ۳۴ آیتونه.

ژوند  لپاره ثبات، د روح او روان لپاره سکون، او د نارینه او ښځې لپاره یو شان ډاډ ګرځول شوی و. او د انسانانو له منځه الله تعالی مؤمنان غوره کړي دي، دوی یې د خپلې بندګۍ ورې ګرځولي دي، په خپلې پیروۍ یې بوخت کړي تر څو د هغه د شریعت مطابقت عمل وکړي؛ او په جنت کې د هغه د ګاونډیتوب ور وګرځیږي. له هغوی څخه یې اولیاء، شهیدان، انبیاء او پیغمبران غوره کړي او په دې دنیا کې یې هغو ته تر ټولو هغه ستر نعمت ورکړی چې نفسونه ترې برخمن کیږي، چې هغه: د الله تعالی عبادت، د هغه اطاعت او له هغه سره راز ساتل دي، او دوی یې په لویو نعمتونو سره ځانګړي کړي دي - هغه چې بل څوک یې نه شي موندلی - چې له هغې څخه امنیت، ډاډ او خوشحالي ده، بلکې لدې څخه لوی نعمت دا دی چې دوی په هغه حقیقت پوه شوي دي چې پیغمبرانو ورته راوړی او په هغه یې ایمان راوړی، او په آخرت کې یې د دوی لپاره تل پاتې نعمتونه او لویه بریا ساتلې ده، کومه چې د هغه ذات له سخاوت او عزت سره ښایي، او په هغه باندې د دوی د ایمان او اخلاص له امله دوی ته اجر ورکوي.

## د ښځې مرتبه

ښځه په اسلام کې هغه لوړې مرتبې ته رسیدلې چې پخواني امتونه ورته نه و رسیدلي، او نه به راتلونکي امتونه دغه مرتبې ته ورسیږي، ځکه چې په اسلام کې انسان ته درناوی هغه مرتبه ده چې نارینه او ښځینه پکې شریک دي، دوی د الله تعالی د حکمونو په وړاندې سره برابر دي، همدا رنګه یې په آخرت کې د ثواب او جزا په وړاندې سره برابر دي، الله تعالی فرمایلي:

﴿۞ وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيٓ ءَادَمَ ...﴾ [الإسراء: 70]

[43] (او یقینًا یقینًا مونږ د ادم اولادې ته ډېر عزت ورکړی دی)، او الله تعالی فرمایلي:

﴿لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ ٱلْوَٰلِدَانِ وَٱلْأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ ٱلْوَٰلِدَانِ وَٱلْأَقْرَبُونَ ...﴿٧﴾﴾ [النساء: 7]

[43] الإسراء سورت ، 70 آیت.

[44] (د نارینه وو لپاره حصه شته له هغه (مال) نه چې مور و پلار او نږدې خپلوان يې پرېږدي، او د ښځو لپاره (هم) حصه شته له هغه (مال) نه چې مور و پلار او نږدې خپلوان يې پرېږدي)، او هغه پاک ذات چې د سپيڅلې ثنا خاوند دی فرمايلي:

﴿... وَلَهُنَّ مِثْلُ ٱلَّذِى عَلَيْهِنَّ بِٱلْمَعْرُوفِ ...﴾ [البقرة: 228]

[45] (او د دستور مطابق د هغو (ښځو) لپاره (په خاوندانو باندې حقونه) دي په شان د هغو (حقونو) چې پر دغو (ښځو) باندې لازم دي (د خپلو خاوندانو لپاره) او الله پاک فرمايي:

﴿وَٱلْمُؤْمِنُونَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ... ﴾ [التوبة: 71]

[46] (او مومن سړي او مومنې ښځې، د دوی ځينې د ځينو نورو دوستان دي)، او الله تعالی فرمايي:

﴿۞ وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَٰنًا ۚ إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ ٱلْكِبَرَ أَحَدُهُمَآ أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا ﴿٢٣﴾ وَٱخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ ٱلذُّلِّ مِنَ ٱلرَّحْمَةِ وَقُل رَّبِّ ٱرْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِى صَغِيرًا ﴿٢٤﴾﴾ [الإسراء: 23-24]

(او ستا رب حکم کړی دی چې تاسو عبادت مه کوئ (د بل هيچا) مګر يوازې د هغه او له مور و پلار سره ښه احسان کوئ او که چېرې په دوی کې يو يا دواړه له تا سره کله هم زوړوالي (بوډاوالي) ته ورسيږي، نو ته دې دواړو ته اُف (هم) مه وايه او مه دوی رټه او ته دوی ته ډېره ښايسته خبره وايه. او ته د دوی لپاره له مهربانۍ نه د تواضع وزر ښکته کړه

---

[44] النساء سورت 7 آيت.

[45] البقرة سورت 228 آيت.

[46] التوبة سورت 71 آيت.

او وایه: اې زما ربه! ته پر دوی دواړو مهرباني وکړه، لکه څنګه چې دوی دواړو زما پالنه کړې ده، په داسې حال کې چې زه وړوکی وم)[47]، او الله تعالی فرمايلي:

﴿فَٱسۡتَجَابَ لَهُمۡ رَبُّهُمۡ أَنِّي لَآ أُضِيعُ عَمَلَ عَٰمِلٖ مِّنكُم مِّن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰۖ ...﴾ [آل عمران: 195]

[48] (نو خپل رب يې دعا قبوله کړه چې بېشکه زه په تاسو کې د هېڅ يو عمل کوونکي عمل نه ضايع کوم، نر وي او که ښځه) او هغه پاک ذات چې د سپېڅلې ثنا خاوند دی فرمايلي:

﴿مَنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا مِّن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَلَنُحۡيِيَنَّهُۥ حَيَوٰةٗ طَيِّبَةٗۖ وَلَنَجۡزِيَنَّهُمۡ أَجۡرَهُم بِأَحۡسَنِ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٩٧﴾ [النحل: 97]

[49] (چا چې عمل وکړو نيک ، که نر وي او که ښځه ، او حال دادی چې ايمان والا به وي، نو خامخا به ورته مونږه ژوند ورکوؤ ژوند پاک ، او خامخا به په بدله کې ورکوؤ دويته د دوی اجر په وجه د هغه ښايسته عملونو چې دوی کول). او الله تعالی فرمايلي:

﴿وَمَن يَعۡمَلۡ مِنَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ وَلَا يُظۡلَمُونَ نَقِيرٗا ١٢٤﴾ [النساء: 124]

[50] (او چې چا هم د نېکيو عمل وکړ، نر وي يا که ښځه، خو چې مومن وي، نو دغه خلق به جنت ته داخلېږي او پر دوی به د کجورې د زړي د داغ هومره ظلم هم نه کيږي).

---

[47] الإسراء سورت 23،24 آيتونه.

[48] آل عمران سورت، 195 آيت.

[49] النحل سورت 97 آيت.

او دا درناوی چې ښځې ته په اسلام کې ورکړل شوی دی، په هیڅ بل دین، ملت او قانون کې یې ساری نشته، ځکه رومي تمدن دا منلې وه چې ښځه باید د تل لپاره د نر وینځه وي او هیڅ ډول حقونه نه لري، په روما کې د ښځې د چارو اړوند لویه غونډه تر سره شوه، او په پای کې دې پریکړې ته ورسیدل چې دا یو داسې مخلوق دی چې نفس نه لري، لدې امله ورته اخروي ژوند نشته، او دا نجسه ده.

او په اتن کې ښځه یو له غورځیدلو شیانو څخه شمېرل کیده، نو هغه اخیستل او پلورل کیده، او هغه د شیطان له کړنو او نجاستونو څخه شمېرل کیده.

او د هند لرغونو قوانینو پریکړه کړې وه: چې ناروغي، مرګ، دوزخ، د مار زهر او اور د ښځې په پرتله غوره دي، او د هغې د ژوند حق د هغې د میړه په مړینې سره پای ته رسېده - کوم چې د هغې مالک و - نو کله به یې چې د هغې جسد ولیده چې سوځیږي، ځان به یې د هغه د اور په لمبو کې ورګذار کړ، که نه نو لعنت به پرې ویل کیده.

او په یهودیت کې د ښځې اړوند حکم په زاړه عهد کې په لاندې ډول راغلی و: (زه او زما زړه وګرځیدو تر څو پوه شم، پلټنه وکړم، د پوهې او فلسفې پسې وګرځیدم تر دې چې پوه شوم چې شر ناپوهي ده، بې عقلي لیونتوب دی؛ بالاخره ما له مرګ څخه تریخ شی وموند: چې هغه ښځه ده کوم چې جال دی، د چا زړه چې تسمه ده، او لاسونه یې زنځیرونه دي [۶۴] .

دا په لرغونې زمانه کې د ښځې حیثیت و، او په منځنیو او عصري پیړیو کې یې حالت، لاندې حقیقتونه څرګندوي :

ډنمارکي لیکوال ویت کوردستین (Wieth Kordsten ) د ښځو په وړاندې د کاتولیک کلیسا چلند په دې ډول تشریح کړی دی: (د منځنیو پیړیو په جریان کې، د کاتولیک عقیدې د لاربښوونو له مخې اروپایي میرمنو ته پاملرنه خورا محدوده وه، چې له مخې یې ښځه د دویمې درجې مخلوق ګڼل کېده). او په فرانسه کې په 586 میلادي کال کې یوه غونډه جوړه شوه تر څو د ښځو په اړه پدې بحث وکړي چې ایا دوی انسانان وګڼل شي او کنه؟ له بحث وروسته: غونډې پرېکړه وکړه چې ښځه انسان دی، خو د سړي د خدمت لپاره پیدا شوې ده. د فرانسې د قانون دوه سوه او اوولسمې مادې لاندې شرطونه تصویب کړل: (یوه واده شوې ښځه - که څه هم د هغې واده د

[50] النساء سورت 124 آیت.

هغې د ملکیت او د میره تر مینځ د جلاوالي پراساس وي - د هغې لپاره جواز نلري چې په ترون کې د میره له ګډون پرته خپل ملکیت ډالۍ کړي، یا یې انتقال کړي، یا یې ګرو کړي یا دا چې د عوض په مقابل کې یا له عوض پرته د ملکیت خاونده شي، پرته د خاوند له ګډون یا په لیکنې بڼه د هغه له موافقې څخه).

په انګلستان کې، اتم هنري انګلیسي میرمنې د انجیل له لوستلو منع کړې، او ښځې تر 1850 میلادي کال پورې بې شمېر اتباع پاتې شوې، او تر 1882 میلادي کال پورې دوی هیڅ شخصي حقوق نه درلودل[51].

او په اوسنۍ اروپا، امریکا او نورو صنعتي هیوادونو کې ښځه یو بې ارزښته مخلوق دی چې د سوداګریزو موخو لپاره کاریږي، هغه یوازې د اعلاناتي کمپاینونو یوه برخه ده. بلکې حالت دې ته رسېدلی چې په سوداګریزو کمپاینونو کې د خلکو په وړاندې د توکو ښودلو پر مهال ترې جامې ویستل کیږي تر څو پرې توکي واچول شي او نندارې ته وړاندې شي، د مقرراتو سره یې بدن او عفت ته لاسرسی مجاز دی؛ هغه مقررات چې نارینه و جوړ کړي تر څو ښځه د دوی لپاره په هر ځای کې د خوند اخیستلو یو توکی وي.

ښځه تر هغه وخته پورې د پاملرنې وړ ده چې هغه د خپل لاس، فکر یا بدن څخه د تولید توان ولري، خو کله چې زړه شي او د ګټې وړ عناصر له لاسه ورکړي نو ټولنه ترې د افرادو او بنسټونو په شمول لاس واخلي، بیا نو په خپل کور او یا رواني کلینیکونو کې د یوازیتوب شپې سبا کوي.

دا سره پرتله کړئ - او هیڅکله سره برابر ندي - د هغه څه سره چې په قرآن عظیم الشان کې د لوی الله جل جلاله په ویناوو کې راغلي دي:

﴿وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتُ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۚ ...﴾ [التوبة: 71]

[52] (او مومن سړي او مومنې ښځې، دوی ځینې د ځینو نورو دوستان دي)، او الله تعالی فرمایلي:

---

[51] سلسلة مقارنة الأديان، لیکنه: ډاکټر أحمد شلبي 3 ټوک 213،210 مخونه.

[52] التوبة سورت، 71 آیت.

﴿... وَلَهُنَّ مِثۡلُ ٱلَّذِي عَلَيۡهِنَّ بِٱلۡمَعۡرُوفِۚ ...﴾ [البقرة: 228]

[53] (او د دستور مطابق د هغو (ښځو) لپاره (په خاوندانو باندې حقونه) دي په شان د هغو (حقونو) چې پر دغو (ښځو) باندې لازم دي (د خپلو خاوندانو لپاره))، او الله تعالى فرمايلي:

﴿۞ وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ وَبِٱلۡوَٰلِدَيۡنِ إِحۡسَٰنًاۚ إِمَّا يَبۡلُغَنَّ عِندَكَ ٱلۡكِبَرَ أَحَدُهُمَآ أَوۡ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفّٖ وَلَا تَنۡهَرۡهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوۡلٗا كَرِيمٗا ٢٣ وَٱخۡفِضۡ لَهُمَا جَنَاحَ ٱلذُّلِّ مِنَ ٱلرَّحۡمَةِ وَقُل رَّبِّ ٱرۡحَمۡهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرٗا ٢٤﴾ [الإسراء: 23-24]

(او ستا رب حکم کړی دی چې تاسو عبادت مه کوئ (د بل هیچا) مګر يوازې د هغه او له مور او پلار سره ښه احسان کوئ او که چېرې په دوی کې يو يا دواړه له تا سره کله هم زوړوالي (بوډاوالي) ته ورسېږي، نو ته دې دواړو ته اُف (هم) مه وايه او مه دوی رټه او ته دوی ته ډېره ښايسته خبره وايه). (او ته د دوی لپاره له مهربانۍ نه د تواضع وزر ښکته کړه او وايه: اې زما ربه! ته پر دوی دواړو مهرباني وکړه، لکه څنګه چې دوی دواړو زما پالنه کړې ده، په داسې حال کې چې زه وړوکی وم)[54].

او کله چې د هغې رب هغې ته دا عزت ورکړ، نو ټولو انسانانو ته يې څرګنده کړه چې هغه يې مور، ښځه، لور او خور پيدا کړې. او د دې لپاره يې ځانګړې قوانين جوړ کړي دي چې له نارينه و پرته د ښځو پورې اړه لري.

## د انسان د پيدايښت حکمت

الله جل جلاله پدې کې داسې حکمتونه لري چې عقل پرې له پوهيدلو او ژبه يې له ويلو څخه عاجز دي، موږ به پدې څو وقفو کې لدې احکامو څخه ځينې په لاندې ډول وړاندې کړو:

---

[53] البقرة سورت، 228 آيت.

[54] الإسراء سورت ، 23،24 آيتونه.

1-هغه پاک ذات دی چې ډېر ښایسته نومونه لري، ځینې نومونه يې : الغفور، الرحیم، العفو، الحليم،...(بخښونکی، رحم کوونکی، عفو کوونکی او مهربان،... دي. د دې لپاره چې د نومونو اغیزې راڅرګندې شي، د هغه پاک ذات حکمت دا غوښتنه کوله چې آدم او د هغه اولاده پداسې یو کور کې استوګن کړي چې د هغه د ښکلي نومونو اغيز په دوی کې څرګند شي، نو چا ته چې وغواړي بخښنه ورته کوي او رحم پرې کوي، او چاته چې وغواړي مهرباني پرې کوي او د داسې نورو نومونو او صفتونو د اغیزو راڅرګندیدل.

2 - هغه پاک ذات، ښکاره او حقداره پادشاه دی؛ او پادشاه هغه څوک وي چې امر کوي او منع کول کوي، ثواب او جزا ورکوي، عزت او ذلت ورکوي، نو د هغه پادشاهۍ دا تقاضا وکړه چې آدم او اولاده يې داسې کور کې استوګن کړي چې د پاچا حکمونه پکې پرې چلیږي، بیا يې هغه کور ته انتقال کړي چې هلته د دوی د عملونو بدله ورکول کیږي.

۳- هغه پاک ذات غوښتل چې له دوی څخه انبیاء، رسولان، اولیاء او شهیدان غوره کړي، چې هغه ورسره مینه او محبت لري، او هغوی لده سره محبت لري، نو دوی يې له خپلو دښمنانو سره پرېښودل تر څو يې و ازمايي، نو کله چې دوی هغه غوره کړ او د هغه د رضا او ورسره د مینې په لار کې يې خپل ځانونه او مالونه قربان کړل د هغه رضا او هغه ته نږدې والی يې ترلاسه کړ، هغه څه چې لدې پرته يې لاسته راوړل اصلا ناشونی کار و. د رسالت، نبوت او شهادت درجې د الله تعالی په نزد له غوره درجو څخه دي او انسان دغه درجو ته نه شو رسېدلی مګر له هغه لارې چې الله پاک يې پریکړه کړې وه چې هغه ځمکې ته د آدم او د هغه اولادې راکوزیدل و.

۴- دا چې الله تعالی آدم او د هغه اولاده له داسې يو ترکیب څخه پیدا کړې ده چې د خير او شر وړ ده او شهوت او فتنه، عقل او پوهه ورسره لازم او ملزوم دي، نو الله تعالی پکې عقل او شهوت پیدا کړل، او د غوښتنو سره يې پکې ځای پر ځای کړل تر څو يې مراد پوره شي، او خپلو بندګانو ته په حکمت او ځواک کې خپل عزت وروښايي، او د هغه رحمت، نیکي، او مهرباني د هغه په سلطنت او پادشاهۍ کې وروښايي. نو حکمت يې دا تقاضا وکړه چې آدم او د هغه اولاده ځمکې ته د ازموینې د بشپړولو لپاره واستول شي، تر څو د انسان د استعداد آغيزې او غرايزو ته په ځواب ويیلو سره څرګندې شي او پر همدې اساس يې درناوی وشي او يا سپک شي.

5- الله تعالی مخلوقات د خپل عبادت لپاره پیدا کړي دي، او همدا يې د پیدایښت موخه ده، الله تعالی فرمايلي:

﴿وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ۝٥٦﴾ [الذاريات: 56]

[55] (او ما پېریان او انسانان نه دي پیدا کړي مګر د دې لپاره چې دوی زما عبادت وکړي). او ښکاره ده چې د بندګۍ کمال چې له مخلوقاتو څخه مطلوب دي د نعمتونو په ابدي کور کې نه تر سره کیږي، بلکې یوازې د سختیو او امتحان په کور کې تر سره کیږي، او د بقا کور خو د خوندونو او نعمتونو کور وي ، نه د امتحان او تکلیفونو.

۶- په غیبو ایمان ګټور ایمان دی، او د لید وړ څیزونو باندې ایمان چې دی، نو هغه خو به هر څوک د قیامت په ورځ بیا ایمان راوړي، نو که چیرته دوی د نعمت په کور کې پیدا شوي وو، په غیبو باندې د ایمان هغه درجې ته به نه و رسیدلي چې پایله یې خوندونه او درناوی دی، کوم چې په غیبو د ایمان له امله تر لاسه کیږي؛ لدې امله یې یو داسې کور ته واستول چې په غیبو د ایمان لپاره پکې زمینه برابره وي.

۷- دا چې الله -تعالی- ادم علیه السلام له ټولې ځمکې څخه د یو موټې راټولې شوې خاورې څخه پیدا کړ او په ځمکه کې ناپاکه او پاکه، غم او خوشحالي شته، نو الله تعالی ته معلومه وه چې د آدم علیه السلام په اولادې کې داسې کسان شته چې د هغه - د عزت - په کور کې د ژوند کولو وړتیا نه لري؛ نو داسې یو کور کې یې استوګن کړل چې ښه او بد یې پکې راویستلي دي، بیا یې په دوو کورونو کې سره جلا کړل: نو پاک خلک یې د خپل ګاونډ او پکې د استوګنې وړ وګرځول، او بد خلک یې د بدبختۍ او بدۍ د کور وړ وګرځول.

۸- دا چې الله جل جلاله پدې سره غوښتل خپلو هغو بنده ګانو ته چې نعمت یې پرې کړی وروښایي چې خپل نعمت او درناوی یې پرې بشپړ کړی؛ تر څو ورسره ستره مینه ولري او شکر یې پرځای کړي، او په لویه کچه یې له نعمتونو او څه یې چې ورکړي خوند واخلي. بیا هغه پاک ذات دوی ته وروښودل چې پر دښمنانو یې څه وکړل او کوم عذابونه یې ورته چمتو کړي دي، او دا یې هم وروښوده چې په خپلو لوړو نعمتونو سره یې دوی ځانګړي کړي، تر څو یې خوښۍ زیاتې، نیکمرغۍ یې بشپړې او خوشحالیانې یې لاپسې پراخه شي. او دا پر دوی د خپلو نعمتونو او مینې د بشپړولو یوه برخه وه، او لدې پرته چاره نه وه چې دوی ځمکې ته راښکته کړي، امتحان یې کړي او غوره یې کړي، او هغه چاته چې وغواړي د خپل رحمت او فضل له مخې توفیق ورکړي او په خپل عدل او حکمت سره چې چالره وغواړي ذلیل یې کړي. او هغه پوه او د حکمت خاوند ذات دی.

---

[55] الذاریات سورت، 56 آیت.

۹- دا چې الله تعالی غوښتل آدم او اولاده يې پداسې حال کې وروګرځوي چې دوی په غوره حالت کې وي، لدې امله يې مخکې له مخکې د دنيا سترتياوې، غمونه، خفګانونه او کړاوونه وروڅکل، تر څو ورته په آخرت کې - جنت ته - د ننوتلو اندازه وشي او په لوی قدر يې پوه شي؛ ځکه د ضد ښه والی ضد راښکاره کوي.

وروسته لدې چې د انسان پيل مې واضح کړ، ښه به وي چې صحيح دين ته يې اړتيا بيان وکړو.

## دين ته د انسان اړتيا

دين ته د انسانانو اړتيا د ژوند له اړتياوو څخه زياته ده؛ ځکه انسان بايد د الله تعالی د رضا او هغه کارونه چې هغه پرې غصه کيږي وپيژني، او بايد حرکت وکړي څو پرې ګټې راجلب کړي، او د زيان مخه پرې ونيسي. او شريعت دا دی چې ګټور او مضر کارونه سره يو له بل څخه جلا کوي، او دا په مخلوقاتو کې د الله تعالی عدالت دی، ځکه شوني نده چې پرته له قانون څخه دې خلک ژوند وکړي؛ هغه قانون چې ورته ښايي څه بايد وکړي او څه ونه کړي. او کله چې انسان اراده لري نو خامخا بايد په هغه څه پوه شي چې غواړي يې، او دا چې آيا ګټور دی که زيانمن؟ او آيا اصلاح کوي يې که فاسدوي يې؟ دا ښايي ځينې خلک په فطرتي توګه وپيژني، او ځينې يې هغه مهال پيژني چې عقلي استدلال ورته وشي، او ځينې يې نه پيژني مګر وروسته لدې چې پيغمبران يې وروپيژني او ورته يې واضح کړي، او لارښوونه يې ورته وکړي.[۷۱] .

نو هر څومره چې ملحده مادي پرسته عقيدې راښکاره او سينګار شي او هر څومره چې مفکورې او نظرېې زياتې شي، نو افراد او ټولنې به هيڅکله له صحيح دين څخه مستغني نه شي، او هيڅکله به د روح او بدن اړتياوې پوره نکړي. , بلکه هرڅومره که يو فرد پکې وځغليږي؛ پوره به ډاډمن شي چې امنيت نه شي ورکولای او نه يې تنده خړوبولای شي، او دا چې پرته له صحيح دين څخه بله د خلاصون لار نه لري. ارنسټ رينان وايي: (دا شوني ده چې هر هغه څه چې مونږ يې خوښوو له منځه لاړشي، او د استدلال، ساينس او صنعت د کارولو ازادي باطله شي، مګر د دين له مينځه تلل ناشوني دي، بلکه دا به د مادياتو د باطليدو په وړاندې يو خبري دليل وي.

هغه باطل مذهب چې غواړي يو انسان د ځمکې د ژوند د کرکې وړ محدوديتونو پورې محدود کړي)[56].

او محمد فريد وجدي وايي: (دا ناشونې ده چې د دين مفکوره له منځه لاړه شي، ځکه چې دا د روح تر ټولو غوره تمايل او غوره احساسات دي، دا خو لا پرېږده چې دا په هغه تمايلاتو کې راځي چې د انسان سر لوړ ساتي، بلکې دا تمايل لا پسې زياتيږي، ځکه فطري دينداري چې ده تر هغه پورې انسان تعقيبوي تر څو چې عقل ولري او د ښه او بد تفکيک پرې کولای شي، او د دې فطرت فيصدي به د هغه د ادراک او پوهې د ودې په تناسب زياتيږي)[57].

نو کله چې انسان له خپل رب څخه لرې شي نو د هغه د پوهې د لوړوالي او علمي پراختيا په تناسب، پوهيږي چې څومره له خپل رب څخه ناخبره دی او دا چې څه کول ورته پکار دي، او له خپل ځان څخه په ناخبرۍ پوهيږي او دا چې په څه سره اصلاح کيږي او په څه سره فاسديږي ، کوم څه يې نيکمرغه کوي او څه يې بدمرغه کوي، او د علومو په جزئياتو او مفرداتو کې يې ناپوهې: لکه د سيارو علوم، د کهکشانونو علوم، کمپيوټر ساينس، د نباتاتو علم او داسې نور علوم... او هغه مهال به نړۍ د غرور او تکبر له پړاو څخه تواضع او غاړې ايښودلو ته راوګرځي او په دې باوربه شي چې د علومو تر شا يو پوه او حکيم ذات شتون لري، او د طبيعت تر شا يو ځواکمن ذات شتون لري، او دا حقيقت يو منصف څېړونکی دې ته اړباسي چې په غيبو ايمان ولري او پياوړي دين ته غاړه کيږدي، او همدارنګه تر شا يې د هوښيار عالم ذات دی او د فطرت د بلنې او فطري غريزې منل دي. او کله چې انسان دا پرېږدي نو هغه د فطرت ضد کار وکړ او د حيوان درجې ته ورسيده.

لدې سره موږ دې پايلې ته رسيږو چې رښتينی دين - هغه چې د توحيد له لارې د الله د يووالي پورې اړه لري او د هغه د شريعت سره يې عبادت کول دي - د ژوند لپاره يو ضروري عنصر دی تر څو يې بنده له لارې رب العالمين ته خپله بندګي ثابته کړي او په دواړو جهانونو کې خوښۍ تر لاسه کړي او له فساد، مصيبت او بدبختۍ څخه خونديتوب ترلاسه کړي، او دا دين د نظري ځواک د بشپړتيا لپاره اړين دی، ځکه يوازې په همدې سره، ذهن هغه څه مومي چې غوښتنې يې پوره کوي او پرته لدې يې لوړو هيلو ته نشي رسيدلای.

---

[56] وګوره: الدين، ليکنه: محمد عبدالله دراز، 87 مخ.

[57] مخکينی مصدر 88 مخ.

او دا د روح د سپېڅلتيا او ضمير د پياوړتيا لپاره يو اړين عنصر دی، ځکه چې عالي احساسات په دين کې يو بډايه ډګر او يوه نه ختميدونکې سرچينه لري چې خپل هدف پکې درک کيدلای شي.

دا د ارادې د بشپړولو لپاره يو اړين عنصر دی، ځکه چې په خورا لويو انګېزو او هڅوونه سره يې مرسته کوي او د نا اميدۍ د عواملو په وړاندې يې د مقاومت په ترټولو لويو وسائلو سمبالوي.

په دې اساس که څوک ووايي چې: انسان د طبيعت له مخې مدني دی. نو بايد ووايو چې: (انسان د خپل فطرت له مخې متدين دی) [۷۴] ځکه چې انسان دوه قوتونه لري: يو نظري ساينسي ځواک او بل علمي ارادي ځواک او د هغه بشپړه خوښي د هغه د علمي او ارادي دواړو ځواکونو په بشپړولو پورې اړه لري. او ساينسي ځواک تر لاسه کولای نه شي مګر د لاندې مواردو په پېژندلو سره:

۱- د هغه معبود پېژندنه چې خالق او روزي ورکوونکی دی؛ هغه ذات چې انسان يې له هيڅ نه پيدا کړی او پر هغه يې نعمتونه نازل کړي دي.

۲ – د الله تعالی د نومونو او صفتونو پېژندل، د هغه پېژندنه؛ او هغه څه چې د هغه لپاره واجب دي، او د دې نومونو اغيز يې پر بندګانو باندې.

۳- هغه لاره پېژندل چې الله تعالی ته رسول کوي.

۴ – د هغو خنډونو او آفتونو پيژندل چې د انسان د دې لارې د پيژندلو مخنيوی کوي او هغه ستر نعمتونه پيژندل چې له دغې لارې ورته انسان رسيږي.

۵- په ريښتيني توګه خپل ځان پېژندل، او هغه څه پېژندل چې اړتيا ورته لري، او دا چې څه يې سموي او څه يې فاسدوي، او پدې پوهيږدل چې ( نفس ) کومې ښېګڼې او کوم عيبونه لري.

په دغو پنځو علمونو سره انسان خپل علمي قوت پوره کوي او د علمي او ارادي ځواک بشپړتيا ناشوني ده مګر د الله تعالی د حقونو په مراعتولو سره چې پر بنده يې لري او د هغه حقونه په پوره اخلاص، صداقت، نصيحت او پيروۍ سره ادا کول، او دا ورښودل چې دا هر څه پرې د هغه لورينه ده. او د دې دوو قوتونو بشپړولو ته د هغه له مرستې پرته بله لار نشته، ځکه انسان هغه ته اړمن (محتاج) دی تر څو يې سمې لارې ته لارښوونه وکړي، هغه لار چې د خپلو اولياوو لارښوونه يې ورته کړې ده [۷۵] .

وروسته لدې چې پوه شو چې ریښتیني دین؛ د نفس د بیلابیلو څواکونو سره الهي مرسته ده، نو همدا رنګه دین د ټولنې لپاره یو محافظتي ډال دی؛ ځکه چې د انسان ژوند د غړو تر منځ له همکارۍ پرته وجود نه لري او دا همکاري له داسې نظام پرته نه تر سره کېږي چې د دوی اړیکې تنظیم او حقونه یې تضمین کړي. او دا نظام د یو داسې مهربان او وړ پادشاه له شتون پرته چاره نه لري تر څو نفس له سرغړونو څخه منع کړي، او پر هغه یې پاملرنې ته وهڅوي، او په نفسونو کې ورته درناوی تضمین کړي او د حرمت تر پښو لاندې کولو مخنیوی یې وکړي. نو دا پادشاه څه دی؟ زه وایم: په ځمکه کې هیڅ داسې څواک نشته چې د دیني څواک سره برابر یا نږدې وي چې نظم ته درناوی تضمین کړي، د ټولنې د یووالي او نظم ثبات تضمین کړي او په ټولنه کې د آرامۍ او ډاډ له اسبابو څخه ساتنه وکړي. په دې کې راز دا دی چې انسان له ټولو ژوندیو موجوداتو څخه په دې کې توپیر لري چې د هغه اختیاري حرکتونه او کړنې د هغه څه په واسطه رهبري کیږي چې په اوریدلو او لید کې یې نه راځي، بلکې دا ایماني عقیده ده چې روح او د بدن غړي پاکوي. انسان تل په صحیح یا فاسده رهبري دی، نو که هغه خپله عقیده اصلاح کړه، هرڅه به په هغه کې سم شي او که یې فاسده کړه، هرڅه به فاسد شي.

نو عقیده او ایمان پر انسان ذاتي څارونکي دي، او دوی دواړه - لکه څنګه چې په عمومي توګه په بشریت کې لیدل کیږي - دوه ډوله دي:

- د فضیلت په ارزښت، د انسانیت په کرامت او داسې نورو لنډو معناګانو باور چې لوړ نفسونه یې د اسبابو له مخالفت څخه حیا کوي، که څه هم له خارجي لاملونو او مادي اجرونو پرته وي.

- او پر الله جل جلاله ایمان، او دا چې هغه د رازونو څارونکی دی، په راز او پټو کارونو پوهیږي، شریعت د هغه له واکمنۍ څخه د امر او نهې حکمونه ترلاسه کوي، او احساسات ورڅخه حیا کوي؛ هغه سره د مینې یا له هغه څخه د ویرې یا دواړو له امله ... په دې کې شک نشته چې دا ډول ایمان د انسان پر نفس په دواړو ډولونو کې پیاوړی دی او د جذبې د طوفانونو او د احساساتو د بدلونونو په وړاندې تر ټولو زیات مقاومت کوونکی او د عامو خلکو زړونو ته تر ټولو چټک ننوتونکی دی.

لدې امله دین د خلکو تر منځه د تعامل لپاره تر ټولو ښه ضامن دی چې د عدل او انصاف پر اصولو ولاړ وي او دا یوه ټولنیزه اړتیا ده، نو د حیرانتیا خبره نده چې دین له ملت څخه د بدن په زړه کې ځای نیسي [۷۶] ].

او کله چې دين په عمومي توګه دا حيثيت لري، نو نن ورځ په دې نړۍ کې ګڼ شمېر دينونه او ملتونه ليدل کيږي، او ته هر ملت ويني چې په خپل دين خوښ دی او کلک پرې ولاړ دی، نو هغه صحيح دين څه دی چې انسان ته هغه څه رسوي چې هيله يې لري؟ او د حق دين ضوابط څه دي؟

## د حق دين ضوابط

د هر ملت وګړي يې پدې باور دي چې مذهب يې حق دی او د هر دين پيروان باور لري چې دين يې تر ټولو غوره دی او پياوړې تګلاره لري. او کله چې تاسو د تحريف شوو اديانو يا د بشر جوړ شوو ملتونو له پيروانو څخه د دوی د عقيدې د ثبوت په اړه پوښتنه وکړې؛ نو دوی استدلال کوي چې دوی خپل پلرونه پدې لاره موندلي دي، نو دوی هم د هغوی تګلاره تعقيبوي، بيا دوی هغه کيسې او خبرونه يادوي چې نه يې سند صحيح دی او نه يې متن له علتونو او انتقادونو څخه په امن کې دی، دوی په هغه ميراثي کتابونو تکيه کوي چې معلومه نده چا ويلي او يا چا ليکلي دي، يا دا چې په لومړي ځل په کومه ژبه ليکل شوي دي او په کوم هيواد کې رامنځته شوي دي؛ بلکې، دا بيلابيل معلومات و چې راټول شول، ارزښت ورکړل شو، او له علمي تحقيقاتو پرته تر څو مستند شي او يا قوي متن ولري، نسلونو يو بل ته په ميراث پريښودل،

دا نامعلوم کتابونه، کيسې او ړوند تقليد د اديانو او عقائدو په باب کې د دليل په توګه د اعتبار وړ ندي، نو آيا دا ټول تحريف شوي دينونه او بشري ملتونه صحيح دي که باطل؟

دا ناشونې ده چې ټول دې سم وي؛ ځکه چې حقيقت يو دی نه زيات شمېر، او دا ناشونې ده چې دا ټول تحريف شوي مذهبونه او بشري ملتونه د الله لخوا وي او ټول حق وي- حال دا چې حق يو دی - او که ډيری وي - نو کوم يو يې حق دی؟ نو بايد داسې ضوابط شتون ولري تر څو يې له مخې ريښتيني دين له باطل څخه وپېژنو، کله چې پرې مونږ نوموړي ضوابط تطبيق کړو نو مونږ به پوه شو چې دا حق دی او کله چې په دين کې دا ټول ضوابط يا يو يې سره ګډوډ شول نو مونږ پوهيږو چې دا باطل دی.

### هغه معيارونه چې مونږ پرې حق او باطل دين سره يو له بل نه جلا کوو:

لومړی: دا چې دين د الله تعالی له لورې وي، له ملايکو څخه يې د يوې په واسطه له پيغمبرانو څخه په يو نازل کړی وي تر څو يې د هغه بندګانو ته ورسوي؛ ځکه چې حق دين د الله

تعالی دین دی. او الله پاک د قیامت په ورځ د مخلوقاتو سره د هغه دین په اړه حساب کوي چې پر دوی یې نازل کړی دی، الله تعالی فرمایلي:

﴿۞ إِنَّآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ كَمَآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ نُوحٖ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ مِنۢ بَعۡدِهِۦۚ وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَٱلۡأَسۡبَاطِ وَعِيسَىٰ وَأَيُّوبَ وَيُونُسَ وَهَٰرُونَ وَسُلَيۡمَٰنَۚ وَءَاتَيۡنَا دَاوُۥدَ زَبُورٗا ١٦٣﴾ [النساء: 163]

[58] (بېشکه مونږ تا ته وحي کړې ده، لکه څنګه چې مونږ وحي کړې وه نوح ته او له هغه نه پس (نورو) نبیانو ته او مونږ وحي کړې وه ابراهیم او اسمعیل او اسحاق او یعقوب او د (هغوی) اولادې ته او عیسی او ایوب او یونس او هارون او سلیمان ته او مونږ داود ته زبور ورکړی و)، او الله تعالی فرمایلي:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِيٓ إِلَيۡهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدُونِ ٢٥﴾ [الأنبياء: 25]

(او مونږ له تا نه مخکې هېڅ رسول ندی لېږلی مګر چې هغه ته به مونږ(دا) وحي کوله چې بېشکه شان دا دی چې له ما نه پرته بل هېڅ حق معبود نشته، نو تاسو زما عبادت کوئ). په دې اساس هر هغه دین چې یو انسان یې له الله تعالی پرته خپل ځان ته منسوبوي، نو هغه به خامخا باطل وي).[59]

دویم: دا چې په عبادت کې د الله جل جلاله یووالی ته بلنه ورکوي، د شرک او ټولو هغو وسائلو حراموالي ته بلنه ورکوي چې انسان شرک ته رسوي او هر پیغمبر خپل قوم ته ویلي چې:

﴿... يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓۖ ....﴾ [الأعراف: 73]

---

[58] النساء سورت 163 آیت.

[59] الأنبیاء سورت، 25 آیت.

[60] (تاسو د الله عبادت کوئ، ستاسو لپاره له هغه پرته هېڅ حق معبود نشته) پر دې اساس هر هغه دين چې شرک پکې وي او له الله سره له هغه پرته نور شريک کړي لکه پېغمبر، ملايک او ولي نو هغه دين باطل دى، که څه هم پيروان يې له پېغمبرانو څخه يو ته منسوب وي.

دريم: دا چې له هغه اساساتو سره موافق وي چې پيغمبرانو ورته بلنه ورکړې لکه :د يو الله عبادت، د هغه نېغې لارې ته بلنه، د شرک حراموالى، د مور او پلار د نافرمانۍ حراموالى، له حق پرته د يو نفس وژل او د ښکاره او پټو بدکاريو حراموالى، الله تعالى فرمايلي:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِيٓ إِلَيۡهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدُونِ ٢٥﴾ [الأنبياء: 25]

[61] (او موږ له تا نه مخکې هېڅ رسول ندى لېږلى مګر چې هغه ته به موږ (دا) وحې کوله چې بېشکه شان دا دى چې له ما نه پرته بل هېڅ حق معبود نشته، نو تاسو زما عبادت کوئ). او الله تعالى فرمايلي دي:

﴿۞قُلۡ تَعَالَوۡاْ أَتۡلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمۡ عَلَيۡكُمۡۖ أَلَّا تُشۡرِكُواْ بِهِۦ شَيۡـٔٗاۖ وَبِٱلۡوَٰلِدَيۡنِ إِحۡسَٰنٗاۖ وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ أَوۡلَٰدَكُم مِّنۡ إِمۡلَٰقٖ نَّحۡنُ نَرۡزُقُكُمۡ وَإِيَّاهُمۡۖ وَلَا تَقۡرَبُواْ ٱلۡفَوَٰحِشَ مَا ظَهَرَ مِنۡهَا وَمَا بَطَنَۖ وَلَا تَقۡتُلُواْ ٱلنَّفۡسَ ٱلَّتِي حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلۡحَقِّۚ ذَٰلِكُمۡ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ١٥١﴾ [الأنعام: 151]

[62] (ته ووايه: تاسو راشئ چې زه ولولم هغه څه چې ستاسو رب پر تاسو باندې حرام کړي دي، دا چې تاسو له هغه سره هېڅ شى مه شريکوئ او له مور او پلار سره ښېګڼه کوئ، او تاسو خپل اولاد د غريبۍ له امله مه وژنئ، موږ تاسو ته روزي درکوو او هغوى

---

[60] الأعراف سورت، 73 آيت.

[61] الأنبياء سورت، 25 آيت.

[62] الأنعام سورت، 151 آيت.

ته (هم) او تاسو د بې حیایۍ کارونو ته مه نژدې کېږئ، کوم یې چې ښکاره دي او که پټ دي او تاسو هغه نفس مه وژنئ چې الله حرام کړی دی مګر په حقه سره، دا هغه څه دي چې الله پرې تاسو ته کلك حکم کړی دی، د دې لپاره چې تاسو له عقل نه کار واخلئ). او الله تعالی فرمایلي:

﴿وَسۡـَٔلۡ مَنۡ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رُّسُلِنَآ أَجَعَلۡنَا مِن دُونِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ءَالِهَةٗ يُعۡبَدُونَ٤٥﴾ [الزخرف: 45]

[63] (او ته زمونږ له هغو رسولانو نه پوښتنه وکړه چې مونږ له تا نه مخکې لیږلي دي، آیا مونږه له رحمن نه غیر نور معبودان مقرر کړي دي چې عبادت یې وشي).

څلورم: باید یو له بل سره په ټکر کې نه وي، داسې نه وي چې په یو شي امر وکړي بیا یې په بل سره نقض کړي، او یا یو کار حرام کړي یا یې روا وګرځوي څکه چې توپیر ورسره لري خو بیا یې په بل حرام کړي، الله تعالی فرمایلي:

﴿أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلۡقُرۡءَانَۚ وَلَوۡ كَانَ مِنۡ عِندِ غَيۡرِ ٱللَّهِ لَوَجَدُواْ فِيهِ ٱخۡتِلَٰفٗا كَثِيرٗا٨٢﴾ [النساء: 82]

[64] (آیا نو دوی په قرآن کې غور نه کوي او که چېرې دا د غیرالله له طرفه وَی، دوی به په ده کې خامخا ډېر زیات اختلاف موندلی و).

پنځم: دا چې دین داسې یو څه ته شامل وي چې د خلکو لپاره پکې د دوی دین، عزت، مال، نفس او نسل خوندي وي؛ یعنې په اوامرو، نواهیو، رښتو او اخلاقو سره تر څو یې دا پنځه کلیات وساتل شي،

---

[63] الزخرف سورت، 45 آیت.

[64] النساء سورت، 82 آیت.

شپږم: دا چې دین د هغو خلکو لپاره رحمت وي چې پر خپلو ځانونو یې ظلم کړی او پر یو بل یې ظلم کاوه، برابره خبره ده که دا ظلم د حق تر پښو لاندې کول وي، یا ګټې په استبداد سره ترلاسه کول وي، یا دا چې لویو خلکو واړه خلک ګمراه کړي وي، الله تعالی د هغه رحمت په اړه چې په تورات کې شامل دی د موسی علیه السلام په اړه فرمایلي دي:

﴿وَلَمَّا سَكَتَ عَن مُّوسَى ٱلۡغَضَبُ أَخَذَ ٱلۡأَلۡوَاحَۖ وَفِي نُسۡخَتِهَا هُدٗى وَرَحۡمَةٞ لِّلَّذِينَ هُمۡ لِرَبِّهِمۡ يَرۡهَبُونَ١٥٤﴾ [الأعراف: 154]

[65] (او کله چې د موسی غصه سړه شوه، تختې یې راواخیستلې او د هغو په لیك کې هدایت او رحمت و د هغو کسانو لپاره چې هغوی یوازې له خپل رب نه ویرېږي)، او الله پاک د عیسی علیه السلام د رالیږلو په اړه د خبر ورکولو په موخه فرمایلي دي:

﴿...وَلِنَجۡعَلَهُۥٓ ءَايَةٗ لِّلنَّاسِ وَرَحۡمَةٗ مِّنَّاۚ ...﴾ [مریم: 21]

[66] (او د دې لپاره چې مونږ هغه (ماشوم) د خلقو لپاره نخښه وګرځوو او له خپل جانب څخه رحمت)، او الله تعالی د صالح علیه السلام په اړه فرمایلي دي:

﴿قَالَ يَٰقَوۡمِ أَرَءَيۡتُمۡ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّي وَءَاتَىٰنِي مِنۡهُ رَحۡمَةٗ ...﴾ [هود: 63]

[67] (هغه وویل: اې زما قومه! تاسو ما ته خبر راکړئ! که زه د خپل رب له جانبه په ښکاره دلیل باندې یم او هغه له خپله جانبه ما ته رحمت (نبوت) راکړی وي)، او الله تعالی د قرآن په اړه فرمایلي دي:

﴿وَنُنَزِّلُ مِنَ ٱلۡقُرۡءَانِ مَا هُوَ شِفَآءٞ وَرَحۡمَةٞ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ .... ﴾ [الإسراء: 82]

---

[65] الأعراف سورت، ا154آیت.

[66] مریم سورت، 21 آیت.

[67] هود سورت، 63 آیت.

[68] (او مونږ قرآن نازلوو هغه چې د مومنانو لپاره شفا او رحمت دی).

اووم: چې د الله تعالی د شریعت لاربښوونو ته شامله وي، او انسان د الله تعالی مراد ته لاربښوونه کوي، او پدې یې پوه کړي چې له کوم ځای څخه راغلی او برخلیک یې چیرته دی؟ د تورات په اړه الله تعالی فرمایي:

﴿إِنَّآ أَنزَلۡنَا ٱلتَّوۡرَىٰةَ فِيهَا هُدٗى وَنُورٞۚ ....﴾ [المائدة: 44]

[69] (ببشکه مونږ تورات نازل کړی دی، چې په هغه کې هدایت او رڼا ده). الله تعالی د انجیل په اړه فرمایلي:

﴿... وَءَاتَيۡنَٰهُ ٱلۡإِنجِيلَ فِيهِ هُدٗى وَنُورٞ ...﴾ [المائدة: 46]

[70] (او مونږ هغه ته انجیل ورکړ، چې په هغه کې هدایت او رڼا وه). او الله تعالی د قرآن کریم په اړه فرمایلي دي:

﴿هُوَ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ....﴾ [التوبة: 33]

[71] (دی همغه ذات دی چې خپل رسول یې په هدایت او حق دین سره رالیږلی دی)، حقیقي دین هغه دی چې د الله تعالی د شریعت لاربښوونو ته شامل وي، د روح لپاره امنیت او سکون پکې وي، ځکه چې دا د هرې وسوسې مخه نیسي، او هرې پوښتنې ته ځواب ورکوي.

اتم: چې ښو اخلاقو او کړنو ته بلنه ورکړي لکه: ریښتینولي، عدالت، امانت، حیا، عفت، سخاوت او له ناوړه اخلاقو څخه منع کول کوي لکه: د مور او پلار نافرماني، د نفس وژل، دروغ ، ظلم، تجاوز، بخل او بد اخلاق.

---

[68] الإسراء سورت، 82 آیت.

[69] المائدة سورت، 44 آیت.

[70] المائدة سورت، 46 آیت.

[71] التوبة سورت، 33 آیت.

نهم: دا چې هغه چاته خوشحالي ورپه برخه کړي چې ایمان پرې راوړي، الله تعالی فرمایلي:

﴿طه۝١ مَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡقُرۡءَانَ لِتَشۡقَىٰٓ۝٢﴾ [طه: 1-2]

[72] (مونږ قرآن په تا باندې د دې لپاره نه دی نازل کړی چې ته په سختۍ او مشقت کې پرېوځې) او چې د سالم فطرت سره برابر وي

﴿... فِطۡرَتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِي فَطَرَ ٱلنَّاسَ عَلَيۡهَاۚ ...﴾ [الروم: 30]

[73] [(تاسو لازم ونیسئ) د الله هغه فطرت لره چې په هغه یې خلق پیدا کړي دي] چې د روغ عقل سره برابر وي، ځکه صحیح دین د الله شریعت دی، او روغ عقل د الله تعالی مخلوق دی او دا ناشونې ده چې د الله شریعت او مخلوق سره په ټکر کې وي.

لسم: چې په حق دلالت او له باطل څخه ویرول وکړي، هدایت ته لارښوونه او له ګمراهۍ څخه ویرول وکړي، خلک سمې لارې ته راوبولي چې هیڅ کږلیچونه پکې نه وي، الله تعالی له پیریانو څخه د خبر ورکولو په موخه فرمایلي چې کله یې قرآن واورېده، ځینو یې ځینو نورو ته وویل:

﴿قَالُواْ يَٰقَوۡمَنَآ إِنَّا سَمِعۡنَا كِتَٰبًا أُنزِلَ مِنۢ بَعۡدِ مُوسَىٰ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلۡحَقِّ وَإِلَىٰ طَرِيقٖ مُّسۡتَقِيمٖ۝٣٠﴾ [الأحقاف: 30]

[74] (دوی وویل: اې زمونږه قومه! بېشکه مونږ داسې کتاب واورېده چې له موسیٰ نه وروسته نازل کړی شوی دی، په داسې حال کې د هغو (کتابونو) تصدیق کوونکی دی چې له ده نه مخکې وو، حق ته او نېغې (سمې) لارې ته ښوونه کوي). نو هغه څه ته یې نه رابلي چې د بدبختۍ لامل یې وګرځي، الله تعالی فرمایلي:

---

[72] طه سورت، 1،2 آیتونه..

[73] الروم سورت، 30 آیت.

[74] الاحقاف سورت، 30 آیت.

﴿طه۝١ مَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡقُرۡءَانَ لِتَشۡقَىٰٓ۝٢﴾ [طه: 1-2]

[75] (مونږ قرآن په تا باندې د دې لپاره نه دی نازل کړی چې ته په سختۍ او مشقت کې پریوځې). او په هغه څه ورته امر نه کوي چې د هغوی هلاکت پکې وي، الله تعالی فرمايلي:

﴿... وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُمۡ رَحِيمٗا۝٢٩﴾ [النساء: 29]

[76] (او تاسو خپل ځانونه مه وژنئ، بېشکه الله پر تاسو باندې بې حده مهربان دی) د خپلو پیروانو ترمنځ د نژاد، رنګ او قبیلې له مخې توپیر نه کوي، الله تعالی فرمايلي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّا خَلَقۡنَٰكُم مِّن ذَكَرٖ وَأُنثَىٰ وَجَعَلۡنَٰكُمۡ شُعُوبٗا وَقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوٓاْۚ إِنَّ أَكۡرَمَكُمۡ عِندَ ٱللَّهِ أَتۡقَىٰكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٞ۝١٣﴾ [الحجرات: 13]

[77] (اې خلکو! بېشکه مونږ تاسو له يوه سړي او له يوې ښځې پیدا کړي یاست او مونږ تاسو څانګې او قبیلې ګرځولي يئ، د دې لپاره چې تاسو يو بل سره وپېژنئ، بېشکه د الله په نيز په تاسو کې ډېر عزتمن، ستاسو زيات پرهېزګار دی، بېشکه الله ښه پوه، ښه خبردار دی). په حق دين کې د غوره والي د اعتبار وړ معيار له الله تعالی څخه ويره ده:

د هغه معيارونو له کتلو وروسته چې د ریښتيني دين او باطل دين ترمنځ پرې توپیر کیږي - ما د دې لپاره پر هغه څه استدلال وکړ چې په قران کريم کې راغلي دي؛ کوم چې دا په ګوته کوي چې دا مقررات د ټولو ریښتينو پيغمبرانو لپاره عام دي؛ چې د الله تعالی لخوا لیږل شوي دي - نو مناسبه خبره ده چې د أديانو ډولونو ته يوه کتنه وکړو.

---

[75] طه سورت 2،1 آيت.

[76] النساء سورت، 29 آيت.

[77] الحجرات سورت 13آيت.

# د ادیانو ډولونه

## بشریت د ادیانو له اړخه په دوو برخو ویشل شوی دی:

یو ډول یې هغه خلک دي چې د الله تعالی له لورې پرې کتاب نازل شوی دی لکه یهودان، نصرانیان او مسلمانان، نو یهود او نصارا لدې امله چې په خپلو کتابونو کې یې په شته حکمونو عمل ونه وکړ، او دا چې انسانان یې له الله پرته خدایان نیولي وو او د اوړدې مودې د تیریدو له امله یې.. هغه کتابونه ورک شول چې الله تعالی یې په پیغمبرانو نازل کړي وو، نو راهبانو یې ورته کتابونه ولیکل پدې ګمان چې د الله تعالی لخوا دي، حال دا چې هغه د الله تعالی لخوا نه وو، بلکه هغه د باطلو خلکو ناسم نسبت و، او له حد نه د تیریدونکو خلکو تحریف وو. او کوم چې د مسلمانانو کتاب ( لوی قرآن) دی نو هغه د نزول له اړخه وروستی الهي کتاب، او په تړون کې تر ټولو معتبر دی، الله تعالی یې د ساتلو ضمانت کړی، او له هغه څخه ساتنه یې انسان ته نده ورپریښې، الله تعالی فرمایلي:

﴿إِنَّا نَحۡنُ نَزَّلۡنَا ٱلذِّكۡرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ۝٩﴾ [الحجر: 9]

[78] (مونږ قران کریم ناز کړی دی او مونږ یې حفاظت په خپله کو). نو هغه په سینو او کرښو کې ساتل شوی؛ ځکه چې هغه وروستی کتاب دی چې الله تعالی پکې د انسانانو لپاره لارښوونه ځای پر ځای کړې، او د قیامت تر ورځې پورې یې پرې حجت ګرځولی دی، او بقاء یې ورته لیکلې، او په هر وخت کې یې ورته داسې خلک ګمارلي چې حدود او حروف یې تطبیقوي، په قانون یې عمل کوي او ایمان پرې راوړي، او د دې ستر کتاب نور جزئیات به په راتلونکي فقره کې راشي [۹۸] .[79]

---

[78] الحج سورت، 9 آیت.

[79] [۹۸] د دې کتاب ۹۵-۱۰۰ او ۱۱۴-۱۱۷ مخونه وګورئ.

## او بل ډول يې هغه خلک دي د الله تعالی

لخوا نازل شوی کتاب نه لري، که څه هم دوی ته يو کتاب په میراث پاتې شوی وي چې د خپل دين خاوند ته يې نسبت کوي لکه: هندوان، مجوسیان، بودايان، کنفوچیان او يا لکه د محمد صلى الله عليه وسلم له رسالت څخه مخکې عربان.

او داسې هيڅ امت نشته چې علم او عمل ونه لري، په هغه اساس چې دنيوي ګټې يې خوندي کوي، دا له عمومي هدايت څخه دي چې الله تعالی هر انسان ته ټاکلي دی، بلکه هر حيوان ته، څکه د حيوان لاربښوونه هم هغه څه ته کيږي چې له خوراک او څښاک څخه ورته ګټه رسوي او له هغه څه ژغورل کيږي چې زيان ورته رسوي. او الله تعالی پکې د دې لپاره مينه او نفرت پيدا کړی دی، الله تعالی فرمايلي:

﴿سَبِّحِ ٱسۡمَ رَبِّكَ ٱلۡأَعۡلَى ١ ٱلَّذِي خَلَقَ فَسَوَّىٰ ٢ وَٱلَّذِي قَدَّرَ فَهَدَىٰ ٣﴾ [الأعلى: 1-3]

(ته پاکي بيان کړه د خپل رب د نامې چې تر ټولو اوچت دی. هغه چې پيدا يې کړل ټول شيان، پس ښه يې برابر کړل. او هغه (رب) چې اندازه يې وکړه، پس لاره يې وښووله).[80] او موسی عليه السلام فرعون ته وويل:

﴿... رَبُّنَا ٱلَّذِيٓ أَعۡطَىٰ كُلَّ شَيۡءٍ خَلۡقَهُۥ ثُمَّ هَدَىٰ ٥٠﴾ [طه: 50]

[81] ((ده وويل): زمونږ رب هغه ذات دی چې هر شي ته يې د ده (موافق) شکل ورکړی دی، بيا يې لار ښودلې ده). او خليل - عليه السلام - فرمايلي دي:

﴿ٱلَّذِي خَلَقَنِي فَهُوَ يَهۡدِينِ ٧٨﴾ [الشعراء: 78]

[82] (هغه چې زه يې پيدا کړی يم، نو هغه زما لار ښوونه کوي. او دا هر عاقل انسان ته معلومه ده، چې لږ غور او فکر هم ولري، چې د ملتونو خاوندان په ګټورو علومو او نيکو کارونو

---

[80] الأعلى سورت، 1-3 آيتونه.

[81] طه سورت، 50 آيت.

کې د هغو کسانو په پرتله ډېر کامل دي، چې د ملت خاوندان ندي، ځکه هیڅ داسې خیر نشته چې د مذهبي غیرمسلمانو په منځ کې وي مګر دا چې په مسلمانانو کې به له هغه څخه په بشپړه توګه وي او د دین لرونکو سره هغه څه دي چې له نورو سره نشته، دا ځکه چې علوم او کړنې په دوه ډوله دي:

لومړی ډول: دا د عقل په واسطه ترلاسه کیږي، لکه د ریاضي علم، طب او صنعت، دا چارې د ملتونو د خاوندانو سره پداسې بڼه دي لکه د نورو سره چې دي، بلکه دوی له هغوی څخه پکې بشپړ دي، خو هغه څه چې په یوازې توګه په عقل سره نه زده کیږي لکه الاهیات، نو دا د دینونو د خلکو ځانګړتیا ده، لدې څخه ځینې هغه دي چې عقلي دلیل پرې وړاندې کیدلی شي، او پیغمبرانو خو هغه څه ته خلکو ته بلنه ورکړې ده چې عقل پرې په شرعي عقلانیت کې دلالت کوي.

دویم ډول: هغه چې پرې د پوهېدلو لپاره یې د پیغمبرانو له خبرولو پرته بله لار نه وي، ځکه چې د عقل له لارې یې ترلاسه کول ممکن ندي، لکه د الله تعالی د نومونو، صفتونو او د هغه څه په اړه چې په آخرت کې د منونکو لپاره نعمتونه او د نافرمانو لپاره سزا ده، او د هغه د شریعت بیانول، او د پخوانیو پیغمبرانو او امتونو په اړه یې خبرتیا او داسې نور[83].

## د موجوده ادیانو حالت

ستر مذهبونه، د هغوی لرغوني صحیفې او د هغوی لرغوني احکام د بې عقلو او لاس وهونکو، د فاسقانو او منافقانو د لوبې ښکار شول او په خونړیو حادثو او جدي خطاګانو اخته شول، تر دې چې روح او شکل یې له لاسه ورکړ. که چېرته یې لومړني خاوندان او یا لیږل شوي پیغمبران بیا راژوندي شوي وای، نو انکار به یې ورڅخه کړای و او له پامه به یې غورځولی وو.

---

[82] الشعراء سورت ۷۸ آیت. او ګورئ: الجواب الصحیح فیمن بدل دین المسیح، څلورمه ټوک، ۹۷ مخ.

[83] وګوره: مجموع فتاوی شیخ الإسلام ابن تیمیة، 4 ټوک، 210-211 مخونه.

يهوديت[84]د رواجونو او دودونو يوه ټولګه ګرځېدلې چې هيڅ روح يا ژوند نلري ، او هغه - د دې په پام کې له نيولو پرته چې - يو پخوانی مذهب دی چې د خلکو او يو ځانګړي جنس لپاره ځانګړی دی، چې نړی ته هيڅ پيغام نلري او نه هم ملتونو ته کومه بلنه او نه انسانيت ته رحم.

دا دين په خپلې اصلي عقيده کې زيانمن شوی، هغه چې د دينونو او قومونو تر منځه شعار و او په دې کې يې د عزت راز و، چې هغه د توحيد عقيده وه چې ابراهيم عليه السلام او يعقوب پرې خپلو اولادونو ته سپارښتنه کړې وه. يهودانو د فاسدو هيوادونو له عقيدو څخه اخيستل کړي وو چې د دوی ګاونډيان وو يا يې دوی تر ولکې لاندې وو، چې د دوی ډيری عادتونه او تقليدونه د بت پرستۍ او جاهليت د زمانې وو، چې پدې کار بې طرفه يهودي تاريخ پوهانو اعتراف کړی دی، لکه څنګه چې په "په دائرة المعارف اليهودية" کې راځي. چې معنا يې په لاندې ډول ده:

(د بتانو په عبادت باندې د انبياوو عليهم السلام قهر او غصه دا په ډاګه کوي چې د بُتانو او معبودانو عبادت د بني اسرائيلو په روحونو کې راښکاره شوی وو او هغوی شرکي او خرافاتي عقيدې منلې وې. تلمود هم دا ګواهي ورکوي چې د بت پرستۍ لپاره په يهودو کې ځانګړې جاذبيت شتون درلوده) [١٠۴] .

او د بابل تلمود (105) چې يهودان يې په حرمت کې مبالغه کوي پر دې دلالت کوي او کيدی شي په تورات ورته ترجيح ورکړي او دا د عيسويت په شپږمه پيړۍ کې د يهودانو په منځ کې خپور شوی و او له عجيبو روښانه مثالونو ډک وو لکه بې عقلې، بې عقله خبرې، د الله تعالی په وړاندې جرات، په حقيقتونو تمسخر کول، په دين او عقل باندې لوبې کول – په هغه کچه چې يهودي ټولنه ورته پدې پيړۍ کې د فکري زوال او مذهبي ذوق د فساد په اړه رسېدلې ده [١٠۶] .

او عيسويت[85]چې و، نو هغه د افراطيانو په تحريف، د جاهلانو په تفسير، او د روماني عيسويانو په بت پرستۍ[86]سره له لومړۍ پيړۍ راپديخوا وازمايل شو، او دا ټول په ناکاره موادو

---

[84] د لا زياتو معلوماتو لپاره وګوره: "إفحام اليهود" د سموال بن يحيى المغربي ليکنه، چې هغه يهودی و بيا مسلمان شو.

[85] ١٠٧] د لا زياتو معلوماتو لپاره وګوره: د شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله ليکل شوی کتاب "الجواب الصحيح لمن بدل دين المسيح" او "إظهار الحق" د رحمت الله بن خليل الهندي ليکنه، او د حقيقت څرګندول" وګورئ. -هندي، او"تحفة الأريب في الرد على عباد الصليب"د عبدالله الترجمان ليکنه، نومورې عيسوي و، بيا مسلمان شو.

بدل شول او د مسیح لوی تعلیمات ترې لاندې ښخ شول، او د توحید رڼا او په اخلاص سره د الله تعالی عبادت د دې تورو وریځو شاته پناه شول.

یو عیسوی لیکوال د څلورمې پیړۍ له پای څخه په مسیحی ټولنه کې د تثلیث د عقیدې د نفوذ د کچې په اړه خبرې کوي او وايي:

(دا عقیده چې یو خدای له دریو کلیاتو څخه جوړ دی د څلورمې پیړۍ له وروستۍ ربعې راهیسې د مسیحي نړۍ د ژوند او فکر په رګونو او کولمو کې ننوتی دی، او دا تل په ټوله عیسوي نړۍ کې تصویب شوې رسمي عقیده ده، او د نولسمې پیړۍ تر دویمې نیمايي پورې د تثلیث د عقیدې د پراختیا او د هغې له راز څخه پرده پورته نه شوه [۱۰۹].

یو معاصر عیسوی مؤرخ د (معاصر ساینس په رڼا کې د مسیحیت تاریخ) په کتاب کې په عیسویانو کې د بت پرستۍ د ظهور په اړه په مختلفو بڼو او مختلفو رنګونو ویناوې کوي، او دا چې عیسویان په رسمونو، رواجونو، اخترونو، باطلې بت پرستۍ اخستلو کې - له شرکي ادیانو څخه د تقلید، خوښولو او ناپوهۍ په بهانه مهارت لري- هغه وايي: (بت پرستي ختمه شوېده، خو په بشپړه توګه له منځه تللې نده، بلکې په روحونو کې يې نفوذ کړی او د عیسویت په نوم او د هغه په جامه کې يې هر څه مخ په وړاندې روان دي، هغه کسان چې له خپلو معبودانو او اتلانو څخه لاس په سر شوي خپل یو شهید يې ځانته ټاکلی او د معبود لقبونه يې ورکړي دي، بیا يې د هغه مجسمه جوړه کړې او په همدې توګه دا شرک او د بتانو عبادت دې ځايي شهیدانو ته را انتقال شوی دی. دا پیړۍ لا پای ته نه وه رسیدلې چې د شهیدانو او اولیاوو عبادت پکې خپور شو او یوه نوې عقیده رامنځته شوه چې هغه اولیاوو ته الهي صفتونه ورکول دي او دا اولیاء او عزتمن خلک د الله تعالی او انسان ترمنځه منځګړي وګرځیدل. او د بت پرستانو د رخصتیو نومونه په نویو نومونو بدل شول، تر دې چې په 400 میلادي کال کې د لمر زوړ جشن د مسیح د زیږون په جشن بدل شو)[87].

---

[86] ۱۰۸] د مشهور اروپايي لیکوال ډراپیر: "الصراع بین الدین والعلم" یعنې "د مذهب او ساینس تر منځ شخړه" کتاب، 40-41 مخونه، وګورئ.

[87] Rev. Jamecs Houstoin Baxter in the History of Christionity in the Light of Modern Knowledge. Glasgow , 1929 p 407

او مجوسیان له پخوا وختونو څخه د طبیعي عناصرو په عبادت پیژندل شوي دي چې ترټولو نامتو یې اور دی، او په وروستیو کې د دې په عبادت ورمات شول؛ مجسمې او عبادت ځایونه یې و رته جوړ کړل، د هیواد په لر او بر کې د اور کورونه (عبادت ځایونه)خپاره شول او د اور له عبادت او لمر له درناوي  پرته نورې ټولې عقیدې له منځه لاړې او د دوی لپاره دین یوازې هغه رسمونه او رواجونه وګرځیدل چې په ځانګړو ځایونو کې یې تر سره کول [۱۱۱] .

ډنمارکي لیکوال "ایران د ساسانیانو په دوره کې" ارتهر کریستنین سین د مذهبي مشرانو طبقه او د دوی دندې بیانوي او وایي:

( پر دغو مامورینو د سپوږمۍ، اور او اوبو د عبادت تر څنګ په ورځ کې څلور ځلې د لمر عبادت واجب و، او هغوی ته امر شوی و چې اور مړ کېدو ته پرې نږدي، او پرې نږدې چې اور او اوبه سره یوځای شي، او فلزات پرې نږدي چې زنګ یې ووهي، ځکه چې فلزات د دوی په اند سپېڅلي دي [۱۱۲] .

دوی په هره زمانه کې د دوه خدایانو (ثنوي) عقیده درلوده، او دا یې شعار و، دوی په دوه خدایانو باور درلوده چې یو یې د رڼا یا نیکمرغۍ خدای و چې دوی ورته "اهورامزدا" یا "یزدان" وایې. دویم یې تیاره یا د شر خدای بوله چې هغه یې «اهریمن» دی او د دوی تر منځ جګړه لا هم روانه ده او دا جګړه تلپاتې ده [۱۱۳] .

او بودیزم - چې په هند او منځنۍ آسیا کې خپور شوی دین دی، دا د بت پرستۍ دین دی هر ځای ته چې ځي، بتان له ځان سره وړي، معبدونه جوړوي، او هر ځای ته چې تګ راتګ کوي هلته د "بودا" مجسمې نصبوي[88].

او برهمنیزم - د هند دین - نو دا د ډیرو خدایانو او معبودانو په درلودلو مشهور شوی دی، او بت پرستي پکې په شپږمه میلادي پیړۍ کې خپل اوج ته رسیدلې وه، نو پدې پیړۍ کې یې د خدایانو

---

[88] [۱۱۴] د هند په حیدراباد پوهنتون کې د هندي تمدن د تاریخ د پروفیسور ایشورا توبا کتاب "لرغونی هند" ته مراجعه وکړئ او د هند د پخواني لومړي وزیر جواهر لال نهرو کتاب "د هند کشف" (The Discovery of india) ته مراجعه وکړئ، 201-202 مخونه.

شمیر 330 ملیونو ته ورسیده[89]، او هر څه - ورته - په زړه پورې شول، هر څه پراخه شول، هر څه ګټور شول او د عبادت لپاره یو معبود وګرځیده، او په دې دوره کې د مجسمو جوړولو صنعت وده وکړه، او خلک یې په جوړولو کې ماهر شول.

"سي، وي، وید" الهندکي په خپل کتاب "تاریخ الهند الوسطی" کې وایي کله چې هغه د هرش پاچا (606-648) د دورې په اړه خبرې کوي، دا هغه دوره ده چې په عربي ټاپووزمه کې د اسلام له ظهور څخه وروسته راځي:

(د هندو مذهب او بودایي مذهب دواړه یو شان بت پرسته وو، بلکه، د بودا مذهب ممکن د هندي مذهب څخه په بت پرستۍ کې زیات ډوب شوی و. د دې مذهب - بودیزم - پیل له خدای څخه انکار و، مګر ورو ورو یې "بودا" لوی خدای جوړ کړ. بیا یې نور خدایان ور اضافه کړل لکه: (Bodhisattva) بودستاو، او په هند کې بت پرستي خپل اوج ته ورسیده، تر دې چې د "بودا" Buddha) کلمه په ځینو ختیځو ژبو کې د "بت" یا "مجسمې" د کلمې مترادف شوه.

او پدې کې شک نشته چې په ټوله معاصره نړۍ کې بت پرستي پراخه وه، ټوله نړۍ له اتلانتیک سمندر څخه نیولې تر ارام سمندر پورې په بت پرستۍ کې ډوبه وه، داسې وه لکه چې عیسویت، سامي مذهبونه او بودایانو د بتانو په درناوي کې یو له بل سره سیالي کوله. دوی داسې وو لکه اسونه چې په یوه میدان کې منډې وهي [۱۱۶] .

او یو بل هندو په خپل کتاب کې چې هغه یې "الهندکیة السائدة" یعنې غالبه هندویزم بولي: وایي (د خدای جوړولو پروسه) پدې سره پای ته نه رسیږي، او په مختلفو تاریخي دورو کې یې په لوی شمېر کوچني خدایان دې "الهی کمپلیکس" سره یوځای کول. تر دې چې داسې ګڼه ګوڼه رامنځته شوه چې شمېر یې له حد نه واوخت [۱۱۷] .

دا د ادیانو حال دی، بل هغه متمدن هېوادونه چې لوی حکومتونه پکې جوړ شوي او ډېری علوم پکې پراختیا موندلې او د تمدن، صنعت او ادب لپاره زانګو وه، دا هغه هیوادونه وو چې مذهبونو پکې بدلون موندلی و، خپل اصلیت او ځواک یې له لاسه ورکړی و، اصلاح کوونکي ورک شوي وو، ښوونکي غیر حاضر وو، الحاد پکې ښکاره شوی و، فساد پکې زیات شوی و، معیارونه

---

[89] وګوره: "لرغونی هند"د لیکوال: آر، دت، 3 برخه، 276 مخ، او "الهندکیة السائدة" د لیکوال (LS.S. O.Malley) 6-7 مخونه.

بدل شوي وو، او انسانان پکې د خپل ضمیر په وړاندې سپک شوي وو ، له همدې امله ځان وژنې زیاتې شوې وې، کورنۍ اړیکې پرې شوې وې، ټولنیزې اړیکې پرې شوې، د رواني ډاکټرانو کلینیکونه له ناروغانو ډک شوي وو، د کوډګرانو بازارونه ګرم شوي و، انسان پکې هر خوند تجربه کړ او د هرې نوې ډلې پیروي یې وکړه...؛ د خپل روح د ارامولو، ځان خوشالولو او زړه د ډاډمنولو په هیله، خو دا ټول وسائل دې موخې ته په رسیدو کې کامیاب نه شول. او هغه به پدې رواني بدبختو او روحي عذاب کې تر هغه وخته پورې دوام وکړي تر څو له خپل خالق سره په اړیکه کې شي او هغه طریقې سره سم یې عبادت وکړي چې هغه د ځان لپاره ټاکلې او خپلو رسولانو ته یې پرې امر کړی وي، الله تعالی د هغه چا د حالت په بیانولو سره چې له خپل رب څخه مخ اړوي او له هغه پرته له بل چا څخه هدایت غواړي فرمایلي دي:

﴿وَمَنۡ أَعۡرَضَ عَن ذِكۡرِي فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةٗ ضَنكٗا وَنَحۡشُرُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ أَعۡمَىٰ﴿١٢٤﴾﴾ [طه: 124]

[90] (او هغه څوک چې زما له ذکر (قرآن) نه مخ وګرځوي، نو بېشکه د ده لپاره ډېر تنګ ګذران (او ژوند) دی او دی به مونږ د قیامت په ورځ ړوند راپورته کوو) او الله تعالی په دې ژوند کې د مؤمنانو د سلامتیا او خوښۍ څخه د خبر ورکولو په موخه وایي:

﴿ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَمۡ يَلۡبِسُوٓاْ إِيمَٰنَهُم بِظُلۡمٍ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلۡأَمۡنُ وَهُم مُّهۡتَدُونَ﴿٨٢﴾﴾ [الأنعام: 82]

[91] (هغه کسان چې ایمان یې راوړی او له خپل ایمان سره یې ظلم (شرک) ندی ګډ کړی (، نو) دغه کسان دي چې د همدوی لپاره (له عذاب نه) امن دی او دغه کسان هدایت موندونکي دي)، او هغه پاک ذات چې د ثنا خاوند دی فرمایلي:

﴿۞ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ سُعِدُواْ فَفِي ٱلۡجَنَّةِ خَٰلِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلۡأَرۡضُ إِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَۖ عَطَآءً غَيۡرَ مَجۡذُوذٖ﴿١٠٨﴾﴾ [هود: 108]

---

[90] طه سورت 124 آیت.

[91] الأنعام سورت، 82 آیت.

[92] (او هغه کسان چې نېکبخته شوي دي، نو په جنت کې به وي، چې تل ترتله به وي، څو چې اسمانونه او ځمکه وي مګر هغه چې ستا رب اراده وکړي (چې رضوان ته او د ځان ملاقات ته يې بوځي) (دغه) نه ختمېدونکې عطا ده).

دا – له اسلام پرته –نور دينونه  که مورږ پرې د دين پخواني معيارونه پلي کړو؛ مورږ به دا ومومو چې ډېرى عناصر يې له لاسه ورکړي دي، لکه څرنګه چې د دې لنډيز په وړاندې کولو کې تېر شول.

په دې مذهبونو کې تر ټولو لوى شى چې د الله تعالى يووالى يې مختل کړى و؛ دا و چې پيروانو يې له الله تعالى سره نور خدايان شريک کړي وو، او دې تحريف شوي اديانو خلکو ته داسې قانون نه وړاندې کاوه چې د هر وخت او ځاى لپاره مناسب وي او خلکو ته يې د هغوى د دين، عزت، نسل. مالونو او وينې ساتنه نه کوله، او دوى ته يې د الله شريعت ته لارښوونه نه کوله؛ هغه چې امر يې پرې کړى دى، او خپلو پيروانو ته يې ډاډ او نيکمرغي نه ورپه برخه کوله، ځکه چې تناقض او تعارض پکې موجود دى.

او اسلام چې په راتلونکو فصلونو کې به تاسو ته راشي دا بيانوي چې دا د الله تعالى ريښتينى او پايداره دين دى چې الله د خپل ځان او د بشريت لپاره غوره کړى دى.

او د دې فقرې په پاى کې مناسبه ده چې د نبوت او د نښانو حقيقت، او هغې ته د بشريت اړتيا وپېژنو، او د پيغمبرانو د بلنې اصول او د وروستي تلپاتې رسالت  حقيقت بيان کړو.

## د نبوت حقيقت

يقينا ترټولو لوى شى چې يو څوک پرې بايد پدې ژوند کې پوه شي؛ د خپل رب پېژندنه ده؛ هغه رب چې له هيڅ شي څخه يې (انسان) پيدا کړ، او خپل نعمتونه يې پرې تمام کړل، او ترټولو لوى هدف چې الله تعالى يې له امله ټول مخلوقات پيدا کړي دي، هغه يوازې د الله تعالى عبادت کول دي.

[92] هود سورت 108آيت.

خو یو سړی څنګه خپل رب په ریښتیا سره پیژني؟ او د هغه حقوق او واجبات کومې دي، او دا چې څنګه به د خپل رب عبادت کوي؟ انسان داسې یو څوک ځانته پیدا کوي چې د ژوند په سختیو کې ورسره مرسته وکړي او د هغه لپاره د هغه ګټې پوره کړي لکه د ناروغیو درملنه، درمل ورکول، د کور په جوړولو کې مرسته او داسې نور. خو هغه به په نورو خلکو کې داسې څوک ونه مومي چې رب یې وروپیژني، او ورته وښيي چې څنګه د خپل رب عبادت وکړي، ځکه چې عقلونه په یوازې ځان نشي کولای پوه شي چې الله تعالی ترې څه غواړي؛ ځکه چې د انسان عقل لدې کمزوری دی چې د خپل ځان په څېر د بل انسان په مراد پوه شي، نو د الله تعالی په مراد به څه پوه شي او ځکه چې دا کار د رسولانو او انبیاوو پورې خاص دی؛ هغوی چې الله تعالی یې د خپل رسالت د رسولو لپاره غوره کوي او ورپسې د لارښوونې امامان د پیغمبرانو وارثان، هغوی چې منهج یې پر مخ وړي، لار یې تعقیبوي او د هغوی په استازیتوب یې پیغام خلکو ته رسوي؛ ځکه چې انسانان په مستقیمه توګه له الله تعالی څخه څه نه شي ترلاسه کولی او دا کار یې په وس پوره ندی، الله تعالی فرمایلي:

﴿۞ وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُكَلِّمَهُ ٱللَّهُ إِلَّا وَحۡيًا أَوۡ مِن وَرَآيِٕ حِجَابٍ أَوۡ يُرۡسِلَ رَسُولٗا فَيُوحِيَ بِإِذۡنِهِۦ مَا يَشَآءُۚ إِنَّهُۥ عَلِيٌّ حَكِيمٞ ٥١﴾ [الشورى: 51]

[93] (او د هېڅ انسان لپاره ممکن نه و چې الله ورسره خبرې وکړي مګر په وحي سره، یا له پردې نه شا ته، یا استازی راولېږي، پس دغه د ده په حکم سره وررسوي هغه چې (الله) یې غواړي، بېشکه دی، ډېر اوچت، ښه حکمت والا دی). باید یو منځګړی او سفیر وي چې د الله تعالی له لوري د هغه قانون بندګانو ته ورسوي او دا سفیران او منځګړي رسولان او پیغمبران دي، نو ملایکې د الله تعالی پیغام پیغمبر ته رسوي او پیغمبر یې خلکو ته رسوي، او ملایک په مستقیمه توګه خلکو ته پیغام نه رسوي. ځکه چې د ملایکو نړۍ په خپل طبیعت کې د خلکو له نړۍ سره توپیر لري، الله - تعالی - فرمایلي:

﴿ٱللَّهُ يَصۡطَفِي مِنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ رُسُلٗا وَمِنَ ٱلنَّاسِۚ ...﴾ [الحج: 75]

---

[93] الشورى سورت 51 آیت.

[94] (الله له ملايكو څخه استازي غوره كوي او له خلقو څخه، بېشكه الله ښه اورېدونكى، ښه ليدونكى دى).

د هغه پاک ذات د حکمت غوښتنه وه چې پيغمبر دې د هغه خلکو له جنس څخه وي چې ورته لېږل کيږي، تر څو ترې پوهه واخلي، او وکولای شي مخاطب يې وګرځوي او خبرې ورسره وکړي، او که رسول له ملايکو څخه رالېږل شوی وای، نو نه به مخامخ کيدل او نه به يې ترې اخستل شونی و [١٢٣] لوی څښتن فرمايلي:

﴿وَقَالُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ مَلَكٞۖ وَلَوۡ أَنزَلۡنَا مَلَكٗا لَّقُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ ثُمَّ لَا يُنظَرُونَ ٨ وَلَوۡ جَعَلۡنَٰهُ مَلَكٗا لَّجَعَلۡنَٰهُ رَجُلٗا وَلَلَبَسۡنَا عَلَيۡهِم مَّا يَلۡبِسُونَ ٩﴾ [الأنعام: 8-9]

(او دوی وويل: په ده باندې مَلَك ولې نه دی نازل کړی شوی؟ او که مونږه مَلَک نازل کړی وی (نو) معامله به ضرور فيصله کړی شوې وه، بيا به دوی ته مهلت نه ورکول کېده. او که چېرې مونږ دا (رسول) مَلَک ګرځولی وَی (، نو) مونږ به هغه خامخا سړی جوړ کړی و او مونږه به دوی خامخا په هغه شبهه کې اچولی و، په کومه شبهه کې چې (اوس) پراته دي) او الله پاک فرمايلي:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا قَبۡلَكَ مِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ إِلَّآ إِنَّهُمۡ لَيَأۡكُلُونَ ٱلطَّعَامَ وَيَمۡشُونَ فِي ٱلۡأَسۡوَاقِۗ وَجَعَلۡنَا بَعۡضَكُمۡ لِبَعۡضٖ فِتۡنَةً أَتَصۡبِرُونَۗ وَكَانَ رَبُّكَ بَصِيرٗا ٢٠ ۞ وَقَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَرۡجُونَ لِقَآءَنَا لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡنَا ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَوۡ نَرَىٰ رَبَّنَاۗ لَقَدِ ٱسۡتَكۡبَرُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ وَعَتَوۡ عُتُوّٗا كَبِيرٗا ٢١﴾ [الفرقان: 20-21]

(او له تا نه مخکې مونږ رسولان نه دي لېږلي مګر چې يقينًا هغوی به خامخا طعام خوارہ، او په بازارونو کې ګرځېدل.. تر دې چې وېې فرمايل: او وويل هغو کسانو چې زمونږ د ملاقات امېد نه لري: پر مونږ باندې ملايک ولې نه نازلولی شي، يا (ولې) مونږ خپل رب

---

[94] الحج سورت، 75 آيت.

نه وينو، يقينًا يقينًا دوی په خپلو نفسونو کې کبر وکړ، او له حده تېر شول، له حد نه ډېر لوی تېرېدل)[95]

(الله) تعالی فرمايي:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ إِلَّا رِجَالٗا نُّوحِيٓ إِلَيۡهِمۡۖ ...﴾ [النحل: 43]

[96] (او مونږ له تا نه مخکې رسولان نه دي لېږلي مګر سړي چې مونږ به هغوی ته وحي کوله). او (الله) تعالی فرمايلي:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوۡمِهِۦ لِيُبَيِّنَ لَهُمۡۖ ...﴾ [إبراهيم: 4]

[97] (او مونږ هېڅ يو رسول نه دی لېږلی مګر د خپل قوم په ژبه، د دې لپاره چې دوی ته بيان (او وضاحت) وکړي)، او دا پيغمبران او انبياء په لاندې صفتونو سره ياد شوي دي د عقل کمال، د فطرت سلامتيا، په وينا او عمل کې صداقت، په امانت کې د هغه څه رسول چې ورسپارل شوي دي، او له هر هغه څه څخه نجات موندل چې د انسان سيرت بدناموي، ځاني سلامت له هر هغه څه څخه چې سترګې ترې اوړي او سالم ذوقونه ترې تښتي (۱۲۸)، او الله پاک دوی په ځان او اخلاقو کې پاکيزه ګرځولي دي، نو دوی په مخلوقاتو کې تر ټولو د کامله اخلاقو خاوندان، په نفسونو کې تر ټولو پاک، او په لاس کې تر ټولو سخاوتمند دي، الله تعالی په دوی کې د غوره اخلاقو او ښايسته صفتونو تر منځ جمع کړي دي، همدارنګه يې په دوی کې زغم او پوهه، بخښنه، عزت او سخاوت، زړورتيا او عدالت جمع کړي دي ... تر دې چې په دغو اخلاقو درلودلو سره دوی په خپلو قومونو کې ځانګړې خلک شول، نو دا د صالح -عليه السلام- قوم دی چې هغه ته وايي: - لکه څرنګه چې الله تعالی - له دوی څخه خبر ورکړی-:

﴿قَالُواْ يَٰصَٰلِحُ قَدۡ كُنتَ فِينَا مَرۡجُوّٗا قَبۡلَ هَٰذَآۖ أَتَنۡهَىٰنَآ أَن نَّعۡبُدَ مَا يَعۡبُدُ ءَابَآؤُنَا ...﴾ [هود: 62]

---

[95] الفرقان سورت، 20،21 آيتونه.

[96] النحل سورت، 43 آيت.

[97] إبرهيم سورت، 4 آيت.

[98] (دوی وویل: ای صالحه، ته په مونږ کې مخکې له دې (دعوې د نبوت) نه امېد کړی شوی وې، (تا ته زمونږ هیلې وې) ایا ته مونږ د هغو (بتانو) له عبادت نه منع کوې چې زمونږ پلرونو به یې عبادت کاوه). او د شعیب قوم شعیب ته وویل:

﴿قَالُواْ يَٰشُعَيۡبُ أَصَلَوٰتُكَ تَأۡمُرُكَ أَن نَّتۡرُكَ مَا يَعۡبُدُ ءَابَآؤُنَآ أَوۡ أَن نَّفۡعَلَ فِيٓ أَمۡوَٰلِنَا مَا نَشَٰٓؤُاْۖ إِنَّكَ لَأَنتَ ٱلۡحَلِيمُ ٱلرَّشِيدُ ٨٧﴾ [هود: 87]

[99] (هغوی وویل: ای شعیبه! آیا ستا لمونځ تا ته د دې حکم کوي چې مونږ هغه (څیزونه) پرېږدو چې زمونږ پلرونو به یې عبادت کاوه یا دا چې په خپلو مالونو کې چې مونږ څه کول غواړو (هغه پرېږدو)، بېشکه هم ته یقینًا ډېر حِلم والا، ډېر پوه یې). او محمد - صلی الله علیه وسلم - د خپل قوم په منځ کې د "الامین" په لقب سره مشهور و مخکې له دې چې په هغه باندې پیغمبري نازل شي، د هغه رب هغه پدې صفت سره یاد کړ:

﴿وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٖ ٤﴾ [القلم: 4]

(او بېشکه چې ته یقینًا په ډېرو لویو اخلاقو باندې (فایز) یې)[100]

دوی د الله تعالی له غوره مخلوق څخه دي، دوی یې غوره کړي او د پیغام او امانت رسولو لپاره یې ټاکلي دي.

﴿... ٱللَّهُ أَعۡلَمُ حَيۡثُ يَجۡعَلُ رِسَالَتَهُۥۗ ...﴾ [الأنعام: 124]

[101] (الله ښه عالم دی پر هغه ځای چې (هلته) خپل رسالت ږدي). او الله تعالی فرمایلي:

---

[98] هود سورت، 62 آیت.

[99] هود سورت، 87 آیت.

[100] القلم سورت ، 4 آیت.

[101] الأنعام سورت: 124 آیت.

﴿۞ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصۡطَفَىٰٓ ءَادَمَ وَنُوحٗا وَءَالَ إِبۡرَٰهِيمَ وَءَالَ عِمۡرَٰنَ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ٣٣﴾ [آل عمران: 33]

(بېشکه الله په عالمونو باندې ادم او نوح او الِ ابراهيم او الِ عمران غوره کړي دي).[102]

او دا رسولان او پيغمبران، سره لدې چې الله تعالی په لوړو صفتونو سره ياد کړي او سره لدې چې دوی په لوړو صفاتو سره مشهور دي؛ بيا هم دوی ته هغه څه پېښيږي چې ټولو انسانانو ته پيښيږي؛ دوی وږې کيږي، ناروغه کيږي، ويده کيږي، خوراک کوي، واده کوي او مړه کېږي، الله تعالی فرمايلي:

﴿إِنَّكَ مَيِّتٞ وَإِنَّهُم مَّيِّتُونَ ٣٠﴾ [الزمر: 30]

(بېشکه ته هم مړ کيدونکی يې او بېشکه دوی (هم) مړه کېدونکي دي).[103] او الله تعالی فرمايلي:

﴿وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا رُسُلٗا مِّن قَبۡلِكَ وَجَعَلۡنَا لَهُمۡ أَزۡوَٰجٗا وَذُرِّيَّةٗۚ ...﴾ [الرعد: 38]

(او يقينًا يقينًا مونږ له تا نه مخکې رسولان لېږلي وو او مونږ دوی ته ښځې او اولادونهورکړي وو).[104] بلکې داسې هم شوي چې دوی ځورول شوي ، وژل شوي او يا له خپلو کورونو شړل شوي وي، الله تعالی فرمايلي:

﴿وَإِذۡ يَمۡكُرُ بِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِيُثۡبِتُوكَ أَوۡ يَقۡتُلُوكَ أَوۡ يُخۡرِجُوكَۚ وَيَمۡكُرُونَ وَيَمۡكُرُ ٱللَّهُۖ وَٱللَّهُ خَيۡرُ ٱلۡمَٰكِرِينَ ٣٠﴾ [الأنفال: 30]

[102] آل عمران سورت 33 آيت.

[103] الزمر سورت، 30 آيت.

[104] الرعد سورت 38 آيت.

[105] (او کله چې له تا سره کافرانو مکر (فریب) کاوه، د دې لپاره چې تا بندي کړي، یا تا قتل کړي، یا تا وباسي، او هغوی چلونه کول او الله (هم) پټ تدبیر کاوه او الله تر ټولو بهتر تدبیر کوونکی دی)، خو پایله، بریا او واکمني په دنیا او آخرت کې د دوی لپاره ده:

﴿... وَلَيَنصُرَنَّ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥٓ ...﴾ [الحج: 40]

[106] (او الله به خامخا ضرور د هغه چا مدد وکړي چې د هغه (الله) مدد کوي)، او الله پاک فرمایلي دي:

﴿كَتَبَ ٱللَّهُ لَأَغۡلِبَنَّ أَنَا۠ وَرُسُلِيٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٞ ٢١﴾ [المجادلة: 21]

[107] (الله لیکلي دي چې خامخا (او) لازمًا به زه غالب کېږم او زما رسولان، بېشکه الله ډېر قوي، ښه غالب دی).

# د نبوت نښې (علامې)

کله چې نبوت د غوره علومو د پېژندلو او مهمو کارونو د ترسره کولو لپاره وسیله وه؛ نو الله تعالی د خپل رحمت له مخې دې پیغمبرانو ته څینې نښې وګرځولې تر څو پرې لاربشوونه وکړي، خلکو ته پرې استدلال وکړي، او خلک یې د هغو له مخې وپېژني، کله چې دعوه وکړي، نښې او حالات یې پرې راڅرګند شي تر څو یې رېښتینولي بیان کړي که چېرته رېښتینی وي، او یا یې دروغ ښکاره کړي که چیرته دروغجن وي - دا نښې ډېرې دي چې څینې مهمې یې دا دي:

1 - دا چې رسول یوازې د یو الله عبادت ته بلنه ورکړي او له هغه پرته د بل چا له عبادت څخه منع کول وکړي؛ ځکه دا هغه هدف دی چې له امله یې الله تعالی مخلوقات پیدا کړي دي.

---

[105] الأنفال سورت، 30 آیت.

[106] الحج سورت 40 آیت.

[107] المجادلة سورت 21 آیت.

2- چې خلکو ته په هغه د ايمان راوړلو، رېښتيا ګڼلو، او د هغه په رسالت باندې عمل کولو ته بلنه ورکړي، او الله تعالی خپل پيغمبر محمد - صلی الله عليه وسلم - ته امر کړی چې ووايې:

﴿قُلْ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنِّى رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا ...﴾ [الأعراف: 158]

[108] (ته ووايه: ای خلقو! بېشکه زه ستاسو د ټولو په طرف د هغه الله (رالېږل شوی رسول يم).

٣- دا چې الله تعالی يې د نبوت په بېلابېلو دلائلو سره ملاتړ وکړي؛ پدې دلايلو کې هغه نښانې هم شاملې دي چې پېغمبر يې خپل قوم ته راوړي او قوم يې نشي کولای چې انکار ورڅخه وکړي او يا يې په څېر نورې نښې راوړي، له جملې څخه يې د موسی عليه السلام معجزه وه؛ کله چې يې امسا (لکړه) په مار بدله شوه، او د عيسی عليه السلام معجزه دا وه چې هغه ړوند او برګي مرض لرونکي ناروغ ته د الله په امر روغتيا ورکوله، او د محمد صلی الله عليه وسلم معجزه قرآن عظيم الشان دی، سره له دې چې هغه بې سواده و؛ نه يې څه لوستل او نه يې ليکل، او داسې نورې د پيغمبرانو معجزې.

لدې دلائلو څخه: هغه روښانه او څرګند حق دی چې پيغمبرانو او رسولانو پرې راتګ کړی دی او مخالفين يې ردولای نه شي، بلکه دغه مخالفين پدې پوهيږي چې هغه څه چې انبياوو عليهم السلام پرې راتګ کړی؛ هغه حق دی چې نه رد کيږي.

او لدې دلائلو څخه هغه څه دي چې الله تعالی پرې - له کمالاتو، غوره صفتونو، ښايسته خويونو او اخلاقو څخه پيغمبران - ځانګړې کړي دي،

او لدې دلايلو څخه د الله تعالی په مرسته پردښمن باندې د دوی بريا او د هغه څه ښکاره کول دي چې دوی ورته بلنه کوي.

۴ – بلنه يې بايد په اصولو کې د رسولانو او پيغمبرانو له اصولو سره سمون ولري [۱۴۰] .

۵- د خپل ځان عبادت ته بلنه ورنکړي او د خپل قوم او فرقې درناوي ته بلنه ورنکړي او الله تعالی خپل رسول محمد صلی الله عليه وسلم ته امر کړی چې خلکو ته ووايي :

---

[108] الأعراف سورت 158آيت.

﴿قُل لَّآ أَقُولُ لَكُمۡ عِندِي خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ وَلَآ أَقُولُ لَكُمۡ إِنِّي مَلَكٌۖ إِنۡ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّۚ ...﴾ [الأنعام: 50]

[109] (ته ووايه: زه تاسو ته نه وايم چې ما سره د الله خزانې دي او نه زه عالم الغيب يم او نه زه تاسو ته دا وايم چې بېشکه زه مَلَايک يم، زه پَيروي نه کوم مګر د هغه څه چې ما ته وحي کولی شي).

۶- د خپل دعوت په بدل کې له خلکو څخه د دنيا مال ونه غواړي، لوی څښتن د خپلو انبياوو : نوح، هود، صالح، لوط او شعيب، په اړه فرمايلي چې هغوی خپلو قومونو ته ووېل:

﴿وَمَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٤٥﴾ [الشعراء: 145]

[110] (او زه له تاسو نه په دې (تبليغ) باندې هېڅ اجر (عوض) نه غواړم، زما اجر نه دی مګر په رب العالمين باندې)، او محمد صلی الله عليه وسلم خپل قوم ته وفرمايل:

﴿قُلۡ مَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُتَكَلِّفِينَ ٨٦﴾ [ص: 86]

[111] (ته (دوی ته) ووايه: زه له تاسو نه په دې (تبليغ) باندې هېڅ اجر نه غواړم او زه له تکلف کوونکو څخه نه يم).

او دا پيغمبران او انبياء چې ما تاسو ته د دوی ځينې صفتونه او د نبوت ځينې ثبوتونه بيان کړل - ډېر دي.

﴿وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِي كُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجۡتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَۖ ...﴾ [النحل: 36]

---

[109] الأنعام سورت 50 آيت.

[110] الشعراء سورت: 109،127،145،164، 180آيتونه.

[111] ص سورت، 86 آيت.

[112] (او يقينًا مونږ په هر يو امت کې يو رسول لېږلی و (په دې سره) چې تاسو د الله عبادت کوئ او له طاغوت نه ځان وساتئ). او انسانيت په دوی باندې نيکمرغه شو، تاريخ د دوی د خبرونو په ثبتولو ډک شو، او د دوی د دين د حکمونو رانقليدل په تواتر سره سرته ورسيدل، او دا چې دا - دينونه - په حق او عدالت ولاړ دي، او دا هم په تواتر ثابت دي چې دوی ته الله تعالی کومې فتحې ورکړې او د دوی دښمنان يې هلاک کړي،: لکه د نوح - عليه السلام - طوفان، د فرعون غرقيدل، د لوط عليه السلام د قوم عذاب، او پر دښمنانو د محمد صلی الله عليه وسلم بريا او د هغه د دين خپريدل. نو څوک چې پدې پوه شو؛ هغه په يقين سره پوه شو چې دوی په نيکۍ او هدايت سره راغلي، خلکو ته يې د هغه څه لارښوونه کړې چې ګټه ورته رسوي او له هغه څه څخه يې منع کړي چې زيان ورته رسوي، لومړی يې نوح عليه السلام او وروستی يې محمد صلی الله عليه وسلم دی،

# پيغمبرانو ته د خلکو اړتيا

پيغمبران د الله جل جلاله رسولان دي خپلو بندګانو ته؛ د هغه له احکامو خبر ورکوي او د هغه څه زېری ورکوي چې الله تعالی بنده ګانو ته د هغه له حکمونو څخه د اطاعت په بدل کې د نعمتونو زېری ورکوي او که د هغه له احکامو څخه سرغړونه وکړي دوی ته د ابدي عذاب خبرداری ورکوي. او دوی ته د پخوانيو امتونو کيسې کوي او هغه څه چې دوی ورسره د مخالفتونو له امله پدې دنيا کې له عذابونو څخه مخ شوي دي،

دا الهي اوامر او نواهي په عقل سره نه پيژندل کيږي. لدې امله الله تعالی د انسانانو د عزت، درناوي او د هغوی د ګټو د ساتنې لپاره؛ قوانين وضع کړي؛ اوامر او نواهي يې ټاکلي. ځکه کيدی شي خلک د شهوتونو د غالبيدو له امله د حرامو مرتکب شي، په خلکو تيری وکړي او حقونه يې لوټ کړي، نو د الهي حکمت غوښتنه وه چې الله تعالی پدوی کې وخت په وخت رسولان وليږي؛ تر څو د الله اوامر ورپه ياد کړي، او د هغه له نافرمانيو څخه يې وويروي، هغوی ته تل پندونه ووايي او د پخوانيو له احوالو څخه يې خبر کړي. عجيبه خبرونه چې کله غوږونو ته ورسيږي، او حيرانوونکي معناګانې چې کله ذهنونه راويښ کړي، عقلونه يې ملاتړ وکړي نو پوهه يې زياته شي، پوهيدل پرې صحيح شي، او څوک يې چې ډير اوري هغوی ترې ډيرې خاطرې مومي او د ډيرو

[112] النحل سورت36 آيت.

خاطرو لرونکي ډېر فکر کووونکي وي، او ډېر فکر کوونکي؛ ډېر پوهه لرونکي وي، او ډېر پوهه لرونکي ډېر عمل کوونکي وي. نو د پېغمبرانو له بعثت څخه چاره نه وه، او نه په عادل نظام کې د دې بل بدیل و[۱۴۵].

او شیخ الاسلام ابن تیمیه[113]- رحمه الله - فرمایلي دي: او رسالت د بنده په ژوند او آخرت کې د اصلاح لپاره اړین دی، لکه څنګه چې له رسالت پرته د هغه آخرت سمېدونکی ندی، همدارنګه په دنیا کې د هغه ژوند او دنیوي چارې له رسالت پرته سمېدونکی ندي. نو انسان شریعت ته اړتیا لري، ځکه چې هغه د دوو حرکتونو تر منځه دی، یو حرکت هغه دی چې ګټه ورته رسوي او بل حرکت هغه دی چې په واسطه یې هغه څه له ځان څخه بچوي چې زیان ورته رسوي، نو هغه د الله په ځمکه کې د هغه نور، د بندګانو تر منځه یې د هغه عدالت، او هغه قلعه ده چې هر څوک ورننوت هغه په امن کې دی.

له شریعت څخه مراد په حس سره د ګټور او ضرري شي تر منځه جلا کول مراد ندي، ځکه دا کار په څارویو کې هم کېږي، لکه خر او اوښ د وربشو او خاورې تر منځ توپیر کوي او سره یې جلا کوي، بلکه د هغه افعالو تر منځه توپیر چې تر سره کوونکي ته یې په دنیا او اخرت کې ضرر رسوي او هغه کړنې چې تر سره کوونکي ته یې په ژوند کې او له مرګ نه وروسته ګټه رسوي، لکه: ایمان، توحید، عدالت، نیکي، احسان، امانت، پاک لمني، میړانه، علم، صبر، په نیکۍ امر او له بدیو منع کول، خپلوي پالنه، د مور او پلار سره نیکي، ګاونډیانو سره نیکي، د حقونو ادا کول، الله تعالی ته په عمل کې اخلاص کول، پر هغه توکل کول، په هغه مرسته غوښتل، د هغه قضاوت ته غاړه ایښودل، د هغه رضایت، هغه او د هغه پیغمبران په هر هغه څه کې رښتیا ګڼل چې خبر یې ترې ورکړی دی او داسې نور چې د بنده لپاره په دنیا او آخرت کې ګټور دي، او د دې په ضد شیانو کې یې په دنیا او آخرت کې بدبختي ده.

او که دا رسالت (پیغمبري) نه وی، نو عقل به د ژوند په ګټو او ضررونو پوهېدلو ته لار نه وه موندلې، نو په بندګانو باندې د الله تعالی له سترو نعمتونو او لویو احسانونو څخه دا دي چې هغه ته یې خپل پیغمبران ورلیږلي او خپل کتابونه یې پرې نازل کړي او سمه لار یې ورته ښودلې

[113] ۱۴۶] احمد بن عبد الحلیم بن عبدالسلام چې په ابن تیمیه مشهور دی، په شپږ سوه یو شپیتم کال کې زیږیدلی او په اووه سوه او اته ویشتم هجری قمری کال کې وفات شوی دی. د اسلام له سترو پوهانو څخه دی او ډېر ارزښتناک آثار لري.

ده، او که دا نه وای نو د دوی حال به له حیواناتو څخه هم بدتر وی. نو څوک چې د الله رسالت ومني او په هغه باندې ثابت قدمی پاتې شي، نو هغه له غوره مخلوقاتو څخه دی، او څوک یې چې ردوي او انحراف ترې کوي، نو هغه له بدو مخلوقاتو څخه دی، د سپي او خنزیر څخه یې حال بدتر دی، او له هر ذلیل څخه زیات ذلیل دی؛ او د ځمکې د خلکو لپاره د رسالت له اثارو پرته چې په دوی کې پاتې دي بقا نشته، نو کله چې د رسولانو آثار له ځمکې څخه لاړ شي، د هدایت نښې یې ورکې شي، الله تعالی به پورتنۍ او لاندینۍ نړۍ ویجاړه کړي او قیامت به قائم کړي. رسول ته د ځمکې د خلکو اړتیا داسې نده لکه لمر، سپوږمۍ، باد او باران ته، نه د انسان اړتیا ژوند ته، او نه د سترګو اړتیا رڼا ته او د بدن اړتیا خوراک او څښاک ته، بلکې لدې څخه هم زیاته ده؛ تر دې چې له هر هغه څه نه زیاته ده چې په فکر کې راځي ، ځکه رسولان علیهم الصلاة و السلام د الله تعالی او د مخلوقاتو تر منځه یې په امر کولو او نهي کولو کې منځګړي دي، او دوی د هغه او د هغه د بندګانو تر منځه سفیران دي ، او د دوی وروستی او د ټولو سردار او په خپل رب عزتمن یې محمد صلی الله علیه وسلم دی، په ټولو دې د الله تعالی درود وي. نو الله جل جلاله هغه د نړۍ لپاره رحمت، د لارویانو لپاره حجت او د ټولو مخلوقاتو لپاره د دلیل په توګه رالیږلی او پر بندګانو یې د هغه اطاعت، له هغه سره مینه، د هغه عزت، احترام او د هغه د حقونو ادا کول، او له دوی څخه یې پر هغه باندې د ایمان راوړلو او له ټولو انبیاوو او رسولانو څخه د پیروۍ کولو په سر ټینګې وعدې اخیستې دي، او دوی ته یې امر کړی چې له ټولو هغو مؤمنانو څخه دې وعدې واخلي چې پیروي یې کوي، د قیامت په وړاندې یې زیری ورکوونکی او ویروونکی رالیږلی او د الله په اذن یې د هغه لارې ته بلونکی او بله ډیوه رالیږلی دی، نو رسالت یې پرې پای ته رسولی او له ګمراهۍ څخه یې پرې خلکو ته هدایت کړی، او له ناپوهۍ څخه یې پرې خلک پوهې ته راویستلي دي، او د هغه په رسالت سره یې ړندې سترګې روښانه کړي، کاڼه غوږونه یې پرې رغولې، بند زړونه یې پرې پرانیستي، نو په رسالت سره یې ځمکه له تیاره کیدو وروسته رڼا شوه او زړونه پرې له شیندلو وروسته راټول شول، نو کوږ ملت پرې سم شو، او سپینه لار پرې واضحه او ښکاره شوه، او د هغه سینه یې ورته پراخه کړه او کړاوونه یې ترې لرې کړل، یاد یې ورته لوړ کړ، او خواري او ذلت یې په هر هغه چا نازل کړ چې د هغه د امر مخالفت کوي. هغه صلی الله علیه وسلم یې په داسې وخت کې راولیږلو چې پیغمبران پکې نه وو راغلي، هغه مهال چې کتابونه له منځه تللي و، ویناوې تحریف شوې وې، قوانین بدل شوي وو، او هر قوم به د خپلو نظرونو په بې انصافۍ کلک ولاړ و ، او بندګانو د خپلو فاسدو نظریاتو او خواهشاتو په اړه د الله تعالی او د هغه د رسولانو په اړه قضاوت کاوه، نو الله تعالی پرې ډیرې مخلوقاتو ته هدایت وکړ او لارې ورته روښانه شوې، او په سبب یې خلک له تیارو څخه رڼا ته راووتل، او پدې سره یې د نیکانو او فاسقانو ترمنځ جلاوالی راووست، نو چا چې د هغه په لارښونو لار موندله هغه په

سمه لار دی، او څوک چې د هغه له لارې کوږ شو نو هغه ګمراه او سرغړونکی دی، د الله درود دې وي پر هغه او د هغه په ټولو أنبیاوو او پیغمبرانو. [۱۴۷] .

## مونږ کولای شو رسالت ته د انسان اړتیا په لنډه توګه په لاندې ټکو کې بیان کړو:

۱- انسان یو غلام مخلوق دی نو باید چې خپل خالق وپېژني، او پدې پوه شي چې هغه ترې څه غواړي، او ولې یې پیدا کړی دی او انسان په دې پوهېدلو کې خپلواک نه دی او د دې لپاره بله هېڅ لاره نشته پرته لدې چې رسولان او انبیاء یې ور ونه پیژني او د هغه څه په پیژندلو سره چې هغوی پرې له هدایت او رڼا څخه راتګ کړی دی.

۲- دا چې انسان له یو جسم او روح څخه جوړ شوی او د بدن لپاره یې خوراک او څښاک هغه څه دی چې لاسته راوړل کیږي، او د روح لپاره یې غذا د هغه چا له خوا ټاکل شوې چې هغه یې پیدا کړی دی؛ چې هغه له صحیح دین څخه عبارت دی، او انبیاوو او رسولان له صحیح دین سره راغلي دي، او نیکو کړنو ته یې لارښوونه کړې ده.

3- دا چې انسان د خپل فطرت له مخې دیندار دی او هغه باید یو دین ولري چې پیروي یې وکړي او دا دین باید صحیح دین وي او صحیح دین ته په پیغمبرانو او رسولانو او هغه څه چې هغوی له ځان سره راوړي له ایمان راوړلو پرته بله هیڅ کومه لار نشته.

۴- دا چې انسان د هغې لارې پیژندلو ته محتاج دی چې د الله تعالی رضا ته یې په دنیا او د هغه نعمتونو ته په آخرت کې ورسوي او دا هغه لار ده چې پرته له انبیاوو او رسولانو علیهم السلام بل څوک ورته لارښوونه نه کوي.

۵ - دا چې انسان په خپله کمزوری دی او ډیری دښمنان ورته په کمین کې ناست دي، له شیطان څخه چې ګمراه کول یې غواړي، او بد ملګری چې ناوړه کارونه ورته ښایسته کوي او نفس چې په بدۍ ورته امر کوي؛ لدې امله هغه داسې یو څه ته اړتیا لري چې ځان پرې د دښمنانو له مکر څخه وساتي او انبیاوو او رسولانو دې لارې ته لارښوونه کړې او پوره یې واضحه کړې ده،

۶- دا چې انسان د طبیعت له اړخه مدني دی او له مخلوقاتو سره یې ناسته پاسته او له دوی سره د اوسیدلو لپاره داسې یو قانون ته اړتیا لري تر څو خلک په عدل او انصاف کې ژوند وکړي - لدې امله یې ژوند د ځنګل له ژوند سره ورته والی لري - او دا قانون باید هر حقدار ته له افراط او

تفريط پرته د هغه د حق ساتنه وکړي، او له انبياوو او رسولانو پرته بل هېڅوک بشپړ قانون نشي راوړلای.

۷ – هغه د يو داسې څه پېژندلو ته اړ دی چې ډاډ او روحي سکون ور په برخه کړي او د حقيقي نيکمرغۍ اسبابو ته يې لارښوونه وکړي او دا هغه څه دي چې انبيا او رسولان ورته لارښوونه کوي.

وروسته لدې چې انبياوو او رسولانو ته مو د بشريت اړتيا واضحه کړه، په کار ده چې د بيا راژوندي کيدو په اړه يادونه وکړو او په اړه يې دلايل او ثبوتونه وړاندې کړو.

## بيا راژوندي کېدل

هر انسان په يقين سره پوهېږي چې هغه به خامخا مړ کيږي، مګر له مرګ نه وروسته به يې څه حال وي؟ آيا هغه به نيکمرغه وي که بدمرغه؟

ډېرى امتونه او ملتونه په دې باور دي چې دوی به له مرګ نه وروسته بيا راژوندي کيږي او د خپلو اعمالو حساب به ورسره کيږي، که ښه وي، نو ښه بدله به ومومي، او که بد وي، نو بده بدله به ومومي [۱۴۸] او دا مسئله - چې قيامت او حساب دی - د سالمو عقلونو لخوا منل شوې او الهي قوانين يې ملاتړ کوي، او دا - مسئله - په درېو اساساتو ولاړه ده:

1- د الله پاک د علم بشپړوالی،

2 - د الله پاک د قدرت بشپړوالی.

3 - د الله پاک د حکمت بشپړوالی.[114].

او پدې اړه ډېر نقلي او عقلي دلايل شتون لري، د دې دلايلو له جملې څخه يې ځينې په لاندې ډول دي:

1-د اسمانونو او ځمکې په پيدايښت د مړو په بيا راژوندي کولو استدلال، لوی څښتن تعالى فرمايلي:

---

[114] وګورئ: الفوائد، د ابن القيم، 6-7 مخونه.

﴿أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَلَمۡ يَعۡيَ بِخَلۡقِهِنَّ بِقَٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن

[115](او آيا دوی نه دي کتلي چې بېشکه هغه الله چې آسمانونه او ځمکه يې پيدا کړي دي او د دغو په پيدا کولو سره نه دی ستړی شوی، يقيناً په دې قادر دی چې مړي ژوندي کړي؟ ولې نه! بېشکه هغه په هر شي باندې ښه قادر دی)، او الله تعالی فرمايلي:

﴿أَوَلَيۡسَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِقَٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن يَخۡلُقَ مِثۡلَهُمۚ بَلَىٰ وَهُوَ ٱلۡخَلَّٰقُ ٱلۡعَلِيمُ ٨١﴾ [يس: 81]

[116] (آيا هغه ذات چې آسمانونه او ځمکه يې پيدا کړي دي، په دې نه دی قادر چې هغه د دوی په شان (نور مخلوق) پيدا کړي؟ ولې نه! او هم دی ښه پيداکوونکی، ښه پوه دی).

2- له مخکيني بيلګې پرته د مخلوقاتو د پيدا کولو په قدرت باندې استدلال، چې هغه ذات يې په بيا ځل پيدا کولو څواکمن دی،څکه هغه څوک چې په لومړي ځل د پيدا کولو توان و لري، د بيا ترميمولو توان يې په طريقهء اولی سره لري.

﴿وَهُوَ ٱلَّذِي يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ وَهُوَ أَهۡوَنُ عَلَيۡهِۚ وَلَهُ ٱلۡمَثَلُ ٱلۡأَعۡلَىٰ ...﴾ [الروم: 27]

[117] (او دی همغه ذات دی چې مخلوق اول ځلې پيدا کوي، بيا به دغه دوباره راژوندي کوي او دغه (بيا راژوندي کول) هغه (الله) ته ډېر اسان دي). او هغه پاک ذات چې د ثنا خاوند دی فرمايلي:

---

[115] الأحقاف سورت، 33 آيت.

[116] يس سورت، 81 آيت.

[117] الروم سورت، 27 آيت.

﴿وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا وَنَسِيَ خَلْقَهُۥۖ قَالَ مَن يُحۡيِ ٱلۡعِظَٰمَ وَهِيَ رَمِيمٞ ٧٨ قُلۡ يُحۡيِيهَا ٱلَّذِيٓ أَنشَأَهَآ أَوَّلَ مَرَّةٖۖ وَهُوَ بِكُلِّ خَلۡقٍ عَلِيمٌ ٧٩﴾ [يس: 78-79]

(او دى زمونږ لپاره مثال بيانوي او خپل پيدايښت يې هېر کړى دى، وايي: دغه هډوکي به څوک راژوندي کوي، په داسې حال کې چې هغه وراسته وي. (ته (دوى ته) ووايه: دا به هغه ذات راژوندي کوي چې دا يې اول ځل پيدا کړي دي، او هغه په خپل مخلوق باندې ښه عالم دى)[118].

3- په ښايسته او دې بشپړ انځور سره د انسان پيدايښت چې غړي، ځواک او ځانګړې صفتونه لري: له غوښې، هډوکو، رګونو، اعصابو، سوريو ،آلاتو، علومو، ارادو او صنعتونو جوړ دى. د هغه - ذات - د ورتيا ترټولو لوى ثبوت دى چې مړي بيا راژوندي کولاى شي.

5- په دنيايي ژوند کې د مړو په راژوندي کولو د هغه په قدرت باندې استدلال چې  هغه ذات يې په آخرت کې بيا هم راژوندي کولاى شي، پدې اړه په الهي کتابونو کې چې په پيغمبرانو نازل شوي دي خبرتيا راغلې ده، د دې خبرونو له جملې څخه د ابراهيم او مسيح عليهما السلام په لاس د مړو راژوندي کېدل او نور ډېر شيان دي.

5 - په هغه چارو کې د هغه په قدرت استدلال چې حشر او نشر ته ورته والى لري، پدې چې هغه ذات مړي راژوندي کولاى شي او داسې نور:-

الف – الله تعالى انسان د منى له يو څاڅکي څخه پيدا کړى چې په ټول بدن کې خپور و – لدې امله د جنسي اړيکو پر مهال د بدن ټول غړي په خوند اخيستلو کې برخه اخلي – نو الله تعالى دا سپرم د بدن له برخو څخه راټولوي، بيا راوځي او په رحم کې په خوندي ځاى کې ځاى نيسي، نو الله تعالى ترې انسان پيدا کوي؛ نو کله چې دا برخې خپرې وې نو راټولې يې کړې او دا انسان يې ورڅخه جوړ کړ، نو کله چې بيا ځلې په مرګ سره جلا شي، نو د بيا راټولو لپاره يې کوم خنډ شتون لري، الله تعالى فرمايلي:

﴿أَفَرَءَيۡتُم مَّا تُمۡنُونَ ٥٨ ءَأَنتُمۡ تَخۡلُقُونَهُۥٓ أَمۡ نَحۡنُ ٱلۡخَٰلِقُونَ ٥٩﴾ [الواقعة: 58-59]

---

[118] يس سورت، 78،79 آيتونه.

(نو تاسو ما ته خبر راکړئ! هغه نطفه چې تاسو يې تويوئ. آيا تاسو (له) دغې (نطفې نه بشر) پيدا کوئ، يا همدا مونږ يې پيدا کوونکي يو)[119].

ب- کله چې د بېلابېلو نباتاتو تخمونه په لندبله ځمکه کې توی شي او له اوبو او خاورو سره يو ځای شي، نو عقل دا تقاضا کوي چې دا خوسا کېږي او خرابيږي. ځکه چې يو لدې دواړو څخه يې د خوسا کولو لپاره بسنه کوي، نو کله چې دواړه سره يو ځای شي بيا خو يې په طريقه اولی کوي، خو دا نه خوسا کيږي بلکه محفوظ ساتل کيږي، بيا چې کله لندبل لاپسې زيات شي نو وچوي او تيغ ورڅخه راووځي، نو آيا دا د الله تعالی په بشپړ ځواک او هر اړخيز حکمت دلالت نه کوي؟. نو دا د حکمت خاوند؛ ځواکمن ذات به څنګه د دې برخو له راټولولو او سره يو ځای کولو څخه کمزوری شي؟ الله تعالی فرمايلي:

﴿أَفَرَءَيْتُم مَّا تَحْرُثُونَ ۝٦٣ ءَأَنتُمْ تَزْرَعُونَهُۥٓ أَمْ نَحْنُ ٱلزَّٰرِعُونَ ۝٦٤﴾ [الواقعة: 63-64]

(نو تاسو ما ته خبر راکړئ! هغه تخم چې تاسو يې کرئ. ايا تاسو دغه (کرل شوی) زرغونوئ، يا هم دا مونږ يې زرغونوونکي يو)[120]، ، او دې ته ورته د الله تعالی دا قول دی:

﴿... وَتَرَى ٱلْأَرْضَ هَامِدَةً فَإِذَآ أَنزَلْنَا عَلَيْهَا ٱلْمَآءَ ٱهْتَزَّتْ وَرَبَتْ وَأَنۢبَتَتْ مِن كُلِّ زَوْجٍۭ بَهِيجٍ ۝٥﴾ [الحج: 5]

[121] (او ته به ځمکه وچه شاړه وينې، نو کله چې مونږ په هغې باندې اوبه نازلې کړو (نو) ښربه او نرمه شي او له هر قسمه ښکلو (نباتاتو) نه زرغون کړي).

6 – خالق، عالم او حکمت والا ذات لدې څخه مبرأ دی چې مخلوقات عبث پيدا کړي، او همداسې بې سرنوشته يې پريږدي، الله تعالی فرمايلي:

---

[119] الواقعة سورت، 58 آيت.

[120] الواقعة سورت، 63،64 آيتونه.

[121] الحج سورت، 5 آيت.

﴿وَمَا خَلَقۡنَا ٱلسَّمَآءَ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا بَٰطِلٗاۚ ذَٰلِكَ ظَنُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۚ فَوَيۡلٞ لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنَ ٱلنَّارِ٢٧﴾ [ص: 27]

[122] (او مونږ اسمان او ځمکه او هغه څه چې د دواړو په منځ کې دي داسې نه دي پیدا کړي، چې باطل (او عبث) دي دغه (باطل پیدا کول) د کافر شوو خلقو ګمان دی، نو دا د کافر شویو خلقو لپاره له اوره هلاکت (او عذاب) دی)، بلکې د لوی حکمت او ستر هدف لپاره یې پیدا کړي دي، الله تعالی فرمایلي:

﴿وَمَا خَلَقۡتُ ٱلۡجِنَّ وَٱلۡإِنسَ إِلَّا لِيَعۡبُدُونِ٥٦﴾ [الذاريات: 56]

[123] (او ما پېریان او انسانان نه دي پیدا کړي مګر د دې لپاره چې دوی زما عبادت وکړي)، نو د دې حکیم ذات سره نه ښایي چې هغه څوک د ده په وړاندې برابر وي چې پیروي یې کوي او هغه څوک چې نافرماني یې کوي، الله تعالی فرمایلي:

﴿أَمۡ نَجۡعَلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ كَٱلۡمُفۡسِدِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَمۡ نَجۡعَلُ ٱلۡمُتَّقِينَ كَٱلۡفُجَّارِ٢٨﴾ [ص: 28]

[124] (ایا مونږ به هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او نیک عملونه یې کړي دي، په ځمکه کې د فساد کوونکو په شان وګرځوو؟ آیا مونږ به متقیان د فاجرانو (بدکارانو) په شان وګرځوو؟) نو د هغه د حکمت کمالاتو او د قاهریت عظمت دا غوښتنه وه چې د قیامت په ورځ مخلوقات راژوندي کړي ترڅو هر انسان ته د هغه د عمل بدله ورکړي، نو نیکي کوونکو ته ثواب او بدکارانو ته جزا ورکړي، الله تعالی فرمایلي:

---

[122] ص سورت 27 آیت.

[123] الذاريات سورت، 56 آیت.

[124] ص سورت 28 آیت.

﴿إِلَيۡهِ مَرۡجِعُكُمۡ جَمِيعٗاۖ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقًّاۚ إِنَّهُۥ يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ لِيَجۡزِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ بِٱلۡقِسۡطِۚ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَهُمۡ شَرَابٞ مِّنۡ حَمِيمٖ وَعَذَابٌ أَلِيمُۢ ...﴾ [يونس: 4]

[125] (خاص هم ده ته ستاسو د ټولو ورګرځيدل دي، الله حقه وعده کړې ده، بېشکه دی مخلوق لره اول ځل پیدا کوي، بیا يې دوباره ژوندي کوي، د دې لپاره چې هغو خلقو ته چې ايمان يې راوړی او نېك عملونه يې کړي دي په انصاف سره بدله ورکړي، او هغه کسان چې کفر يې کړی دی، د دوی لپاره ايشېدلې ګرمې اوبه او ښخې دردناک عذاب دی، په دې سبب چې دوی به کفر کاوه).

او د آخرت - بيا راژوندي کېدو او راپورته کيدو - په ورځ ايمان په فرد او ټولنه ډېرې اغيزې لري چې له جملې څخه يې ځيني دا دي:

1- انسان بايد د دې ورځې د ثواب په خاطر د الله تعالی په اطاعت ټينګار وکړي او د دې ورځې د عذاب له وېرې د هغه له نافرمانۍ څخه ډډه وکړي.

2- د آخرت په ورځ ايمان کې د مؤمن لپاره د دنيوي نعمتونو او خوندونو د لاسه ورکولو باندې يو تسليت دی، ځکه چې هغه د آخرت د نعمتونو او ثواب تمه لري.

3- د اخرت په ورځ په ايمان راوړلو سره انسان پدې پوهيږي چې له مرګ نه وروسته به يې برخليک چيرته وي او پدې به پوه شي چې د خپلو عملونو ثواب به ورته رسيږي که يې ښه عمل کړی وي نو ښه جزا به ومومي او که يې بد عمل کړی وي نو بده جزا به ومومي، او دا چې هغه به د حساب کتاب لپاره ودرول شي، او چاچې ورسره ظلم کړی وي له هغه څخه به ورته قصاص واخيستل شي، او د کومو بنده ګانو سره چې ده ظلم کړی وي يا يې پرې تيری کړي وي د هغوی حقونه لده څخه اخيستل کيږي.

---

[125] يونس سورت 4 ايت او د وړاندې تېر شوي مطلب لپاره د ابن القيم الفوائد وګورئ: ، 6-9 مخونه، اود رازي التفسير الكبير 2 ټوک، 113-116 مخونه.

4- د اخرت په ورځ ایمان انسان د نورو سره له ظلم او د هغوی د حقوقو تر پښو لاندې کولو څخه منع کوي، که خلک د آخرت په ورځ ایمان ولري نو د یو بل سره له ظلم کولو څخه به په امن کې وي او حقوق به یې خوندي وي.

5 – د آخرت په ورځ ایمان انسان اړباسي تر څو د دنیا کور ته د ژوند د یو پړاو په سترګه ګوري نه د ټول عمر.

د دې پاراګراف په پای کې غوره ده چې د امریکایي عیسوي "وین بیټ" په وینا استدلال وکړو، هغه څوک چې په یوه کلیسا کې یې کار کاوه بیا مسلمان شو او په آخرت کې یې د ایمان ثمره ولیده، نوموړی وایې: ( زه اوس د څلورو پوښتنو په ځوابونو پوه شوی یم چې زما ژوند یې ډېر بوخت کړی و، چې هغه دا دي: زه څوک یم؟ څه غواړم؟ ولې راغلی یم او زما برخلیک کوم لوري ته دی؟) [۱۶۱].

## د رسولانو د بلنې اصول

ټولو انبیاوو او رسولانو بنسټیزو اصولو ته په بلنې ورکولو هوکړه کړې ده [۱۶۲] لکه په الله جل جلاله، د هغه پر ملائکو، د هغه په کتابونو، د هغه په رسولانو، د آخرت په ورځ او د خیر او شر په تقدیر ایمان باندې ایمان راوړل، او لکه یوازې د هغه ذات په عبادت چې هیڅ شی ورسره شریک نه لري او د هغه د حقې لارې پیروي کول او د مخالفو لارو پیروي نه کول او د څلورو اجناسو منع کول لکه : پټه او ښکاره بې حیایي، ګناه، هغه ګناه چې اثر یې نورو ته سرایت کوي او د الله تعالی سره شرک کول، د بتانو او مجسمو عبادت کول، او له ملګرې، زوی، شریک، او مثل څخه یې پاکول، او دا چې ناحق وینا پرې وویل شي، د اولادونو د وژلو حراموالی، له حق پرته د نفس د وژلو حراموالی، له سود او د یتیم د مال له خوړلو څخه ممانعت او په وعده وفا کولو باندې امر او په تله او پیمانه کې ریښتینولي، د مور او پلار سره نیکي، د خلکو تر منځ عدالت کول، په وینا او کړنو کې ریښتینولي، له کبر او اصراف څخه ممانعت، او په باطل سره د خلکو د مالونو خوړل.

ابن القيم[126]رحمه الله فرمايلي دي: (ټول شريعتونه په اصولو کې سره يو دي، که څه هم يو له بل سره توپير لري، او په ذهنونو کې يې ښايست ځای نيولی دی، او که لدې پرته يې بل حالت غوره کړ نو له حکمت، رحمت او مصلحت څخه به ووځي، بلکه دا ناشوني ده چې د دې خلاف و اوسي.

﴿وَلَوِ ٱتَّبَعَ ٱلۡحَقُّ أَهۡوَآءَهُمۡ لَفَسَدَتِ ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهِنَّۚ ...﴾ [المؤمنون: 71]

[127] (او که حق (الله) د دوی د خواهشاتو پيروي کړې وی (، نو) خامخا به تباه شوي وو اسمانونه او ځمکه او هغه څوک چې په دغو کې دي، بلکې مونږ دوی ته د دوی ذکر راوړ، نو دوی له خپل ذکر نه مخ اړوونکي دي)، او د عقل خاوند به څنګه اجازه ورکړي چې د أحكم الحاكمين ذات شريعت په هغه څه سره رد کړي چې د هغه پر ضد راغلي دي )[128].

لدې امله د ټولو انبياوو دين يو لکه څرنګه چې الله تعالی فرمايلي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلرُّسُلُ كُلُواْ مِنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَٱعۡمَلُواْ صَٰلِحًاۖ إِنِّي بِمَا تَعۡمَلُونَ عَلِيمٞ ۝٥١ وَإِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمۡ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ وَأَنَا۠ رَبُّكُمۡ فَٱتَّقُونِ ۝٥٢﴾ [المؤمنون: 51-52]

(اې رسولانو! تاسو له پاکيزه څيزونو څني خورئ او نېک عملونه کوئ، بېشکه زه په هغو کارونو چې تاسو يې کوئ، ښه عالم يم. او بېشکه دا ستاسو دين دی، په داسې حال کې چې يو دين دی او زه ستاسو رب يم، نو تاسو له ما نه وېرېږئ) [129]، او الله تعالی فرمايلي:

---

[126] ١٦٣] محمد بن ابي بكر بن أيوب الزرعي په شپږ سوه او يو نوي يم کال کې زېږېدلی او په اوه سوه يو پنځوسم هجري کال کې وفات شوی دی، د اسلام له سترو عالمانو څخه دی او ډېر لوي تاليفات لري.

[127] المؤمنون سورت 71 آيت.

[128] مفتاح دار السعادة، 2 ټوک، 383 مخ، او وګورئ: الجواب الصحيح لمن بدل دين المسيح، 4 ټوک، 322 مخ، او لوامع الأنوار د سفاريني، 2 ټوک، 263 مخ.

[129] المؤمنون ، الآيتان 51،52.

﴿۞ شَرَعَ لَكُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِۦ نُوحًا وَٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ وَمَا وَصَّيۡنَا بِهِۦٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَىٰٓۖ أَنۡ أَقِيمُواْ ٱلدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُواْ فِيهِۚ ...﴾ [الشورى: 13]

[130] (هغه تاسو لپاره هغه دين مقرر کړی دی چې د هغه وصيت يې نوح ته کړی و او هغه چې مونږ تا ته وحي کړی دی او هغه چې مونږ د هغه وصيت ابراهيم او موسیٰ او عيسیٰ ته کړی و، چې تاسو دين قايم کړئ او په ده کې مه مختلف کېږئ)،

بلکې له دين څخه مراد؛ بندګان د خپل هغه رب عبادت ته رسول دي - چې شريک نه لري، - او د دې لپاره پيدا شوي دي، [۱۶۸]، نو د هغوی لپاره هغه حقوق وضع کوي چې ادا کول يې پر دوی واجب وي. او د واجباتو ادا کول ورته - د امن په فضا کې - تضمينوي، او په هغه وسائلو سره يې مرسته کوي چې دې موخې ته يې رسوي، تر څو د الله تعالی خوښې او د دنيا او آخرت نيکمرغۍ ته د الهي منهج سره سم ورسيږي؛ هغه منهج چې بنده نه ټوټې کوي، او د هغه شخصيت د شيزوفرنيا په(رواني) ناروغۍ نه اخته کوي؛ کوم چې په پای کې د هغه د فطرت او روح او د هغه د روح او چاپيره کائناتو تر منځ ټکر رامنځته کوي.

نو ټول پېغمبران هغه الهي دين ته بلنه کوي چې انسانيت ته د عقيدې اساسات وړاندې کوي تر څو پرې ايمان راوړي، او هغه قانون چې د ژوندانه لپاره يې تګلاره وګرځوي، لدې امله تورات عقيده او قانون او خلک يې مکلف ګرځولي وو تر څو ورته د پريکړو پر مهال مراجعه وکړي، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿إِنَّآ أَنزَلۡنَا ٱلتَّوۡرَىٰةَ فِيهَا هُدٗى وَنُورٞۚ يَحۡكُمُ بِهَا ٱلنَّبِيُّونَ ٱلَّذِينَ أَسۡلَمُواْ لِلَّذِينَ هَادُواْ وَٱلرَّبَّٰنِيُّونَ وَٱلۡأَحۡبَارُ ...﴾ [المائدة: 44]

[131] (بېشکه مونږ تورات نازل کړی دی، چې په هغه کې هدايت او رڼا ده، په ده سره به نبيانو، چې حکم منونکي وو، د يهوديانو لپاره فيصلې کولې او الهي خلقو او عالمانو (به هم فيصلې کولې)، بيا مسيح عليه السلام راغی او له هغه سره انجيل چې په هغه کې هدايت او رڼا

---

[130] الشورى سورت 13 آيت.

[131] المائدة سورت 44 آيت.

وه، او د هغه څه تصدیق کوونکی و چې وړاندې ترې له تورات څخه تیر شوي وو، الله تعالی فرمایلي:

﴿وَقَفَّيْنَا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم بِعِيسَى ٱبْنِ مَرْيَمَ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ ۖ وَءَاتَيْنَٰهُ ٱلْإِنجِيلَ فِيهِ هُدًى وَنُورٌ ...﴾ [المائدة: 46]

[132] (او مونږه په هغوی پسې د دوی په نښو باندې د مریمې زوی عیسی ولیږه چې له ده نه د وړاندې (کتاب) تورات تصدیق کوونکی و او مونږ هغه ته انجیل ورکړ، چې په هغه کې هدایت او رڼا وه). بیا محمد صلی الله علیه وسلم د وروستي شریعت او بشپړ ملت سره پداسې حال کې راغی چې له هغه نه مخکې شریعتونو باندې شاهدي ورکوونکي و او د هغه کتابونو تصدیق یې وکړ چې له هغه څخه مخکې نازل شوي وو، الله تعالی فرمایلي:

﴿وَأَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ ۖ فَٱحْكُم بَيْنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ ۖ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَهُمْ عَمَّا جَآءَكَ مِنَ ٱلْحَقِّ ۚ ...﴾ [المائدة: 48]

[133] (او (ای نبي!) مونږ تا ته کتاب په حقه سره نازل کړی دی، چې د هغو کتابونو تصدیق کوونکی دی چې له ده نه مخکې دي او د هغوی محافظ دی، نو ته د دوی په منځ کې فیصله وکړه په هغه څه سره چې الله نازل کړي دي او ته د دوی د خواهشاتو پیروي مه کوه، چې هغه حق پریږدې چې تا ته راغلی دی، مونږ په تاسو کې د هر یو لپاره یو دستور او لاره مقرر کړې ده). او هغه پاک ذات څرګنده کړه چې محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه سره مومنانو په هغه ایمان راوړی لکه څنګه چې د دوی څخه مخکې پیغمبرانو او رسولانو په هغه ایمان راوړی و.

---

[132] المائدة سورت 46 آیت.

[133] المائدة سورت 48 آیت.

﴿ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مِن رَّبِّهِۦ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَۚ كُلٌّ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّن رُّسُلِهِۦۚ وَقَالُواْ سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَاۖ غُفۡرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيۡكَ ٱلۡمَصِيرُ٢٨٥﴾ [البقرة: 285]

134 (رسول پر هغه څه ايمان راوړی دی؛ چې په ده باندې د خپل رب له جانبه نازل کړی شوی دی او مومنانو هم، ټولو ايمان راوړی دی په الله باندې او د هغه پر ملايکو او د هغه پر کتابونو او د هغه په رسولانو باندې (او وايي) مونږه د هغه (الله) په رسولانو کې د هيچا په منځ کې توپير نه کوو).او وايي: مونږ واوريدل او مونږ خبره ومنله (مونږ) ستا (نه) بخښنه (غواړو) اې زمونږه ربه! او خاص تا ته بېرته درتګ دی).

## الرسالة الباقية[135]

د يهودي، عيسوي، مجوسي، زردشتي او د بېلابېلو بت پرستو مذهبونو د حالت په اړه مخکينۍ ښرګندونې په شپږمه پيړۍ کې د انسانيت حالت په ګوته کوي[136]او کله چې دين فاسد شي نو سياسي، ټولنيز او اقتصادي حالات ټول فاسد شي، خونړي جنګونه عام شي، استبداد څرګند شي، انسانيت په بشپړه تياره کې ژوند کوي، چې له امله يې زړونه د کفر او جهل په تيارو کې تم شي، اخلاق خراب شي، عزتونه تر پښو لاندې شي، حقوق پايمال شي. په وجه او لمده کې فساد ښکاره شي، تر دې که يو هوښيار سړی فکر وکړي، پوه به شي چې انسانيت - هغه مهال- د ځنکدن په حالت کې و، او د خپل زوال اعلان يې کړی و، که چيرته الله تعالی په لوی اصلاح کوونکي سره چې د نبوت مشعل يې پورته کړی و نجات نه و ورکړی، او هدايت يې نه و تر لاسه کړی، تر څو انسانيت ته لاره روښانه کړي، او سمې لارې ته يې لارښوونه وکړي.

---

134 البقرة سورت 285 آيت.

135 د لا زياتو معلوماتو لپاره، وګورئ: "الرحيق المختوم" د صفي الرحمن المبارکپوري ليکنه.

136 ]١٧۴ په دې اړه د دې ليکنې ۵٢ مخ وګورئ ؛ د موجوده مذهبونو حالت .

په هغه وخت کې الله تعالی غوښتل چې د ابدي نبوت رڼا له مکې مکرمې څخه چې بیت الله العظیم پکې دی راوخیژي، پداسې حال کې چې د چاپېریال حالت یې په شرک، جهالت، ظلم او استبداد کې د هغه وخت نورو سیمو ته ورته و، خو بیا یې هم له نورو سیمو ځیني ځانګړتیاوې درلودلې لکه:

۱- هغه یو پاک چاپېریال و چې د یوناني، رومي او هندي فلسفې له ناپاکۍ څخه متاثره شوی نه و، او استوګن یې د فصاحت او بلاغت، تېز هوش او تخلیقي بصیرت څخه برخمن وو.

۲ – هغه د نړۍ په زړه کې پروت ښار دی، ځکه چې د اروپا، اسیا او افریقا په منځ کې پروت دی، په لنډ وخت کې ترې دغو هېوادونو ته ابدي رسالت په چټکتیا سره خپرېدل آسان و.

۳- دا یو خوندي هیواد دی، لکه څرنګه چې الله تعالی له ابرهه څخه وساته کله یې چې پرې د یرغل اراده وکړه، او ګاونډیو امپراتوریو، فارس او رومیانو تر اوسه تر خپلې ولکې لاندې ندی راوستی، بلکې په شمال او جنوب کې یې سوداګري هم ورته خوندي کړې ده. دا ټول د پیغمبر د رسالت لپاره د چمتووالي نښې وې، او الله تعالی یې اوسیدونکې پدې نعمت سره یاد کړي دي لکه چې فرمایي:

﴿... أَوَلَمْ نُمَكِّن لَّهُمْ حَرَمًا ءَامِنًا يُجْبَىٰٓ إِلَيْهِ ثَمَرَٰتُ كُلِّ شَىْءٍ ...﴾ [القصص: 57]

[137] (ایا مونږ دوی ته د داسې حرم تمکین نه دی ورکړی چې د امن والا دی، ده ته د هر شي مېوې راوړلی (او ورکولی) شي).

4- هغه یو صحرايي چاپیریال دی چې ډیری د ستاینې وړ ځانګړتیاوې لري لکه: سخاوت، د ګاونډیتوب پالنه، په ناموس غیرت، او داسې نورې ځانګړتیاوې چې دا ځای یې د ابدي پیغام لپاره مناسب ګرځولی دی.

لدې ستر مقام څخه او د قریشو له قبیلې څخه چې په فصاحت، بلاغت، او غوره اخلاقو مشهوره وه، او د عزت او مشرۍ مقام یې درلوده.. الله تعالی خپل پیغمبر محمد - صلی الله علیه وسلم - د پیغمبرانو او رسولانو د وروستي پیغمبر په توګه غوره کړی دی، هغه په شپږمه هجري پېړۍ کې په ۵۷۰ میلادي کال کې زېږېدلی او یتیم لوی شوی دی، ځکه پلار یې هغه مهال مړ شو

[137] القصص سورت 57 آیت.

چې دی د مور په ګېډه کې و، بیا یې مور مړه شوه، نیکه یې هم په شپږ کلنۍ کې وفات شو، نو تره یې ابو طالب د هغه کفالت وکړ، هلک یتیم رالوی شو، او د ذکاوت نښې پکې راښکاره شوې؛ عادتونه، اخلاق، خویونه او خصلتونه یې د خپل قوم له خلکو څخه ځانګړې وو، په خبرو کې یې دروغ نه ویل او نه یې چاته ضرر رساوه، په ریښتینولۍ، عفت او امانت مشهور و، تر دې چې د خپلې قبیلې ډېری خلکو پرې د خپلو امانتونو د ساتلو اعتماد کړی و او ورسره یې د ساتلو په موخه اېښودل، هغه به هم ترې داسې ساتنه کوله لکه څنګه یې چې د خپل مال او ځان څخه کوله، دا هر څه د دې لامل شول چې د امین لقب یې ورکړ، هغه ډېر حیا لرونکی و، هیچا ته یې خپل بدن بربنډ نه و ښودلی، پاک او پرهیزګاره و، د هغه څه له امله دردیده چې په خپل قوم کې یې لیدل لکه: بت پرستي، شراب څښل او وینې تویول، د خپل قوم سره یې په هغه کړنو کې ملګرتیا کوله چې خوښیدلې یې، او د بې حیایۍ او بې لاریتوب پر مهال به ترې جلا کیده، تل به یې له یتیمانو او کونډو سره مرسته کوله، او وږو خلکو ته به یې خواړه ورکول. تر دې چې کله څلویښت کلنۍ ته نږدې شو، نو له شاوخوا فساد څخه ستړی شو، او د خپل رب عبادت ته یې مخه کړه او له هغه څخه یې سمې لارې ته د لارښوونې دعاګانې کولې، هغه لا پر همدې حال و چې د ملائکو له ډلې څخه پرې یوې ملاېکې د رب له طرفه وحې نازله کړه، او امر یې ورته وکړ چې دا دین خلکو ته ورسوي، او هغوی ته بلنه ورکړئ چې د خپل رب عبادت وکړي او له هغه پرته د بل څه عبادت پریږدي. او په هغه باندې ورځ په ورځ او کال په کال د قوانینو او احکامو سره وحې نازلېدله، تر دې چې الله تعالی دا دین بشریت ته بشپړ کړ، او خپل نعمت یې په هغه باندې بشپړ کړ. کله چې د هغه ماموریت بشپړ شو، الله جل جلاله هغه وفات کړ، هغه مهال یې عمر درې شپېته کاله و، چې څلویښت کاله یې له نبوت څخه مخکې وو، او 23 کاله نبي او رسول و.

او څوک چې د پیغمبرانو حالاتو ته پام وکړي او د هغوی تاریخ مطالعه کړي؛ هغه په یقین سره پوهیږي چې هیڅ داسې لار نده ثابته شوې چې د یو پیغمبر پیغمبري پرې ثابته شوي وي، مګر دا چې د محمد صلی الله علیه وسلم نبوت به پرې په طریقه اولی سره ثابت شوی وي.

که تاسو وګورئ چې د موسی او عیسی علیهما السلام نبوت څنګه لیږدول شوی دی، نو ته به پدې پوه شې چې د تواتر له لارې نقل شوی دی، او هغه د تواتر لار چې د محمد - صلی الله علیه وسلم - نبوت پرې ثابت شوی دی لوی او معتبر دی او د وخت له اړخه تر ټولو نږدې دی.

همدا ډول هغه تواتر چې د دوی معجزې او نښانې پرې راانتقال شوي دي سره یو دی، بلکه د محمد صلی الله علیه وسلم په حق زیات لوی دی، ځکه چې نښانې یې زیاتې وې، بلکه تر ټولو

لویه نښه یې همدا قرآن کریم دی چې تر نن ورځې پورې په غبږ او شکل دواړو سره په تواتر رانقلیږي،

څوک چې هغه څه پرتله کړي چې موسی او عیسی علیهما السلام پرې راتګ کړی دی او هغه څه چې محمد صلی الله علیه وسلم پرې له صحیح عقیدې، محکمو قوانینو او ګټورو علومو څخه راتګ کړی دی نو پدې به پوه شي چې دا ټول له یوې ډیوې څخه راوځي، چې هغه د نبوت ډیوه ده.

او څوک چې د پیغمبرانو د پیروانو حالات او د محمد صلی الله علیه وسلم د پیروانو حالات سره پرتله کړي نو هغه به پدې پوه شي چې هغوی د خلکو لپاره غوره خلک وو، بلکې هغوی د پیغمبرانو په پیروانو کې تر ټولو لوی وو چې د ورپسې راتلونکو په پرتله غوره وو، هغوی توحید خپور کړ، عدالت یې عام کړ، هغوی د کمزورو خلکو او مسکینانو لپاره رحمت وو.

او که تاسو د هغه - صلی الله علیه وسلم - د نبوت په اړه نور وضاحت غواړئ تر څو پرې استدلال وکړئ؛ نو زه به تاسو ته هغه شواهد او نخښې وړاندې کړم چې هغه علي بن رَبَّن الطبري موندلي دي کله چې عیسوي و او بیا یې د همدې دلایلو په سبب اسلام راوړ؛ هغه دلایل دا دي:

1- هغه د الله جل جلاله د عبادت کولو او د بل څه د عبادت پرېښودلو ته بلنه ورکړه، چې په دې کې د ټولو انبیاوو سره موافق و.

2- هغه داسې نښې ښکاره کړې چې له انبیاوو پرته پرې نور خلک راتګ نه شي کولای.

3- هغه په راتلونکي کې د ډیرې حوادثو په اړه وړاندوینه وکړه، نو هغه ډول پېښ شول لکه څنګه یې چې په اړه خبر ورکړی و.

4 -د نړۍ او د هغې د هیوادونو د ډیرو پیښو په اړه وړاندوینه وکړه نو هغه پیښ شول لکه څنګه چې هغه ویلي وو.

5 – هغه کتاب چې محمد صلی الله علیه وسلم راوړی– چې هغه قرآن دی – د نبوت له نښو څخه دی. ځکه چې هغه یو فصیح کتاب دی، او هغه الله تعالی په یو نالوستي انسان نازل کړی دی چې نه لولي او نه لیکي، او هغه ټول فصیحو خلک وننګول تر څو یې په څېر یو بل کتاب راوړي او یا یې د سورت په څېر یو سورت راوړي، او دا ځکه چې الله تعالی یې د ساتنې ضمانت کړی او پدې کتاب سره یې صحیح عقیده ساتلې ده، او یو بشپړ قانون یې ورسره ضمیمه کړی او تر ټولو غوره امت یې ورته ټاکلی دی.

6- هغه د پیغمبرانو د لړۍ وروستی پیغمبر دی، نو که چېرته نه و لیږل شوی نو د ټولو هغو پیغمبرانو نبوتونه به باطل شوي وو چې د ده په نبوت یې زیری ورکړی و.

7- انبیاوو علیهم السلام د هغه د ظهور په اړه ډېره پخوا وړاندوینه کړې وه او د هغه د لیږلو ځای هیواد؛ او هغه او امت ته یې د ملتونو او پادشاهانو غاړه ایښودل او د هغه د دین د خپریدو یادونه یې کړې وه.

8 - په هغو ولسونو باندې د هغه فتحه چې له ده سره جنګېدلي دي د نبوت له نښو څخه دي. ځکه د یو شخص لپاره دا ناممکنه ده ادعا وکړي چې هغه د الله لخوا رالیږل شوی- پداسې حال کې چې هغه دروغ وي - او بیاپې الله تعالی په فتحې، واکمنۍ، پر دښمنانو غلبه او د پیروانو له ډیروالي سره مرسته وکړي، یقینا چې دا یوازې د یو رېښتیني پیغمبر په لاس ترلاسه کیدی شي.

9- کوم حالت چې هغه په عباداتو، عفت، صداقت، ښو اخلاقو، قوانینو او احکامو کې درلوده، بیشکه چې دا ځانګړتیاوې له نبي پرته په بل چا کې نه یو ځای کیږي.

دغه هدایت شوی انسان وروسته له دلایلو وړاندې کولو څخه وایې: (دغه روښانه خصلتونه او کافي دلایل دي، په چا کې چې پیدا شول نبوت ورته واجب دی، او برخه یې کامیابه ده، او حق یې بریالی شو، او پر هغه ایمان راوړل واجب شول، او چا چې رد کړل او انکار یې ترې وکړ خواري یې برباد شوه، او دنیا او آخرت یې له لاسه ورکړل[١٧٨] .

د دې پراګراف په پای کې به تاسو ته دوه ګواهیانې وړاندې کړم: یوه یې د پخواني روم د پاچا شاهدي چې هغه د محمد صلی الله علیه وسلم سره معاصر و، او بله د یو معاصر مسیحیت ته بلونکي انګلیس (جان سینټ) ګواهي.

د هرقل شاهدي: بخاري رحمه الله د ابو سفیان د خبر یادونه کړې ده کله چې د روم پاچا هغه راوباله او ویې ویل: (ابو یمان الحکم بن نافع مونږ ته حدیث بیان کړی دی چې وایي: مونږ ته شعیب له زهري څخه خبر راکړ، هغه وایي: ما ته عبیدالله بن عبدالله بن عتبه بن مسعود خبر راکړ چې هغه عبد الله بن عباس خبر کړ چې هغه ته ابو سفیان بن حرب خبر ورکړ چې هغه هرقل د قریشو له یوې ډلې سره ورلیږلی و چې هغه مهال دوی په شام کې سوداګر وو کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له ابو سفیان او د قریشو له کفارو سره د حدیبیې په صلح کې نیتېه کېښوده [١٧٩]، نو ، ورته راغلل پداسې حال کې چې هغوی په ایلیاء کې وو [١٨٠]، نو خپل مجلس ته یې راوغوښتل پداسې حال کې چې شاوخوا ته یې د رومیانو لوی مشران وو، بیا یې راوغوښتل او خپل ترجمان یې راوغوښت او ویې ویل: له تاسو څخه په نسب کې کوم یو دغه

سړي ته ډېر نيږدې دی چې د نبوت دعوه يې کړې ده، ما ورته وويل: زه ورته په نسب کې تر ټولو نږدې يم، هغه وويل: ماته يې رانږدې کړئ او د هغه ملګري يې تر شا ودروئ. بيا يې خپل ترجمان ته وويل: هغوی ته ووايه چې زه لدې سړي څخه د ده په په اړه پوښتنې کوم، که چيرته يې راته دروغ وويل نو دروغجن يې کړئ، وايې: قسم په الله که حيا نه وای چې خلک مې خلک دروغجن وګڼي نو خامخا به مې پرې دروغ ويلي وو، بيا يې لومړی پوښتنه زما څخه وکړه ويې ويل: په تاسو کې يې نسب څنګه دی؟ ما وويل: هغه په مونږ کې د غوره نسب خاوند دی، ويې ويل: آيا لده څخه وړاندې بل چا په تاسو کې دا وينا کله کړې ده؟ ما وويل: نه. ويې ويل: آيا په نيکونو کې يې څوک پادشاه تېر شوی دی، ما وويل: نه. ويې ويل: آيا مخور خلک يې پيروي کوي که کمزوري. ما وويل: بلکه کمزوري. ويې ويل: آيا دوی زياتيږي که کميږي؟ ما وويل: بلکه زياتيږي. ويې ويل: آيا کله چې څوک دده پر دين شي، نو بيرته ترې وځي لدې امله چې بد يې ګڼي؟ ما وويل: نه. ويې ويل: آيا وړاندې لدې چې دا وينا وکړي کله مو په دروغ ويلو تورن کړی و؟ ما وويل: نه. ويې ويل: خيانت کوي؟ ما وويل: نه خو اوس يو څه وخت کيږي چې ترې لرې يو مونږ نه پوهيږو چې هغه به پکې څه کوي. وايې: ما ونه شو کولای چې يوه کلمه هم د هغه په اړه ووايم پرته له همدې خبرې، ويې ويل: آيا تاسو ورسره وجنګيدئ؟ ما وويل هو. ويې ويل: جګړه مو له هغه سره څه ډول ده؟ومې ويل: زمونږ او د هغه تر منځ جګړه داسې ده چې کله مونږ مغلوبه کيږو او کله هم هغوی، ويې ويل: هغه تاسو ته په څه امر کوي؟ ما وويل: هغه وايې چې يوازې د الله عبادت وکړئ او له هغه سره هيڅ شی مه شريکوئ او هغه څه پريږدئ چې ستاسو پلرونو ويلي دي او هغه مونږ ته په لمانځه، رښتينولۍ، عفت او صله رحمۍ امر کوي. هغه ترجمان ته وويل: هغه ته ووايه، ما له تا څخه د هغه د نسب په اړه وپوښتل، او تا وويل چې هغه په تاسو کې د نسب خاوند دی، او همدارنګه پيغمبران وي چې د خپل قوم له نسب څخه ليږل کيږي، او ما له تا څخه وپوښتل چې آيا ستاسو څخه کوم بل چا دا وينا (د نبوت ادعا) کړې ده؟ نو تا يادونه وکړه چې نه، نو ما وويل: که لده وړاندې بل چا دا وينا کړې وه نو ما به ويلي و چې د پخواني سړي لار يې خپله کړې ده، او له تا څخه مې وپوښتل چې آيا د هغه په نيکونو کې کوم يو پاچا و؟ تا وويل چې نه، ما وويل که چيرته يې په نيکونو کې څوک پادشاه و نو ما به ويلي و چې د نيکونو پادشاهي غواړي. او ما وپوښتل چې تاسو د هغه لدې وينا څخه مخکې کله هغه په دروغو تورن کړی دی؟ نو تاسو يادونه وکړه چې نه، نو زه پدې پوهېدم چې هيڅکله به هغه داسې ونه کړي چې په خلکو دروغ ويل پريږدي او په الله تعالی دروغ ووايي، او ما له تا څخه د هغه د پيروانو په اړه پوښتنه وکړه چې معتبر (مخور) خلک يې پيروي کوي که کمزوري خلک، نو وويل چې کمزوري خلک يې پيروي کوي او همدوی د رسولانو پيروان دي. او ما له تا څخه وپوښتل چې آيا دوی زياتيږي که کميږي، نو تا وويل چې زياتيږي او د ايمان مسئله همداسې وي تر دې چې بشپړه شي، او له تا

 څخه مې وپوښتل چې آیا څوک یې په دین کې له داخلېدو وروسته لدې امله مرتد شوي چې کرکه ترې کوي؟ نو تاسو یادونه وکړه چې نه، او ایمان همدا رنګه وي کله چې هغه د زړونو له خوښۍ سره ګډ شي. او ما له تا نه وپوښتل چې آیا هغه خیانت کوي، نو تا ووېل چې نه، او همدارنګه پیغمبران وي چې خیانت نه کوي، او له تانه مې وپوښتل چې تاسو ته په څه شي امر کوي، نو تا یادونه وکړه چې هغه مونږ ته امر کوي چې د یو الله عبادت وکړئ او له هغه سره څه شی مه شریکوئ، او هغه تاسو د بتانو له عبادت څخه منع کوي، او تاسو ته په لمانځه، ریښتینولۍ او عفت امر کوي، نو که چیرته هغه څه چې ته یې وایې حقیقت وي نو ژر دی چې هغه به زما د دې دوو قدمونو ځای (واک )خپل کړي، او یقینا چې زه پدې پوهیدم چې هغه راښکاره کیدونکی دی خو ما فکر نه کاوه چې هغه به له تاسو څخه وي، او که زه پوهیدم چې به له هغه سره وګورم، نو په ډیره سختۍ به مې ځان د هغه ملاقات تهوررسولی و او که زه ورسره وم، ما به د هغه پښې مینځلې وای، بیا یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه لیک راوغوښت چې دحیة الکلبي د بصرې پادشاه ته لیږلی و، نو هغه یې هرقل ته ورکړ نو هغه ولوست چې پکې لیکلي و: بسم الله الرحمن الرحیم من محمد عبدالله ورسوله إلی هرقل عظیم الروم سلام علی من اتبع الهدی، أما بعد فإني أدعوك بدعایة الإسلام أسلم تسلم یؤتك الله أجرك مرتین، فإن تولیت فإن علیك إثم الیریسین[138]. ویا أهل الکتاب تعالوا إلی کلمة سواء بیننا وبینکم أن لا نعبد إلا الله ولا نشرك به شیئاً ولا یتخذ بعضنا بعضاً أرباباً من دون الله فإن تولوا فقولوا اشهدوا بأنا مسلمون)[139]. د الله په نوم چې ډیر زیات مهربان او نهایت رحم والا دی، د محمد لخوا چې د الله بنده او رسول دی ؛ د رومیانو اعلی حضرت هرقل ته، سلام دې وي پر هغو کسانو چې د لارښوونو پیروي کوي، زه تاسو ته د اسلام بلنه درکوم، اسلام ومنه تر څو په امن کې شې، که داسې دې وکړې نو الله تعالی به دوه اجرونه درکړي، او که چیرته دې انکار وکړ نو د رعیت ګناه به ستا تر غاړې وي، اې اهل کتابو هغه کلمې ته راشئ چې زموږ او ستاسو تر منځ برابره ده، هغه دا چې مونږ او تاسو به له الله پرته د بل هیچا عبادت نه کوو او له هغه سره به شرک نه کوو او دا چې مونږ او تاسو به له الله

---

138 یعني د حدیبیه په صلحې کې چې موده یې لس کاله وه او دا هوکړه د هجرت په شپږم کال رامنځته شوې وه، وګورئ فتح الباري 1 ټوک، 34 مخ.

139 په شام کې یو ښار.

تعالی پرته یو بل سره په خپلو کې په ربوبیت نه نیسو، نو که چیرته هغوی لدې هوکړې سرغړونه وکړه نو ووایئ: تاسو ګواه اوسئ چې مونږ مسلمانان( غاړه ایښودونکي ) یو.[140]

د معاصر انګلیسي مبلغ جان سینټ ګواهي : چې وايي په پرلپسې ډول د اسلام په اړه د تفصیلاتو او اساساتو له مطالعې وروسته چې اسلام د افرادو او ټولنې په خدمت کې تر سره کړې دي او هغه عدالت چې ټولنه یې د برابرۍ او یووالي له بنسټونو سره رامنځته کړې ده، ما په خپل ټول روح او عقل سره اسلام ته بیړه وکړه او له الله سره مې ژمنه وکړه چې له هغې ورځې وروسته به د اسلام لپاره ستر مبلغ جوړېږم او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې به دا ډالۍ خلکو ته رسوم.

نوموړی دې یقین ته د مسیحیت له ژورې مطالعې وروسته ورسید، نو ویې موندل چې مسیحیت ډیری هغو پوښتنو ته ځواب نه وايي چې د خلکو په ژوند کې اوړي را اوړي؛ نو شکونه ورسره پیدا شول، بیا یې کمونیزم او بودیزم مطالعه کړل نو خپله ورکه یې پکې ونه موندله، بیا یې اسلام مطالعه کړ او ژور پکې لاړ، نو ایمان یې پرې راوړ او بلنه یې ورته پیل کړه [١٨٣] .

## د نبوت پای

له وړاندې معلوماتو څخه درته د نبوت حقیقت، نبښې نښانې او زمونږ د پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم د نبوت ثبوتونه څرګند شول، نو مخکې لدې چې د نبوت د ختم (پای) په اړه خبرې وکړو، تاسو باید پدې پوه شئ چې الله تعالی هیڅ رسول نه لیږي مګر د لاندې اسبابو څخه د یو له امله:

١- دا چې د نبي پیغام د یو قوم لپاره ځانګړی وي او دغه پیغمبر ته امر نه وي شوی چې خپل پیغام ګاونډیو ملتونو ته ورسوي، نو الله تعالی بل قوم ته له ځانګړي پیغام سره بل رسول راولیږي.

٢ - دا چې د مخکیني پیغمبر پیغام له منځه تللی وي، نو الله بل نبي راولیږي تر څو یې خلکو ته نوی کړي.

[140] او په صحیح البخاري کې په کتاب الجهاد کې د (أریسیین) لفظ راغلی دی.

۳- دا چې د پخواني پیغمبر شریعت د خپل وخت سره مناسب وي او د راتلونکو وختونو لپاره مناسب نه وي، نو الله جل جلاله یو پیغمبر راولیږي چې شریعت یې د وخت او ځای سره مناسب وي، او د هغه ذات د حکمت غوښتنه وه چې محمد صلی الله علیه وسلم په یو عام رسالت سره د ځمکې ټولو خلکو ته راولیږي، چې شریعت یې د هر وخت او ځای سره مناسب وي او د بدلون له لاسونو څخه یې خوندي وساتي، تر څو یې رسالت ژوندی پاتې شي او خلک ورسره ژوند وکړي، او شریعت یې د هر ډول تحریف او تبدیل څخه پاک او سوچه وي، له همدې امله یې رسالت الله تعالی د رسالتونو پای ګرځولې ده. [۱۸۴] .

او له هغه څه څخه چې الله تعالی پرې محمد - صلی الله علیه وسلم - ځانګړی کړی، دا دی چې هغه د پیغمبرانو وروستی پیغمبر دی، له هغه وروسته بل پیغمبر نه راځي، ځکه چې الله تعالی پرې رسالتونه بشپړ کړل، شریعتونه یې پای ته ورسول، او ودانۍ یې پرې بشپړه کړه او په نبوت سره یې د مسیح علیه السلام زیري تحقق وموند چې فرمایلي یې دي: (آیا په کتابونو کې مو ندي لوستلي: هغه تیږه چې معمارانو یې کارول نه غوښتل د زاویې په سر کې راغله )[141]، قسیس ابراهیم خلیل – چې وروسته یې اسلام قبول کړ – دا متن د هغه څه سره موافق وګڼه چې محمد صلی الله علیه وسلم د خپل ځان په اړه ویلي و: (إن مثلي ومثل الأنبياء من قبلي كمثل رجل بنى بيتاً فأحسنه وأجمله إلا موضع لبنة من زاوية، فجعل الناس يطوفون به، ويعجبون له، ويقولون: هلا وضعت هذه اللبنة، قال: فأنا اللبنة، وأنا خاتم النبيين)[142]. (زما او زما څخه د مخکې پیغمبرانو مثال د هغه سړي په څیر دی چې یو کور جوړ کړي، ښکلی او سينګار یې کړي، پرته له یوې ښختې څخه چې په زاویه کې ځای پر ځای کیږي، نو خلک د هغې شاوخوا ګرځي او ستاینه یې کوي او وایې: دا خښته ولې نده ایښودل شوې، وایې: نو زه همغه ښخته یم، او زه د پیغبرانو وروستی یم [۱۸۶] .

---

[141] د متی انجیل 21:42.

[142] ۱۸۶] وګورئ: محمد صلى الله عليه وسلم في التوراة والإنجيل والقرآن، د المهتدي ابراهيم خليل أحمد لیکنه: ۲ ټوک ۲۵۶،۳۱۲ مخونه. او حدیث بخاري په کتاب المناقب ۱۸ باب کې روایت کړی او لفظ د بخاري دی، او مسلم په کتاب الفضائل کې په ۲۲۸۶ شمېرې سره د ابوهریره له حدیث څخه مرفوع روایت کړی دی، او هغه په المسند کې دی ۲ ټوک، 256،312 مخونه.

له همدې امله الله پاک هغه کتاب چې محمد صلی الله علیه وسلم ورسره راغلی و په نورو مخکینیو کتابونو غالب او هغوی لره نسخ کوونکی وګرځاوه لکه څرنګه یې چې د هغه شریعت نورو وړاندینیو شریعتونو لره نسخ کوونکی وګرځاوه. او الله تعالی یې ساتل تضمین کړل، نو په تواتر سره داسې رانقل شو لکه څرنګه چې قرآن کریم په غږ او رسم سره په تواتر رانقل شوی دی، همدا رنګه یې قولي او فعلي سنت هم په تواتر سره رانقل شوي دي او د دې دین د قوانینو، عباداتو، سنتونو او احکامو عملي تطبیق هم په تواتر سره رانقل شوی دی.

او څوک چې د سیرت او سنتو لوی منابع ولولي نو پوه به شي چې د هغه صحابه کرامو رضوان الله علیهم د هغه د ژوند ټول شرایط، ویناوې او کړنې خلکو ته بیان کړي دي، نو الله جل جلاله لره یې د هغه عبادت، جهاد، ذکر، استغفار، سخاوتمندي، شجاعت او د صحابه کرامو او میلمنو سره یې راشه درشه او د هغه کسانو سره یې تعامل چې ورته راتلل، همدا رنګه یې د هغه خوښۍ او غمونه د هغه سفر او اقامت، د هغه د خوراک او څښاک څرنګوالی، د ویخوالي او خوب حالت ټول بیان کړي دي... نو کله چې پدې پوه شوې ډاډمن به شې چې دا دین د الله له لورې ساتل شوی او هغه مهال به پوه شې چې دی تر ټولو وروستی نبي او د پیغمبرانو د لړۍ پای ته رسوونکی دی. ځکه چې الله تعالی مونږ ته خبر راکړی چې دا رسول د پیغمبرانو وروستی پیغمبر دی، الله پاک فرمایلي:

﴿مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ ٱللَّهِ وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ﴾ ... [الأحزاب: 40]

[143] (محمد (ﷺ) ستاسو په سړیو کې د هیچا پلار نه دی، مګر د الله رسول او د نبیانو (د لړۍ) ختموونکی دی) او رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل ځان په اړه فرمایلي دي:[144] (او زه ټولو مخلوقاتو ته رالیږل شوی یم، او پر ما د پیغمبرانو لړۍ پایته رسیدلې ده).

---

[143] الأحزاب سورت ، 40 آیت.

[144] إمام أحمد په خپل مسند کې روایت کړی دی،2 ټوک ، 411،412 مخونه، او مسلم په کتاب المساجد کې او دا لفظ د هغه دی، 523 شمېره حدیث.

# او دا هغه وخت دی چې اسلام تعریف کړو او د هغه حقیقت، سرچینې، ارکان او رتبې بیان کړو.

## د اسلام د کلمې معنا:

که تاسو د ژبې قاموسونو ته مراجعه وکړئ، پوه به شئ چې د اسلام د کلمې معنا: غاړه ایښودل، عاجزي کول، تابعداري، تسلیمېدل او د آمر امر منل او له منهیاتو یې ځان ژغورل دی پرته لدې چې اعتراض ولري ". او الله تعالی حق دین اسلام بللی، ځکه چې دا د الله تعالی اطاعت او له اعتراض پرته د هغه امر ته تسلیمېدل، هغه ته په عبادت کې اخلاص، د هغه د خبر باورول او ایمان پرې راوړل دي، او اسلام د هغه دین لپاره شعار وګرځیده چې محمد صلی الله علیه وسلم پرې راتګ کړی دی،

## د اسلام پېژندنه [۱۸۹]:

دین ولې په اسلام سره نومول شوی دی؟ د ځمکې پر مخ ټول مختلف دینونه چې په خپلو نومونو سره یاد شوي یا د یو ځانګړي سړي یا یو ځانګړي امت په نوم یادیږي، نصرانیت خپل نوم له "النصاری" څخه اخیستی، او بودیزم د هغه د بنسټ ایښودونکي "بوذا" په نوم نومول شوی، او زردشت په دې نوم مشهور شوی ځکه چې بنسټ ایښودونکی او بیرغ پورته کوونکی یې "زردشت " و، او یهودیت هم د یوې قبیلې په منځ کې راڅرګند شو چې په "یهوذا" سره پېژندل کېده او داسې نور. پرته له اسلام څخه، ځکه چې دا نه کوم ځانګړي سړي ته منسوب دی او نه کوم ځانګړي امت ته، بلکې د دې نوم یو ځانګړی صفت څرګندوي چې د اسلام معنا ورته شاملیږي. له دې نوم څخه معلومیږي چې د دې دین په رامنځته کولو کې له انسانانو څخه کوم ځانګړی شخص، او نه کوم ځانګړی امت پرته له نورو امتونو رول لري، بلکه موخه یې دا ده چې د ځمکې ټول خلک د اسلام په صفت سره یاد شي، نو په هر چا کې چې دا صفت پیدا شو، په اوسنیو او یا مخکینیو خلکو کې نو هغه مسلمان دی او هر هغه چا کې چې په راتلونکي کې پیدا شو هغه به مسلمان وي.

## د اسلام حقیقت:

معلومه خبره ده چې پدې کایناتو کې هر څه د یوې خاصې قاعدې او ثابت سنت تابع دي، لمر، سپوږمۍ، ستوري او ځمکه د یوې ثابتې قاعدې تابع دي، چې له هغې څخه د آخوا دیخوا کیدلو او وتلو حق نه لري که څه هم د یو ویښته په اندازه وي، حتا په خپله انسان؛ که ته چیرته د هغه په چارو کې فکر وکړې نو درته به جوته شي چې هغه په بشپړه توګه د الله تعالی د قوانینو تابع دی؛ ځکه هغه تنفس نه کوي او نه اوبو، خوړو، رڼا او تودوخې ته اړتیا احساسوي، مګر د الهي فرمان له مخې چې د هغه ژوند تنظیموي، او دې تقدیر ته د هغه د بدن ټول اعضاء تابع دي، کومې دندې چې دا غړي تر سره کوي د هغه څه سره سم ترسره کیږي چې الله تعالی یې د دوی لپاره پریکړه کړې ده.

دا هر اړخیز بدلون چې هغه ته تسلیمیږي او د هغه له طاعت څخه هیڅ شی نه جلا کیږي، په اسمان کې له لوی ستوري څخه نیولې تر وړې ذرې پورې چې د ځمکې په شګو کې پرته وي، هغه د جلیل القدر توانا پادشاه له تقدیراتو څخه دي، نو کله چې هر شی په ځمکې او آسمانونو کې او څه یې چې تر منځه دي د دې تقدیر تابع دي، نو ټوله نړۍ هغه مقتدر پادشاه ته تابع ده چې هغه رامنځته کړې ده، او د هغه د امر پیروي کوي، او لدې اړخه معلومیږي چې اسلام د ټولو کائناتو دین دی، ځکه چې د اسلام معنا پیروي او د آمر د امر منل او له نهیې څخه یې ځان ژغورل دي پرته لدې چې کوم اعتراض وي، لکه څرنګه چې وړاندې پوه شوې. نو لمر سپوږمۍ او ځمکه تسلیم دي، هوا، اوبه، رڼا، تیاره او حرارت تسلیم دي، ونه، تیږه او حیوانات تسلیم دي، بلکه هغه انسان چې خپل رب نه پیژني او له شتون څخه یې انکار کوي او آیتونه یې دروغ ګڼي، او یا له هغه پرته د بل چا عبادت کوي، او یا ورسره بل څوک شریکوي، هغه هم د فطرت له اړخه چې پرې پیدا شوی دی ورته تسلیم دی.

کله چې پدې پوه شوې نو راشه چې د انسان په چارو کې غور وکړو، نو ته به ومومې چې انسان سره دوه څیزونه په جګړه کې دي:

لومړی هغه فطرت چې الله تعالی پرې انسان پیدا کړی؛ چې هغه الله ته تسلیمېدل او د محبت له مخې د هغه عبادت کول، هغه ته ځان نږدې کول، د هغه څه خوښول چې هغه یې له حق، خیر او ریښتینولۍ څخه خوښوي، او د هغه څه بد ګڼل چې هغه یې له باطل، شر، تیري او ظلم څخه بد ګڼي، او هغه څه چې د فطرت له مخې د دې پیرو دي لکه: د مال، اهل او اولاد سره مینه، خوراک، څښاک او نکاح ته لیوالتیا او هغه لازمې دندې چې د بدن غړي یې تر سره کولو ته اړتیا لري.

دویم: د انسان اراده او انتخاب: او یقینا چې الله تعالی هغه ته رسولان رالیږلي او د حق او باطل، هدایت او ګمراهۍ، ښه او بد تر منځ د توپیر لپاره یې کتابونه نازل کړي او هغه ته یې عقل او پوهه ورکړې چې د هغه په انتخاب کې بصیرت ولري، نو که وغواړي د نېکۍ لار به ونیسي، نو حق او هدایت ته به یې ورسوي او که وغواړي، د بدۍ لاره ونیسي، نو د شر او بد ناورین لورې ته به یې بوځي.

که انسان ته د لومړۍ موضوع په توګه وګورو، نو تاسو به هغه د نورو مخلوقاتو په څیر تسلیمولو ته پابند ومومئ، چې د فطرت له مخې هغه پابند دی او له هغه پرته بله چاره نه لري، دی هم لکه د نورو مخلوقاتو په څېر دي.

او که په دویم اعتبار سره ورته وګورې نو ته به یې د خوښې خاوند ومومې؛ چې هغه څه ځانته ټاکي چې غواړي یې، نو یا خو به مسلمان وي او یا کافر

﴿... إِمَّا شَاكِرًا وَإِمَّا كَفُورًا۝٣﴾ [الإنسان: 3]

[145] (یا به دی شکر کوونکی وي او یا به ډېر ناشکره وي).

نو تاسو به دوه ډوله خلک ومومئ:

هغه انسان چې خپل خالق پېژني، او په هغه باندې د څښتن، مالک او معبود په توګه باور لري او یوازې د هغه عبادت کوي، او په خپل رضاکارانه ژوند کې د هغه قانون تعقیبوي. لکه څنګه چې هغه په فطرتي توګه خپل رب ته سپارل شوی دی چې له هغه څخه ورته هیڅ انحراف نشته، د هغه د تقدیر تابع دی او همدا هغه بشپړ مسلمان دی چې خپل اسلام یې بشپړ کړی او د هغه پوهه سمه شوې ده. ځکه چې هغه الله؛ خپل خالق، ژوند بخښونکی او له هر ډول عیب څخه خالي ذات پېژندلی دی، هغه ذات چې هغه ته یې پیغمبران رالیږلي، او د علم او زده کړې قوت یې ورکړی، تر دې چې عقل یې پوخ او نظریه یې غښتلې شوه. ځکه چې هغه خپل عقل په کار واچاوه بیا یې پریکړه وکړه چې له الله پرته به د بل چا عبادت نه کوي، هغه ذات چې ده ته یې د عقل او نظر په نعمتونو ورکولو سره درناوی ورکړی. ژبه یې سمه او په حق ګویا شوه ځکه چې اوس هغه یوازې یو رب مني، چې هغه الله تعالی دی. هغه ذات چې ده ته یې د نطق او

---

[145] الإنسان سورت، 3 آیت.

وینا کولو ځواک ورکړی.. نو داسې دی لکه په ژوند کې یې چې نور هیڅ پاتې نه وي پرته لدې چې دا هر څه باور کړي؛ ځکه چې دی د الله د شریعت تابع دی پداسې حال چې دا د خپل اختیار خاوند دی، او د ده او  نورو کائناتو ترمنځ د پېژندنې او خواخوږۍ اړیکې ټینګې شوې دي، ځکه چې هغه یوازې د یو الله عبادت کوي؛ هغه ذات چې د حکمت او پوره پوهې خاوند دی، هغه چې مخلوقات یې عبادت کوي او د هغه امر ته یې غاړه ایښودلې ده ، او ای انسانه دا هر څه ستا لپاره الله تابع ګرځولي دي.

## د کفر حقیقت:

او د دې تر څنګ یو بل انسان دی، چې په تابعدارۍ کې زېږېدلی او ټول عمر یې په تابعدارۍ کې تېر کړی، پرته له دې چې د هغه تابعیت احساس کړي او یا پرې پوه شي، او خپل رب یې ندی پېژندلی، د هغه په شریعت یې ایمان ندی راوړی، د هغه د رسولانو پیروي یې نده کړې. او له هغه څه نه یې ګټه پورته کړه چې الله تعالی ورته له علم او عقل څخه ورکړي و تر څو پوه شي چې چا پیدا کړی؛ او غوږونه او سترګې یې ورته پرانیستي دي. نو د هغه له شتون څخه منکر شو او د هغه له عبادت کولو یې په هغه څه کې لویي وکړه چې د ژوند په چارو کې یې هغه ته د تصرف او اختیار حق ورکړل شوی و او یا یې ورسره شرک وکړ، او د هغه په هغو آیتونو یې له ایمان راوړلو څخه انکار وکړ چې د هغه په یووالي دلالت کوي او همدا کفر دی. دا ځکه چې د کفر معنی پرده، پټول او پوښل دي، ویل کیږي: کفر درعه بثوبه: یعنې خپلې زغري یې په کالیو کې پټې کړي؛ کله یې چې د پاسه پرې واغوندي او ورلاندې یې پټې کړي، نو دا ډول انسان ته  "کافر" ویل کیږي، ځکه چې هغه خپل فطرت په ناپوهۍ او حماقت سره پوښلی دی. او یقینا ته پوهېږې چې هغه ندی زیږیدلی مګر په اسلامي فطرت سره او د بدن غړي یې له اسلامي فطرت پرته کار نه کوي. او د هغه خواوشا ټوله نړۍ نه ګرځي مګر د تابعیت له معیارونو سره سمه، مګر هغه د جهل او حماقت په پرده پوښلی شوی او د هغه له بصیرت څخه د دنیا او د هغه د ځان فطرت پناه شوی، نو ته هغه ګورې چې هغه خپل عقلي او علمي قوتونه نه کاروي مګر په هغه څه کې چې د هغه له فطرت سره په ټکر کې وي، او یوازې هغه څه ګوري چې د هغه سره په تناقض کې وي، او هڅه نه کوي پرته له هغه څه چې هغه یې باطلوي.

او اوس تاسو پخپله اټکل وکړئ چې کافر په کومه لرې ګمراهۍ او ښکاره سرکشۍ کې لویدلی دی[146].

او دا اسلام چې له تاسو څخه د هغې د عملي کولو غوښتنه کوي او دا کومه سخته خبره نده، بلکې د هغه چا لپاره اسانه ده چې الله ورته اسانه کړې وي، ځکه اسلام هغه څه دي چې دا ټول کائنات پرې روان دي:

﴿... وَلَهُۥٓ أَسۡلَمَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ طَوۡعٗا وَكَرۡهٗا ...﴾ [آل عمران: 83]

[147] حال دا چې خاص هغه (الله) (ته غاړه ایښې ده، هر هغه څه چې په اسمانونو او ځمکه کې دي، په خوښه، یا په ناخوښه، او خاص هغه ته به دوی ورګرځولی شي)، او هغه د الله دین دی لکه څرنګه چې الله تعالی فرمایلي:

﴿إِنَّ ٱلدِّينَ عِندَ ٱللَّهِ ٱلۡإِسۡلَٰمُۗ و...﴾ [آل عمران: 19]

[148] (بېشکه (معتبر) دین د الله په نیز اسلام دی)، او هغه الله تعالی ته د خپل مخ تسلیمول دي لکه څرنګه چې هغه فرمایلي:

﴿فَإِنۡ حَآجُّوكَ فَقُلۡ أَسۡلَمۡتُ وَجۡهِيَ لِلَّهِ وَمَنِ ٱتَّبَعَنِۗ ...﴾ [آل عمران: 20]

[149] (بیا که چېرې دوی له تاسره جګړه کوي، نو ته ووایه: ما خپل مخ خاص الله ته تابع کړی دی او هغه چا هم (تابع کړی دی) چې زما پیروي کوي)، او پیغمبر صلی الله علیه وسلم د اسلام معنا بیان کړې ده؛ فرمایلي یې دي:[150] (چې خپل زړه دې الله ته وسپارې، او

---

[146] مبادئ الإسلام 3،4 مخونه.

[147] آل عمران سورت، الآية 83.

[148] آل عمران سورت 19 آیت.

[149] آل عمران سورت 20 آیت.

[150] إمام أحمد روایت کړی 5 ټوک، 3 مخ، او ابن حبان،1 ټوک، 377 مخ.

خپل مخ دې الله ته واړوې، او فرض کړی شوی زکات ورکړې)،151 (او يو سړي له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې: اسلام څه دی؟ هغه وفرمايل: چې زړه دې الله ته وسپارې، او مسلمانان دې د ژبې او لاس څخه خوندي وي. هغه وويل: کوم اسلام غوره دی؟ هغه وفرمايل: ايمان. وې ويل: او ايمان څه دی؟ هغه وفرمايل: چې په الله تعالى د هغه په ملايکو، د هغه په کتابونو، د هغه په رسولانو او له مرګ نه وروسته په بيا ژوندي کيدو باور ولرې )[152].

او لکه څرنګه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:[153] (اسلام هغه دی چې ګواهي ورکړې پدې چې په حقه د عبادت وړ نشته مګر يوازې الله دی او دا چې محمد د الله رسول دی، لمونځ قائم کړې او زکات ورکړې، د رمضان روژه ونيسې، او د بيت الله حج وکړې که له وسې دې پوره وه)، او د هغه دا وينا: (مسلمان هغه څوک دی چې نور مسلمانان يې له ژبې او لاس څخه خوندي وي).

او دا دين هغه دين دی چې الله تعالى لده پرته بل دين نه قبلوي، نه له مخکنيو خلکو او نه له وروستنيو څخه، ځکه يقينا د ټولو پيغمبرانو دين اسلام دی، الله تعالى د نوح عليه السلام په اړه فرمايلي:

---

[151] امام احمد په خپل مسند کې روايت کړی؛ ۴ ټوک، ۱۱۴ مخ، او الهيثمي په المجمع کې ويلي: ۱ ټوک. ۵۹ مخ چې احمد او الطبراني په الکبير کې همدا ډول روايت کړی دی، او رجال يې ثقات دي. وګورئ: فضل الاسلام د امام محمد بن عبد الوهاب رحمه الله ۸ مخ.

[152] مسلم په کتاب الإيمان کې روايت کړی؛ 8 حديث.

[153] بخاري په کتاب الايمان کې روايت کړی، باب المسلم من سلم المسلمون من لسان ويده ، او لفظ د همده دی، او مسلم په خپل صحيح کې په کتاب الايمان کې روايت کړي ۳۹ حديث.

﴿۞ وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ نُوحٍ إِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهِۦ يَٰقَوۡمِ إِن كَانَ كَبُرَ عَلَيۡكُم مَّقَامِي وَتَذۡكِيرِي بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَعَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلۡتُ فَأَجۡمِعُوٓاْ أَمۡرَكُمۡ وَشُرَكَآءَكُمۡ ثُمَّ لَا يَكُنۡ أَمۡرُكُمۡ عَلَيۡكُمۡ غُمَّةٗ ثُمَّ ٱقۡضُوٓاْ إِلَيَّ وَلَا تُنظِرُونِ ٧١ فَإِن تَوَلَّيۡتُمۡ فَمَا سَأَلۡتُكُم مِّنۡ أَجۡرٍۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِۖ وَأُمِرۡتُ أَنۡ أَكُونَ مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ٧٢﴾ [يونس: 71-72]

(او ته دوی ته د نوح خبر ولوله، کله چې هغه خپل قوم ته وویل: ای زما قومه! که چېرې پر تاسو باندې زما اوسېدل او د الله په ایتونو سره (تاسو ته) زما نصیحت کول سخت (او ګران) وي، نو ما خاص په الله باندې توکل کړی دی. د الله تعالی د دې وینا پورې: او ما ته حکم شوی دی چې زه شم له مسلمانانو څخه)[154] و الله تعالی د ابراهیم علیه السلام په اړه فرمایلي:

﴿إِذۡ قَالَ لَهُۥ رَبُّهُۥٓ أَسۡلِمۡۖ قَالَ أَسۡلَمۡتُ لِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٣١﴾ [البقرة: 131]

(کله چې هغه ته خپل رب وویل: حکم منونکی شه، هغه وویل: زه د رب العالمین حکم منونکی شوم). او الله تعالی د موسی علیه السلام په اړه فرمایلي:

﴿وَقَالَ مُوسَىٰ يَٰقَوۡمِ إِن كُنتُمۡ ءَامَنتُم بِٱللَّهِ فَعَلَيۡهِ تَوَكَّلُوٓاْ إِن كُنتُم مُّسۡلِمِينَ ٨٤﴾ [يونس: 84]

[155] (او موسی وویل: اې زما قومه! که چېرې تاسو (داسې) یئ چې پر الله مو ایمان راوړی دی، نو خاص په هغه باندې توکل وکړئ که چېرې تاسو مسلمانان یئ). او د مسیح په اړه یې فرمایلي:

﴿وَإِذۡ أَوۡحَيۡتُ إِلَى ٱلۡحَوَارِيِّـۧنَ أَنۡ ءَامِنُواْ بِي وَبِرَسُولِي قَالُوٓاْ ءَامَنَّا وَٱشۡهَدۡ بِأَنَّنَا مُسۡلِمُونَ ١١١﴾ [المائدة: 111]

---

[154] یونس سورت 71،72 دوه آیتونه.

[155] البقرة سورت 131 آیت.

[156] (او کله چې مونږه حواریانو ته الهام وکړ چې پر ما او زما پر رسول ایمان راوړئ، هغوی وویل: مونږ ایمان راوړی دی او ته پر دې ګواه شه چې یقینًا مونږ مسلمانان یو).

او دا دین – اسلام – خپل قوانین، عقیدې او احکام له الهي وحي – قرآن او سنتو څخه اخلي – او زه به درته د دواړو په اړه یو لنډيز وړاندې کړم[157]

## د اسلام اصول او مصادر( منابع)

د باطله ادیانو او ملتونو پیروان عادت شوي دي چې د میراثي کتابونو تقدس وکړي؛ هغه چې په لرغونو زمانو کې لیکل شوي دي، او کله خو يې نه لیکوال معلوم وي او نه ژباړونکی او نه دا چې په کومو وختونو کې لیکل شوي دي، بلکه داسې خلکو لیکلي دي چې هغه څه ورته ورپیښېدای شي چې نورو انسانانو ته له کمزوریو، نیمګړتیاوو ، خواهشاتو، هوس او هیریدلو څخه پیښیږي.

خو اسلام د نورو سره توپیر لري، ځکه چې په ریښتيني سرچينه (الهي وحی) قرآن او سنت ولاړ دی، او په لاندې ډول يې لنډ تعریف دی:

### الف - قران عظیم الشان:

وړاندې پوه شوې چې اسلام د الله دین دی او له همدې امله الله تعالی پر خپل پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم قرآن نازل کړی دی چې د پرهیزګارانو لپاره لارښود او د مسلمانانو لپاره اساسي قانون دی. او د هغو کسانو د زړونو لپاره شفا ده چې الله تعالی ورته شفا غواړي، او د هغو کسانو لپاره رڼا ده چې الله ورته د بریا او روښنايۍ اراده کړې وي. او دا - قرآن - هغه اصولو ته شامل دی چې له امله يې الله تعالی پیغمبران رالیږلي[158]، او قرآن د کتابونو په لړ کې لومړی کتاب ندی، لکه څنګه چې محمد صلی الله علیه وسلم د رسولانو په منځ کې کوم نوی رسول ندی (بلکه لدې وړاندې کتابونه او له رسول وړاندې رسولان تیر شوي دي) الله تعالی په ابراهیم

---

[156] یونس سورت، 84 دوه آیتونه.

[157] التدمرية، 109-110 مخونه، او 111 آیت له المائدة سورت څخه.

[158] السنة ومكانتها في التشريع الإسلامي، د مصطفى السباعي لیکنه، 376 مخ.

عليه السلام صحيفې نازل کړي او موسى عليه السلام ته يې په تورات سره درناوی ورکړي او داود ته يې په زبور سره، او مسيح په انجيل سره راغلی او دا کتابونه د الله تعالی له لوري وحي دي چې خپلو انبياوو او رسولانو ته يې وحې کړي دي، خو ډيری پخواني کتابونه ورک شوي دي، او ډيری يې له منځه تللي دي، او تحريف او بدلون پکې رامنځته شوی دی.

خو د قرآن عظيم الشان د ساتنې تضمين الله تعالی کړی او هغه يې غالب او د نورو کتابونو منسوخوونکی ګرځولی دی، الله تعالی فرمايلي:

﴿وَأَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَـٰبَ بِٱلْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ ٱلْكِتَـٰبِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ ...﴾ [المائدة: 48]

[159] (او (اې نبي!) مونږ تا ته کتاب په حقه سره نازل کړی دی، چې د هغو کتابونو تصديق کوونکی دی چې له ده نه مخکې دي او د هغوی محافظ دی)، او هغه ذات چې دا يې نازل کړی، هر شي لره وضاحت کوونکی ياد کړی دی، الله تعالی فرمايلي:

﴿... وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَـٰبَ تِبْيَـٰنًا لِّكُلِّ شَىْءٍ ...﴾ [النحل: 89]

[160] (او مونږ په تا باندې کتاب نازل کړی دی، په داسې حال کې چې (د دين) د هر شي لپاره (په کې) واضحه بيان دی). او دا چې هغه هدايت او رحمت دی، الله تعالی فرمايلي:

﴿...فَقَدْ جَآءَكُم بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ ... ﴾ [الأنعام: 157]

[161] (نو يقينًا تاسو ته د خپل رب له جانبه ښکاره دليل راغلی دی او هدايت او رحمت)، او دا چې هغه هدايت کوي هغه څه ته چې تر ټولو ډېر غښتلی وي:

---

[159] المائدة سورت 48 آيت.

[160] النحل سورت89 آيت.

[161] الأنعام سورت 157 آيت.

﴿إِنَّ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانَ يَهۡدِي لِلَّتِي هِيَ أَقۡوَمُ ... ﴾ [الإسراء: 9]

[162] (بېشکه دا قرآن هغې (لارې) ته ښودنه کوي چې تر ټولو برابره نېغه ده)، هغه انسانيت د ژوند په ټولو اړخونو کې غښتلې لارې ته لارښوونه کوي.

او دا قرآن د محمد صلى الله عليه وسلم تلپاتې معجزه ده - چې تر قيامته پورې تلپاتې نښانو ته شامله ده - پداسې حال کې چې د پخوانيو پيغمبرانو ثبوتونه او معجزې به د هغوی د ژوند په پای ته رسيدو سره پای ته رسيدلې، خو دا قرآن؛ الله تعالی تلپاتې ثبوت معجزه ګرځولې ده.

دا يو غښتلی ثبوت او حيرانوونکې معجزه ده چې الله جل جلاله پرې انسانان ننګولي تر څو يې په څېر يو بل کتاب راوړي، يا يې د لسو سورتونو په څېر لس سورتونه راوړي او يا د يو سورت په څېر يو سورت خو يې وسې شول، سره له دې چې دغه قرآن له حروفو او کلماتو څخه جوړ دی. او کوم امت ته چې نازل شوی دی د فصاحت او بلاغت امت دی، الله تعالی فرمايلي:

﴿أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰهُۖ قُلۡ فَأۡتُواْ بِسُورَةٖ مِّثۡلِهِۦ وَٱدۡعُواْ مَنِ ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٣٨﴾ [يونس: 38]

[163] (آيا دوی وايي چې ده دا له ځانه جوړ کړی دی، ته (دوی ته) ووايه: نو تاسو يو وړوکی سورت د ده په مثل راوړئ او له الله نه پرته چې څوک کولی شئ راوبلئ، که چېرې تاسو رښتيني يئ).

له هغو دلايلو څخه چې ګواهي ورکوي دا قرآن د الله د لورې وحې ده دا دی چې: د پخوانيو امتونو په اړه يې ډېری خبرونه راغلي دي، او د راتلونکو پېښو په اړه يې چې کومې وړاندوينې کړې دي نو داسې پېښ شوي لکه څرنګه يې چې ترې خبر ورکړی و، او له علمي ثبوتونو څخه يې ډېر داسې ذکر کړي دي چې پوهان يې لا ځينو ته تر دې دمه ندي رسيدلي. او له هغه ثبوتونو څخه چې دلالت کوي دا قرآن د الله وحې ده، دا هم دی چې کوم پيغمبر باندې چې دا کتاب نازل شوی

---

[162] الإسراء سورت 9آيت.

[163] يونس سورت 38 آيت.

دی داسې بل څه ترې ندي راپاتې شوي او نه ترې بل داسې څه نقل شوي چې دې قرآن ته ورته والی ولري وړاندې له دې چې دا قرآن پرې نازل شي، الله تعالی فرمايلي:

﴿قُل لَّوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَا تَلَوۡتُهُۥ عَلَيۡكُمۡ وَلَآ أَدۡرَىٰكُم بِهِۦۖ فَقَدۡ لَبِثۡتُ فِيكُمۡ عُمُرٗا مِّن قَبۡلِهِۦٓۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ١٦﴾ [يونس: 16]

[164] (ته وواېه: كه چېرې الله غوښتلی (،نو) ما به دا (قرآن) پر تاسو باندې نه و لوستی او نه به هغهٔ، تاسو پر ده عالمان كړي وئ، پس يقينًا ما له ده نه مخكې په تاسو كې ډېر عمر تېر كړی دی، ايا نو تاسو له عقل نه كار نه اخلئ!). بلكې هغه نالوستی و، نه يې څه لوستل او نه يې ليكل او نه كوم شيخ ته ورته او نه كوم ښوونكي ته كېناسته، لدې سره سره يې د فصاحت او بلاغت خاوندان ننګول تر څو د دې قرآن په څېر - كتاب - راوړي :

﴿وَمَا كُنتَ تَتۡلُواْ مِن قَبۡلِهِۦ مِن كِتَٰبٖ وَلَا تَخُطُّهُۥ بِيَمِينِكَۖ إِذٗا لَّٱرۡتَابَ ٱلۡمُبۡطِلُونَ ٤٨﴾ [العنكبوت: 48]

[165] (او له دې (قرآن) نه مخكې نه تا كوم كتاب لوسته او نه تا دغه په خپل ښي لاس سره ليكه، (كه ته داسې وی نو) په دغه وخت كې به باطل پرستو شک كاوه). او دا نالوستی انسان چې په تورات او انجيل كې په بې سواد سره ياد شوی، هغه څوک چې لوستل او ليكل نه كوي او د يهودو او نصاراو روحانيين ورته راځي، د هغه څه په اړه ترې پوښتنې كوي چې دوی يې په اړه اختلاف لري، او د هغه څه په اړه د قضاوت لپاره ورځي چې دوی يې په اړه خپلو كې سره شخړه كوي.

---

[164] يونس سورت16 آيت.

[165] العنكبوت سورت 48 آيت.

﴿ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ ٱلرَّسُولَ ٱلنَّبِيَّ ٱلۡأُمِّيَّ ٱلَّذِي يَجِدُونَهُۥ مَكۡتُوبًا عِندَهُمۡ فِي ٱلتَّوۡرَىٰةِ وَٱلۡإِنجِيلِ يَأۡمُرُهُم بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَىٰهُمۡ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡخَبَٰٓئِثَ ... ١٥٧﴾ [الأعراف: 157]

[166] (هغه کسان چې د اُمي (نالوست) رسول (او) نبي پیروي کوي هغه چې دوی يې له خپل ځان سره په تورات او انجيل کې ليکلی مومي، دوی ته د نېکۍ حکم کوي او دوی له بدۍ نه منع کوي او دوی ته پاکيزه څيزونه حلالوي او په دوی باندې خبيث څيزونه حراموي). او الله جل جلاله د يهودو او عيسويانو د پوښتنې په روښانه کولو سره محمد صلى الله عليه وسلم ته وويل:

﴿يَسۡـَٔلُكَ أَهۡلُ ٱلۡكِتَٰبِ أَن تُنَزِّلَ عَلَيۡهِمۡ كِتَٰبًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِۚ ...﴾ [النساء: 153]

[167] (اهلِ کتاب له تا نه د دې مطالبه کوي چې ته پر دوی باندې له اسمانه يو کتاب نازل کړې)، او الله تعالی فرمايلي:

﴿وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلرُّوحِۖ ...﴾ [الإسراء: 85]

[168] (او دوی له تا نه د روح په باره کې پوښتنه کوي) او الله پاک فرمايلي دي:

﴿وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَن ذِي ٱلۡقَرۡنَيۡنِۖ ...﴾ [الكهف: 83]

[169] (او دوی له تا نه د ذوالقرنين باره کې پوښتنه کوي)، او الله پاک فرمايي:

---

[166] الأعراف سورت 157 آيت.

[167] النساء سورت 153 آيت.

[168] الإسراء سورت 85 آيت.

[169] الكهف سورت 83 آيت.

﴿إِنَّ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانَ يَقُصُّ عَلَىٰ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ أَكۡثَرَ ٱلَّذِي هُمۡ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ٧٦﴾ [النمل: 76]

[170] (بېشکه دا قرآن بني اسرائيلو ته د هغو خبرو زياتره حصه بيانوي چې دوی په هغو کې اختلاف کوي).

پادري ابراهيم فيليپس په خپله دکتورا مقاله کې هڅه کړې تر څو قرآن پسې خبرې وکړي، خو پدې کار کې پاتې راغی، او قرآن پرې په خپلو دلايلو او ثبوتونو سره غالب شو، نو همغه و چې د خپلې عاجزۍ اعلان يې وکړ او خپل خالق ته تسليم شو او خپل اسلام يې اعلان کړ.[٢١٦].

او کله چې يو مسلمان امريکايي ډاکټر جيفري لينګ ته د قرآن کريم د ژباړې يوه کاپي ورکړه، نو هغه ومونده چې دا قرآن خپل ځان ته خطاب کوي، خپلو پوښتنو ته خپله ځوابونه وايي او هغه خنډونه او موانع چې د هغه او د هغه د نفس تر منځه دي لرې کوي. بلکې ويلي يې دي: (په حقيقت کې هغه ذات چې قرآن يې نازل کړی، داسې ده لکه هغه چې ما له خپل ځان څخه زيات پېژني) [٢١٧]؟ ولې نه ؟ هغه چا چې قرآن نازل کړی همغه ذات دی چې انسان يې پيدا کړی، او هغه الله پاک دی،

﴿أَلَا يَعۡلَمُ مَنۡ خَلَقَ وَهُوَ ٱللَّطِيفُ ٱلۡخَبِيرُ ١٤﴾ [الملك: 14]

[171] (آيا هغه ذات به نه پوهېږي چې يې (هر څه) پيدا کړي دي (ولې نه!) او هم دی ډېر باريک بين، ښه خبردار دی). بيا د هغه لخوا د قرآن کريم د معناګانو د ژباړې لوستل د هغه د اسلام قبلولو او د دې کتاب د ليکلو سبب شول چې تاته ترې نقل کوم.[172]

او قرآن کريم ټولو هغو مطالبو ته شامل دی چې بشر ورته اړتيا لري، هغه د ايمان، عقيدې، احکامو، معاملاتو او آدابو بنسټونو ته شامل دی، الله تعالی فرمايلي:

---

[170] النمل سورت 76 آيت.

[171] الصراع من أجل الإيمان، ليکنه: د. جيفري لانګ، ژباړه: د. منذر العبسي، دار الفکر خپرندويه ټولنه، 34 مخ.

[172] تبارک سورت 14 آيت.

﴿... مَّا فَرَّطۡنَا فِي ٱلۡكِتَٰبِ مِن شَيۡءٖۚ ...﴾ [الأنعام: 38]

[173] (مونږ په کتاب (لوحِ محفوظ) کې هېڅ شی (بې ليکلو) نه دی پرېښی). پدې کې د الله يووالي ته بلنه، د هغه د نومونو، صفتونو او فعلونو يادونه ده، او د هغه څه صحيح ګڼلو ته بلنه ورکوي چې انبياوو او رسولانو پرې راتګ کړی دی، او له مرګ نه وروسته بيا ژوندون، جزاء او حساب تائيدوي او د دې لپاره دلايل او ثبوتونه وړاندې کوي، او د پخوانيو امتونو حالات او هغه څه چې پرې په دنيا کې تير شوي دي بيانوي، همدا رنګه هغه عذابونه او ربړونې چې په اخرت کې د دوی انتظار باسي.

او پدې کې ډېر داسې آيتونه، حديثونه او دليلونه شته چې علما حيرانوي او د هر عمر لپاره مناسب دي او پدې کې علماء او محققان خپله ورکه لټوي، زه به تاسو ته يوازې درې مثالونه وړاندې کړم چې تاسو ته د دې څخه يو څه روښانه کوي، دا مثالونه په لاندې ډول دي:

1 - او د الله تعالی دا وينا:

﴿۞ وَهُوَ ٱلَّذِي مَرَجَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ هَٰذَا عَذۡبٞ فُرَاتٞ وَهَٰذَا مِلۡحٌ أُجَاجٞ وَجَعَلَ بَيۡنَهُمَا بَرۡزَخٗا وَحِجۡرٗا مَّحۡجُورٗا ٥٣﴾ [الفرقان: 53]

[174] (او دی هماغه ذات دی چې دوه دريابونه يې خوشې کړې دي (له يو بل سره جوخت) دا خوږ دی، ډېر خوږ (تنده ماتوونکی) او د ا (بل) تريو دی، ښه تريو او د دواړو په منځ کې يې يوه پرده او بند پيدا کړی دی چې منع کړی شوی دی). او د لوی شان او شوکت خاوند ذات فرمايلي دي:

---

[173] الأنعام سورت 38 آيت.

[174] الفرقان سورت 53 آيت.

﴿أَوۡ كَظُلُمَٰتٖ فِي بَحۡرٖ لُّجِّيّٖ يَغۡشَىٰهُ مَوۡجٞ مِّن فَوۡقِهِۦ مَوۡجٞ مِّن فَوۡقِهِۦ سَحَابٞۚ ظُلُمَٰتُۢ بَعۡضُهَا فَوۡقَ بَعۡضٍ إِذَآ أَخۡرَجَ يَدَهُۥ لَمۡ يَكَدۡ يَرَىٰهَاۗ وَمَن لَّمۡ يَجۡعَلِ ٱللَّهُ لَهُۥ نُورٗا فَمَا لَهُۥ مِن نُّورٍ ٤٠﴾ [النور: 40]

[175] (يا (د دوی عملونه) د هغو تيارو په شان دي چې په ژور سمندر کې دي، چې دغه (سمندر) يو موج (ځپې) پټ کړی وي، د هغه له پاسه بل موج (ځپه) وي (بيا) د هغه له پاسه وربځ وي، تياري دي چې د دوی ځينې د ځينو نورو له پاسه دي، کله چې دی خپل لاس راوباسي (، نو) نژدې نه دی چې دغه ووينې او هر هغه څوک چې الله ده ته رڼا ورنه کړي، نو د هغه لپاره هېڅ رڼا نشته).

او ښکاره ده چې محمد صلی الله علیه وسلم د بحر سفر نه و کړی، او د هغه په وخت کې هيڅ داسې مادي وسيله نه وه چې د بحر د ژورو په موندلو کې مرسته وکړي. نو دا معلومات به محمد صلی الله علیه وسلم ته له الله تعالی پرته چا ورکړي وي.

٢- د الله تعالی وينا:

﴿وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن سُلَٰلَةٖ مِّن طِينٖ ١٢ ثُمَّ جَعَلۡنَٰهُ نُطۡفَةٗ فِي قَرَارٖ مَّكِينٖ ١٣ ثُمَّ خَلَقۡنَا ٱلنُّطۡفَةَ عَلَقَةٗ فَخَلَقۡنَا ٱلۡعَلَقَةَ مُضۡغَةٗ فَخَلَقۡنَا ٱلۡمُضۡغَةَ عِظَٰمٗا فَكَسَوۡنَا ٱلۡعِظَٰمَ لَحۡمٗا ثُمَّ أَنشَأۡنَٰهُ خَلۡقًا ءَاخَرَۚ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ أَحۡسَنُ ٱلۡخَٰلِقِينَ ١٤﴾ [المؤمنون: 12-14]

(او يقيناً يقينًا موږ انسان د خټې له خُلاصې نه پيدا کړی دی (12) بيا موږ هغه، نطفه (د منې يو څاڅکی) وګرځوله په مضبوط قرار ځای کې (13) بيا موږ دغه نطفه د وينې ټوټه وګرځوله، وروسته موږ دغه د وينې ټوټه د غوښې وره بوټۍ وګرځوله، وروسته موږ دغه بوټۍ هډوکې وګرځوله، بيا مو هډوکو ته غوښه واغوستله، بيا موږ هغه په بل تخليق کې پيدا کړ، نو الله ډېر برکت والا دی چې تر ټولو ښه پيدا کوونکی دی)[176]، او

---

[175] النور سورت 40 آيت.

[176] المؤمنون سورت 12-14 آيت.

ساينس پوهانو د جنين د پرمختګ د پړاوونو په اړه دا کره معلومات نه و موندلي مګر په اوسني عصر کې.

3 - الله تعالی فرمايلي:

﴿۞ وَعِندَهُۥ مَفَاتِحُ ٱلْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَآ إِلَّا هُوَ ۚ وَيَعْلَمُ مَا فِى ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ ۚ وَمَا تَسْقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِى ظُلُمَٰتِ ٱلْأَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ مُّبِينٍ ﴿٥٩﴾﴾ [الأنعام: 59]

[177] (او خاص د الله تعالی سره د غيب ( پټو څيزونو او احوالو) کنجياني دي، چې د هغه څخه پرته هېڅوک يې نه پيژني، او الله پوهه دی په هغه څه چې په وچه ځمکه کې دي او درياب کې، او نه را غورزيږي کومه پاڼه (د ونې) مګر هغه پرې پوه دی، او نشته کومه دانه (تخم) په تيارو د ځمکه کې او نه کوم لوند او نه وچ څيز مګر (دا ټول) په کتاب ښکاره ( لوح محفوظ) کې دي)، بشريت لدې هر اړخيز فکر سره عادت نه و او نه يې پدې اړه فکر کړی و ، دا خو لا پريږده چې دا هر څه تر سره کړای شي، بلکه کله به چې ساينس پوهانو د نباتاتو نمونې يا حشرې باندې څېړنې تر سره کړې او په اړه به يې خپلې موندنې ثبت کړې نو مونږ به يې ستاينه وکړه پداسې حال کې چې مونږ پوهېدو چې د موندلو په نسبت د هغه څه فيصدي زياته ده چې دوی لا تر اوسه ندي موندلي.

فرانسوي عالم موريس بوکای د تورات، انجيل، قرآن او د هغه څه تر منځه چې اوسنۍ موندنې ورته د آسمانونو، ځمکې او انسان د پېدايښت په اړه رسيدلي دي مقارنه کړې ده، نو وېې موندله چې معاصرې موندنې د هغه څه سره موافقت لري چې په قرآن کريم کې راغلي دي، پداسې حال کې چې معاصر تورات او انجيل د آسمانونو، ځمکې، انسان او حيوان د پيدايښت په اړه غلط معلومات لري[178].

## ب :نبوي سنت

---

[177] الأنعام، 59 آيت.

[178] ۲۲۴] وګورئ: التوراة والإنجيل والقرآن في ضوء المعارف الحديثة. 133-283 مخونه، د موريس بوکی تاليف چې هغه يو فرانسوی عيسوی ډاکټر و چې وروسته يې اسلام قبول کړ.

الله پاک په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې قرآن کریم نازل کړی او د هغه په څېر يې سنت هم وحی کړې دي چې د قرآن کریم تشريح کوونکې دي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي:

[179] (بېشکه ماته قرآن او د هغه په شان نور څه راکړل شوي دي) [۲۲۵] هغه ته يې اجازه ورکړه تر څو هغه څه چې په قرآن کریم کې له عام، خاص، او مجمل څخه دي بيان کړي، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿... وَأَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٤٤﴾﴾ [النحل: 44]

[180] (او مونږ تا ته ذکر (وحي) نازل کړی دی، د دې لپاره چې ته خلکو ته هغه څه ښه واضحه کړې چې دوی ته نازل کړی شوي دي او د دې لپاره چې دوی ښه فکر وکړي)

او سنت د اسلام له مصادرو څخه دويم مصدر دی، او هغه له هر هغه څه نه عبارت دی چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په صحيح متصل سند سره له : وينا، عمل، تقرير او يا صفت څخه روايت شوی وي.

او هغه د الله تعالی لخوا خپل رسول محمد - صلی الله علیه وسلم - ته وحي ده؛ ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپل ځان څخه خبرې نه کوي، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْىٌ يُوحَىٰ ﴿٤﴾ عَلَّمَهُۥ شَدِيدُ ٱلْقُوَىٰ ﴿٥﴾﴾ [النجم: 4-5]

(ندی دا (قرآن) مګر وحې چې (ده ته) وحې کېږي. ده ته (دا) د ډېرو سختو قوتونو والا (جبريل) ښودلی دی) [181]، يقينا هغه څه خلکو ته بيانوي چې الله تعالی ورته پرې امر کړی دی، الله تعالی فرمايلي دي:

---

[179] ۲۲۵] امام احمد په خپل مسند، ۴ ټوک، ۱۳۱ مخ او ابوداود په خپل سنن کې روايت کړی، باب لزوم السنة، حديث ۴۶۰۴ ټوک، ۴ ټوک، ۲۰۰ مخ.

[180] النحل سورت، 44 آيت.

[181] النجم سورت 4،5 آيتونه.

﴿...إِنۡ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّ وَمَآ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٞ مُّبِينٞ ٩﴾ [الأحقاف: 9]

[182] (زه خو يوازې د هغه څه پيروي کوم چې ما ته وحي کولی شي او زه خو يوازې ښکاره وېرووونکی يم).

پاک سنت د احکامو، عقايدو، عباداتو، معاملاتو او آدابو په برخه کې د اسلام اصل تطبيق دی، ځکه رسول الله صلى الله عليه وسلم به په هغه څه باندې عمل کاوه چې امر به يې ورته کېده او خلکو ته به يې بيانول، او هغوی ته به يې امر کاوه چې د هغه په څېر عمل وکړي لکه د هغه صلى الله عليه وسلم دا وينا:[183] ( داسې لمونځ وکړئ لکه څرنګه چې ما ګورئ لمونځ کوم ) ، او الله تعالی مؤمنانو ته امر کړی دی چې په خپلو افعالو او اقوالو کې د هغه پسې اقتدا وکړي، تر څو يې ايمان بشپړ شي، الله تعالی فرمايلي :

﴿لَّقَدۡ كَانَ لَكُمۡ فِي رَسُولِ ٱللَّهِ أُسۡوَةٌ حَسَنَةٞ لِّمَن كَانَ يَرۡجُواْ ٱللَّهَ وَٱلۡيَوۡمَ ٱلۡأٓخِرَ وَذَكَرَ ٱللَّهَ كَثِيرٗا ٢١﴾ [الأحزاب: 21]

[184] (يقينًا ستاسو لپاره په رسول الله کې ډېره ښه اقتدا ده، د هغه چا لپاره چې د الله او د وروستنۍ ورځې اميد لري او الله ډېر زيات يادوي). او صحابه کرامو - رضوان الله عليهم - له رسول الله - صلى الله عليه وسلم - څخه وروسته د هغه ويناوې او افعال له خپلو ځانونو نه وروسته خلکو ته انتقال کړي دي او هغوی د ځان پسې نورو خلکو ته، بيا د سنتو په کتابونو کې وليکل شول، او د سنت نقلوونکو به يې د هغه چا په اړه سختي کوله چې سنت يې ورڅخه روايتول، او شرط به يې دا و چې راوي بايد له چا څخه نقل وکړي چې په يوه پيړۍ کې ورسره پاتې

---

[182] الأحقاف سورت 9 آيت.

[183] بخاري په کتاب الأذان 18باب ، 1 ټوک 155 مخ کې روايت کړی دی .

[184] ٢٣١] د همدې پې ساري علمي منهج او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د سنتو په لېږد کې د همدې دقت په پايله کې د (الجرح و التعديل) او (مصطلح الحديث) علوم په مسلمانانو کې راڅرګند شول او دا دواړه علمونه د اسلامي امت له ځانګړتياوو څخه دي چې له دوی وړاندې ورته بل څوک ندي مخکې شوي.

شوی وي، تر څو سند له راوي څخه تر رسول الله صلی الله علیه وسلم پورې ورسیږي‌او دا چې د سند ټول رجال ثقه، عادل، ریښتیني او امین شخصیتونه وي.

او سنت؛ لکه څرنګه چې د اسلام عملي تطبیق دی، همدا رنګه د قرآن کریم په اړه وضاحت ورکوي؛ آیتونه يې تشریح کوي، مجمل يې بیانوي، لکه څنګه به چې رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه څه تشریح کول چې پرې به نازلیدل؛ کله په قول، کله په فعل او کله هم په دواړو سره. او کله هم سنت ځیني حکمونه او قوانین له قرآن کریم څخه جلا په مستقله توګه بیانوي. په قرآن او سنت باندې ایمان راوړل د اسلام په دین کې د دوو بنسټیزو سرچینو په توګه فرض دي چې باید عمل پرې وشي او پر اساس يې پریکړې وشي، له حکمونو يې پیروي وشي، له نواهیو څخه يې ډډه وشي، خبرونه يې ریښتیا وګڼل شي، د الله تعالی په هغه نومونو، صفتونو او افعالو ایمان راوړل شي چې پکې ذکر شوي دي، او هغه څه چې الله تعالی خپلو اولیاوو ته چمتو کړي دي، او هغه ګواښونه چې کافرانو ته يې کړي دي، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيۡنَهُمۡ ثُمَّ لَا يَجِدُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَرَجٗا مِّمَّا قَضَيۡتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسۡلِيمٗا ٦٥﴾ [النساء: 65]

[185] (پس داسې نه ده، ستا پر رب مې دې قسم وي! دوی مومنان کېدی نشي تر هغه پورې چې دوی په خپل منځ کې په پېښو جګړو کې تا فیصله کوونکی ومني، بیا په خپلو نفسونو کې ستا د کړې فیصلې په باره کې هېڅ تنګي ونه مومي او په ښو منلو سره يې ومني).
او الله پاک فرمايلي دي:

﴿... وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمۡ عَنۡهُ فَٱنتَهُواْۚ ...﴾ [الحشر: 7]

[186] (او رسول چې تاسو ته څه درکړي، نو هغه واخلئ او له څه نه چې هغه تاسو منع کړي یاستئ، نو تاسو منع شئ).

---

[185] النساء سورت ، 65 آیت.

[186] الحشر سورت 7 آیت.

او د دې دين د منابعو له تعريفولو وروسته به غوره وي چې د هغه د مرتبو چې: اسلام، ايمان او احسان دي، په اړه په لنډه توګه يادونه وکړو.

## لومړۍ مرتبه ]234[

### اسلام: او ارکان يې پنځه دي: دوه شهادتونه، لمونځ، زکات، روژه او حج.

لومړی: ګواهي ورکول چې نشته دی لايق د عبادت مګر يو الله دی او دا چې محمد صلى الله عليه وسلم د الله رسول دی.

او د دې شاهدۍ معنا دا ده چې: له الله پرته بل معبود نشته: يعني په ځمکه او اسمانونو کې له الله تعالی پرته بل حق معبود نشته، ځکه هغه حقيقي معبود دی او له هغه پرته بل هر معبود باطل دی [٢٣٥] , او دا ګواهي الله تعالی ته په عبادت کې د اخلاص غوښتنه کوي او له هغه پرته يې له بل چا څخه نفي کوي او تر هغه پورې ويونکي ته ګټه نه رسوي تر څو چې په دوه شرطونو برابره نه وي.

لومړی: د لا إله إلا الله ويل: د عقيدې، علم، يقين، تصديق او محبت له مخې.

دويم: په هر هغه څه کافرېدل چې له الله تعالی پرته يې عبادت کيږي، نو چا چې دا ګواهي ورکړه او په هغه څه کافر نه شو چې الله تعالی پرته يې عبادت کيږي دا ګواهي ورته ګټه نه رسوي[187].

او د محمد رسول الله ګواهۍ ورکولو معنا په هغه څه کې د هغه اطاعت کول دي چې امر يې پرې کړی او په هغه څه کې هغه رېښتونی ګڼل چې خبر يې ترې ورکړی او له هغه څه نه ځان ساتل چې منع يې ترې کړې او تر سره کوونکی يې رټلی او دا چې د الله عبادت ونه شي مګر په هغه توګه چې هغه روا کړی دی، او دا چې پدې پوه شي او باور ورلرې چې محمد صلى الله عليه وسلم ټولو خلکو ته د الله رسول دی، او دا چې هغه بنده دی بندګي يې نه کيږي، پيغمبر دی دروغ نه ګڼل کيږي، بلکې اطاعت او پيروي يې کيږي، چا يې چې پيروي وکړه جنت ته به ننوځي او چا يې چې نافرماني وکړه اور ته به ننوځي، او پدې پوه شې او باور ولرې چې د قوانينو ترلاسه کول، که په

[187] قرة عيون الموحدين، 60 مخ.

ایمان کې وي، یا په عباداتو کې؛ هغه چې الله پرې امر کړی وي، یا د حکومت او قانون جوړونې په برخه کې، یا د اخلاقو په برخه کې، یا د کورنۍ جوړولو په برخه کې، یا د روا او ناروا په برخه کې .. دا هر څه یوازې د دې سپېڅلي پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم له لارې کېږي. ځکه هغه د الله رسول دی چې د هغه دین خپروي [۲۳۷] .

دویم : لمونځ دی [۲۳۸] : چې دا د اسلام دویم رکن دی، بلکه د اسلام ستنه ده ځکه چې د بنده او د هغه د رب تر منځ رابطه ده چې هره ورځ یې پنځه ځلې یې تکراروي او ایمان پکې تازه کوي . د ګناهونو له ناپاکۍ څخه ځان پاکوي، او د هغه او د بدکارۍ او ګناهونو تر منځ پرده ګرځي. نو کله چې بنده سهار له خوبه راپاڅېږي، د خپل رب په وړاندې پاک او پاکیزه ودرېږي - مخکې له دې چې د دنیا په چارو کې بوخت شي - د خپل رب لویي بیان کړي، د هغه په بندګۍ اقرار وکړي، مرسته او هدایت ورڅخه وغواړي، د هغه او د هغه د رب تر منځه د اطاعت او بندګۍ تړون په سجدې، قیام او رکوع کولو سره تازه کړي، دا کړنې هره ورځ پنځه ځلې تکراروي، د دې لمانځه د اداکولو لپاره هغه خپل زړه، بدن، جامې او د لمانځه د ځای پاکول لازمي دي. او دا چې مسلمان یې له خپلو مسلمانو ورونو سره یو ځای په جماعت سره پداسې حال کې اداکړي چې مخ یې د کعبې شریفې (بیت الله ) لور ته وي. نو پدې توګه به یې لمونځ په پوره او ښایسته بڼې سره ادا کړی وي، په کومه بڼه چې خالق ذات پرې خپل بندګان مکلف کړي دي، یعنې دا چې د هغه تعظیم او لویي د بېلا بېلو غړو په ګډون سره تر سره شي؛ لکه: د ژبې، لاسونو او پښو او سر په حرکت او د حواسو او بدن د ټولو غړو په شمول، هر غړی پدې لوی عبادت کې خپله برخه واخلي.

حواس او اندامونه پکې خپله برخه اخلي او زړه هم خپله برخه اخلي، ځکه چې لمونځ ستاینې، حمد، تمجید، تسبیح، تکبیر، د حق شاهدي ورکولو، د قرآن کریم لوستلو او د رب په وړاندې ودریدلو ته شامل دی، چې بنده دا مهال د یو ذلیل بنده په بڼه د خپل چارسازي رب مخې ته ولاړ دی. بیا پدې ځای کې د هغه په وړاندې عاجزي کول او هغه ته ځان نږدې کول، بیا رکوع، سجده، ناسته، وېرې او د هغه د عظمت په وړاندې په مات زړه او تواضع سره حاضرېدل، پداسې حال کې چې زړه یې په لړزان، بدن یې ذلیل او اندامونه یې هغه ته خپله عاجزي بیانوونکې وي. بیا د الله په حمد او ثنا او پر خپل پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم باندې د درود او سلام په ویلو سره لمونځ پای ته رسوي، بیا له خپل رب څخه د دنیا او آخرت د خیر غوښتنه کوي [۲۳۹] .

دريم زكات [۲۴۰] : دا د اسلام له ركنونو څخه دريم ركن دى، او په يو بډايه مسلمان واجب دي چې د خپل مال زكات وباسي. او هغه ډيره لږه برخه ده چې فقيرانو، اړمنو او نورو هغو خلكو ته وركول كيږي چې وركول يې ورته روا وي.

او مسلمان يې بايد د زړه له كومې هغه چا ته وركړي چې مستحق وي او احسان به پرې نه كوي او نه به يې ازاروي او بايد چې مسلمان يې د الله د رضا لپاره وركړي، پدې سره ترې بدله او منته كول ونه غواړي، بلكې خاص د الله تعالى د رضا لپاره يې وركړي نه د ځان ښودنې او نوم په خاطر.

د زكات په وركولو سره بركت راجلبيږي، د فقيرانو، مسكينانو او اړمنو كسانو زړونه پرې خوشحاليږي، د سوال كولو له ذلت څخه پرې مخنيوى كيږي، او كله چې د دوى اړتيا رفع شي نو له تلف كيدو او احتياج څخه ژغورل كيږي، پدې كار كې انسان د ناوړه خلكو له صفاتو څخه ځان ژغوري لكه: كنجوسي، بخل او رذالت. او په دې كې مسلمانان يو د بل اړتياوې رفع كوي، د دوى بډايه په اړمنو رحم كوي، ترڅو په ټولنه كې اړمن خلك پاتې نشي - كه چيرې دا دود پلي شي - نو په ټولنه كې به اړمن، ستومانه قرضدار، او مسافر پاتې نه شي. څلورم: روژه: چې هغه د رمضان د مياشتې روژه نيول دي؛ روژه نيوونكى د سهار له راختلو نيولې تر لمر لوېدو پورې د الله جل جلاله د عبادت په موخه له خوراك، څښاك، جماع او نفسي خواهشاتو څخه ځان ساتي. او الله تعالى له ناروغانو، مسافرو، حامله ښځو، شيدو وركونكو ميندو، حيض لرونكو ښځو او تر زيږون وروسته (نفاس لرونكو) ښځو ته روژه معاف كړې ده، د دوى هر يو ځانته مناسب حكم لري.

په دې مياشت كې مسلمان له خواهشاتو څخه ځان ساتي، په دې عبادت سره هغه ځان د حيوانانو له مشابهت څخه د مقربو ملايكو مشابهت ته نږدې كوي، تر دې چې روژه دار په داسې يوه بڼه وي چې ګويا پدې دنيا كې هيڅ شي ته د الله تعالى له رضايت پرته اړتيا نه لري.

روژه زړه راژوندى كوي، له دنيا څخه انسان بې پروا كوي، هغه څه غواړي چې د الله سره دي، بډايه خلكو ته غريبان او د هغوى حالات وريادوي، نو زړه يې پرې سوځي، او پوهيږي چې دوى خپله د الله تعالى په سترو نعمتونو كې دي نو لا زيات شكر وباسي.

روژه نفس پاكوي او د الله تعالى ويره يې په زړه كې مضبوطوي، فرد او ټولنه په خوښۍ او خفګان پټو او ښكاره كارونو كې د الله تعالى لخوا د كنترول احساس كوي، ټولنه ټوله مياشت دې عبادت ته د پاملرنې په فضا كې ژوند كوي، خپل رب پر ځان څارونكى ويني چې دا كار يې له الله

تعالی څخه ویرېږي، په هغه او د آخرت په ورځ ایمان راوړلو ته اړباسي، او پدې خبرې باور کولو ته چې الله تعالی په پټو او ښکاره و پوهیږي، او دا چې خامخا په بنده داسې ورځ راتلونکې ده چې په خپلو عملونو د حساب لپاره د خپل رب مخې ته ودریږي او د هرې وړې او غټې پوښتنه به ورڅخه کوي [۲۴۱] .

پنځم حج[188]: د بیت الله الحرام حج کول؛ چې په هر مسلمان عاقل او بالغ مسلمان چې توان ولري، د بیت الله شریف پورې د لارې وسیله یا کرایه ولري او د نفقې لپاره په کافي اندازه پیسې ولري واجب دی، پدې شرط چې دا پیسې د هغه د اړتیاوو لکه: خوراک او څښاک، د تګ او راتګ د لګښتونو لپاره بسنه وکړي، پداسې حال کې چې دا نفقه یې د اهل او عیال له نفقې څخه اضافه وي او په لاره کې د خپل ځان له امنیت څخه ډاډمن وي او حج ته د تللو پر مهال د خپل عیال له امنیت څخه د ده په غیاب کې هم ډاډمن وي؛ حج په توانمند انسان په عمر کې یو ځل واجب دی.

او د حج اراده کوونکی باید الله تعالی ته توبه وباسي؛ تر څو ځان د ګناهونو له ککړتیا څخه پاک کړي، نو کله چې مکې مکرمې او مقدسو مشاعرو ته ورسیده نو الله تعالی ته د بندګۍ او تعظیم لپاره دې د حج شعائر ادا کړي. او پدې پوهیږي چې د کعبې او نورو ټولو شعائرو عبادت له الله تعالی پرته نه کیږي، او دا چې دغه مشاعر نه ګټه او نه زیان لري، او که چیرته الله تعالی په حج امر نه و کړی نو هیڅ مسلمان ته به روا نه وه چې د دې مشاعرو حج وکړي. او د حج پر مهال حاجي سپین لنګ او څادر اغوندي، نو د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه مسلمانان په یو ځای کې راټولیږي، یو ډول لباس اغوندي او د یو الله عبادت کوي. د رئیس او مامور، مالدار او غریب، سپین او تور تر منځ پکې توپیر نه شته، ټول د الله تعالی مخلوق او د هغه بنده ګان دي، یو مسلمان پر بل غوره والی نه لري مګر په تقوا او نیک عمل سره .

نو مسلمانان یو له بل سره همکاري او پیژندګلوي کوي او د هغې ورځې په اړه سره خبرې کوي چې الله تعالی ته به ټول راپورته کیږي او په یو میدان کې به د حساب لپاره راټولیږي، نو د الله تعالی په اطاعت سره د مرګ نه وروسته حالاتو لپاره چمتووالی نیسي. [۲۴۳] .

---

[188] ۲۴۲] د لا زیاتو معلوماتو لپاره «دلیل الحاج والمعتمر» کتاب وګورئ چې د علماوو د یوې ډلې لخوا لیکل شوی، همدا رنګه د شیخ عبد العزیز بن عبد الله بن باز - رحمه الله - کتاب : "التحقیق والإیضاح لکثیر من مسائل الحج والعمرة" وګورئ .

# عبادت په اسلام کې [244.]

دا په معنی او حقیقت کې د الله تعالی بندګي ده، ځکه چې الله خالق؛ او ته مخلوق يې، ته بنده او الله ستا معبود دی، نو کله چې داسې ده نو بايد چې بنده پدې ژوند کې د الله تعالی په نبغه لار لاړ شي، د هغه د شريعت پيروي وکړي او د پيغمبرانو په لاره يې لاړ شي. او الله جل جلاله د خپلو بندګانو لپاره ستر احکام وضع کړي دي، لکه الله رب العالمين ته د يووالي ثبوت؛ لمونځ، زکات، روژه او حج. خو دا په اسلام کې ټول عبادات ندي، ځکه عبادت په اسلام کې لدې ډير پراخه دی، عبادت په اسلام کې له هر هغه څه څخه عبارت دی چې الله تعالی يې له ظاهري او باطني اقوالو او افعالو څخه خوښوي، نو هر عمل او وينا چې دې کړي وي يا دې ويلي وي چې الله تعالی يې خوښوي هغه عبادت دی، بلکې هر نيک عادت چې الله تعالی ته د نږدې والي په خاطر وي هغه هم عبادت دی. نو له خپل پلار، کورنۍ، خاوند، خپلو اولادونو او ګاونډيانو سره نيک سلوک چې موخه يې د الله رضا وي عبادت دی، او په کور، بازار، دفتر کې ستا ښه سلوک چې د الله تعالی د رضا لپاره وي عبادت دی او د امانت ادا کول، په ريښتينولۍ پابندي، عدالت، د ضرر لرې کول، د کمزورو سره مرسته، حلال کسب، په اهل او عيال نفقه، د مسکينانو سره غمشريکي، د ناروغ پوښتنه، وږی مړول، د مظلوم مرسته کول دا ټول پدې شرط عبادت دي چې موخه ورڅخه د الله تعالی رضايت وي. نو هر هغه عمل چې ته يې د خپل ځان، کورنۍ، ټولنې او هيواد لپاره کوې او موخه دې ورڅخه د الله رضا وي عبادت دی، حتا د شهوت پوره کول چې د شريعت په چوکاټ کې وي او الله تعالی روا کړی وي عبادت دی خو پدې شرط چې نيک عمل ورسره مل وي، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:

[189] (او ستاسو لپاره په جماع کولو کې صدقه ده، هغوی وويل: اې د الله رسوله! آيا له مونږ څخه به يو تن خپل شهوت پوره کوي او په هغه کې به ورته اجر وي؟) هغه وفرمايل: خبر راکړئ که چېرته يې دا شهوت په حرامو کې استعمال کړی و نو ګناه به پرې وه؟ همدا رنګه؛ که يې په حلالو کې رفع کړي نو اجر ورکول کيږي.

او رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

---

[189] مسلم په خپل صحيح کې په کتاب الزکاة کې په 1006 شمېره حديث کې روايت کړی دی.

[190]( په هر مسلمان صدقه ده، وويل شو: خبر راکړه که چېرته يې ونه مومي! ويې فرمايل: په لاسونو دې کار وکړي تر څو ځانته ګټه ورسوي او صدقه هم ورکړي. ويې فرمايل: که چيرته يې دا کار ونکړ؟ ويې فرمايل: د اړمن غمجن سره دې مرسته وکړي. وايي: ورته ووېل شول: خبر راکړئ که چېرته دا کار هم ونکړی شي؟ ويې فرمايل: په نيکۍ او يا خير دې امر وکړي، وايي که چيرته يې دا کار هم ونکړ؟ ويې فرمايل: له شر څخه دې ځان وساتي، دا صدقه ده).

## دويمه مرتبه ]247[

### ايمان او شپږ رکنونه يې : په الله تعالی ايمان، د هغه پر ملائکو، د هغه په کتابونو، د هغه په رسولانو، د اخرت په ورځ او په تقدير ايمان.

لومړی: په الله تعالی ايمان: چې د الله تعالی په ربوبيت ايمان ولرې، پدې معنی چې هغه رب، خالق، مالک، د ټولو چارو جوړونکی دی، او دا چې د الله تعالی په الوهيت ايمان ولرې، پدې معنا چې هغه حق معبود دی، او له هغه پرته بل هر معبود باطل دی، او د هغه په اسماوو او صفاتو ايمان راوړې، پدې معنا چې هغه لره نيک نومونه او بشپړ او لوړ صفتونه دي،

او پدې کې د الله تعالی په يووالی ايمان ولرې، چې هغه لره په ربوبيت، الوهيت، اسماوو او صفاتو کې يې شريک نشته، الله تعالی فرمايلي:

﴿رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا فَٱعۡبُدۡهُ وَٱصۡطَبِرۡ لِعِبَٰدَتِهِۦۚ هَلۡ تَعۡلَمُ لَهُۥ سَمِيّٗا٦٥﴾ ]مريم: 65[

---

[190] بخاري په کتاب الزکاة کې په 29 باب او مسلم په کتاب الزکاة کې په 1008 حديث کې روايت کړی او لفظ د همده دی.

[191] [(دغه) د اسمانونو او ځمکې رب دی او د هغه څه چې د دغو دواړو په منځ کې دي، نو ته د ده عبادت کوه او د ده پر عبادت ښه ټینګ اوسه، ایا ته د ده کوم همنام پېژنې!].

او پدې ایمان ولرې چې هغه باندې پرکالي او خوب نه راځي، او دا چې هغه په پټو او ښکاره و عالم دی، او هغه د آسمانونو او ځمکې مالک دی،

﴿۞ وَعِندَهُۥ مَفَاتِحُ ٱلۡغَيۡبِ لَا يَعۡلَمُهَآ إِلَّا هُوَۚ وَيَعۡلَمُ مَا فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِۚ وَمَا تَسۡقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلَّا يَعۡلَمُهَا وَلَا حَبَّةٖ فِي ظُلُمَٰتِ ٱلۡأَرۡضِ وَلَا رَطۡبٖ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٖ ٥٩﴾ [الأنعام: 59]

[192] (او خاص له هغه سره د غیبو چابیانې دي، یوازې هغه په دغو عالم دی او هغه عالم دی په هغه څه چې په وچه او سمندر کې دي، او هېڅ یوه پاڼه نه غورځېږي مګر هغه پرې عالم دی او د ځمکې په تیارو کې نه یوه دانه (پرېوځي) او نه لوند څېز او نه وچ مګر (دا ټول) په څرګند کتاب (لوح محفوظ) کې دي).

او مونږ ایمان لرو چې هغه ذات په خپل عرش باندې دی، په خپلو مخلوقاتو باندې پورته دی، او د خپل مخلوق سره هم دی، د دوی په حالاتو پوهیږي، د دوی خبرې اوري، د دوی ځای ګوري، د دوی چارې اداره کوي، غریبانو ته روزي ورکوي، تشه یې ډکوي، د چا لپاره چې وغواړي پاچاهي ورکوي او له چا څخه چې وغواړي پاچاهي ترې اخلي او هغه پر هر څه واکمن دی [۲۵۰].

او په الله تعالى د ایمان راوړلو له ګټو څخه ځینې دا دي:

1- بنده سره د الله تعالى محبت او تعظیم پیدا کوي، دا د دې لامل کیږي چې د الله تعالى اوامر پر ځای کړي او له نواهیو څخه یې ځان وساتي او کله چې بنده دا کارونه وکړي په دنیا او اخرت کې بشپړې نیمکرغۍ ته رسیږي.

---

[191] مریم سورت 65 آیت.

[192] الأنعام سورت 59 آیت.

۲- په الله جل جلاله ایمان په نفس کې عزت او کرامت پیدا کوي، ځکه هغه پوهېږي چې الله تعالی د دې کائناتو او څه چې پکې دي حقیقي مالک دی، او دا چې له هغه پرته بل هیڅ ګټه او ضرر رسوونکی نشته مګر همدی دی، او دا پوهه یې له غیر الله څخه بې نیازه کوي، او له زړه څخه یې د بل چا ویره باسي، نو امید نه لري مګر له الله څخه او له هغه پرته له بل چا څخه ویره نه لري.

۳ – په الله جل جلاله ایمان په نفس کې عاجزي پیدا کوي، ځکه هغه پوهېږي چې څومره لورینې د الله تعالی لخوا هغه باندې دي، نو شیطان یې نه مغرور کوي، تکبر او لویي نه کوي، او خپل ځواک او مال ته نه غره کیږي.

په الله تعالی ایمان لرونکی په علم الیقین سره پوهیږي چې کامیابي او خلاصون ته لار نشته مګر په هغه نیک عمل سره چې الله تعالی یې خوښوي، پداسې حال کې چې نور خلک باطلې عقیدې لري، لکه دا عقیده لرل چې د الله زوی په دار ځړیدل یې د ګناهونو کفاره ده، او یا په خدایانو ایمان راوړي پدې عقیده چې غوښتنې یې ورته پوره کوي، پداسې حال کې چې په حقیقت کې هغه نه ګټه رسوي او نه تاوان، یا دا چې بې دینه وي چې د هیڅ خالق په شتون ایمان نه لري... دا ټول امیدونه دي، کله چې د قیامت په ورځ الله تعالی ته وړاندې شي او حقیقتونه وګوري بیا به پوه شي چې دوی په ښکاره ګمراهۍ کې وو.

۵- په الله جل جلاله ایمان په نفس کې د عزم، حوصلې، صبر، استقامت او توکل لوی ځواک پیدا کوي کله چې د الله د رضا لپاره د دنیا ستر کارونه تر سره کوي، او پوره یقین ولري چې هغه د اسمانونو او ځمکې په بادشاه توکل لري او دا چې هغه یې ملاتړ او لاسنیوی کوي، نو هغه په صبر، استقامت او توکل کې د غرونو په څیر ثابت دی [۲۵۱] .

دویم: پر ملائکو ایمان: او دا چې الله تعالی هغوی د اطاعت لپاره پیدا کړي دي او یادونه یې کړې ده چې هغوی:

﴿... عِبَادٞ مُّكۡرَمُونَ ٢٦ لَا يَسۡبِقُونَهُۥ بِٱلۡقَوۡلِ وَهُم بِأَمۡرِهِۦ يَعۡمَلُونَ ٢٧ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡ وَلَا يَشۡفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ٱرۡتَضَىٰ وَهُم مِّنۡ خَشۡيَتِهِۦ مُشۡفِقُونَ ٢٨﴾ [الأنبياء: 26-28]

(د الله تعالی عزتمند بندګان دي. دوي د الله تعالی د وینا نه وړاندې والی نه کوي او د الله تعالی په حکم باندي عمل کوي. هغه ته معلوم دي څه چې د دوی په وړاندې دي او

څه چې له دوی نه وروسته دي، او دوی شفاعت نشي کولی مګر د هغه چا لپاره چې هغه (الله) ترې راضي وي او دوی خاص د هغه له هیبته وېرېدونکي دي)[193]، او دا چې دوی:

﴿... لَا يَسۡتَكۡبِرُونَ عَنۡ عِبَادَتِهِۦ وَلَا يَسۡتَحۡسِرُونَ۝١٩ يُسَبِّحُونَ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ لَا يَفۡتُرُونَ۝٢٠﴾ [الأنبياء: 19-20]

(دوي لويي نه کوي د الله تعالی د عبادت نه او نه (يې د عبادت نه) ستړې کيږي. شپه او ورځ د الله تعالی پاکي بيانوي او سستي نه کوي)[194]، دوی الله تعالی له مونږ څخه پټ کړي دي، مونږ يې نه وينو، او شايد الله تعالی د دوی ځينې خپلو پيغمبرانو او رسولانو ته ورونښايي.

او ملائکې دندې لري چې پرې ګمارل شوي دي، له دوي څخه جبرائيل دی چې هغه ته وحی سپارل شوی ده چې د الله تعالی لخوا يې له خپلو پيغمبرانو څخه هغه چا ته چې وغواړي نازلوي. او له دوي څخه ځينې هغه دي چې د روح اخيستلو دنده لري، او په دوی کې هغه ملائکې دي چې په رحمونو کې په حمل باندې ګمارل شوي دي، او له دوی څخه ځينې د بني آدم د ساتنې دنده لري او په دوی کې هغه کسان دي چې د دوی د اعمالو د ليکلو دنده لري، هر يو شخص دوه ملايکې لري:

﴿... عَنِ ٱلۡيَمِينِ وَعَنِ ٱلشِّمَالِ قَعِيدٞ۝١٧ مَّا يَلۡفِظُ مِن قَوۡلٍ إِلَّا لَدَيۡهِ رَقِيبٌ عَتِيدٞ۝١٨﴾ [ق: 17-18]

(ښي طرف او چپ طرف ته يوه يوه پرښته تياره ناسته ده. (دغه بنده) هيڅ خبره نه کوي مګر له ده سره حاضر ساتونکی دی).

او په پريښتو د ايمان له ګټو څخه:

---

[193] الأنبياء سورت26،28 آيتونه.

[194] الأنبياء سورت19،20 آيتونه.

١- چې د مسلمان عقیده د شرک له ملاوټ او نجاستونو څخه پاکه شي؛ ځکه چې مسلمان کله د ملائکو په وجود ایمان ولري چې الله تعالی په دې سترو کارونو کې ګمارلي دي؛ نو په خیالي مخلوقاتو له باور څخه ځان خلاص کړي چې ګویا د کائناتو په چلولو کې مرسته کوي.

٢ – مسلمان په دې پوهیږي چې ملائکې نه ګټه رسولای شي او نه ضرر، بلکې هغوی عزتمند بندګان دي چې د الله جل جلاله له امر څخه سرغړونه نه کوي او په هغه څه عمل کوي چې امر یې ورته کېږي، نو د دوی عبادت نه کوي او نه ورته مخ اړوي او نه ورپورې تړاو پیدا کوي.

دریم: په کتابونو ایمان: پدې ایمان چې الله تعالی پر خپلو انبیاوو او رسولانو د خپل حق پیژندلو او ورته بلنې لپاره کتابونه نازل کړي دي، الله تعالی فرمایلي:

﴿لَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا رُسُلَنَا بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَأَنزَلۡنَا مَعَهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡمِيزَانَ لِيَقُومَ ٱلنَّاسُ بِٱلۡقِسۡطِۖ ... ﴾ [الحدید: 25]

[195] (یقیناً مونږ خپل رسولان په ښکاره دلیلونو سره لیږلي دي او له دوي سره مونږ کتاب او تله نازل کړي دي، د دې لپاره چې خلق په انصاف ودریږي). او دا کتابونه ډیر دي چې ځینې یې دا دي: د ابراهیم علیه السلام صحیفې، تورات چې موسی علیه السلام ته ورکړل شوی دی، زبور چې الله تعالی پرې داود علیه السلام رالیږلی او انجیل چې مسیح عیسی علیه السلام پرې راتګ کړی دی.

او دا هغه کتابونه دي چې الله تعالی یې په اړه مونږ ته خبر راکړی چې له منځه تللي دي، نو د ابراهیم علیه السلام صحیفې نور په دې نړۍ کې شتون نلري. او تورات، انجیل او زبور که څه هم د یهودانو او نصاراوو په منځ کې پدې نومونو موندل شوي مګر دا چې تحریف او تبدیل شوي او ډیری یې ورک شوي دي، او هغه څه پکې ورشامل شوي دي چې له دوي څخه ندي، بلکې له خپلو خاوندانو پرته یې نورو خلکو ته نسبت شوی دی. په زړې عهد نامه ( عهد قدیم ) کې له څلویښتو څخه ډیرې نسخې شتون لري، او یوازې پنځه یې موسی ته منسوب شوي دي، او کوم انجیلونه چې نن ورځ شتون لري یو یې هم مسیح ته منسوب ندی.

---

[195] الحدید سورت 25 آیت.

نو پدې پخوانیو کتابونو ایمان دا دی چې پدې باور ولرې چې الله تعالی په خپلو رسولانو نازل کړي دي او دا چې هغه قوانین په بر کې لري چې الله تعالی یې هغه وخت خلکو ته د رسولو اراده کړې ده.

او وروستی کتاب چې د الله تعالی لخوا نازل شوی قرآن عظیم دی، هغه قرآن چې پر محمد صلی الله علیه وسلم یې نازل کړی او لا تر دې دمه د الله تعالی په ساتنه کې دی، هیڅ تغییر او تبدیل یې په تورو، کلمو، حرکتونو او معناګانو کې ندی راغلی.

د قرآن عظیم او د پخوانیو کتابونو تر منځه له ډیرو وجوهاتو توپیرونه شتون لري چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

۱- دا پخواني کتابونه له منځه تللي؛ تحریف او بدلون پکې راغلی او له خپلو خاوندانو پرته یې نورو ته نسبت شوی دی؛ شرحې، تعلیقات او تفسیرونه وراضافه شوي، او په هغو کې ډېر داسې شیان شته چې د الهي وحيې، عقل، او فطرت سره په ډیری ځایونو کې په ټکر کې دي.

او قرآن کریم تر دې دمه د الله تعالی په حفاظت کې ساتل کیږي، په ورته حروفو او الفاظو سره چې الله پاک پر محمد صلی الله علیه وسلم نازل کړی دی، او نور هیڅ ډول تحریف یا اضافه والی پکې ندی راغلی. مسلمانانانو ټینګار کړی چې قرآن کریم له هر ډول ملاوټ نه پاک پاتې شي، لدې امله یې د نورو شیانو لکه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو له سیرت، د قرآن کریم له تفسیر، احکامو، عباداتو او معاملاتو سره ګډ نه کړ.

۲- دا چې پخواني کتابونه نن ورځ هیڅ تاریخي سند نه لري، ځنې یې ندي معلوم چې په چا نازل شوي او په کومه ژبه لیکل شوي دي، بلکې ځینې یې له هغه چا پرته بل چا ته منسوب دي چې راوړي یې دي.

مګر قرآن مسلمانانو له محمد صلی الله علیه وسلم څخه په تواتر سره په شفاهي او لیکلي بڼه رانقل کړي دي، او په هر عصر او ښار کې مسلمانان د دې کتاب په زرګونو حافظان او په زرګونو لیکل شوي نسخې لري. تر څو چې د هغه شفاهي کاپي د لیکلي نسخې سره موافقه نه وي، نو په مخالفو نسخو اعتبار نه کیږي، بلکه خامخا باید هغه څه چې په سینو کې دي د هغه څه سره مطابقت ولري چې لیکل شوي دي.

سر بیره پر دې قرآن کریم په شفاهي ډول رانقل شوی چې د نړۍ بل هیڅ کتاب پدې ډول نه دی موندل شوی، بلکې د دې ډول نقل بیلګه د محمد صلی الله علیه وسلم له امت پرته په بل

هیڅ امت کې نشته، د دې نقل طریقه داسې ده چې: چې طالب له خپل شیخ څخه قرآن په یادو زده کړي، او شیخ یې له خپل شیخ څخه حفظ کړی وي، بیا شیخ خپل شاګرد ته د "اجازه" په نوم یو سند ورکوي چې شیخ پکې شاهدي ورکوي چې هغه خپل شاګرد ته هغه ډول قرآن ور اورولی دی لکه څرنګه یې چې خپلو شیخانو ته ور اورولی و؛ یعنې یو شیخ د بل شیخ پسې چې هر یو یې خپل شیخ په نوم سره یادوي تر دې چې سلسله تر رسول الله صلی الله علیه وسلم پورې ورسیږي، نو پدې توګه لفظي سلسله له طالب څخه تر رسول الله صلی الله علیه وسلم پورې ورسیږي.

د قرآن کریم د هر سورت او هر آیت په اړه - د سند په تسلسل سره - قوي دلایل او تاریخي شواهد زیات دي چې چیرته او کله پر محمد صلی الله علیه وسلم نازل شوی دی.

۳- هغه ژبې چې پخواني کتابونه پرې نازل شوي ډېر پخوا له منځه تللي دي، په اوسنۍ زمانه کې پرې څوک خبرې نه کوي او ډېر لږ خلک دي چې په اوسني وخت کې پرې پوهیږي، خو هغه ژبه چې قرآن کریم پرې نازل شوی ژوندۍ ژبه ده چې نن ورځ پرې لسګونه میلونه خلک خبرې کوي، او د ځمکې په هر کونج کې تدریس کیږي، او که د چا زده  نه وي په هر ځای کې داسي څوک پیدا کولای شي چې پرې پوه یې کړي.

4- دا چې پخواني کتابونه به د ټاکلي وخت او ټاکلي خلکو امت لپاره وو. لدې امله یې د هغه قوم او  هغه وخت لپاره ځانګړي احکام درلودل، او کوم څه چې دا ډول وي نو د ټولو لپاره بیا مناسب نه وي.

او قرآن عظیم د هر وخت لپاره یو جامع کتاب دی، د هر ځای لپاره مناسب دی، هغه د هر امت لپاره احکامو، معاملاتو او اخلاقو ته شامل دی . ځکه چې وینا یا خطاب یې ټولو خلکو ته عام دی.

له دې څخه دا څرګنده شوه چې د انسان په وړاندې د الله تعالی حجت په داسې کتابونو نشي کیدلی چې اصلي نسخه یې شتون ونلري، او د ځمکې پر شا داسې خلک نه وي چې د هغه کتابونو له تحرفیدلو وروسته په هغو ژبو خبرې وکړي... د الله جل جلاله د مخلوق پر وړاندې یوازې یو خوندي کتاب حجت جوړیدلی شي، چې له زیاتوالي، نقصان او تحریف څخه ساتل شوی وي، نقلونه یې هر ځای کې خپاره شوي وي، په ژوندۍ ژبه لیکل شوی وي چې میلیونونه خلک پرې لوستل کولی شي، او خلکو ته د الله تعالی پیغامونه رسوي او دا کتاب " قرآن عظیم" دی چې الله پاک پر محمد صلی الله علیه وسلم نازل کړی دی، په پخوانیو کتابونو غالب، د

هغوی تصدیقوونکی او پرې شاهدي ورکوونکی دی. او دا هغه کتاب دی چې په ټول بشریت یې پیروي واجب ده؛ تر څو د دوی لپاره رڼا ، شفا، هدایت او رحمت وي، الله تعالی فرمايلي:

﴿وَهَٰذَا كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ مُبَارَكٞ فَٱتَّبِعُوهُ وَٱتَّقُواْ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ١٥٥﴾ [الأنعام: 155]

[196] (او دا کتاب دی چې مونږ نازل کړی دی، نو تاسو د ده پیروي وکړئ او پرهېزګاره شئ، د دې لپاره چې پر تاسو رحم وکړی شي). او الله تعالی فرمايلي:

﴿قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنِّي رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيۡكُمۡ جَمِيعًا ...﴾ [الأعراف: 158]

[197] (ته ووايه: اې خلقو! بېشکه زه ستاسو د ټولو په طرف د هغه الله (رالېږل شوی) رسول یم).

په رسولانو - صلوات الله وسلامه عليهم أجمعين - ایمان :

دا چې الله تعالی خپلو مخلوقاتو ته رسولان رالېږلي دي تر څو په نعمتونو زیری ورکړي که چیرته دوی په الله تعالی ایمان راوړ او پیغمبران یې ریښتني وګڼل، او په عذاب سره یې ویروي که چیرته یې نافرماني وکړي، الله تعالی فرمايلي:

﴿وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِي كُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجۡتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَۖ ...﴾ [النحل: 36]

[198] (او يقينًا يقينًا مونږ په هر یو امت کې یو رسول لېږلی و (په دې سره) چې تاسو د الله عبادت کوئ او له طاغوت نه ځان وساتئ). او الله تعالی فرمايلي:

﴿رُّسُلٗا مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى ٱللَّهِ حُجَّةُۢ بَعۡدَ ٱلرُّسُلِۚ ...﴾ [النساء: 165]

---

[196] الأنعام سورت 155 آیت.

[197] الاعراف سورت ۱۵۸ آیت، او د وړاندې مطلب لپاره: العقيدة الصحيحة وما يضادها ۱۷ مخ او : عقيدة أهل السنة والجماعة ۲۲ مخ. او مبادئ الاسلام ۸۹ مخ وګورئ.

[198] النحل سورت 36 آیت.

[199] (او (مونږ لیږلي وو) رسولان، چې زېرى ورکوونکي او وېرووونکي وو، د دې لپاره چې د خلقو لپاره په الله باندې څه حجت پاتې نشي).

او دا پیغمبران زیات دي، لومړی يې نوح او وروستی يې محمد صلی الله علیه وسلم دی، الله تعالی له دوی څخه د ځینو په اړه مونږ ته خبر راکړی دی لکه: ابراهیم، موسی، عیسی، داود، یحی، زکریا او صالح... او له ځینو څخه يې خبر ندی راکړی ، الله تعالی فرمایلي:

﴿وَرُسُلًا قَدْ قَصَصْنَٰهُمْ عَلَيْكَ مِن قَبْلُ وَرُسُلًا لَّمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ ...﴾ [النساء: 164]

[200] «او (مونږ لیږلي وو) ډېر رسولان، چې یقینا د هغوی احوال مونږ تا ته لدې نه مخکې بیان کړي دي او (نور) رسولان چې د هغوی احوال مونږ تا ته نه دي بیان کړي..»

او دا پیغبران ټول د الله تعالی پیدا شوي مخلوق دي، د ربوبیت او اولوهیت له ځانګړتیاوو څخه هیڅ برخه نه لري، نو دوی ته د عبادت هیڅ برخه نه تر سره کیږي، او نه د ځانونو لپاره ګټه او نه تاوان رسولای شي، الله تعالی د نوح علیه السلام په اړه فرمایلی چې هغه خپل قوم ته وویل:

﴿وَلَآ أَقُولُ لَكُمْ عِندِى خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعْلَمُ ٱلْغَيْبَ وَلَآ أَقُولُ إِنِّى مَلَكٌ ...﴾ [هود: 31]

[201] (زه تاسو ته دا نه وایم چې زما سره خزانې دي د الله تعالی اوزه په غیبو باندې هم نه پوهیږم او دا هم نه وایم چې زه ملک ( د ملائکو نه ) یم). او وروستي ته يې الله تعالی امر کړی دی چې ووايي:

﴿قُل لَّآ أَقُولُ لَكُمْ عِندِى خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعْلَمُ ٱلْغَيْبَ وَلَآ أَقُولُ لَكُمْ إِنِّى مَلَكٌ ...﴾ [الأنعام: 50]

---

[199] النساء سورت165 آیت.

[200] النساء سورت 164 آیت.

[201] هود سورت31 آیت.

[202] (زه تاسو ته دا نه وایم چې زما سره د الله تعالی خزانې دي او زه په غیبو باندې هم نه پوهیږم او دا هم نه وایم چې زه ملک ( د ملائکو نه ) یم). او دا چې ووایي:

﴿قُل لَّآ أَمۡلِكُ لِنَفۡسِي نَفۡعٗا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۚ ...﴾ [الأعراف: 188]

[203] (زه د خپل ځان لپاره د ګټې او ضرر دفع کولو اختیار نه لرم، مګر هغه څه چې الله تعالی یې غواړي).

نو پیغمبران عزتمن بندګان دي، الله تعالی غوره کړي او په خپل رسالت سره یې عزت ورکړی او په بندګۍ سره یې یاد کړي دي، دین یې اسلام دی او له اسلام پرته الله تعالی بل دین نه قبلوي، الله تعالی فرمایلي:

﴿إِنَّ ٱلدِّينَ عِندَ ٱللَّهِ ٱلۡإِسۡلَٰمُۗ ...﴾ [آل عمران: 19]

[204] (ببشکه (معتبر) دین د الله په نیز اسلام دی)، پیغامونه یې په اصل کې یو دي او قوانین مختلف دي، الله تعالی فرمایلي.

﴿... لِكُلّٖ جَعَلۡنَا مِنكُمۡ شِرۡعَةٗ وَمِنۡهَاجٗاۚ ...﴾ [المائدة: 48]

[205] (مونږ په تاسو کې د هر یو لپاره یو دستور او لاره مقرره کړې ده) او د دې شریعتونو پای د محمد صلی الله علیه وسلم شریعت دی، او هغه ټولو پخوانیو شریعتونو لره منسوخوونکې ده، او دا چې رسالت یې د ټولو رسالتونو پای ده، او هغه وروستی پیغمبر دی.

چا چې په یوه پیغمبر ایمان راوړ پرې واجب شوه چې په ټولو پیغمبرانو ایمان راوړي او چا چې د یوه پیغمبر تکذیب وکړ، نو په حقیقت کې یې د ټولو تکذیب کړی دی، ځکه چې ټول پیغمبران

---

[202] الأنعام سورت 50 آیت.

[203] الأعراف سورت 188 آیت.

[204] آل عمران سورت 19آیت.

[205] المائدة سورت 48 آیت.

او رسولان په الله تعالی، د هغه پر ملايکو، د هغه په کتابونو، د هغه په رسولانو او د آخرت په ورځ د ایمان راوړلو بلنه ورکوي؛ دا ځکه چې د دوی دین یو دی، څوک چې د دوی تر منځ توپیر وکړي یا یې په ځینو ایمان راوړي او په نورو کافر شي، نو په حقیقت کې یې په ټولو کفر کړی دی. ځکه چې لدوی څخه هر یو یې په ټولو انبیاوو او رسولانو ایمان راوړلو ته بلنه ورکوي[206]، الله تعالی فرمايلي:

﴿ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مِن رَّبِّهِۦ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَۚ كُلٌّ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّن رُّسُلِهِۦۚ ...﴾ [البقرة: 285]

[207] (رسول پر هغه څه ایمان راوړی؛ چې پرده باندې د خپل رب له جانبه نازل کړی شوی دی او مومنانو هم، ټولو ایمان راوړی دی په الله باندې او د هغه پر ملایکو او د هغه پر کتابونو او د هغه په رسولانو باندې (او وايي) مونږه د هغه (الله) په رسولانو کې د هیچا په منځ کې توپیر نه کوو). او الله تعالی فرمايلي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡفُرُونَ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَيُرِيدُونَ أَن يُفَرِّقُواْ بَيۡنَ ٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَيَقُولُونَ نُؤۡمِنُ بِبَعۡضٖ وَنَكۡفُرُ بِبَعۡضٖ وَيُرِيدُونَ أَن يَتَّخِذُواْ بَيۡنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا ١٥٠﴾ [النساء: 150]

[208] (بېشکه هغه کسان چې په الله او د هغه په رسولانو کافران کېږي او دوی غواړي چې د الله او د هغه د رسولانو په منځ کې بېلتون وکړي او دوی وايي چې مونږ پر ځينو (رسولانو) ایمان راوړو او په ځينو کافر کېږو او دوی غواړي چې د دې (اسلام او کفر) په منځ کې (بله) لار ونيسي.

پنځم: د آخرت په ورځ ایمان، دا چې پدې دنیا کې د هر مخلوق پای مرګ دی! نو له مرګ نه وروسته د انسان برخليک کوم لور ته دی؟ د هغو ظالمانو لوری به کوم خواته وي چې په دنیا کې

[206] وګورئ: العقيدة الصحيحة وما يضادها، 17 مخ، او: عقيدة أهل السنة والجماعة، 25 مخ.

[207] البقرة سورت 285 آیت.

[208] النساء سورت 150 آیت.

له عذاب څخه ژغورل شوي دي، آيا هغوی به د خپل ظلم له جزا څخه په امن کې پاتې شي؟ او هغه نېکو کارانو چې په دنيا کې يې د خپلو نېکو اعمالو ثواب ندی تر لاسه کړی، آيا د هغوی اجرونه به ضايع شي؟

مرګ انسانان نسل په نسل تعقيبوي، تر دې چې کله الله تعالی د دنيا د پای ته رسيدو اجازه ورکړي، او پر شا يې ټول مخلوقات له منځه لاړ شي، نو الله تعالی به ټول مخلوقات د شاهدۍ ورځې ته راپورته کړي، چې الله تعالی به پکې لومړي او وروستي خلک راټول کړي، بيا به د بندګانو سره د هغوی د ښو او بدو عملونو چې په دنيا کې يې کړي دي حساب کوي. نو مؤمنان به جنت ته بدرګه کيږي او کافران به دوزخ ته کش کول کيږي.

او جنت: هغه نعمتونه دي چې الله تعالی خپلو مؤمنو اولياوو ته چمتو کړي دي، په هغه کې د نعمتونو ډولونه دي چې هېڅوک يې نشي بيانولی، په هغه کې سل درجې دي، او هره درجه کې يې په الله تعالی د هغوی د ايمان او پيروۍ په اندازه اوسېدونکي وي. او په جنت کې تر ټولو د ټيټې درجې اوسيدونکي هغه خلک دي چې هغوی ته د دنيا له پادشاهانو څخه د يو پادشاه په اندازه بلکې لس چنده نعمتونه ورکړل شي.

او اور هغه عذاب دی چې الله تعالی د هغه چا لپاره چمتو کړی دی چې په هغه يې کفر کړی دی، چې يادول يې ويرونکي دي او که الله تعالی په آخرت کې د چا لپاره مرګ ټاکلی وای نو د دوزخ خلک به د اور په تش ليدلو سره مړ شوي وو.

او الله تعالی په خپل ازلي علم سره پدې پوهېده چې هر انسان به له خير او شر څخه پټ او ښکاره څه وايي او څه به کوي، بيا په هر انسان باندې دوه ملايکې وګمارل شوې چې يوه يې نيکي او بله يې بدي ليکي، هيڅ شی ترې نه پاتې کيږي، الله تعالی فرمايلي:

﴿مَّا يَلۡفِظُ مِن قَوۡلٍ إِلَّا لَدَيۡهِ رَقِيبٌ عَتِيدٞ ١٨﴾ [ق: 18]

[209]((دغه بنده) هېڅ خبره نه کوي مګر لده سره حاضر ساتونکی دی)، او دا عملونه په يو کتاب کې ليکل کيږي چې انسان ته به د قيامت په ورځ ورکول کيږي، الله تعالی فرمايلي:

[209] ق سورت 18 آيت.

﴿وَوُضِعَ ٱلۡكِتَٰبُ فَتَرَى ٱلۡمُجۡرِمِينَ مُشۡفِقِينَ مِمَّا فِيهِ وَيَقُولُونَ يَٰوَيۡلَتَنَا مَالِ هَٰذَا ٱلۡكِتَٰبِ لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةٗ وَلَا كَبِيرَةً إِلَّآ أَحۡصَىٰهَاۚ وَوَجَدُواْ مَا عَمِلُواْ حَاضِرٗاۗ وَلَا يَظۡلِمُ رَبُّكَ أَحَدٗا ٤٩﴾ [الكهف: 49]

[210] (او کتاب به کېښودل شي، نو ته به مجرمان وينې چې له هغه څه نه به وېرېدونکي وي چې په ده کې دي او وايي به: ای زمونږ هلاکته! د دې کتاب (عملنامې) څه حال دی چې نه وړه (ګناه) پرېږدي او نه غټه مګر هغه (هره يوه) يې حساب کړې ده او دوی به خپل ترسره کړي عملونه حاضر ومومي، او ستا رب پر هيڅا ظلم نه کوي). **نو خپل کتاب به ولولي، له هيڅ شي څخه به يې انکار نه کوي او څوک چې له خپلو عملونو څخه له کوم څه نه انکار وکړي نو الله تعالی به د هغه غوږونه، سترګې، لاسونه، پښې او پوستکي د هغه په ټولو عملونو ګواه وګرځوي، الله تعالی فرمايلي:**

﴿وَيَوۡمَ يُحۡشَرُ أَعۡدَآءُ ٱللَّهِ إِلَى ٱلنَّارِ فَهُمۡ يُوزَعُونَ ١٩ حَتَّىٰٓ إِذَا مَا جَآءُوهَا شَهِدَ عَلَيۡهِمۡ سَمۡعُهُمۡ وَأَبۡصَٰرُهُمۡ وَجُلُودُهُم بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٢٠ وَقَالُواْ لِجُلُودِهِمۡ لِمَ شَهِدتُّمۡ عَلَيۡنَاۖ قَالُوٓاْ أَنطَقَنَا ٱللَّهُ ٱلَّذِيٓ أَنطَقَ كُلَّ شَيۡءٖۚ وَهُوَ خَلَقَكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةٖ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ٢١ وَمَا كُنتُمۡ تَسۡتَتِرُونَ أَن يَشۡهَدَ عَلَيۡكُمۡ سَمۡعُكُمۡ وَلَآ أَبۡصَٰرُكُمۡ وَلَا جُلُودُكُمۡ وَلَٰكِن ظَنَنتُمۡ أَنَّ ٱللَّهَ لَا يَعۡلَمُ كَثِيرٗا مِّمَّا تَعۡمَلُونَ ٢٢﴾ [فصلت: 19-22]

(او(ياده کړه) هغه ورځ چې د الله دښمنان به اور ته راجمع کولی شي، نو دوی به ډلې کولی (او تقسيمولی) شي. تر دې چې کله دوی راوستلی شي (اور) ته (، نو) په دوی باندې به د دوی غوږونه او د دوی سترګې او د دوی څرمنې ګواهي ورکړي، د هغو کارونو چې دوی به کول. او دوی به خپلو څرمنو ته ووايي: تاسو ولې پر مونږ ګواهي ورکړه؟ نو دغه (څرمنې) به ووايي: مونږ هغه الله ګويا کړو چې هر شی يې ګويا کړی دی. او دغه (الله) تاسو اول ځلې پيدا کړي يئ او خاص همده ته به بېرته ورګرځولی شئ. (او تاسو به (د ګناه

[210] الکهف سورت 49 آيت.

کولو په وخت کې) ځان له دې نه نه پټولو چې په تاسو به ستاسو غوږونه او ستاسو سترګې او ستاسو څرمنې ګواهي ورکړي او لېکن تاسو به دا خیال کاوه چې بېشکه الله په ډېرو هغو کارونو نه پوهیږي چې تاسو یې کوئ)[211].

او د آخرت په ورځ ایمان چې - د قیامت ورځ ده د بیا راپورته کېدو او راټولېدو ورځ ده - نو ټولو انبیاوو او رسولانو پرې خبر ورکړی دی. الله تعالی فرمايلي:

﴿وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنَّكَ تَرَى ٱلۡأَرۡضَ خَٰشِعَةٗ فَإِذَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡهَا ٱلۡمَآءَ ٱهۡتَزَّتۡ وَرَبَتۡۚ إِنَّ ٱلَّذِيٓ أَحۡيَاهَا لَمُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰٓۚ إِنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ٣٩﴾ [فصلت: 39]

[212] (او د هغه له نخښو څخه دا دي چې بېشکه ته ځمکه وچه کلکه وینې، نو کله چې مونږ په دې اوبه نازلې کړو(نو) وخوځیږي او وپړسیږي، بېشکه هغه ذات چې دغه یې ژوندۍ کړې ده، خامخا د مړو ژوندی کوونکی دی، بېشکه هغه په هر شي باندې ښه قادر دی). لوړ او سپېڅلي ذات فرمايلي دي:

﴿أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَلَمۡ يَعۡيَ بِخَلۡقِهِنَّ بِقَٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن يُحۡـِۧيَ ٱلۡمَوۡتَىٰۚ ...﴾ [الأحقاف: 33]

[213] (او ایا دوی ندي کتلي چې بېشکه هغه الله چې اسمانونه او ځمکه یې پیدا کړي دي او د دغو په پیدا کولو سره نه دی ستړی شوی، یقینًا په دې قادر دی چې مړي ژوندي کړي؟ ولې نه! بېشکه هغه په هر شي باندې ښه قادر دی). او دا هغه څه دي چې الهي حکمت یې غوښتنه کوي؛ ځکه الله تعالی خپل مخلوقات بې ځایه ندي پیدا کړي او نه یې بې هدفه پرېښي دي، ځکه چې د خلکو تر ټولو د کمزوري عقل خاوند هم بې له ټاکلي هدفه یو کار نه کوي، نو څنګه دا ډول فکر د انسان په اړه نه شي کېدلی، بیا انسان د خپل رب په اړه فکر کوي

---

[211] فصلت سورت 20،22 آیتونه.

[212] فصلت سورت 39 آیت.

[213] الأحقاف سورت 33 آیت.

چې دی یې عبث پیدا کړی دی، او بې سرنوشته به یې پرېږدي، د الله - جل جلاله - مقام لدې وینا څخه ډېر لوړ دی، الله تعالی فرمایلي:

﴿أَفَحَسِبۡتُمۡ أَنَّمَا خَلَقۡنَٰكُمۡ عَبَثٗا وَأَنَّكُمۡ إِلَيۡنَا لَا تُرۡجَعُونَ ١١٥﴾ [المؤمنون: 115]

214 (آیا نو تاسو ګومان کوئ چې بېشکه مونږ تاسو بس عبث پیدا کړي یاست او دا چې بېشکه تاسو به مونږ ته نه راوستل کېږئ؟) او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَمَا خَلَقۡنَا ٱلسَّمَآءَ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا بَٰطِلٗاۚ ذَٰلِكَ ظَنُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۚ فَوَيۡلٞ لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنَ ٱلنَّارِ ٢٧﴾ [ص: 27]

215 (او مونږ اسمان او ځمکه او هغه څه چې د دواړو په منځ کې دي داسې ندي پیدا کړي، چې باطل (او عبث) دي دغه (باطل پیدا کول) د کافر شوو خلقو ګمان دی، نو دا د کافر شویو خلقو لپاره له اوره هلاکت (او عذاب) دی).

او ټولو هوښیارو خلکو پرې په ایمان راوړلو شاهدي ورکړېده، او دا هغه څه دي چې سالم عقل یې غواړي او سالم فطرت ورسره اړخ لګوي؛ ځکه کله چې انسان د قیامت په ورځ ایمان ولري؛ نو پدې پوه شي چې ولې یو څوک یو کار پرېږدي او یا یې دهغه څه په تمه پرېږدي چې د الله تعالی سره دي، بیا پدې هم پوهېږي چې څوک ظلم کوي باید خپله برخه واخلي او خلک د قیامت په ورځ له هغه نه انتقام واخلي، او دا چې انسان باید خپله جزا وګوري، که ښه وي نو ښه، او که بده وي نو بده، تر څو هر نفس ته د هغه څه بدله ورکړل شي چې هغه یې غواړي، او الهي انصاف به تر سره شي.

﴿فَمَن يَعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٍ خَيۡرٗا يَرَهُۥ ٧ وَمَن يَعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٖ شَرّٗا يَرَهُۥ ٨﴾ [الزلزلة: 7-8]

(نو څوک چې د یوې ذرې په اندازه د خیر عمل وکړي نو هغه به ووینې. او هغه څوک چې د یوې ذرې په اندازه د شر (او بدۍ) عمل کوي (، نو) دی به هغه ووینې)[216].

---

[214] المؤمنون سورت 115 آیت.

[215] ص سورت 27 آیت.

او له مخلوقاتو څخه هېڅوک نه پوهېږي چې قيامت کله راځي، نو دا هغه ورځ ده چې نه پرې لیږل شوی نبي او نه نږدې پرښته پوهيږي، بلکې د دې علم خاص د الله تعالی سره دی، الله تعالی فرمایلي:

﴿يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلسَّاعَةِ أَيَّانَ مُرۡسَىٰهَاۖ قُلۡ إِنَّمَا عِلۡمُهَا عِندَ رَبِّيۖ لَا يُجَلِّيهَا لِوَقۡتِهَآ إِلَّا هُوَۚ ... ﴾ [الأعراف: 187]

[217] (دوی له تا نه د قیامت په باره کې پوښتنه کوي چې د دې (قیامت) پېښېدل کله دي؟ ته ووايه: بېشکه خبره همدا ده چې د هغه علم زما له رب سره دی، پر خپل وخت به يې يوازې هغه ظاهروي). او الله پاک فرمایلي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلسَّاعَةِ ... ﴾ [لقمان: 34]

[218] (بېشکه الله چې دی، خاص له هغه سره د قيامت علم دی).

شپږم: ايمان په قضا او قدر:

پدې باور ولرې چې الله پوهيږي په هغه څه چې وو او هغه څه چې په راتلونکې کې به وي، او د بندګانو د حالاتو، عملونو، اجلونو او د رزق علم، الله تعالی فرمایلي:

﴿... إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ٦٢﴾ [العنکبوت: 62]

[219] (بېشکه الله په هر شي ښه عالم دی). او الله تعالی فرمایلي:

---

[216] الزلزلة سورت 7،8 آيتونه . او وګورئ: دين الحق، 19 مخ.

[217] الأعراف سورت 187 آيت.

[218] لقمان سورت 34 آيت.

[219] العنکبوت سورت، 62 آيت.

﴿۞ وَعِندَهُۥ مَفَاتِحُ ٱلۡغَيۡبِ لَا يَعۡلَمُهَآ إِلَّا هُوَۚ وَيَعۡلَمُ مَا فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِۚ وَمَا تَسۡقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلَّا يَعۡلَمُهَا وَلَا حَبَّةٖ فِي ظُلُمَٰتِ ٱلۡأَرۡضِ وَلَا رَطۡبٖ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٖ ٥٩﴾ [الأنعام: 59]

[220] (او خاص له هغه سره د غيبو چابياني دي، يوازې هغه په دغو عالم دی او هغه عالم دی په هغه څه چې په وچه او سمندر کې دي، او هېڅ يوه پاڼه نه غورځېږي مګر هغه پرې عالم دی او د ځمکې په تيارو کې نه يوه دانه (پريوځي) او نه لوند څېز او نه وچ مګر (دا ټول) په ښکاره کتاب (لوح محفوظ) کې دي). هغه دا ټول په يوه کتاب کې له ځانه سره ليکلي دي، لوی څښتن تعالی فرمايلي:

﴿... وَكُلَّ شَيۡءٍ أَحۡصَيۡنَٰهُ فِيٓ إِمَامٖ مُّبِينٖ ١٢﴾ [يس: 12]

[221] (او هر شی، مونږ هغه په ښکاره اصل (لوح محفوظ) کې درج کړي دي)، او الله پاک فرمايلي:

﴿أَلَمۡ تَعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِۚ إِنَّ ذَٰلِكَ فِي كِتَٰبٍۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٞ ٧٠﴾ [الحج: 70]

[222] (آيا ته نه يې پوه شوی چې بېشکه الله پوهېږي په هر هغه څه چې په آسمان او ځمکه کې دي، بېشکه دغه په يو کتاب کې دي، بېشکه دغه الله ته ډېر آسان دي). نو کله چې اراده وکړي الله تعالی د يو کار هغه ته ووايي: شه، نو هغه شي، الله تعالی فرمايلي:

---

[220] الانعام سورت ۵۹ آيت. که چېرته په قرآن کريم کې لدې پرته بل آيت نه وای، نو دا به ښکاره او حتمي دليل و چې دا قرآن د الله تعالی له لورې دی. دا ځکه چې بشريت په ټولو عصرونو کې - حتی په هغه عصر کې چې ساينس پکې پراختيا موندله او انسان پکې مغرور شو - پدې هر اړخيزه احاطه کې فکر ندی کړی، دا خو لا پريږده چې ويې کولای شي، او زياته هڅه يې دا وه چې يوه ونه يا يوه ښځنده په يو ټاکلي چاپيريال کې وڅاري تر څو مونږ ته د هغې يو څه رازونه راوسپړي، او هغه څه چې له دوی څخه پټ پاتې دي ډېر دي د هغه څه په نسبت چې راسپړلي يې دي، خو هر اړخيز فکر او هر اړخيزه احاطه هغه څه دي چې بشريت يې نه پيژني او نه يې توان لري .

[221] يس سورت 12 ايت.

﴿إِنَّمَآ أَمۡرُهُۥٓ إِذَآ أَرَادَ شَيۡـًٔا أَن يَقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ٨٢﴾ [يس: 82]

[223] (بېشکه د هغه امر (حکم) هم دا وي چې کله د يو شي اراده وکړي، دا چې هغه ته ووايي چې پيدا شه، نو هغه پيدا شي)، او الله پاک لکه څرنګه چې هر شی اندازه کړی دی، نو هغه د هر شي پيدا کوونکی هم دی، الله تعالی فرمايلي:

﴿إِنَّا كُلَّ شَيۡءٍ خَلَقۡنَٰهُ بِقَدَرٍ ٤٩﴾ [القمر: 49]

[224](بېشکه مونږ هر شي لره، مونږ هغه په (ازلي) اندازې سره پيدا کړي دي). او الله عزوجل فرمايلي:

﴿ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖۖ ...﴾ [الزمر: 62]

[225] (الله د ټولو شيانو پيدا کوونکی دی). نو بندګان يې د طاعت لپاره پيدا کړي دي، او هغوی ته يې بيان کړی دی، او امر يې ورته پرې کړی او له خپلې نافرمانۍ څخه يې منع کړي دي، او هغوی ته يې ځواک او اراده ورکړې ده، تر څو پرې د الله تعالی اوامر پر ځای کړي او ثواب تر لاسه کړي، او له نافرمانۍ څخه يې ځان وساتي، تر څو د عذاب مستحق ونه ګرځي.

## نو کله چې انسان په قضا او قدر ايمان راوړ لاندې لاسته راوړنې به ورته ولري:

1- د اسباب په شتون کې په الله تعالی اعتماد؛ ځکه هغه پوهيږي چې سبب او مسبب دواړه د الله تعالی په قضا او قدر کيږي.

---

[222] الحج سورت 70 ايت.

[223] يس سورت 82 آيت.

[224] القمر سورت 49 آيت.

[225] الزمر سورت 62 آيت.

2- د روح سکون او د زړه آرامي؛ ځکه چې کله پوه شو چې دا د الله په حکم او تقدیر سره کیږي، او دا چې رسیدلی غم خامخا پېښیدونکی و نو روح یې آرام شي او د الله تعالی په پریکړه راضي شي، نو له هغه څخه بیا بل څوک د ښایسته ژوند، آرام نفس او قوي ډاډ خاوند نه وي.

3- په ځان له مغرور کېدلو ډډه کول کله چې هدف ترلاسه شي؛ ځکه چې لاسته راوړل یې د الله تعالی لخوا نعمت وي چې د خیر او کامیابۍ اسباب یې ورته چمتو کړي دي، نو د الله تعالی شکر پرې باسي.

4 - غم او خفګان نه کول، کله چې مطلوب شی له لاسه ورکړي او یا ورته کومه بده پېښه وشي، ځکه چې د الله تعالی په پریکړه وي؛ هغه ذات چې د هغه پرېکړې لره څوک ردوونکی نشته، او نه د هغه په امر څارونکی شته، او هغه خامخا کېدونکی وي، نو صبر کوي او اجر یې له الله تعالی څخه غواړي.

﴿مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِيٓ أَنفُسِكُمۡ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مِّن قَبۡلِ أَن نَّبۡرَأَهَآۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٞ ۝٢٢ لِّكَيۡلَا تَأۡسَوۡاْ عَلَىٰ مَا فَاتَكُمۡ وَلَا تَفۡرَحُواْ بِمَآ ءَاتَىٰكُمۡۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخۡتَالٖ فَخُورٍ ۝٢٣﴾ [الحديد: 22-23]

(نه رسیږي په ځمکه کې او نه ستاسو په ځانونو کې کوم مصیبت مګر (دا) په کتاب کې دي مخکې له دې نه چې دغه (ځانونه) پیدا کړو، بېشکه الله ته دا ډېره اسانه ده). (نه رسیږي په ځمکه کې او نه ستاسو په ځانونو کې کوم مصیبت مګر (دا) په کتاب کې دي مخکې له دې نه چې دغه (ځانونه) پیدا کړو، بېشکه الله ته دا ډېره اسانه ده)[226].

5 - په الله تعالی بشپړ توکل کول؛ ځکه مسلمان پوهیږي چې یوازې د هغه پاک ذات په لاس کې ګټه او تاوان دي، نو نه خو له ځواکمن څخه د هغه د ځواک له امله ویریږي، او او نه د خیر له کار څخه د چا څخه د ویرې له امله شاته کیږي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ابن عباس رضي الله عنهما ته وفرمایل:

---

226 الحديد سورت، 22، 23 آیتونه. او وګورئ: العقيدة الصحيحة وما يضادها، 19 مخ، او: عقيدة اهل السنة والجماعة 39 مخ، او: دين الحق 18 مخ.

[227] {پوه شه كه دا ټول امت راټول شي تر څو تا لره ګټه ورسوي، نو هېڅ ګټه به تا ته ونه رسوي مګر هغه چې الله تعالی درته لیکلې ده، او که چېرته راټول شي چې تا ته ضرر ورسوي؛ نو ضرر به در ونه رسوي مګر په هغه څه چې الله تعالی درباندې لیکلی دی}.

## دریمه مرتبه:

### احسان، او هغه یو رکن دی، چې عبارت دی له:

چې د الله تعالی داسې عبادت وکړې لکه ته یې چې ګورې، که چیرته ته هغه نه ګورې نو هغه خو تا ګوري. نو انسان به پدې طریقه د خپل رب عبادت کوي، چې هغه ته نږدې والی به را په زړه کوي، داسې چې دی د هغه په وړاندې دی، دا کار له هغه څخه د ویرې، هیبت، او د هغه د لوی والي سبب ګرځي، او د عبادت په ادا کولو، کوښښ کولو او په بشپړه او ښایسته توګه یې تر سره کول لازموي.

د عبادت پر مهال بنده خپل رب ته پاملرنه کوي، او هغه ته خپل نږدې والی را په زړه کوي تر دې چې هغه یې ګوري، که چیرته ورته دا ستونزمن و نو له الله تعالی څخه دې د دې کار لپاره په الله تعالی د داسې ایمان مرسته وغواړي لکه هغه یې چې ګوري او هغه ته یې پټ او ښکاره، باطن او ظاهر ښکاري او له هغه څخه یې هیڅ شی پټ ندی [۲۸۸] .

نو بنده چې کله دې مرتبې ته ورسیږي، هغه په اخلاص سره د خپل رب عبادت کوي، له هغه پرته بل چاته پام نه کوي، نه د خلکو د ستاینې انتظار لري او نه یې له ملامتیا څخه ویریږي، ځکه همدا ورته بسنه کوي چې خپل رب له ځان څخه راضي کړي، او خپل مولا یې ستاینه وکړي.

هغه داسې یو انسان دی چې ښکاره او پټ یې سره برابر دي، ځانته او په ډله کې د خپل رب عبادت کوونکی دی، پوره یقین لري چې الله تعالی هغه څه ګوري چې د ده زړه یې پټ ساتي او یا یې په نفس کې وسوسه پیدا کیږي، ایمان یې په زړه ولکه اچولې ده، او د خپل رب د څار احساس

---

[227] امام احمد په خپل مسند، 1 ټوک، 293 مخ او الترمذي په خپل سنن کې أبواب القیامة ، څلورم ټوک، 76 مخ کې روایت کړی دی.

کوي؛ نو غړي يې خپل پروردګار ته تسليم دي، داسې عمل پرې کوي چې الله تعالی يې خوښوي او پرې راضي کيږي، او خپل رب ته تسليم دی.

او دا چې زړه يې د خپل رب سره تړاو لري نو له مخلوق څخه مرسته نه غواړي، ځکه چې هغه په الله تعالی باندې له مخلوق څخه مستغني دی، او انسان ته شکايت نه کوي، ځکه چې خپله اړتيا يې الله پاک ته وړاندې کړې ده او هغه ورته مرسته کوونکی بسنه کوي. او په هيڅ ځای کې نه وېرېږي، او نه له چا څخه د وېرې احساس کوي؛ ځکه هغه پوهيږي چې الله تعالی په هر حال کې ورسره دی، او هغه ورته بسنه کوي او هغه تر ټولو غوره مرسته کوونکی دی، هغه څه نه پريږدي چې الله پرې ورته امر کړی وي او د الله تعالی نافرماني نه کوي. ځکه چې هغه د الله تعالی څخه شرميږي، او د هغه له لاسه ورکول نه خوښوي چې داسې يو کار پريږدي چې هغه يې ورته امر کړی وي، يا داسې يو کار وکړي چې هغه ترې منع کړی وي، او په مخلوقاتو ظلم او تيری نه کوي او نه يې حق اخلي؛ ځکه هغه پوهيږي چې الله تعالی يې ګوري، او دا چې هغه پاک ذات به يې ورسره د کړنو حساب وکړي. او په ځمکه کې فساد نه کوي؛ ځکه هغه پدې پوهيږي چې پدې ځمکه کې چې څومره خيراتونه او ښېګڼې دي د الله تعالی ملکيت دی چې د خپلو بنده ګانو په اختيار کې يې ورکړي دي، نو د خپلې اړتيا په اندازه ترې اخلي، او د خپل رب شکر ادا کوي چې ده ته يې پرېمانه کړي. هغه څه چې مې تاسو ته ذکر کړل او تاسو ته مې پدې کتابګي کې وړاندې کړل؛ نور څه ندي مګر د اسلام له مهمو کارونو او سترو رکنونو څخه دي، دا هغه رکنونه دي چې که يو بنده پرې ايمان ولري او عمل پرې وکړي، مسلمان جوړيږي، کنه نو اسلام - لکه څنګه چې ما تاسو ته وويل - دين او دنيا، عبادت او د ژوند تګلاره ده، دا يو هر اړخيز بشپړ الهي نظام دی، په خپلو قوانينو کې يې هر هغه څه رانغاړلي دي چې فرد او امت ورته په برابره توګه د ژوند په ټولو عقيدوي، سياسي، اقتصادي، ټولنيزو او امنيتي اړخونو کې اړتيا لري.. په دې کې انسان داسې قواعد، اصول او احکام مومي چې سوله او جګړه او واجبه حقوق تنظيموي، او د انساني کرامت، د مرغانو، حيواناتو او شاوخوا چاپېريال ساتنه کوي، او هغه ته د انسان، ژوند، مرګ او له مرګ څخه وروسته بيا ژوندي کيدلو حقيقت بيانوي، او هغه په - همدې کې - د هغه په شاوخوا کې د خلکو سره د چلند لپاره غوره لار مومي، لکه د الله تعالی پدې وينا کې:

﴿... وَقُولُواْ لِلنَّاسِ حُسۡنًا ...﴾ [البقرة: 83]

228 (او خلقو ته ښايسته خبرې کوئ)، او د الله تعالی دا وينا:

﴿... وَٱلۡعَافِينَ عَنِ ٱلنَّاسِۗ ...﴾ [آل عمران: 134]

229 (او خلقو ته معافي کوونکي)، او د الله تعالی دا وينا:

﴿... وَلَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ شَنَـَٔانُ قَوۡمٍ عَلَىٰٓ أَلَّا تَعۡدِلُواْۚ ٱعۡدِلُواْ هُوَ أَقۡرَبُ لِلتَّقۡوَىٰۖ ...﴾ [المائدة: 8]

230 (او د يو قوم بغض دې تاسو دې ته راپورته نه کړي چې تاسو عدل ونه کړئ، عدل کوئ، دا تقوا ته ډېر نژدې دی).

دا چې د دې دين مرتبې او د هرې مرتبې ارکان مو وړاندې کړل، ښه به وي چې د فضايلو په اړه يې يو لنډيز وړاندې کړو.

## د اسلام له فضيلتونو )ښېګڼو (ثخه ]292:[

قلم د اسلام د ښايستونو د احاطې توان نه لري او د دې دين د فضيلت په بيانولو کې عبارتونه کمزوری دي چې حق يې ادا کړي، دا ځکه چې همدا د الله تعالی دين دی، لکه څرنګه چې سترګې الله تعالی په خپله احاطه کې نشي راوستلای، داسې بشر هم هغه په خپل علم کې نشي راوستلای. همدارنګه يې شريعت دی چې قلم يې په توصيف سره احاطه نشي کولای. او ابن القيم رحمه الله فرمايلي: (او که تاسو د دې صحيح دين، حنيفي ملت، او محمدي شريعت عالي حکمت ته پام وکړئ چې عبارتونه يې کمال نشي بيانولای، او نه يې توصيف ښکلا بيانولای شي، او نه يې د هوښيارانو عقلونه - که څه هم دوی سره د يو عاقل سره په فکر سره راغونډ شي - ښکلا درک کولای شي، او بشپړو عقلونو ته دا بسنه کوي چې ښکلا يې درک کړي، او په غوره والي يې ګواهي ورکړي، او دا چې نړۍ د دې په څېر بل بشپړ، لوی او عزتمن شريعت ندی ليدلی .. او که

---

228 البقرة سورت 83 آيت.

229 آل عمران سورت 134 آيت.

230 المائدة سورت 8 آيت.

رسول پرې دلیل هم نه و راوړی نو پخپله یې د دلیل، ثبوت او ګواه په حیث بسنه کوله چې د الله تعالی لخوا دی او دا تړول یې د پوهې په بشپړتیا، د حکمت په بشپړتیا، د رحمت، نیکۍ او احسان په پراختیا ګواهي ورکوي، او دا چې په پټو او ښکاره و یې احاطه کړې او له پیله او پای څخه خبر دی، او دا چې دا شریعت د الله تعالی پر بندګانو د هغه له سترو نعمتونو څخه دی، نو هغه پر دوی لدې بله لویه لورینه نده کړې چې دوی ته یې لارښوونه کړې او دوی یې د دې ورګرځولي دي، او له هغه چا څخه یې ګرځولي چې دا شریعت یې ورته غوره کړی دی، لدې امله یې په خپلو بندګانو باندې د لورینې یادونه کړې چې دې دین ته یې د هغوی لارښوونه کړې ده، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿لَقَدۡ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ إِذۡ بَعَثَ فِيهِمۡ رَسُولٗا مِّنۡ أَنفُسِهِمۡ يَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِهِۦ وَيُزَكِّيهِمۡ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَإِن كَانُواْ مِن قَبۡلُ لَفِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ١٦٤﴾ [آل عمران: 164]

[231] (خامخا په رښتیا سره الله په مومنانو باندې احسان کړی دی کله چې یې دوی ته د همدوی له نفسونو (جنس) څخه یو رسول راولیږه، چې دوی ته د هغه آیتونه تلاوت کوي او دوی پاکوي او دوی ته د کتاب او حکمت (سنت) تعلیم ورکوي او یقینًا دوی له دې نه مخکې په ښکاره ګمراهۍ کې وو). او هغه خپلو بندګانو ته د معرفي کولو او په دوی باندې د هغه د لوی احسان یادونه وکړه او دوی یې د هغه د شکر کولو ته راوبلل چې دوی یې د دې شریعت ورګرځولي دي:

﴿... ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ ...﴾ [المائدة: 3]

[232] (نن ورځ ما تاسو ته ستاسو دین مکمل کړ).

الله تعالی ته پر دې دین د شکر ویستلو لپاره چې پر مونږ یې لورینه کړې دا دی چې ځینې فضیلتونه یې بیان کړو، نو وایو:

---

[231] آل عمران سورت 164 آیت.

[232] مفتاح دار السعادة ، 1ټوک، 374-375 مخونه، او له المائدې سورت څخه 3 آیت.

## ۱- دا چې دا د الله دين دی:

دا هغه دين دی چې الله تعالی د ځان لپاره خوښ کړی، په هغه سره يې خپل پيغمبران راليږلي او خپل مخلوق ته يې اجازه کړې چې د هغه عبادت پرې وکړي، لکه څنګه چې خالق د مخلوق سره مشابهت نه لري، نو د هغه دين چې اسلام دی، د بشريت له قوانيو او دينونو سره ورته والی نه لري، او لکه څنګه چې هغه پاک ذات د بشپړ کمال ځانګړتيا لري، نو د هغه دين هم په هغه قوانينو باندې عمل کولو کې بشپړ کمال لري چې د خلکو د ژوند او بيا راژوندي کېدلو او د خالق حقونه پر بنده ګانو او د بندګانو يو پر بل د حقونو او وجايبو چارې سمبالوي.

## ۲- شموليت (هر اړخيزوالی)

د دې دين له مهمو ځانګړتياوو څخه د دې هر اړخيزوالی دی. الله تعالی فرمايي:

﴿... مَّا فَرَّطْنَا فِي ٱلْكِتَٰبِ مِن شَيْءٍۚ ...﴾ [الأنعام: 38]

[233] (مونږ په کتاب (لوحِ محفوظ) کې هېڅ شی (بې ليکلو) ندی پرېښی). نو دا دين هر هغه څه ته شامل دی چې د الله تعالی سره تړاو لري لکه: د الله تعالی نومونه، صفتونه او حقوق، او هر هغه څه چې د مخلوق سره تړاو لري لکه: قوانين، مکلفيتونه، اخلاق او تعامل، او دې دين د لومړنيو او ورستيو خلکو، ملائکو، انبياوو او رسولانو احوال رانغاړلي دي، او له اسمان، ځمکې، سيارو، ستورو، بحرونو، ونو، کايناتو، د مخلوقاتو د پيدايښت پيل او پای، د جنت او دوزخ يادونه، د مؤمنانو برخليک، او د اور او کافرانو له پای څخه خبرې کوي.

## 3 - مخلوق خالق ته رسوي :

هر باطل دين او هره فرقه دا ځانګړتيا لري چې انسان د خپل ځان په څېر انسان ته رسوي چې مرګ، ضعف، ناتواني او ناروغي پرې راځي، بلکې کيدای شي هغه د هغه چا سره وصل کړي چې سلګونه کاله مخکې مړ شوی وي او هډوکي او خاوره ګرځېدلي وي... او د اسلام دين دا ځانګړتيا لري چې انسان په مستقيم ډول خپل خالق ته رسوي، نه قسيس او نه پادري او نه مقدس راز ته؛ بلکه: دا د خالق او مخلوق تر منځ مستقيمه اړيکه ده؛ هغه اړيکه چې عقل له

---

[233] الأنعام سورت 38 آيت.

خپل رب سره نښلوي، نو روښانه کيږي، لار ورته ښودل کيږي،لوړيږي او د بشپړتيا په لټه کې کيږي، او له هر سپک او ناوړه کار څخه لرې کيږي، ځکه هر زړه چې له خپل خالق سره اړيکه ونه لري، هغه له څارويو څخه هم ډېر ګمراه دی.

دا د خالق او مخلوق تر منځ داسې اړيکه ده چې په وسيله يې د الله تعالی په مراد پوهيږي، نو په بصيرت سره يې عبادت کوي، او د هغه د خوښۍ ځايونه پېژني نو په لټه کې کيږي يې، او د ناخوښۍ ځايونه يې پيژني نو ډډه ترې کوي.

او هغه د لوی خالق او کمزوري او بيوزله مخلوق تر منځ اړيکه ده، نو له هغه څخه مرسته او توفيق غواړي او سوال ورڅخه کوي تر څو يې د مکر کوونکو له دوکې او د شيطانانو له عبثياتو څخه وساتي.

## ۴- د دنيا او آخرت د ګټو په پام کې نيول :

اسلامي شريعت د دنيا او آخرت د ګټو په نظر کې نيولو او د ښو اخلاقو د تکامل پر بنسټ ولاړ دی.

د آخرت د ګټو بيان: نو دې شريعت يې وجوهات بيان کړي او بې پروا ورڅخه ندی پاتې شوی، بلکې تشريح کړی او روښانه کړي يې دي تر څو ترې کوم شی مجهول پاتې نه شي، نو په آخرت کې يې په نعمتونو وعده ورکړې او له عذاب څخه يې ويرول کړې دي.

او د دنيوي ګټو د بيان خبره داسې ده: چې الله تعالی پدې دين کې هغه څه وضع کړي دي چې د انسان لپاره د هغه دين، نفس، مال، نسب، عزت او د هغه عقل ساتلی دی.

او د غوره اخلاقو د بيان خبره داسې ده: چې په ظاهر او باطن کې يې پرې امر کړی او له ناوړه اخلاقو څخه يې منع کړې ده، د غوره ظاهري مکارمو څخه، نظافت او پاکوالی دی او له چټليو او ناپاکيو څخه ډډه کول دي. هغه د خوشبويي لګولو او ظاهري بڼې د ښکلا سپارښتنه کړی او له نجاستونو لکه زنا، شراب څښل او د مردارې، وينې او د خنزير د غوښې له خوړلو څخه منع کړی ده. او باطني نظافت له ناوړه اخلاقو څخه ځان ژغورلو او په ستايل شوو اخلاقو ځان سمبالولو ته ورګرځي. ناوړه اخلاق لکه: دروغ، بد اخلاقي، غوسه، حسد، بخل، د يو کس سپکاوی، د منصب سره مينه، د دنيا سره مينه، کبر، ځانته مغرور کيدل او ځان ښودنه. او د ستايل شوو اخلاقو له جملې څخه: ښه اخلاق، له خلکو سره ښه ملګرتيا او د هغوی سره احسان کول،

انصاف، عاجزي، صداقت، د نفس عزت، د الله په لار کې د مال ورکړه، پر الله توکل، اخلاص، له الله تعالی څخه وېره، صبر او شکر دي[۲۹۶] .

## 5 - اساني :

د دې دین له ځانګړتیاوو څخه یو دا ده چې؛ په هره شعیره (عبادت) کې یې اسانتیا ده،او هر یو عبادت یې اسان دی، الله تعالی فرمايلي:

﴿... وَمَا جَعَلَ عَلَيۡكُمۡ فِي ٱلدِّينِ مِنۡ حَرَجٖۚ ...﴾ [الحج: 78]

234 (او په تاسو باندې يې په دين كې هېڅ حرج (مشقت) ندى ايښى). لومړۍ اسانتیا یې دا ده چې څوک غواړي چې په دې دین کې داخل شي نو د کوم انسان منځګړیتوب او یا پخوانۍ پېژندګلوۍ ته اړتیا نه لري، بلکې يوازې پرې لازم دي چې ځان پاک او نظيف کړي، او پدې ګواهي ورکړي چې په حقه د عبادت وړ ذات نشته مګر يو الله دی او دا چې محمد صلی الله عليه وسلم د الله رسول دی، او د دې - دواړو ګواهيو- په عقيده باور ولري او په غوښتنو يې عمل وکړي.

بيا په هر عبادت کې اساني او تخفيف شته د بيلګې په توګه کله چې يو څوک سفر وکړي يا ناروغ شي، نو هغه ته دومره عمل ليکل کيږي لکه د روغتيا پر مهال يې چې کاوه، بلکې د مسلمان ژوند اسان او ډاډمن ګرځي، د کافر د ژوند پر خلاف؛ ځکه د هغه ژوند تنګستيا او سختي ده. همدا ډول د مؤمن مړينه اسانه وي، نو روح به يې داسې وځي لکه څاڅکی چې له لوښي څخه راوځي، الله تعالی فرمايلي:

﴿ٱلَّذِينَ تَتَوَفَّىٰهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ طَيِّبِينَ يَقُولُونَ سَلَٰمٌ عَلَيۡكُمُ ٱدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ٣٢﴾

[النحل: 32]

235 (هغه كسان چې ساه اخلي (روح قبض كوي) د دوى نه ملايک ، په داسې حال كې چې دوى پاک ( مؤمنان) وي ، ملائک ورته وايى : سلامونه دې وي پر تاسو ور داخل شئ

---

234 الحج سورت 78 آیت.

235 النحل سورت 32 آیت.

جنت ته په سبب د هغه عملونو چې تاسو کول). او د کافر د مړينې پر مهال دوه ملايکې چې سختې او غصه ناکې وي حاضرېږي او په قمچينو يې وهي، څښتن تعالی فرمايلي:

﴿... وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِي غَمَرَٰتِ ٱلۡمَوۡتِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ بَاسِطُوٓاْ أَيۡدِيهِمۡ أَخۡرِجُوٓاْ أَنفُسَكُمُۖ ٱلۡيَوۡمَ تُجۡزَوۡنَ عَذَابَ ٱلۡهُونِ بِمَا كُنتُمۡ تَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ غَيۡرَ ٱلۡحَقِّ وَكُنتُمۡ عَنۡ ءَايَٰتِهِۦ تَسۡتَكۡبِرُونَ ٩٣﴾ [الأنعام: 93]

(او که چېرې ته ووينې کله چې ظالمان د مرګ په سختيو کې (ګېر) وي او ملايکو خپل لاسونه وراوږده کړي وي (او ورته وايي) تاسو خپلې ساه ګانې راوباسئ، نن ورځ به تاسو ته د سپکوونکي عذاب سزا درکولی شي، په سبب د هغې ناحقه وينا چې تاسو به په الله باندې تپله، او تاسو به د ده د آيتونو له قبلولو نه انکار او تکبر کاوه). او (الله) تعالی فرمايي:

﴿وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذۡ يَتَوَفَّى ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَضۡرِبُونَ وُجُوهَهُمۡ وَأَدۡبَٰرَهُمۡ وَذُوقُواْ عَذَابَ ٱلۡحَرِيقِ ٥٠﴾ [الأنفال: 50]

(او که چېرې ته ووينې هغه وخت چې ملايک د کافر شويو کسانو ساګانې قبض کوي، چې د هغوی مخونه او د هغوی شاګانې وهي او (ورته وايي:) سخت سوځونکی عذاب وڅکئ).[236]

## 6 -عدالت:

هغه ذات چې اسلامي قوانين يې وضع کړي يوازې الله دی او هغه د ټولو مخلوقاتو خالق دی، سپين او تور، نر او ښځه، او هغوی د ده د قضاوت، عدالت او رحمت په وړاندې سره برابر دي. د هر يو نارينه او ښځينه لپاره يې هغه څه مقرر کړي دي چې د هغه لپاره مناسب وي، نو د شريعت لپاره دا ناشونې ده چې د ښځې په پرتله له نارينه سره احسان وکړي، يا د ښځې سره احسان وکړي او په نارينه ظلم وکړي، يا سپين سړي ته په ځانګړې نظر وګوري او تور انسان ترې

236 الأنفال سورت 50 آيت.

محروم کړي، نو ټول د الله تعالی د شریعت په وړاندې سره برابر دي، د دوی تر منځه هیڅ توپیر نشته مګر په تقوا سره.

## په نېکیو امر او له بدیو څخه منع کول:

دا شریعت یو ځانګړی د قدر وړ امتیاز لري، او عالي ځانګړتیا لري چې هغه په نېکۍ امر او له بدیو منع کول دي، نو په هر عاقل بالغ مسلمان نارینه او ښځینه باندې واجب دي چې د خپل وس مطابق د امر او منعې له مرتبو سره سم، امر او منع وکړي، هغه دا چې په لاس امر او منع وکړي، او که یې وس نه و نو په ژبه او که یې وس نه و نو په زړه سره دې وکړي ، او پدې سره به ټول امت بل امت باندې څارونکي شي، نو هر فرد مکلف دی چې په نیکۍ امر وکړي او له بدۍ منع کول وکړي، هر هغه څوک چې په نیکۍ کې پاتې راشي او بدي تر سره کړي، برابره خبره ده که هغه حاکم و او یا محکوم، د خپل وس په اندازه، او د شرعي ضوابطو سره سم دا موضوع کنټرولوي.

نو دا چاره لکه څرنګه یې چې ته ګورې په هر فرد د هغه د توان په اندازه واجب ده، پداسې حال کې چې ډېری سیاسي نظامونه پدې فخر کوي چې هغوی اپوزیسیون ته اجازه ورکوي تر څو د حکومت کاري تګلاره او رسمي نظام وڅاري.

دا د هغې ځینې فضیلتونه دي او که یې اوږدول وغواړم نو د هر عمل، هر فرض، هر حکم او هر ممانعت سره باید وقفه وشي، ترڅو یې روښانه حکمت، دقیق قانون، زیاته ښکلا دی، او بې ساري کمال ښکاره شي. او چا چې د دې دین په قوانینو کې فکر وکړ، په علم الیقین سره به پوه شي چې د الله تعالی لخوا دی او دا چې دا هغه حق دی چې شک پکې نشته، او هغه هدایت دی چې ګمراهي پکې نشته،

او که چېرته دې الله تعالی ته مخ اړاوه، او د هغه د شریعت پیروي، د هغه د پیغمبرانو په نقش قدم باندې تلل دې غوښتل نو د توبې دروازه دې پر مخ خلاصه ده، او غفور او رحیم رب دې درته بلنه درکوي تر څو درته بخښنه وکړي.

# توبه

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

[237]"د آدم ټول اولاد خطا کوونکي دي، او تر ټولو غوره خطا کوونکي هغه دي چې توبه وباسي"، او انسان په خپل ځان کې کمزوری دی، په عزم او اراده کې ضعیف دی، د خپلې ګناه پایله نشي زغملی، نو الله تعالی د خپل رحمت له مخې له انسان څخه پیټي سپک کړ، توبه یې ورته روا کړه. د توبې حقیقت داسې دی چې: د بدۍ له امله د ګناه پرېښودل، او له الله تعالی څخه د ویرې له امله، او د هغه څه په هیله چې هغه خپلو بندګانو ته چمتو کړي دي، او په هغه څه پښېمانتیا چې غفلت یې پکې کړی، او د ګناه د پرېښودلو عزم، او په نیکو عملونو سره د پاتې عمر جبرانول.[238]او دا لکه څرنګه یې چې تاسو ګورئ د بنده او د هغه د رب تر منځه یو قلبي عمل دی، چې په هغه کې نه سترتیا شته او نه لوړه، نه سختي او مشقت، بلکې دا د زړه کار دی، او د راتلونکو ګناهونو مخنیوی کوي، او په نه کولو کې یې راحت او آرامي ده[239].

نو ته اړتیا نه لري د یو بنده په لاس توبه وباسي او رسوا دې کړي، راز دې ښکاره کړي او له کمزورۍ څخه دې ګټه پورته کړي، بلکې دا یو پټ راز دی ستا او د رب تر منځه، له هغه څخه بخښنه او هدایت غواړې نو د توبې وېستلو توفیق درکوي.

نو په اسلام کې کومه میراثي ګناه نشته او نه هم له انسانانو څخه کوم یو متوقع ژغورونکی، مګر لکه څنګه چې سمه لار موندونکي استریایي یهودي محمد اسد موندلې ده چې هغه وېلي: (ما په قرآن کې په هیڅ ځای کې د "نجات" د اړتیا په اړه هیڅ یادونه ونه لیده، ځکه په اسلام کې کومه میراثي لومړۍ ګناه نشته چې د فرد او د هغه د برخلیک تر منځ خنډ جوړ شي، دا ځکه چې :

﴿وَأَن لَّيۡسَ لِلۡإِنسَٰنِ إِلَّا مَا سَعَىٰ ۝٣٩﴾ [النجم: 39]

---

[237] [۳۰۱] امام احمد په خپل مسند کې روایت کړی دی.۳ ټوک، ۱۹۸ مخ، او ترمذي په خپل سنن کې روایت کړی، ابواب صفة القیامة، ۴ ټوک، ۴۹ مخ، او ابن ماجه په کتاب الزهد ۴ټوک، ۴۹۱ مخ کې.

[238] المفردات في غریب القران، 76 مخ، په لږ څه تصرف سره.

[239] الفوائد د ابن القیم ، 116 مخ.

[240] (او دا چې د انسان لپاره نشته مګر هغه څه چې ده (يې) کوښښ کړی دی)، او له انسان څخه نه غواړي چې قرباني وړاندې کړي، يا ځان ووژني تر څو ورته د توبې دروازه خلاصه شي او له ګناه څخه خلاص شي ) [241]بلکې لکه څرنګه چې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿أَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ۝٣٨﴾ [النجم: 38]

[242] (چې هېڅ پورته کوونکی د بل بار نه پورته کوي).

توبه سترې اغېزې او ميوې لري چې له ځينو څخه يې يادونه کوو:

1- دا چې بنده په پټه د الله تعالى د زغم او کرم پراختيا وپېژني، او دا چې که هغه غوښتلای نو په بېړه به يې په ګناه نيولی و او بندګانو ته به يې رسوا کړی و، او ژوند به يې د هغوی سره خوند نه ورکاوه، بلکې پرده يې پرې واچوله، او په خپل حلم سره يې پټ کړ، او مهلت او قوت، رزق او څواک يې ورکړ.

2- دا چې د خپل ځان په حقيقت پوه شي چې په بدۍ امر کوونکی نفس دی، او دا چې له ده څخه کومه ګناه، خطاء، او کوتاهي شوېده د ده د نفس په کمزورۍ او له حرامو شهواتو څخه په صبر نه کولو دلالت کوي، او دا چې له الله تعالى پرته د سترګو د رپ په اندازه هم بله چاره نشته، تر څو خپل نفس پاک کړي او لارښوونه ورته وکړي.

4- الله تعالى توبه روا کړې ده تر څو پرې بنده د خوشحالۍ ستر اسباب تر لاسه کړي چې هغه الله تعالى ته رجوع کول او له هغه څخه مرسته غوښتل دي، لکه څرنګه چې په توبې سره ډول ډول عبادتونه کيږي لکه: دعاء، عاجزي، ناتواني، فقر، محبت، وېره او اميد، نو نفس خپل خالق ته په ځانګړي توګه نږدې شي، او دا کار ورته له توبې او الله تعالى ته له رجوع کولو پرته ناشونی دی.

4 - چې الله تعالى ورته تېر ګناهونه وبخښي، الله تعالى فرمايلي:

---

[240] النجم سورت 39 آيت.

[241] الطريق إلى الإسلام، محمد اسد، 140 مخ، په لږ څه تصرف سره.

[242] النجم سورت 38 آيت.

﴿قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِن يَنتَهُواْ يُغۡفَرۡ لَهُم مَّا قَدۡ سَلَفَ...﴾ [الأنفال: 38]

[243] (ته هغو کسانو ته ووایه چې کفر یې کړی دی، که چېرې دوی منع شي، (نو) دوی ته به د هغو (ګناهونو) بخښنه وشي چې مخکې شوي دي)

5 - چې د انسان بدیانې په نېکیو سره بدلې شي، الله تعالی فرمایلي:

﴿إِلَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ عَمَلٗا صَٰلِحٗا فَأُوْلَٰٓئِكَ يُبَدِّلُ ٱللَّهُ سَيِّـَٔاتِهِمۡ حَسَنَٰتٖۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ٧٠﴾ [الفرقان: 70]

[244] (مګر هغه کس چې توبه وباسي او ایمان راوړي او نېک عمل وکړي، نو دغه کسان دي چې الله به د دوی بدۍ په نېکۍ سره بدلې کړي او الله له ازله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی).

6- دا چې انسان د نورو انسانانو سره - د هغوی سره په بدۍ کولو کې - هغه ډول چلند وکړي چې غواړي الله تعالی یې لده سره د ده د بدیو، خطاګانو او ګناهونو په بدل کې وکړي؛ ځکه جزا د عمل له جنس څخه وي، نو کله چې انسان دا ډول نیک تعامل وکړ همداسې به ورسره د خپل رب لخوا وشي، او الله تعالی هغه ذات دی چې ده سره د ده د ګناهونو په بدل کې نیکي کوي، لکه څرنګه چې به ده د بندګانو د بدیو په بدل کې کول،

8- پدې پوه شي چې نفس یې ډېرې نیمګړتیاوې او عیبونه لري، نو داېې اړباسي چې د خلکو له عیبونو څخه ځان ونیسي، او په فکر کولو سره د خپل ځان په اصلاح د نورو د عیبونو له پلټلو څخه بوخت شي [٣٠٩] .

او دا فقره د یو سړي په کیسې سره پای ته رسوم چې نبی صلی الله علیه وسلم ته راغی او ویې ویل:

---

[243] الأنفال سورت 38 آیت.

[244] الفرقان، 70 آیت.

245 (اې د الله رسوله هيڅ وړه او غټه ګناه مې نده پرېښې مګر دا چې تر سره کړې مې ده، هغه ورته وفرمايل: ايا ته ګواهي نه ورکوې چې نشته دی حق معبود مګر يو الله دی، او دا چې محمد د الله رسول دی؟ درې ځلې، هغه وويل: هو ( يعنې دا ګواهي ورکوم) نو هغه ورته وفرمايل: هغه به هغې سره راځي، او په يو بل روايت کې دي: يقينا چې دا به هغو ټول راځي ، يعنې ټول پرې بخښل کيږي).

او په يو بل روايت کې راغلي دي چې هغه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغی او ورته يې وويل:

246 (کله دې چې يو سړی وليده چې ټول ګناهونه يې کړي دي او له الله سبحانه وتعالی سره يې هيڅ شرک نه وي کړی او هغه هېڅ داسې وړه او لويه ګناه نه وي پرېښې مګر دا چې تر سره کړې يې وي، نو آيا د ده لپاره توبه شته؟ ويې فرمايل: آيا اسلام دې راوړی دی؟ ويې ويل: زه شاهدي ورکوم چې له الله پرته بل معبود نشته، يو دی او شريک نه لري، او دا چې ته د الله رسول يې. ويې فرمايل: هو! چې ښه کارونه وکړې او بدۍ پرېږدې نو الله تعالی به درته ټول نيک وګرځوي، هغه وويل: زما خيانتونه او بې حياياني؟ هغه وفرمايل: هو. هغه وويل: الله لوی دی. او تر هغه يې تکبيرونه وييل چې پناه شو)[٣١١] .

اسلام هغه - ګناهونه - له منځه وړي چې له هغه څخه مخکې وي، او صادقانه توبه هغه څه له منځه وړي چې مخکې ترې وو، لکه څرنګه چې پدې سره د رسول الله صلی الله عليه وسلم حديث ثابت دی.

---

245 [٣١٠] ابو يعلى په خپل مسند، ۶ ټوک، ۱۵۵مخ کې او الطبراني په المعجم الاوسط ۷ ټوک ۱۳۲مخ او د الصغير: ۲ ټوک، ۲۰۱ مخ . او الضيا د المختاره په: ۵ ټوک: ۱۵۱، ۱۵۲ مخونو کې روايت کړی دی، او فرمايلي يې دي: أبو يعلى او البزار په همدې ډول روايت کړی دی، او همدا رنګه الطبراني په صغير او اوسط کې روايت کړی او رجال يې ثقات دي.

246 [٣١١] ابن ابي عاصم په الاحاد او المثاني کې روايت کړی 5 ټوک، 188مخ. او الطبراني په الکبير کې ۷ ټوک، ۵۳ او ۳۱۴ مخونه، او الهيثمی په المجمع ۱ ټوک، ۳۲ مخې کې ويلي : الطبراني او البزار هم په همدې توګه روايت کړی دی، او د البزار رجال د صحيح رجال دي پرته له محمد بن هارون أبو نشيط څخه او هغه ثقه دی.

# د هغه چا انجام چې په اسلام پابندي نه کوي

لکه څرنګه چې درته پدې کتاب کې روښانه شوه چې اسلام د الله تعالی یوازینی دین دی، او هغه حق دین دی، هغه دین دی چې ټولو انبیاوو پرې راتګ کړی دی، او چا چې پرې ایمان راوړ نو الله تعالی ورته لوی اجرونه تیار کړي دي، او هغه څوک یې په عذاب سره ګواښلی دی چې پرې کافر شو.

او څرنګه چې الله تعالی د دې کائناتو خالق، مالک او پکې تصرف کوونکی دی، او ته، اې انسانه، د هغه له مخلوقاتو څخه یو مخلوق یې، ته یې پیدا کړی یې او ټول هغه څه چې پدې کائناتو کې هغه یې ستا تابع کړي دي، او تاته یې خپل قوانین جوړ کړي او په خپلې پیروۍ یې درته امر کړی دی. نو که چېرته دې ایمان راوړ، او د هغه څه پیروي دې وکړه چې امر یې درته پرې کړی دی، او له هغه څه منع شوې چې ترې یې منع کړی یې، نو هغه څه دې وګټل چې الله تعالی یې درسره په آخرت کې له تلپاتې نعمتونو څخه وعده کړې ده، او په دنیا کې د هغو ډول ډول نعمتونو په درلودلو سره نیکبخته شوې چې هغه به یې دربانديې لورینه کوي، او په انسانانو کې به هغه چاته ورته شې چې تر ټولو بشپړ عقلونه او پاکیزه نفسونه لري او هغوی رسولان، صالحان او مقربې ملایکې علیهم السلام دي.

او که چېرته کافر شوې او سرغړونه دې وکړه؛ نو دنیا او آخرت دواړه دې له لاسه ورکړل او په دنیا او آخرت کې د هغه د قهر او عذاب مستحق وګرځیدې، او ته په مخلوقاتو کې د تر ټولو فاسق، کم عقلو او بې حیثیته انسانانو په څېر شوې چې هغوی ظالمان، فاسدان او شیطانان دي، دا یې لنډیز دی.

او زه به تاسو ته د کفر ځینې پایلې په تفصیل سره بیان کړم چې په لاندې ډول دي:

## ۱- وېره او ناامني:

الله تعالی له هغو کسانو سره د بشپړ امنیت وعده کړې چې په هغه یې ایمان راوړی او د هغه د رسولانو پیروي یې په دنیا او آخرت کې کړې ده، الله تعالی فرمايلي:

﴿ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَمۡ يَلۡبِسُوٓاْ إِيمَٰنَهُم بِظُلۡمٍ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلۡأَمۡنُ وَهُم مُّهۡتَدُونَ٨٢﴾ [الأنعام: 82]

[247] (هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او له خپل ایمان سره یې ظلم (شرک) نه دی ګډ کړی (، نو) دغه کسان دي چې د همدوی لپاره (له عذاب نه) امن (بچ کېدل) دي او دغه کسان هدایت موندونکي دي)، الله تعالی امن ورکوونکی او غالب دی او هغه په کایناتو کې د ټولو شیانو مالک دی، نو که په هغه د ایمان راوړلو له امله یې د خپل بنده سره مینه وکړه، نو هغه ته امنیت، ډاډ او سکون ورکوي، او کله چې بنده پرې کافر شو، نو له هغه څخه خپل ډاډ او سکون اخلي، نو تاسو به هغه ګورئ چې په آخرت کې به له خپل برخلیک څخه په وېره کې وي، او په خپل ځان به له آفتونو او ناروغیو څخه وېره لري، او په دنیا کې به د خپل راتلونکي په اړه وېره لري؛ له همدې امله، د ځان او ملکیتونو د ساتنې لپاره د بیمې بازار ګرم دی، د امنیت د نشتوالی، او په الله تعالی د باور د نشتوالي له امله.

## ۲- ستونزمن ژوند:

الله تعالی انسان پیدا کړی او د کائناتو هر څه یې د هغه تابع ګرځولي دي، او هر مخلوق ته یې د هغه د رزق او ژوند برخه تقسیم کړې ده، تاسو مرغان ګورئ چې له خپلې ځالې څخه د خپل رزق موندلو لپاره سهار مهال راوځي او پیدا کوي یې، له یوې ځانګې څخه بلې ځانګې ته الوځي او ښایسته اوازونه کوي، او انسان هم لدې مخلوقاتو څخه یو مخلوق دی چې روزي او نېټه ورته ټاکل شوې ده، نو که چېرته یې په خپل رب ایمان راوړ او د هغه په شریعت ثابت قدمه پاتې شو، نو هغه ته به خوښي او استقامت ورکړي او چارې به یې ورته اسانه کړي، که څه هم د ژوند لږ امکانات ورسره شتون ولري. او که چېرته یې په خپل رب کفر وکړ او د هغه د عبادت په وړاندې یې لویي وکړه، نو ژوند به یې پرې تنګ کړي او غمونه او خفګانونه به پرې راټول کړي، که څه هم په ژوند کې د راحت لپاره بېلابېل ټول وسائل په اختیار کې ولري. ایا تاسو په هغو هیوادونو کې د ځان وژنې لوی شمیر نه ګورئ چې د خپلو خلکو لپاره یې د آرامۍ ټولې لارې تضمین کړې دي؟ آیا ته له ژوند څخه د خوند اخیستلو لپاره د فرنیچر په ډولونو او د سفر په ډولونو کې اسراف نه وینې؟ هغه څه چې پدې کې د اسراف لامل ګرځي هغه له ایمان څخه د زړه تشوالی، او د تشویشونو او اضطراب احساس دی، او د دې هڅه ده چې دې هر څه ته په وسایلو سره بدلون ورکړي، او رښتیا فرمایلي دي الله تعالی چې وایې:

---

[247] الأنعام سورت 82 آیت.

﴿وَمَنۡ أَعۡرَضَ عَن ذِكۡرِي فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةٗ ضَنكٗا وَنَحۡشُرُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ أَعۡمَىٰ ١٢٤﴾ [طه: 124]

[248] (او هغه څوک چې زما له ذکر (قرآن) نه مخ وګرځوي، نو بېشکه د ده لپاره ډېر تنګ ګذران (او ژوند) دی او دی به مونږ د قيامت په ورځ ړوند راپورته کوو).

## ٣- هغه له خپل ځان او شاوخوا کائناتو سره په ټکر کې ژوند کوي:

دا ځکه چې هغه په فطرتي توګه د توحيد له عقيدې سره پيدا شوی دی، الله تعالی فرمايلي:

﴿... فِطۡرَتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِي فَطَرَ ٱلنَّاسَ عَلَيۡهَاۚ ...﴾ [الروم: 30]

[249] [(تاسو لازم ونيسئ) د الله هغه فطرت لره چې په هغه يې خلق پيدا کړي دي]. او بدن يې خپل خالق ته تسليم شوی او د هغه په نظام روان دی، خو کافر نه غواړي مګر دا چې د خپل فطرت سره په ټکر کې پاتې شي، او په خپلو اختياري چارو کې د خپل رب له امر سره په ټکر کې وي، نو دا چې ځان يې تسليم شوی دی او په اختياري کارونو کې په ټکر کې دی.

او هغه د خپل ځان شاوخوا کايناتو سره په ټکر کې دی؛ ځکه چې دا ټول کاينات د خپلو لويو کهکشانونو څخه تر کوچنيو حشراتو پورې د هغه د فرمان سره سم پرمخ ځي په هغه ډول چې رب يې ورته مقرر کړي دي، الله تعالی فرمايلي:

﴿ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ وَهِيَ دُخَانٞ فَقَالَ لَهَا وَلِلۡأَرۡضِ ٱئۡتِيَا طَوۡعًا أَوۡ كَرۡهٗا قَالَتَآ أَتَيۡنَا طَآئِعِينَ ١١﴾ [فصلت: 11]

[250] (بيا يې د اسمان په طرف اراده وکړه، په داسې حال کې چې هغه يو لوګی و، نو هغه (الله تعالی) ده ته او ځمکې ته وويل: تاسو دواړه راشئ، په خپلې خوښې سره، يا په زور

---

[248] طه سورت 124 آيت.

[249] الروم سورت 30 آيت.

[250] فصلت سورت 11 آيت.

سره، دواړو وویل: مونږ په خوښۍ سره فرمان منوونکي راغلو). بلکې دا کاینات له هغه چا سره مینه لري چې د الله تعالی په اطاعت کې د هغه سره موافق وي او له هغه چا څخه نفرت کوي چې د هغه مخالفت کوي. لدې امله اسمانونه، ځمکې او نور مخلوقات حق لري چې کرکه ورڅخه ولري او د هغه له کفر او بې دینۍ څخه کرکه ولري، الله تعالی فرمايي:

﴿وَقَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱلرَّحۡمَٰنُ وَلَدٗا ٨٨ لَّقَدۡ جِئۡتُمۡ شَيۡـًٔا إِدّٗا ٨٩ تَكَادُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ يَتَفَطَّرۡنَ مِنۡهُ وَتَنشَقُّ ٱلۡأَرۡضُ وَتَخِرُّ ٱلۡجِبَالُ هَدًّا ٩٠ أَن دَعَوۡاْ لِلرَّحۡمَٰنِ وَلَدٗا ٩١ وَمَا يَنۢبَغِي لِلرَّحۡمَٰنِ أَن يَتَّخِذَ وَلَدًا ٩٢ إِن كُلُّ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ إِلَّآ ءَاتِي ٱلرَّحۡمَٰنِ عَبۡدٗا ٩٣﴾ [مريم: 88-93]

(او دغه (کافران) وايي: رحمان د ځان لپاره اولاد نیولی دی. یقینًا یقینًا تاسو ډېره لویه د ګناه خبره وکړه. نژدې دي چې اسمانونه له دې نه وچوي او ځمکه ټوټې ټوټې شي او غرونه راولوېږي ذرې ذرې. په دې خبره چې دوی د رحمان لپاره اولاد وباله. او رحمان ته نه ښايي چې اولاد ونیسي نه دي دغه هر یو چې په اسمانونو او ځمکه کې دي مګر رحمٰن ته راتلونکي دي، په دې حال کې چې بنده به وي) [251]، او د فرعون او د هغه د لښکر په اړه یې وفرمایل:

﴿فَمَا بَكَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلسَّمَآءُ وَٱلۡأَرۡضُ وَمَا كَانُواْ مُنظَرِينَ ٢٩﴾ [الدخان: 29]

[252] (نو په دوی اسمان او ځمکې ونه ژړل او نه دوی ته مهلت ورکړی شوي وو).

## ۴- دا چې هغه په ناپوهۍ کې ژوند کوي:

ځکه چې کفر جهالت دی، بلکې تر ټولو لوی جهالت دی. ځکه چې کافر له خپل رب نه ناخبره دی، هغه دا کاینات ګوري چې د هغه رب په بې ساري توګه پیدا کړي دي، او هغه له خپل ځان څخه یو لوی کار او لوی مخلوق ویني، نو پدې نه پوهیږي چې دا چا پیدا کړي دي او د ده نفس چا ترکیب کړی دی، آیا دا په خپله تر ټولو لویه ناپوهي نده؟

---

[251] مريم سورت 88،93 آیتونه.

[252] الدخان سورت 29 آیت.

## ۵- چې په خپل ځان او شاوخوا خلکو ظلم کوونکی ژوند وکړي :

ځکه چې هغه خپل ځان د هغه څه تابع کړی چې د هغه لپاره پیدا شوی ندی، او د خپل رب عبادت یې ندی کړی، بلکې له هغه پرته یې د بل چا عبادت کړی، او ظلم په بې ځایه ځای کې د یو څه ځای پر ځای کولو ته وایي، او کوم ظلم به لدې څخه لوی وي چې عبادت له مستحق ذات پرته بل چاته وګرځول شي. لقمان الحکیم د شرک د کرکې په بیانولو سره وویل:

﴿...يَٰبُنَيَّ لَا تُشۡرِكۡ بِٱللَّهِۖ إِنَّ ٱلشِّرۡكَ لَظُلۡمٌ عَظِيمٞ۝١٣﴾ [لقمان: 13]

[253] (اې زما خوږه زویه! له الله سره شریک مه نیسه، بېشکه شرک یقینًا ډېر لوی ظلم دی).

او دا د شاوخوا خلکو او مخلوقاتو سره ظلم دی. ځکه چې هغه نه پوهېږي چې څوک یې حقدار دی، نو کله چې د قیامت ورځ شي هر هغه څوک چې په هغه یې ظلم کړی وي، که انسان وي او یا حیوان، د خپل رب څخه به ورته د غچ اخیستلو غوښتنه کوي.

## ۶- دا چې هغه په دنیا کې ځان د الله تعالی کرکې او غضب ته وړاندې کړ:

نو تل به پرې مصیبونه او آفتونه د عاجلې سزا په توګه راځي، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿أَفَأَمِنَ ٱلَّذِينَ مَكَرُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ أَن يَخۡسِفَ ٱللَّهُ بِهِمُ ٱلۡأَرۡضَ أَوۡ يَأۡتِيَهُمُ ٱلۡعَذَابُ مِنۡ حَيۡثُ لَا يَشۡعُرُونَ۝٤٥ أَوۡ يَأۡخُذَهُمۡ فِي تَقَلُّبِهِمۡ فَمَا هُم بِمُعۡجِزِينَ۝٤٦ أَوۡ يَأۡخُذَهُمۡ عَلَىٰ تَخَوُّفٖ فَإِنَّ رَبَّكُمۡ لَرَءُوفٞ رَّحِيمٌ۝٤٧﴾ [النحل: 45-47]

(آیا نو هغه کسان چې ناکاره مکرونه یې کړي دي؛ له دې نه په امن کې شوي دي چې الله دوی په ځمکه کې ډوب کړي یا دوی ته عذاب له داسې ځایه راشي چې دوی (پرې) نه پوهېږي. یا دوی ونیسي د خپلو ګرځېدو په وخت کې، نو دوی هیڅکله هم (الله لره)

---

[253] لقمان سورت 13 آیت.

عاجزه کوونکي نه دي. یا دوی په وېره ونیسي، پس یقیناً ستاسو رب خامخا ډېر نرمي کوونکی، بې حده مهربان دی }[254]، او الله پاک فرمايلي دي:

﴿... وَلَا يَزَالُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ تُصِيبُهُم بِمَا صَنَعُواْ قَارِعَةٌ أَوۡ تَحُلُّ قَرِيبًا مِّن دَارِهِمۡ حَتَّىٰ يَأۡتِيَ وَعۡدُ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُخۡلِفُ ٱلۡمِيعَادَ٣١﴾ [الرعد: 31]

[255] (او هغه کسان چې کفر یې کړی دی، همېشه به دوی ته د خپلو کړو عملونو په سبب زړه ټکوونکی (عذاب) رسېږي، یا به د دوی کورونو ته نژدې راکوزېږي، تر هغه پورې چې د الله وعده راشي، بېشکه الله د وعدې خلاف نه کوي). او الله تعالی فرمايلي:

﴿أَوَأَمِنَ أَهۡلُ ٱلۡقُرَىٰٓ أَن يَأۡتِيَهُم بَأۡسُنَا ضُحٗى وَهُمۡ يَلۡعَبُونَ٩٨﴾ [الأعراف: 98]

[256] (ایا د کلیو اوسېدونکي له دې نه بې غمه شوي دي چې په دوی باندې زمونږ عذاب په څاښت کې راشي، په داسې حال کې چې دوی به لوبې کوي). او دا د هر چا حال دی چې د الله تعالی له ذکر څخه یې مخ اړولی دی، الله تعالی د پخوانیو کافرانو د عذابونو په اړه فرمايلي دي:

﴿فَكُلًّا أَخَذۡنَا بِذَنۢبِهِۦۖ فَمِنۡهُم مَّنۡ أَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِ حَاصِبٗا وَمِنۡهُم مَّنۡ أَخَذَتۡهُ ٱلصَّيۡحَةُ وَمِنۡهُم مَّنۡ خَسَفۡنَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ وَمِنۡهُم مَّنۡ أَغۡرَقۡنَاۚ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظۡلِمَهُمۡ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ٤٠﴾ [العنكبوت: 40]

[257] (نو (په دوی کې) هر یو مونږ په خپلې ګناه سره ونیوه، نو په دوی کې ځینې هغه دي چې مونږ پرې کاڼي وېشتونکی باد راخوشې کړ او ځینې په دوی کې هغه دي چې دوی

---

[254] النحل سورت 45-47 آیتونه.

[255] الرعد سورت 31 آیت.

[256] الأعراف سورت 98 آیت.

[257] العنكبوت سورت 40 آیت.

سختي چڼې ونیول او ځیني په دوی کې هغه دي چې مونږ هغوی په ځمکه کې ننه ایستل او ځیني په دوی کې هغه دي چې مونږ (په اوبو کې) غرق کړل او الله له سره داسې نه و چې پردوی یې ظلم کړی وی او لېکن دوی په خپلو ځانونو (پخپله) ظلم کاوه). او لکه څرنګه چې تاسو په خپل شاوخوا کې د هغو کسانو بدبختۍ ګورئ چې د الله تعالی لخوا پرې مصیبونه راغلي او مجازات شوي دي.

## ۷- چې هغه ته ذلت او تاوان ولیکل شي:

هغه د خپل ظلم له امله ترټولو لوی شی چې زړونه او روحونه ترې خوند اخلي له لاسه ورکړي، چې هغه د الله تعالی، د سکون، او هغه سره د پټ راز پېژندل او لدې لارې ارامۍ ته رسیدل دي، او دنیا یې ځکه له لاسه ورکړه چې تل یې په مایوسۍ او ذلت کې ژوند تېر کړ. او نفس یې هم له لاسه ورکړ چې د هغه لپاره یې هر څه راټولول، او د هغه څه تابع یې نه کړ د کوم لپاره چې پیدا شوی دی، او په دنیا کې پرې هم خوشحاله نه شو؛ ځکه چې بدبخته ژوند یې وکړ، او د بدبختۍ په حال کې مړ شو او په قیامت کې به هم له بدبختو سره راپورته کیږي، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَمَنۡ خَفَّتۡ مَوَٰزِينُهُۥ فَأُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُم ...﴾ [الأعراف: 9]

[258] (او هغه څوک چې تولونه (یا میزانونه) یې سپک وختل، نو دغه خلق هغه دي چې دوی خپلو ځانونو ته تاوان رسولی دی)، او خپله کورنۍ(عیال) یې هم له لاسه ورکړل. ځکه چې له هغوی سره یې د کفر په حالت کې ژوند کاوه، هغوی هم په سختۍ او تنګ ژوند کې د ده په څیر دي، او د دوی ټولو برخلیک اور ته دی، الله تعالی فرمایلي:

﴿... إِنَّ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ وَأَهۡلِيهِمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ ... ﴾ [الزمر: 15] [الشوری: 45]

[259] (بېشکه نقصان کوونکي هغه کسان دي چې د قیامت په ورځ یې خپلو ځانونو او خپل اهل ته تاوان رسولی دی). او د قیامت په ورځ به اورته راپورته کیږي، او بد ځای د ورتګ دی، الله تعالی فرمایلي:

---

[258] الأعراف سورت 9 آیت.

[259] الزمر سورت 15 آیت. او الشوری سورت 45 آیت.

﴿۞ ٱحۡشُرُواْ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ وَأَزۡوَٰجَهُمۡ وَمَا كَانُواْ يَعۡبُدُونَ ٢٢ مِن دُونِ ٱللَّهِ فَٱهۡدُوهُمۡ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلۡجَحِيمِ ٢٣﴾ [الصافات: 22-23]

(الله به ملايکو ته ووايي:) تاسو راټول کړئ هغه کسان چې ظلم (شرک) يې کړی دی او د دوی جوړې (د عقيدې ملګري) او هغه څه چې دوی به يې عبادت کاوه له الله نه غير، نو تاسو دوی د دوزخ په لاره روان (او برابر) کړئ)[260].

## ٨- دا چې هغه به په خپل رب د کفر په حالت کې ژوند کوي او د نعمتونو په مقابل کې به ناشکره وي:

ځکه الله تعالی هغه له نشت څخه پيدا کړ او ټول نعمتونه يې ورته ورکړل، نو هغه بيا د نورو عبادت کوي، نور په دوستۍ نيسي، او له هغه پرته د نورو شکر ادا کوي، نو له دې نه لويه ناشکري بله څه ده؟ او کوم انکار به له دې ډير بد وي؟

## ٩ - هغه به له حقيقي ژوند څخه محروم پاتې شي:

دا ځکه چې د ژوند وړ هغه څوک دی چې په خپل رب ايمان ولري، د هغه په مقصد پوه شي، خپل برخليک روښانه کړي، او په بيا راپورته کېدو يقين ولري، نو د هر چا لپاره يې د هغه حق پېژندلی، هغه ته په سپکه سترګه نه ګوري، او نه کوم مخلوق ته ضرر رسوي، نو د خوشالۍ ژوند يې تېروي او په دنيا او آخرت کې يې ښه ژوند تر لاسه کړی دی.

﴿مَنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا مِّن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَلَنُحۡيِيَنَّهُۥ حَيَوٰةٗ طَيِّبَةٗۖ ...﴾ [النحل: 97]

[261] (چا چې نېک عمل وکړ، سړی وي، يا که ښځه، په داسې حال کې چې مومن وي، نو خامخا هرومرو به مونږ هغه ته ژوند ورکړو، ډېر پاکيزه ژوند). او په آخرت کې:

﴿... وَمَسَٰكِنَ طَيِّبَةٗ فِي جَنَّٰتِ عَدۡنٖۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ١٢﴾ [الصف: 12]

---

[260] الصافات سورت 22،23 آيتونه.

[261] النحل سورت 97 آيت.

[262] (او د تل اوسېدنې په جنتونو کې په ډېرو پاکېزه استوګنو کې (به مو داخل کړي)،دغه ډېره لويه کاميابي ده).

او هر هغه چا چې په دې دنيا کې د حيواناتو په شان ژوند کړی دی، چې نه خپل رب پيژني او نه پوهيږي چې هدف يې څه دی او نه پوهيږي چې د هغه برخليک چيرته دی؟ بلکي هدف يې خوراک، څښاک او خوب وي، نو د ده او نورو حيواناتو تر منځ څه فرق دی، بلکې هغه تر دوی ډېر ګمراه دی، الله تعالی فرمايي:

﴿وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرًا مِّنَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ ۖ لَهُمْ قُلُوبٌ لَّا يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لَّا يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ ءَاذَانٌ لَّا يَسْمَعُونَ بِهَآ ۚ أُو۟لَـٰٓئِكَ كَٱلْأَنْعَـٰمِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ ۚ أُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْغَـٰفِلُونَ ١٧٩﴾ [الأعراف: 179]

[263] (او يقينًا يقينًا مونږ د جهنم لپاره ډېر زيات داسې پېريان او انسانان پيدا کړي دي چې د هغوی زړونه شته (خو) په هغو سره هغوی نه پوهېږي او د هغوی سترګې شته (خو) ليدل پرې نه کوي او د هغوی غوږونه شته (خو) اورېدل پرې نه کوي، دغه خلق د څارويو په شان دي، بلکې دوی (له دغو نه هم) زيات ګمراه دي، همدغه خلق غافله دي). او الله تعالی فرمايلي:

﴿أَمْ تَحْسَبُ أَنَّ أَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُونَ أَوْ يَعْقِلُونَ ۚ إِنْ هُمْ إِلَّا كَٱلْأَنْعَـٰمِ ۖ بَلْ هُمْ أَضَلُّ سَبِيلًا ٤٤﴾ [الفرقان: 44]

[264] (ايا ته ګمان کوې چې په رښتيا د دوی زياتره اوري، يا له عقل نه کار اخلي، دوی نه دي مګر په شان د څارويو بلکې دوی د لارې په لحاظ زيات ګمراه دي).

---

[262] الصف سورت 12 آيت.

[263] الأعراف سورت 179 آيت.

[264] الفرقان سورت 44 آيت.

## 10- هغه به په عذاب کې د تل لپاره وي:

دا ځکه چې کافر له یوه عذاب څخه بل عذاب ته انتقالیږي، نو له دې دنیا څخه د خپلو مصیبتونو او بدبختیو په تیرولو سره آخرت ته ځي، او په لومړۍ مرحله کې پرې د مرګ پرښتې نازلیږي پداسې حال کې چې د عذاب پریښتې به ترې مخکې وي تر څو هغه عذاب وروڅکې چې مستحق یې دی، الله تعالی فرمایلي:

﴿وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذْ يَتَوَفَّى ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ يَضْرِبُونَ وُجُوهَهُمْ وَأَدْبَـٰرَهُمْ ...﴾ [الأنفال: 50]

[265] (او که چېرې ته ووینې هغه وخت چې ملایک د کافر شویو کسانو ساګانې قبض کوي، چې د هغوی مخونه او د هغوی شاګانې وهي). بیا یې چې کله سا وخته او په خپل قبر کې ښکته کړای شو، نو هغه به تر ټولو سخت عذاب سره مخامخ شي، الله تعالی د فرعون د کورنۍ په اړه فرمایلي دي:

﴿ٱلنَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا ۖ وَيَوْمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ أَدْخِلُوٓا۟ ءَالَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ ٱلْعَذَابِ﴿٤٦﴾﴾

[غافر: 46]

[266] (د دوزخ) (اور(چې دی) دوی هغه ته هر سبا او هر بېګاه وړاندې کولی شي او په هغې ورځ کې چې قیامت قایم شي (نو ملایکو ته به وویل شي:) تاسو ال فرعون لره تر ټولو سخت عذاب ته ننباسئ). بیا چې کله د قیامت ورځ او د مخلوقاتو د راژوندي کولو وخت شي، او عملونه یې ورته وړاندې شي، او کافر ووینې چې الله د هغه ټول اعمال په هغه کتاب کې شمېرلي دي چې په اړه یې فرمایلي دي:

﴿وَوُضِعَ ٱلْكِتَـٰبُ فَتَرَى ٱلْمُجْرِمِينَ مُشْفِقِينَ مِمَّا فِيهِ وَيَقُولُونَ يَـٰوَيْلَتَنَا مَالِ هَـٰذَا ٱلْكِتَـٰبِ لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً إِلَّآ أَحْصَىٰهَا ۚ ...﴾ [الكهف: 49]

---

[265] الأنفال سورت 50 آیت.

[266] غافر سورت 46 آیت.

[267] (او کتاب به کېښودل شي، نو ته به مجرمان وينې چې له هغه څه نه به وېرېدونکي وي چې په ده کې دي او وايي به: اې زمونږ هلاکته! د دې کتاب (عمالنامې) څه حال دی چې نه وړه (ګناه) پرېږدي او نه غټه مګر هغه (هره يوه) يې حساب کړې ده). هلته به کافر خوښ ګڼي چې کاشکې خاورې وای

﴿... يَوْمَ يَنظُرُ ٱلْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ وَيَقُولُ ٱلْكَافِرُ يَٰلَيْتَنِى كُنتُ تُرَٰبًۢا۝٤٠﴾ [النبأ: 40]

[268] (په هغه ورځ کې چې هر سړی به هغه څه ته ګوري چې د ده لاسونو مخکې لېږلي دي او کافر به وايي: ای کاشکې چې زه خاورې وی).

او د حالاتو د سختوالي له امله که چېرته انسان ټول هغه څه چې په ځمکه کې دي درلودلای، نو هغه به يې د دې ورځې له عذاب څخه د خلاصېدو په بدل کې ورکړي وای، الله تعالی فرمايلي:

﴿وَلَوْ أَنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ مَا فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا وَمِثْلَهُۥ مَعَهُۥ لَٱفْتَدَوْا۟ بِهِۦ...﴾ [الزمر: 47]

[269] (او که په رښتيا سره د ظلم (شرک) کوونکو کسانو لپاره هغه څه چې په ځمکه کې دي، ټول مملوک شي او د دغه په څېر نور ورسره شي، نو دوی به خامخا د قيامت په ورځ کې له بدتر عذاب نه د خلاصي لپاره دغه فديه ورکړي). او (الله) تعالی فرمايلي:

﴿... يَوَدُّ ٱلْمُجْرِمُ لَوْ يَفْتَدِى مِنْ عَذَابِ يَوْمِئِذٍۭ بِبَنِيهِ ۝١١ وَصَٰحِبَتِهِۦ وَأَخِيهِ۝١٢ وَفَصِيلَتِهِ ٱلَّتِى تُـْٔوِيهِ۝١٣ وَمَن فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ يُنجِيهِ۝١٤﴾ [المعارج: 11-14]

(مجرم (کافر) به ارزو کوي چې د دغې ورځې له عذابه خپل زامن په عوض کې ورکړي. او خپله ښځه او خپل ورور. او خپله هغه قبيله چې ده ته به يې ځای ورکاوه. او هر هغه څوک چې په ځمکه کې دي ټول، بيا ده ته (دا کار) نجات ورکړي[270].

---

[267] الکهف سورت 49 آيت.

[268] النبأ سورت 40 آيت.

[269] الزمر سورت 47 آيت.

او دا ځکه چې هغه کور د ثواب دی نه د ارمانونو کور، نو انسان ته باید د هغه د کار ثواب ورکړل شي، که ښه وي نو ښه بدله او که بد وي نو بده جزا. او تر ټولو بد عذاب چې کافر به يې په آخرت کې وموي د اور عذاب دی چې الله تعالی يې مستحقانو ته ډول ډول ګرځولی دی ترڅو دوی د خپلو کړنو عذاب وڅکي، الله تعالی فرمايلي:

﴿هَٰذِهِۦ جَهَنَّمُ ٱلَّتِي يُكَذِّبُ بِهَا ٱلۡمُجۡرِمُونَ ۝٤٣ يَطُوفُونَ بَيۡنَهَا وَبَيۡنَ حَمِيمٍ ءَانٖ ۝٤٤﴾ [الرحمن: 44-43]

(دا هغه دوزخ دی چې مجرمانو (کافرانو) به دا دروغ ګڼله. دوی به د دغه (دوزخ) په منځ کې او د ډېرو ګرمو اوبو په منځ کې ګرځي[271] ، او د هغوی د څښاک او لباس څخه د خبرولو په موخه يې فرمايلي دي:

﴿...فَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ قُطِّعَتۡ لَهُمۡ ثِيَابٞ مِّن نَّارٖ يُصَبُّ مِن فَوۡقِ رُءُوسِهِمُ ٱلۡحَمِيمُ ۝١٩ يُصۡهَرُ بِهِۦ مَا فِي بُطُونِهِمۡ وَٱلۡجُلُودُ ۝٢٠ وَلَهُم مَّقَٰمِعُ مِنۡ حَدِيدٖ ۝٢١﴾ [الحج: 19-21]

(نو هغه کسان چې کافران شوي دي د دوی لپاره به د اور جامې پرې کړی شي، د دوی د سرونو له پاسه به ګرمې ايشېدلې اوبه اچولی شي. (په دغو (اوبو) سره به هغه څه (کولمې) خوړنې کړی شي چې د دوی په ګېډو کې دي او څرمنې(د دوی هم). او د دوی (د وهلو) لپاره د اوسپنو څټکونه دي[272].

## پای

اې انسانه

ته بالکل نشت وې، الله تعالی فرمايي:

---

[270] المعارج سورت 11-14 آيتونه.

[271] الرحمن سورت 43-44 آيتونه.

[272] الحج سورت 19-21 آيتونه.

﴿أَوَلَا يَذْكُرُ ٱلْإِنسَٰنُ أَنَّا خَلَقْنَٰهُ مِن قَبْلُ وَلَمْ يَكُ شَيْـًٔا ﴿٦٧﴾﴾ [مريم: 67]

(ایا دغه انسان نه یادوي چې بېشکه مونږ دی له دې نه مخکې پیدا کړی و، او دی هېڅ شی نه و).[273] بیا ته الله جل جلاله له نطفې څخه پیدا کړې، بیا یې اوربېدونکی او لیدونکی وګرځولې، الله تعالی فرمایلي:

﴿هَلْ أَتَىٰ عَلَى ٱلْإِنسَٰنِ حِينٌ مِّنَ ٱلدَّهْرِ لَمْ يَكُن شَيْـًٔا مَّذْكُورًا ﴿١﴾ إِنَّا خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ مِن نُّطْفَةٍ أَمْشَاجٍ نَّبْتَلِيهِ فَجَعَلْنَٰهُ سَمِيعًۢا بَصِيرًا ﴿٢﴾﴾ [الإنسان: 1-2]

(یقینا په انسان باندې داسې وخت هم راغلی چې دی څه داسې د یادولو وړ شی نه و. (بېشکه مونږ انسان له ګډې وډې شوې نطفې نه پیدا کړی دی، چې مونږ به دی ازمایو، نو دی مونږ اوربېدونکی (او) لیدونکی وګرځاوه)[274]، بیا ته له ضعف څخه ځواک ته او بیرته ضعف ته راوګرځېدې، الله تعالی فرمایلي:

﴿۞ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن ضَعْفٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنۢ بَعْدِ ضَعْفٍ قُوَّةً ثُمَّ جَعَلَ مِنۢ بَعْدِ قُوَّةٍ ضَعْفًا وَشَيْبَةً ۚ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۖ وَهُوَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْقَدِيرُ ﴿٥٤﴾﴾ [الروم: 54]

(الله هغه ذات دی چې تاسو یې له ضعف نه پیدا کړئ، بیا یې له کمزورۍ نه بعد قوت پیدا کړ، بیا یې له قوت نه پس کمزوري او بوډاوالی (دوبېښتو سپین والی) پیدا کړ، څه چې هغه وغواړي پیدا کوي یې، او همغه ښه عالم، ښه قدرت والا دی).[275] او بیا مرګ دی؛ هغه پای چې هیڅ شک پکې نشته، او ته په هغو پړاوونو کې له یوې کمزورۍ څخه بلې ته اوړې، نشې کولی له ځان څخه د زیان مخه ونیسې او نه ځان ته ګټه رسولای شې مګر دا چې د الله په هغو نعمتونو باندې مرسته وغواړې چې لورینه یې درباندې له ښه حالت، ځواک او روزۍ څخه کړې ده، او ته د فطرت له مخې غریب او محتاج یې. تاسو څومره شیانو ته اړتیا لرئ چې خپل ژوند پرې وساتئ خو ستاسو په لاس کې نه وي، او ممکن یو ځل یې ترلاسه کړئ، او بل ځل

[273] مریم سورت 67 آیت.

[274] الإنسان سورت 1،2 آیتونه.

[275] الروم سورت 54 آیت.

درڅخه واخیستل شي، او څومره شیان شته چې تاسو ته ګټه رسوي او تاسو غواړئ یې ترلاسه کړئ، او تاسو کولی شئ یو ځل یې وګټئ او بل ځل یې و نه ګټئ؟ او څومره شیان شته چې تاسو ته زیان رسوي او تاسو مایوسه کوي، ستاسو هڅې ضایع کوي او تاسو ته سختۍ او مصیبتونه رسوي، او تاسو غواړئ چې له هغې څخه ځان وژغورئ، مګر تاسو یې یو ځل مخنیوی کوئ او بیا یې نشئ کولی. ایا الله تعالی ته دې د خپلې ناتوانۍ او ضرورت احساس ندی کړی، پداسې حال کې چې الله تعالی فرمایي:

﴿۞ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ أَنتُمُ ٱلْفُقَرَآءُ إِلَى ٱللَّهِ ۖ وَٱللَّهُ هُوَ ٱلْغَنِىُّ ٱلْحَمِيدُ ۝١٥﴾ [فاطر: 15]

[276] (اې خلکو! هم تاسو الله تعالی ته اړ یاست، او الله تعالی، هم دی ښه بې پروا، ښه ستایل شوی دی).

یو کمزوری ویروس چې یوازې سترګې یې نه شي لیدلی؛ تاسو نه پوهیږئ چې په ناروغۍ اخته شوي یاست، نو ته یې مخنیوی نه شې کولی، بیا د ځان په څېر یو کمزوري انسان ته ورځې تر څو دې درملنه وکړي، نو کله یې دوا کار وکړي او کله هم ډاکټر عاجز پاتې شي، نو ډاکټر او ناروغ دواړه حیران پاتې شي.

نو اې د آدم زویه ته څه شي دومره کمزوری کړې چې که مچان له تا څخه یو څه یوسي نو ته یې له هغه څخه بیرته اخیستلی نه شې، او ربښتیا ویلي الله تعالی چې فرمایلي یې دي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ فَٱسْتَمِعُوا۟ لَهُۥٓ ۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَن يَخْلُقُوا۟ ذُبَابًا وَلَوِ ٱجْتَمَعُوا۟ لَهُۥ ۖ وَإِن يَسْلُبْهُمُ ٱلذُّبَابُ شَيْـًٔا لَّا يَسْتَنقِذُوهُ مِنْهُ ۚ ضَعُفَ ٱلطَّالِبُ وَٱلْمَطْلُوبُ ۝٧٣﴾ [الحج: 73]

[277] (اې خلکو! یو مثال بیان شوی دی، نو تاسو دې ته ښه غوږ کېږدئ، بېشکه هغه شیان چې تاسو یې له الله تعالی نه غیر بلئ دوی له سره یو مچ هم نشي پیدا کولی اګر که دوی ده ته ټول راټول شي او که مچ له دوی نه یو شی وتښتوي، دوی له هغه نه دغه شی

[276] فاطر 15 آیت.

[277] الحج سورت 73 آیت.

نشي راخلاصولی، کمزوری دی دا طالب (د غير الله عبادت کوونکی) او دغه مطلوب (باطل معبود)، نو که تاسو نشئ کولی هغه څه وژغورئ چې مچانو له تاسو څخه اخيستي دي، نو ته له خپلو چارو څخه د څه شي واک لرې؟

تندی ( برخليک ) دې د الله په لاس کې دی، نفس دې د هغه په لاس کې دی، زړه دې د رحمان ذات له ګوتو څخه د دوو ګوتو تر منځه دی، هر لورې ته چې وغواړي اړوي يې، مرګ او ژوند دې د هغه په لاس کې دی، نيکبختي او بدبختي دې د هغه په لاس کې ده، حرکات، سکنات او ويناوې دې د هغه په لاس کې دي، خبرې دې د الله په اجازه او خوښه دي، نو حرکت نه کوې مګر د هغه په خوښه او هېڅ کار نه کوې مګر د هغه په خوښه، که چېرته يې خپل ځانته وسپارلې نو په حقيقت کې يې کمزورۍ، ناتوانۍ، تفريط، ګناه او خطا ته وسپارلې، او که چېرته يې بل چاته وسپارلې، نو په حقيقت کې يې هغه چاته سپارلی يې چې هغه ستا لپاره د ضرر، ګټې، مرګ، ژوند او بېرته راژوندي کولو اختيار نه لري، نو د سترګو د رپ په اندازه له هغه څخه مستغني کېدلی نه شې، بلکې ته چې تر څو ساه اخلې په پټه او ښکاره هغه ته محتاج يې، خپل نعمتونه دربانديې لورويي، او تاسو له هغه څخه په نافرمانۍ او کفر سره کرکه کوئ، حال دا چې سخته او هر اړخيزه اړتيا ورته لرئ، تاسو هغه هېر کړی، حال دا چې بېرته دې هغه ته ورګرځېدل او د هغه په حضور کې ودرېدل دي).[278]

اې انسانه: ستاسو ضعف او کمزورۍ په ليدو چې د خپلو ګناهونو پېټی نه شې پورته کولی:

﴿يُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُخَفِّفَ عَنكُمْۚ وَخُلِقَ ٱلْإِنسَٰنُ ضَعِيفًا٢٨﴾ [النساء: 28]

[279] (او الله غواړي چې پر تاسو تخفيف (اساني) راولي او انسان ډېر کمزوری پيدا کړی شوی دی). الله جل جلاله پېغمبران رالېږلي، کتابونه يې نازل کړي، قوانين يې وضع کړي، ستاسو په مخ کې يې نېغه لار ټاکلې، دلايل، ثبوتونه، شاهدان او برهانونه يې رالېږلي، تر دې چې په هر څه کې يې ستاسو لپاره د هغه د توحيد، ربوبيت او الوهيت نښه ګرځولې ده. حال دا چې تاسو حق په باطل سره دفع کوئ، او د الله پر ځای شيطان په دوستۍ نيسئ او په باطل سره بحث کوئ.

---

[278] په لږ تصرف سره د ابن القيم له الفوائد ۵۶ مخ څخه رانقل شوی دی.

[279] النساء سورت 28آيت.

﴿... وَكَانَ ٱلۡإِنسَٰنُ أَكۡثَرَ شَيۡءٖ جَدَلٗا ٥٤﴾ [الكهف: 54]

[280] (او انسان په جګړه کې تر هر شي زيات دی). د الله تعالی هغه نعمتونو درڅخه هر څه هېر کړي دي چې له پيل څخه تر پای پورې پکې اوړې راوړې! آيا په ياد دې ندي چې ته له نطفې څخه پيدا شوی يې! او ورتګ دې يوې کندې ته دی، او راپورته کېدل دې يا جنت ته دي او يا اور ته ، الله تعالی فرمايلي:

﴿أَوَلَمۡ يَرَ ٱلۡإِنسَٰنُ أَنَّا خَلَقۡنَٰهُ مِن نُّطۡفَةٖ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٞ مُّبِينٞ ٧٧ وَضَرَبَ لَنَا مَثَلٗا وَنَسِيَ خَلۡقَهُۥۖ قَالَ مَن يُحۡيِ ٱلۡعِظَٰمَ وَهِيَ رَمِيمٞ ٧٨ قُلۡ يُحۡيِيهَا ٱلَّذِيٓ أَنشَأَهَآ أَوَّلَ مَرَّةٖۖ وَهُوَ بِكُلِّ خَلۡقٍ عَلِيمٌ ٧٩﴾ [يس: 77-79]

( آيا انسان نه دي کتلي چې بېشکه مونږ دغه (انسان) له نطفې (يو څاڅکي اوبو) نه پيدا کړی دی، نو ناڅاپه دی ښکاره سخت جګړه کوونکی دی. او دی زمونږ لپاره مثال بيانوي او خپل پيدايښت يې هېر کړی دی، وايي: دغه هډوکي به څوک راژوندي کوي، په داسې حال کې چې هغه وراسته وي. ته (دوی ته) ووايه: دا به هغه ذات راژوندي کوي چې دا يې اول ځل پيدا کړي دي، او هغه په خپل مخلوق باندې ښه عالم دی)[281]، (الله) تعالی فرمايي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡإِنسَٰنُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ ٱلۡكَرِيمِ ٦ ٱلَّذِي خَلَقَكَ فَسَوَّىٰكَ فَعَدَلَكَ ٧ فِيٓ أَيِّ صُورَةٖ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ ٨﴾ [الانفطار: 6-8]

(اې (کافره) انسانه! ته په خپل کريم (او سخي) رب باندې څه شي دوکه کړی يې) هغه ذات چې ته يې پيدا کړې، نو ته يې ښه برابر کړې. په هر صورت (شکل) کې چې هغه غوښتل، ته يې پيوند (او جوړ) کړې)[282].

---

[280] الکهف سورت 54 آيت.

[281] يس سورت77-79 آيتونه.

[282] الإنفطار سورت 6،8 آيتونه.

اې انسانه! ولې دې ځان د الله تعالی په حضور کې د مناجات لپاره د ولاړېدو له خوند څخه بې برخې کوې؟ تر څو دې له فقر څخه غني کړي، له ناروغيو څخه شفا درکړي، له غمونو څخه دې خلاص کړي، ګناهونه دې وبخښي، ضرر درڅخه لرې کړي، د ظلم په صورت کې درسره مرسته وکړي، د ورکېدو او حيرانتيا پر مهال دې لارښوونه وکړي، هغه څه دروښايي چې پرې نه پوهيږې، د وېرې پر مهال دې په امن کې کړي، د کمزورتيا پر مهال درباندې رحم وکړي، دښمنان دې درڅخه په شا کړي، او روزي درکړي [۳۴۸] .

اې انسانه! تر ټولو لوی نعمت چې الله تعالی پر انسان لوروړلی دی - د دين له نعمت څخه وروسته - د عقل نعمت دی، تر څو پرې د ګټور او ضرري څيزونو تر منځه توپير وکړي، او د الله تعالی په اوامرو او ممنوعاتو پوه شي، او تر څو پرې لوی هدف وپېژني چې هغه يوازې د الله تعالی بندګي ده، هغه ذات چې هيڅ شريک نه لري، الله تعالی فرمايلي.

﴿وَمَا بِكُم مِّن نِّعۡمَةٖ فَمِنَ ٱللَّهِۖ ثُمَّ إِذَا مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ فَإِلَيۡهِ تَجۡـَٔرُونَ۝٥٣ ثُمَّ إِذَا كَشَفَ ٱلضُّرَّ عَنكُمۡ إِذَا فَرِيقٞ مِّنكُم بِرَبِّهِمۡ يُشۡرِكُونَ ۝٥٤﴾ [النحل: 53-54]

(او پر تاسو چې هر نعمت شوی دی، نو د الله له طرفه دی، بيا چې کله تاسو ته ضرر درورسېږي، نو (بيا هم) خاص هغه ته زارۍ کوئ. بيا کله چې هغه له تاسو نه تکليف لرې کړي (، نو) ناڅاپه يوه ډله په تاسو کې له خپل رب سره شريکان جوړوي)[283].

اې انسانه! عاقل انسان له لوړو چارو سره مينه لري او له ټيټو څخه کرکه لري او غواړي چې تر ټولو د نېکو او سخاوتمندو انبياوو پسې لاړ شي، او زړه يې غواړي چې ځان ورسوي که څه هم وررسيدلای نه شي او نه يې لاندې کولی شي، او د حل لاره يې هغه ده چې الله تعالی ورته په خپلې دوې وينا سره لارښوونه کړې ده:

﴿... إِن كُنتُمۡ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِي يُحۡبِبۡكُمُ ٱللَّهُ ....﴾ [آل عمران: 31]

[284] (اې نبي!) ته ووايه: که چېرې يئ تاسو چې له الله سره مينه کوئ، بيا نو زما پيروي وکړئ، الله به له تاسو سره مينه وکړي]. او که دا خبره يې عملي کړه نو الله تعالی به يې له انبياوو، رسولانو، شهيدانو او صالحانو سره يو ځای کړي، الله تعالی فرمايلي:

---

[283] النحل سورت 53-54 آيتونه.

﴿وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَعَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ وَٱلصِّدِّيقِينَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَٱلصَّٰلِحِينَۚ وَحَسُنَ أُوْلَٰٓئِكَ رَفِيقٗا ٦٩﴾ [النساء: 69]

[285] (او څوک چې د الله او د (هغه د) رسول اطاعت وکړي، نو دغه کسان به له هغو خلکو سره وي پر چا باندې چې الله انعام کړی دی، چې نبیان، او صدیقین او شهیدان او صالحان دي او دغه خلق ښه ملګري دي).

اې انسانه! زه تاسو ته نصیحت کوم چې یو ځای کې له ځان سره ګوښه شه، بیا د هغه حق په اړه فکر وکړه چې درته راغلی دی، په دلایلو کې یې نظر واچوه، ثبوتونو کې یې تدبر وکړه؛ نو که چېرته درته حق معلوم شول نو په بیړه یې پیروي وکړه، او هېڅکله د عادت بندیوان مه جوړېږه. او پوه شه چې خپل نفس تا ته له خپلو ملګرو، خپلوانو او د خپلو پلرونو له میراث څخه زیات ګران دی او الله تعالی پدې خبره کفارو ته نصیحت کړی او د هغه لورې ته یې هڅولي دي، الله پاک فرمایلي دي:

﴿۞قُلۡ إِنَّمَآ أَعِظُكُم بِوَٰحِدَةٍۖ أَن تَقُومُواْ لِلَّهِ مَثۡنَىٰ وَفُرَٰدَىٰ ثُمَّ تَتَفَكَّرُواْۚ مَا بِصَاحِبِكُم مِّن جِنَّةٍۚ إِنۡ هُوَ إِلَّا نَذِيرٞ لَّكُم بَيۡنَ يَدَيۡ عَذَابٖ شَدِيدٖ ٤٦﴾ [سبأ: 46]

[286] (ته (دوی ته) وایه: بېشکه زه تاسو ته یواځې دیوې خبرې وعظ کوم، دا چې تاسو خاص الله ته ودرېږئ، دوه دوه او یو یو، بیا ښه فکر وکړئ چې ستاسو په ملګري کې هېڅ لېونتوب نشته، نه دی دا مګر تاسو لره وېروونکی، د ډېر سخت عذاب نه مخکې).

اې انسانه! ته چې کله اسلام راوړې هیڅ شی له لاسه نه ورکوې، الله تعالی فرمایلي:

---

[284] آل عمران سورت 31 آیت.

[285] النساء سورت 69 آیت.

[286] سبا سورت 46 آیت.

﴿وَمَاذَا عَلَيۡهِمۡ لَوۡ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَأَنفَقُواْ مِمَّا رَزَقَهُمُ ٱللَّهُۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِهِمۡ عَلِيمًا﴾ [النساء: 39]

[287] (او دوی ته به څه نقصان و که چېرې دوی پر الله او پر ورځ د اخرت ایمان راوړی وَی او له هغه (مال) نه یې انفاق کړی وَی چې الله دوی ته ورکړی دی او الله په دوی ښه پوه دی). ابن کثیر رحمه الله فرمایلي دي: (او دوی ته به څه تاوان وي که دوی په الله تعالی ایمان راوړي او د ستاینې وړ لاره تعقیب کړي او په آخرت کې د هغه د وعدې په تمه چې له نېکانو سره یې د نیک عمل په پایله کې کړېده ایمان راوړي او له هغه څه څخه چې الله تعالی ورکړي دي د الله تعالی د خوښې وړ ځایونو کې لګښت وکړي، حال دا چې هغه د دوی په ښو او بدو نیتونو خبر دی، او په هغه چا پوه دی چې د توفیق ورکولو وړ وي، نو توفیق ورکوي او د سمې لارې الهام ورته کوي،او لارښوونه ورته کوي چې هغه نیک عمل وکړي چې په هغه ترې راضي کیږي، او په هغه چا هم پوه دی چې د هغه له عظمت څخه د شړلو وړ وي، او څوک چې د هغه له دروازې څخه وشړل شو نو یقینا چې په دنیا او آخرت کې خوار او ذلیل شو)[288]، په یقیني توګه چې ستاسو اسلام به تاسو د هغه څه څخه منع نه کړي چې تاسو یې غواړئ یا هغه څه چې تاسو یې له حلالو څخه خورئ، بلکې تاسو ته الله تعالی په هر عمل اجر درکوي چې د هغه د رضا لپاره یې کوئ، که څه هم هغه عمل دې دنیوي وي؛ مال دې زیاتوي او یا دې عزت او شرف لوړوي، بلکې هغه مباح خېزونه چې ته یې خورې، که چېرته دې نیت دا و چې له حرامو څخه پرې راوګرځې او په حلالو بسنه وکړې نو تاته په هغې کې اجر دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (او ستاسو لپاره په جماع کولو کې صدقه ده، هغوی وویل: اې د الله رسوله! آیا له مونږ څخه به یو تن خپل شهوت پوره کوي او په هغه کې به ورته اجر وي؟) هغه وفرمایل:

---

[287] النساء سورت 39 آیت.

[288] په لږ تصرف سره له :تفسیر القرآن العظیم څخه 1 ټوک، 497 مخ.

خبر راکړئ که چېرته يې دا شهوت په حرامو کې استعمال کړی و نو ګناه به پرې وه؟ همدا رنګه؛ که يې په حلالو کې رفع کړي نو اجر ورکول کيږي.[289].

اې انسانه! رسولانو حق راوړی، او دوی هغه څه رسولي چې الله غوښتل، او انسان اړتيا لري چې د الله تعالی قانون وپېژني. تر څو پدې دنيا کې په بصيرت سره ژوند وکړي او په آخرت کې له کاميابانو څخه شي، الله تعالی فرمايلي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ ٱلرَّسُولُ بِٱلْحَقِّ مِن رَّبِّكُمْ فَـَٔامِنُوا۟ خَيْرًا لَّكُمْ ۚ وَإِن تَكْفُرُوا۟ فَإِنَّ لِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿١٧٠﴾﴾ [النساء: 170]

[290] (اې خلقو! يقينًا تاسو ته د خپل رب له جانبه په حقه سره رسول راغلی دی، نو تاسو ايمان راوړئ، (دا به) تاسو لپاره ډېر غوره وي او که تاسو کفر کوئ، نو يقينًا خاص د الله لپاره دي هر هغه څه چې په اسمانونو او ځمکه کې دي او الله له ازله ښه پوه، ښه حکمت والا دی). او الله تعالی فرمايلي:

﴿قُلْ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ ۖ فَمَنِ ٱهْتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهْتَدِى لِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ۖ وَمَآ أَنَا۠ عَلَيْكُم بِوَكِيلٍ ﴿١٠٨﴾﴾ [يونس: 108]

[291] (ته ووايه: اې خلکو! يقينًا تاسو ته د خپل رب له جانبه حق راغی، نو هغه چا چې هدايت اختيار کړ، نو بېشکه همدا خبره ده چې هغه د خپل ځان لپاره هدايت حاصلوي او څوک چې بې لارې شي، نو بېشکه ضرر يې د خپل ځان دی او زه پر تاسو ذمه وار نه يم).

---

[289] وړاندې تخريج شوی دی109 مخ.

[290] النساء سورت 170آيت.

[291] هود سورت 108 آيت.

اې انسانه! که ته مسلمان شې نو له ځانه پرته دې بل چاته ګټه نه رسوې او که کافر شې نو له ځانه پرته دې بل چاته ضرر نه رسوې، بېشکه چې الله تعالی له خپلو بندګانو بې پروا دی، نو د نافرمانانو نافرماني هغه ته ضرر نه رسوي او نه د بنده ګانو اطاعت، د هغه نافرماني نه کیږي مګر د هغه د علم په احاطه کې، او د هغه اطاعت نه کیږي مګر د هغه په اجازه، او الله تعالی فرمایلي لکه څرنګه چې د هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم له هغه څخه خبر ورکوي.

(اې زما بندګانو! ما په خپل ځان ظلم حرام کړی دی او ستاسو تر منځه مې هم حرام کړی دی، نو په یو بل باندې ظلم مه کوئ، اې زما بندګانو، تاسو ټول ګمراه یاست مګر هغه چې ما ورته لارښوونه کړې ده، نو له ما څخه لارښوونه وغواړئ زه به تاسو ته لارښوونه وکړم، اې زما بنده ګانو تاسو ټول وږي یاست مګر هغوی چې ما ماړه کړي دي، نو زما څخه روزي وغواړئ چې زه تاسو ماړه کړم، اې زما بندګانو، تاسو ټول بربنډ یاست، پرته له هغو چې ما پټ کړي دي، نو له ما څخه جامې وغواړئ زه به تاسو پټ کړم، اې زما بندګانو تاسو د شپې او ورځې ګناهونه کوئ او زه ټول ګناهونه ښم نو له ما څخه ښنه وغواړئ زه به تاسو ته ښنه وکړم، اې زما بندګانو، تاسو ماته نه شئ رارسیدلی تر څو ضرر راورسوئ، او نه ماته رارسیدلی شئ تر څو ماته ګټه راورسوئ، اې زما بندګانو، که ستاسو لومړی او وروستی، ستاسو انسانان او پیریان، ستاسو څخه د یو تر ټولو پاک زړه لرونکي انسان په څیر پرهیزګاره شي ، نو زما په پادشاهۍ کې به هیڅ شی اضافه نه کړي، اې زما بندګانو که له ستاسو لومړی او وروستی، ستاسو انسانان او پېریان هم د یو بې لارې انسان د زړه لرونکي په څېر شي نو زما له پادشاهۍ څخه به هیڅ هم کم نه کړي، اې زما بندګانو که له ستاسو لومړی او وروستی، ستاسو انسانان او پېریان په یو میدان کې ودریږي او زما څخه سوال وکړي او زه هر انسان ته د هغه د غوښتنې په اساس ورکړم نو دا به هغه څه کم نه کړي چې زما سره دي مګر دومره لکه څومره چې یوه ستن د بحر په اوبو کې ډوبه شي، اې زما بندګانو، دا ستاسو عملونه دي چې زه یې تاسو ته حسابوم او بیا یې تاسو ته

بدله درکوم. نو چا چې خیر وموند د الله تعالی ثنا دې ادا کړي او چا چې لدې پرته بل څه ومونډل نو هغه دې له خپل ځان پرته بل څوک نه ملامتوي)[292].

والحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على أشرف الأنبياء والمرسلين نبينا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين.

---

[292] مسلم په: کتاب البر والصلة، باب تحريم الظلم کې روايت کړی دی . د حديث شمېره 2577 ده.

# فهرست


د اسلام اصول او اساسات ........ 1
سرېزه........ 3
لاره کومه ده؟........ 6
د الله پاک وجود، ربوبیت، یووالی او الوهیت (۷): ........ 7
د کائناتو پیدایښت ........ 23
لدې څخه حکمت........ 27
او بیا، اې انسانه: ........ 30
د انسان پیدایښت او درناوی........ 32
د ښځې مرتبه ........ 37
د انسان د پیدایښت حکمت ........ 42
دین ته د انسان اړتیا ........ 45
د حق دین ضوابط ........ 49
د ادیانو ډولونه........ 57
د موجوده ادیانو حالت ........ 59
د نبوت حقیقت........ 65
د نبوت نښې (علامې) ........ 71
پیغمبرانو ته د خلکو اړتیا ........ 74
بیا راژوندي کېدل ........ 78
د رسولانو د بلنې اصول ........ 84
الرسالة الباقية........ 88
د نبوت پای........ 95

او دا هغه وخت دی چې اسلام تعریف کړو او د هغه حقیقت، سرچینې، ارکان او رتبې بیان کړو. ........ 98
د اسلام اصول او مصادر( منابع) ........................................................................ 105
لومړۍ مرتبه ]234[........................................................................................ 117
عبادت په اسلام کې ]244.[................................................................................ 121
دویمه مرتبه ]247[ ....................................................................................... 122
دریمه مرتبه:.................................................................................................. 141
د اسلام له فضیلتونو )ښېګڼو (څخه ]292:[ ........................................................... 143
توبه........................................................................................................... 150
د هغه چا انجام چې په اسلام پابندي نه کوي........................................................... 154
پای ........................................................................................................... 165

موسوعة القرآن الكريم
QuranEnc.com
موسوعة تضم تفاسير وتراجم موثوقة لمعاني القرآن الكريم

موسوعة الأحاديث النبوية
HadeethEnc.com
موسوعة تضم ترجمات للأحاديث النبويـــة وشروحها بعدة لغـــات

موسوعة المصطلحات الإسلامية
TerminologyEnc.com
موسوعة تضم ترجمات المصطلحات الإسلاميـــة وشروحها بعدة لغـــات

منتقى
المحتوى الإسلامي
موسوعة تضم المنتقى من المحتوى الإسلامي باللغات

IslamHouse.com
مرجعيـة مجانيـة إلكترونية موثوقة للتعريف بالإســلام

ننشر الإسلام بأكثر من 100 لغة

جـمـعيـة الـدعــوة وتوعية الجاليات بالربوة

جمعية خدمة المحتوى الإســلامــي باللغـــات